بسم الله الرحمن الرحيم

# شیخ زاید پوهنتون

# شیخ زاید علمي - څېړنیز ژورنال

---

د شیخ زاید پوهنتون علمي ـ څېړنیزه درېمیاشتینۍ خپرونه

( ټولنیز علوم )

د ۱۴۰۴ل (۱۴۴۷ ق) کال درېیمه ګڼه، لینډی ــ پرله‌پسې ۴۰مه ګڼه

(دویم ټوک)

۴۰

# شیخ زاید پوهنتون

## علمي څېړنو معاونیت

## علمي مجلې آمریت

## علمي مجلې عمومي مدیریت


د امتیاز خاوند: شیخ زاید پوهنتون

مسؤول مدیر: پوهنوال دوکتور سبحان الله شهاب

علمي مجلې عمومي مدیر: نورمحمد انقلابي

برېښنالیک: journals@szu.edu.af



| کتنپلاوی | |
|---|---|
| پوهاند زرولي صدیقي | ټولنیزو علومو پوهنځی |
| پوهاند عبدالخلیل اقغاني | کرنې پوهنځی |
| پوهنوال دوکتور سبحان الله شهاب | ژبو او ادبیاتو پوهنځی |
| پوهنوال محمد شفیق مندوزی | حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی |
| پوهنوال محمد الله مندوزی | حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی |
| پوهنوال عبدالتواب عزیزي | ښوونې او روزنې پوهنځی |
| پوهنوال امان الله ځدران | حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی |
| پوهنوال شفیع گل شفیقي | کرنې پوهنځی |
| پوهنوال صالح خان صالح | کمپیوټر ساینس پوهنځی |
| پوهنوال سید کمال شاه بنوري | شرعیاتو پوهنځی |
| پوهنوال نقیب الله عطیش | ژورنالېزم او عامه اړیکو پوهنځی |
| پوهندوی گوهرشاه گوهري | کمپیوټر ساینس پوهنځی |
| پوهندوی غازي جان محمدي | ښوونې او روزنې پوهنځی |



پته: شیخ زاید پوهنتون، علمي څېړنو معاونیت، د علمي مجلې آمریت خوست- افغانستان

۰۰۹۳۷۷۷۷۹۱۶۵۳ / ۰۰۹۳۷۷۴۳۰۲۴۷۷

## د علمي ـ څېړنيزې مقاله ليکنې لارښود

درانه څېړونکي دې د علمي مقالې د ليکلو پر وخت لاندې ټکي په پام کې ونيسي:

- ✓ مقاله بايد مخکې نشر شوې نه وي او نه هممهاله بلې مجلې ته لېږل شوې وي.
- ✓ د کتابتوني مقالې اړين توکي په ترتيب سره دا دي: عنوان، د ليکوال نوم او پته، لنډيز، کليدي کلمې، سريزه، موخې، کړنلاره او کارتوکي، اصلي متن، پايله، وړانديزونه، اخځليکونه او د طبيعي علومو په علمي مقالو کې مناقشه هم اړينه ده.
- ✓ عنوان بايد مانا لرونکی او له موضوع سره بشپړ مطابقت ولري. د کلمو شمېر يې له (۱۵) څخه زيات نه وي، سايز يې بايد (۱۴) بولډ او د پاڼې په منځ کې وي.
- ✓ د ليکوال پېژندنه دې په دې ډول وي: د ليکوال علمي رتبه، بشپړ نوم، تخلص، پوهنتون، پوهنځی او څانګه. ورپسې دې لاندې ښي اړخ ته په (۱۱) سايز کې برېښناليک راوړل شي.
- ✓ لنډيز دې د (۲۰۰- ۲۵۰) کلمو پورې وي او د لنډيز عنوان دې (۱۲) بولډ وي.
- ✓ کليدي کلمې دې د الفبا په ترتيب له (۵- ۷) پورې راوړل شي.
- ✓ سريزه دې په بسم الله الرحمن الرحيم او د الله تعالی په ثنا او صفت پيل شي ورپسې دې د موضوع وضاحت، ستونزې، موخې، پخوانيو ليکنو ته کتنه، د څېړنې اهميت او تګلاره راوړل شي.
- ✓ د موخو ليکلو لەپاره دې (SMART) ته پاملرنه وشي، يعنې موخې دې مشخصې، د اندازه ګيرۍ وړ، د لاسرسي وړ، په واقعيت ولاړې او د وخت مطابق وي.
- ✓ د څېړنې اهميت او تګلاره کې دې واضح شي، چې کومې نيمګړتيا دغه څېړنې ته هڅولی يې؟ په کوم سبب زما څېړنه مهمه ده؟ کومو لوستونکو سره به مرسته وکړي او څه مثبت تغير پېښولی شي؟
- ✓ په تګلاره او کارتوکو کې دې خپل د ليکنې روش او تګلاره څرګنده شي او د ميتود ډول دې واضح شي.
- ✓ په اصلي متن کې دې له امانتدارۍ او د ماخذ ليکلو له سمې طريقې استفاده وشي. د قران کريم او نبوي احاديثو په ژباړه کې دې دقت وشي او په خنجري لينديو ﴿﴾ کې دې ونيول شي. د مقالې د کلمو شمېر

دې (۵۰۰۰ - ۶۰۰۰ ) کلمو پورې وي، لیکنه دې د لیکدود او ګرامر له مخې سمه وکښل شي، د پښتو لهپاره (Bahij Zar) ، د دری لهپاره(Bahij) فونټونه، د عربي لهپاره (Traditional Arabic) او د انګلیسي متن لهپاره دې (Time New Roman) فونټونه وکارول شي .

- ✓ له منځپانګې بشپړولو وروسته دې پایله، مناقشه او نتیجه ګیري راوړل شي. په پایله کې دې هره نتیجه په ځان ته پراګراف کې راوړل شي.
- ✓ وړاندیزونه دې د پایلې، مناقشې او نتیجه ګیری څخه په الهام راوړل شي.
- ✓ د انګلیسي (Abstract) د لیک سایز دې (۱۲) وي، د کلمو شمېر دې یې د (۲۰۰- ۲۵۰) وي. د (Abstract) لاندې دې (Key Words) راوړل شي، چې شمېر یې د (۵- ۷) پورې وي او د (Abstract) سر ته دې په انګلیسي ژبه د لیکوال بشپړ نوم، علمي رتبه، پوهنځی، څانګه، ګرځنده شمېره، برېښنالیک، د تقریظ ورکوونکي بشپړ نوم او د مقالې عنوان ولیکل شي.
- ✓ مأخذونه باید د الفبا په تورو ترتیب، شمېر یې له اتو کم نه وي، د ټولنیزو علومو مأخذونه دې د (APA style) کې او د طبیعي علومو مأخذونه دې د (Vancouver Style) کې راوړل شي.

# ټولنیز علوم


| ګڼه | سرلیکونه | لیکوال | مخګڼه |
|---|---|---|---|
| ۱ | د یوې ادارې په اغېزمنتوب کې د انساني سرچینو د مدیریت ونډه او ارزښت | پوهاند زرولي صدیقي<br>پوهنمل سیف الله غروال | ۱ |
| ۲ | د اسلامي شریعت او وضعي قوانینو پر وړاندې د وګړو د برابرې اصل پېژندنه | پوهنوال عبدالرحمن رحیمي | ۱۵ |
| ۳ | د جعلي خبرونو په پېژندنه کې د رسنیز سواد ونډه | پوهنوال نقیب الله عطیش | ۲۷ |
| ۴ | پۀ پښتو ادب کې فکري تنوع | پوهندوی ظاهر شاه زهیر | ۴۵ |
| ۵ | د اسلامي شریعت او وضعي قوانینو له نظره د تأمیني او تربیتي اقداماتو پېژندنه | پوهندوی پاخون میاخېل | ۵۷ |
| ۶ | په معاصره نړۍ کې د حجاب د تطبیق فقهي تحلیل او ټولنیزې پایلې | پوهندوی دوکتور مفتي عزت نور | ۷۵ |
| ۷ | په کورنۍ د ناروا جنسي اړیکو بدې اغیزې | پوهندوی مسیح الله حذیفي | ۹۱ |
| ۸ | د روان لوستنې د ارزوونکو وسایلو تشخیصي څېړنه | څېړندوی لطف الله صابر | ۱۰۵ |
| ۹ | ویژه‌گی‌های شعر پرتونادری | پوهنمل فضل احمد حماد | ۱۲۱ |
| ۱۰ | حس‌آمیزی در اشعار پرتونادری | پوهنمل میرسبحان مجددي | ۱۴۱ |
| ۱۱ | د پښتو او سندي ژبو لغوي پرتلنه | پوهنمل فریدالله فرید | ۱۶۱ |
| ۱۲ | په شاعرانه ژبه کې د الفاظو سپېڅلتیا | پوهنمل سیدمرجان سروري | ۱۷۷ |
| ۱۳ | په کوچنیو کاروبارونو د مالیاتو معاف کېدل او د دولت په عوایدو یې اغیزې | پوهنمل اکمال ناصر امیري | ۱۸۷ |
| ۱۴ | د تضمین کیفیت پروسې په بهبود باندې د پوهنتونونو مالي اسقلالیت اغیزې | پوهنمل غازي پتنګ<br>پوهنیا ر محمدعثمان شریفي | ۲۰۳ |
| ۱۵ | د انساني قاچاق عوامل، اغیزې او حل لارې | پوهنمل عبدالوهاب ایوبي | ۲۱۵ |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ١٦ | برسی اهمیت تاریخی عبدالحی گردیزی و تاریخ زین الاخبار | پوهنمل فقیرالله اسایش | ۲۳۳ |
| ۱۷ | د امنیت او خوندیتوب په برخه کې د اسلامي شریعت اغیزې | پوهنیار حبیب الرحمن حبیبي | ۲۴۹ |
| ۱۸ | د اوښتون پړاو منظوم ادب او د نوي نسل اړیکې | پوهنیار صفي الله اثر | ۲٦۵ |
| ۱۹ | په اسلامي فقه او غرب کې د نکاح آثار | پوهنیار محمد نعیم رحماني<br>عزیزالله تره‌خېل | ۲۷۹ |

# د یوې ادارې په اغېزمنتوب کې د انساني سرچینو د مدیریت ونډه او ارزښت

پوهاند زرولي صدیقي، شیخ زاید پوهنتون د ټولنیزو علومو پوهنځي، د عمومي تاریخ څانګې استاد
پوهنمل سیف الله غروال، د شیخ زاید پوهنتون د ټولنیزو علومو پوهنځي د عمومي تاریخ څانګې استاد
**برېښنالیک:** zarwalisediqi@gmail.com

**لنډیز**

نن ورځ په نړۍ واله سطحه د ټکنالوژۍ په پرمختګ سره ادارو پراختیا موندلې ده او د خدماتو په وړاندې کولو کې زیات بدلونونه رامنځ ته شوي دي، اوس د تیر په پرتله بېلابېلو برخو کې د چټکو او پر وخت خدماتو وړاندې کول شدیده اړتیا ګڼل کېږي. همدا ډول په نړیواله کچه د خدمتونو وړاندې کوونکو ادارو ترمنځ سخته سیالي روانه ده او ټولې هڅه کوي، چې خپله ټوله او غوښتونکي خوښ وساتي. پورته چارو ته په کتو، د یو سازمان په مختګ کې بېلابلې سرچینې خپله ونډه لري، چې یو له خورا مهمو سرچینو یې انساني سرچینې دي. انساني سرچینې د ادارو پرېکړو ته د عمل جامه وراغوندي، ستونزو ته یې د حل لارې پیدا. اړینه ده، چې یاده خورا برخه په سم ډول مدیریت شي او داسې کاري چاپېریال ورته برابر شي، چې ادارې او ټولنې ته غوره خدمات وړاندې کړي او د خپلې ادارې په پرمختګ کې رغنده ونډه ولوبولی شي. په دې څېړنیزه علمي مقاله کې پوښتنه په منطقي دلایلو سره روښانه شوې ده، چې د یوې ادارې په اغېزمنتوب کې د انساني سرچینو ونډه او ارزښت څومره اړین دی؟ یاده اغېزمنتیا هغه مهال څرګندیږي، چې د انساني ځواک د مدیریت اصلي دندې ( د انساني ځواک د اړتیاوو تامین، د دې ځواک پېژندنه، ټاکنه، دې ځواک ته پلان جوړونه، د دوی روزنه او ارزونه) په ښه توګه سره ترسره کړي. دا یوه مروري مقاله ده چې معلومات یې د مدیریت له بېلابېلو علمي سرچینو څخه راټول شوي دي.

**کلیدي ټکي:** اداره، اغېزمنتیا، انساني سرچینې، رهبري، مدیریت

## سریزه

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمد لله رب العلمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین وعلی اله واصحابه اجمعین. امابعد:**
وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلائِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الأَرْضِ خَلِيفَةً قَالُوا أَتَجْعَلُ فِيهَا مَنْ يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَاءَ وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ قَالَ إِنِّي أَعْلَمُ مَا لا تَعْلَمُونَ[البقرة:۳۰] **ژباړه:** او (یاد کړه ای محمده!) هغه وخت چې ستا پروردګار پرښتو ته وویل، چې بېشکه زه په ځمکه کې د یوه خلیفه پیداکوونکی یم، نو پرښتو وویل: آیا ګرځوی (ټاکې) ته په ځمکه کې هغه څوک چې په هغې کې به فساد کوي او (په ناحقه سره) به وینې تویوي، په داسې حال کې چې موږ ستا تسبیح او ثنا وایو او نسبت د پاکی کوو تاته، (الله) وویل: بېشکه زه په هغه څه پوهېږم چې تاسې پرې نه پوهېږئ.

نن ورځ په اداره کې د انساني ځواک او د هغې د مدیریت ارزښت او ونډه د هیڅ چا له سترګو پټه نه ده. د تولیدي عواملو له ډلې څخه انساني ځواک هغه ارزښت لرونکی عامل دی، چې هغه ته نه پاملرنه د هرې ادارې اغېزمنتوب او ګټورتوب زیانمن کوي. د اوس مهال په رقابتي چاپېریال کې ادارې د عمر، ژبې، باورونو، جنسیت او داسې نورو عواملو ته په نه پاملرنې سره شتون لري. په شلمې او یویشتمې پېړیو کې روانو بدلونونو ته په کتنې سره په ټولو ادارو کې انساني سرچینو ته ډېره پاملرنه شوې او د ټولو ادارو مدیران دې پایلې ته رسیدلي دي، چې د انساني سرچینو مدیریت د ادارو پرمختګ او اغېزمنتوب لپاره خورا فعاله ونډه لري او دا باور ورځ تر بلې د ځواکمنتیا په لور روان دی.

که چېرې دا انساني او اداري ځواک په سم ډول مدیریت شي، د دوی د پرمختګ او ساتنې اړوند کړنې به هم په ښه شکل سره ترسره شي؛ چې په دې سره به پرته له شکه هره اداره په ټولنه کې لوړ مقام او اغېزمنتوب ته رسیدلې شي؛ نو ددې مقالې د څېړنې اصلي مسئله داده چې انساني ځواک څنګه مدیریت کېدای شي او اداره څنګه کولای شي د هغوی له لارې خپل اغېزمنتوب تضمین کړي؟ انساني سرچینې د یوې ادارې لپاره یوه لویه پانګه ګڼل کېږي؛ ځکه چې اداره د یو سیستم نو دی او یاد سیستم د انساني ځواک په لاښوونو او وړتیاوو پورې نه شلیدونکی تړاو لري.

## موخه

د انساني منابعو د مدیریت اساسي موخه داده، چې په اداره کې د وړ، نوښتګرو او ژمنو کارکوونکو څخه مطمین شي او داسې ستراتیژي په کار واچوي، چې د دوي له توان څخه د ادارې په پرمختګ کې ګټه واخیستل شي. اداره باید هڅه وکړي چې یو غوره انساني ځواک پیدا او هم هغه په سم ډول سره مدیریت کړي، ترڅو وکولای

شي د ادارې اغېزمنتبا ته لاره هواره کړي. په ټوليزه توگه په دې پوهيدل، چې د انساني سرچينو مديريت د يوې ادارې په اغېزمنتوب کې څومره ونډه لري؟، په دې پوهېدنه، چې د انساني سرچينو د مديريت کومې ځانگړتياوې د يوې ادارې موثريت لوړولی شي؟، د انساني سرچينو مديران څنگه کولای شي چې له انساني سرچينو څخه سمه گټه واخلي؟، ددې معلومول ،چې په ادارو کې څرنگه اغېزمنتوب رامنځ ته کېدای شي؟ ، ددې معلومول، چې موثريت لرونکي ادارې څه ډول وي او خپلې چارې څرنگه تنظيموي؟

**فرضيه:** د څېړنې فرضيه داسې بيانېږي، چې په ټولو ادارو کې د انساني سرچينو شتون او اهميت خورا څرگند او اړين دی.

**کړنلاره او مېتود**

دا څېړنه د مروري څېړنو په چوکاټ کې ترسره شوې ده او په اړه يې له دويمه درجه سرچينو څخه کار اخېستل شوی دی او د راټولو شوو معلوماتو د تحليل لپاره د منځپانگې موضوعي تحليل څخه استفاده شوې ده.

**د ادارې تعريف او پېژندنه**

په دې وروستيو لسيزو کې د څېړونکو پاملرنه په کاري چاپېريال کې د کارکوونکو د کړنو، له دندې خوښي او د هڅوی د کړنو اغېزمنتوب او گټورتوب ته جلب شوې ده. ددې څېړنو گډه موخه داده چې هغه کاري کړنې تعريف او وپېژني چې د ادرې له برياليتوب سره مرسته کولای شي؛ ځکه چې هيڅ اداره د کارکوونکو د مرستې پرته نشي کولای اغېزمنتوب او گټورتوب ته ورسېږي. دا چې انساني ځواک يا کارکوونکي په يوه اداره کې راټولېږي او د يوې ځانگړې موخې لپاره په شريکه کار کوي؛ نو ښه داده چې تر ټولو وړاندې د اداره وپېژنو.
اداره د ټولنيز نظام د ځانگړو لارو له طرحو څخه عبارت ده، چې ورپکې يو شمېر خلک د يو ټاکلي هدف ته د رسيدلو لپاره يو ځای کار کوي (روحي، ۱۴۰۳،ص.۸).
اداره له هغه ټولنيز نظام څخه عبارت ده، چې د خپلو ځانگړو ميتودونو له مخې ورپکې يو شمېر زيات خلک د نسبتا مشخصو اهدافو د لاسته راوړلو لپاره د يو لړ پيچلو دندو په ترسره کولو بوخت وي.
https://abedjan.wordpress.com

همدارنگه په يو لړ تعريفونو کې د ادارې د تعريف په اړه داسې هم ويل شوې دي، چې د يو شمېر کسانو معقولې همغږی او همکاری ته ويل کېږي، چې د دندو د وېش له مخې په خپلو کې سره منظمه او منطقي اړيکه ولري او په گډه خپلو ټاکلو اهدافو ته په دوامداره توگه دوام ورکړي (علاقه بند،۱۳۹۴،ص.۷).

له دې امله ویلای شو، چې یوه اداره به ځانته مستقله تګلاره لري او د همدغې تګلارې له مخې به خپله اړونده انساني ځواکیو له بل سره همغږي کوي، چې ټاکل شوو موخو ته په اسانۍ ورسېږي او د یاد بهیر تعقیب به په دوامداره توګه پر مخ وړي، باید لاندې ځانګړتیاوې ولري:

**۱- د موخو لرل:** له موخو پرته د یوې ادارې شتون ګټور نه دی؛

**۲- ګروپي کار:** هره اداره باید په ګروپي توګه له انساني قوې څخه جوړه وي؛

**۳-دوام:** د ادارې اړونده کړنې به دوامداره وي؛

**۴- د کار ویش:** د دندو له مخې به د کار ویشلو اصل مراعتوي.

**۵- همغږي او مرسته:** په همغږۍ او پوره همکارۍ سره به په منظمه او منطقي توګه خپل کارونه پر مخ وړي(علاقه بند،۱۳۹۴،ص.٦).

پورتنۍ پنځګونې ځانګړتیاوې د ټولو ادارو ترمنځ مشترکې دي او پرته له یادو ځانګړتیاوو به یوه اداره مکمله اداره و نه ګڼل شي؛ نو له همدې امله اړینه ده، چې د هرې ادارې له جوړېدو وړاندې، لومړی باید د هغې ادارې چوکاټ جوړ شي او بیا د ادارې عمومي تعریف ته په کتو د هغې اړونده اړینې برخې رامنځته شي.

**اغېزمنه اداره**

د یوې اغېزمنې ادارې لپاره ضروري ده چې د خپلو کارکونکو  په اړه سمه پېژندنه او درک ولري، لکه د هغوی شخصیت، انګېزې، او شخصي او کاري هدفونه. د خواخوږۍ، مرستې او همغږۍ په څېر چلند له لارې، د افرادو او ډلو ترمنځ ګډ او ژور درک رامنځته کېدای شي. دا مهمه ده چې پوه شو چې خلک له یو بل سره توپیر لري او بېلابېلې ځانګړتیاوې او مهارتونه لري. که څه هم نن سبا د معلوماتو د څېړلو او تحلیل لپاره نوې ټېکنالوژۍ شته، خو له خلکو سره وخت تېرول لا هم تر هر څه ډېر ژور درک او بصیرت رامنځته کوي.

د ادارې د بېلابېلو تعریفونو وروسته اوس باید د یوې اغېزمنې ادارې په رابطه یو څه اجمالي معلومات وړاندې شي. د یوې ادارې د اهدافو د ترلاسه کولو پر موخه په سمه توګه د کارونو اجرا کول(مصلح،۱۳۹۸،ص:۴) او یا په بل عبارت د کمو سرچینو له استعمال څخه زیاته ګټه ترلاسه کول د یوې اغېزمنې ادارې تعریف دی(ستیفن،۲۰۰٦م،ص:۸)، چې یاد اغېزمنتوب د یوې ادارې په دننه کې د قدرت پلې کولو او په شفاف ډول د نظم او انظباط په راوستلو پورې اړه لري.

کامرون K.S Cameron باور درلود، چې د يوې ادارې اغېزمنتوب هغه وخت ترلاسه کېدلای شي، چې اداره د خپلو ټاکل شوو معيارونو په واسطه د محدودو منابعو په کارولو سره وکولای شي، خپلو موخو ته ورسيږي.

د هوج B.J Hodge په عقيده د يوې ادارې اغېزمنتوب يعنې له چاپېريال سره تعامل کول دي. يو شمېر پوهانو د يوې ادارې اغېزمنتوب له ګټې سره معادلوالی ګڼلی دی او ځينو نورو هم بيا له دندو څخه د کارکوونکو رضايت او ځينو نورو بيا دا پروسه د يوې ادارې په ټولنيزو ګټو پورې تړلې ده( محمدزاده ، ۱۳۷۵، ص ۴۰).

پارسونز T. Parson او اميتای انزيوني E. Etzioni وايي: « د ځانګړو موخو ترلاسه کولو سره له موجودو منابعو څخه په سمه توګه ګټه اخيستنه د يوې ادارې له اغېزمنتوب څخه عبارت دی». پارسونز بيا د اغېزمنتوب لپاره څلور اړخونه په ګوته کوي، چې هر اړخ يې بيا په څلورو نورو عناصرو ويشلی دی، چې په ټوليزه توګه ټول ۱۶ عناصر کېږي، چې په لاندې توګه ترې يادونه کېږي:

**الف: توافق:** چې په دې کې (وړتيا، انطباق، وده او پراخوالی) شامل دی.

**ب: د موخې ترلاسه کول:** په دې مورد کې( بريا، کيفيت، د ګټې ترلاسه کول او په اغېزمنه توګه د کارونو ترسرکول) شامل دي.

**ج: تماميت:** په دې مورد کې ( رضايت، فضا، اړيکې، او تعارض) شامل دي.

**د: دوام:** په دې مورد کې (وفاداري، د ژوند اساسي علايق، انګيزه او هويت) شامل دي( ميرکمالي، ۱۳۷۳، ص ۴۷).

**انساني سرچينې**

داچې په نړۍ کې ټولې سترې او کوچنۍ ادارې د انسانانو په واسطه ادره چارې يې پر مخ وړل کېږي؛ نو له دې امله ټول پوهان، چې په دې برخه کې کار کوي، په دې باور دي، چې انساني ځواک د هرې ادارې لپاره خورا اړينه برخه ده او په نه شتون کې يې اداره نه رامنځته کېږي، په دې اساس پوهان، باور لري، چې د يوې ادارې د برياليتوب راز مسلکي او غوره کار کوونکو کې نغښتی دی؛ نو اړتيا ده، چې د انساني قوې په استخدام کې له خورا ځيرکتيا او دقت څخه کار واخېستل شي (مصلح،۱۳۹۸،ص:۱۲۴).

په دې اساس د هر هېواد د پانګونې لومړی او مهمه سرچينه هغه د انساني ځواک دی، چې بايد په اړه يې له فرصتونو څخه استفاده وشي او پر وړاندې شته ننګونې يې په فرصتونو تبديل شي؛ ځکه چې د انساني سرچينو د

مدیریت اصلي دنده داده، چې د کارکوونکو اړوند چارو ته رسیدنه وکړي، په همدې موخه مسؤلین او تشکیلاتي چارو متخصصین د کارکوونکو چارو ته ډېر وخت ورکوي؛ خو دا یوازې د انساني سرچینو د مدیریت دنده نه ده؛ بلکې معمولاً د پرسونل مسؤل هم په مستقیم ډول د یوې ادارې د اغېزمنتوب په لوړوالي کې ونډه لري.

ددې لپاره چې یو اداره په ریښتیني توګه خپل اغېزمنتوب لوړ کړي؛ نو باید انساني ځواک په سمه توګه مدیریت کړي او د انساني ځواک د مدیریت لپاره لاندې موارد خورا اړین دي:

۱- د غیر اړینو اضافه کاریو کموالی؛

۲- د غیر اړینو غیرحاضریو او غیابت څخه د مخنیوي لپاره د تدابیرو نیول؛

۳- د کارکوونکو د وخت د نه ضایع کېدو په موخه د دندو په سم ډول طرحه کول؛

۴- د غوره کاري چاپېریال او د انساني اړیکو مدیریت کول؛ ترڅو په یوه اداره کې د دندې له پرېښودلو څخه مخنیوی شوی وي؛

۵- کارکوونکو اړین مسلکي ظرفیت لوړول؛

۶- په کاري چاپېریال کې د امنیت او روغتیا په موخه د غوره سیستم رامنځ ته کول؛

۷- مستعدو او لایقوکارکوونکو پیدا کول او استخدام کول؛

۸- د کارکوونکو د حقوقو او امتیازونو په اړه د غوره سیستم رامنځ ته کول.

۹- د کارکوونکو تشویقول( سعادت، ۱۳۹۵، ص ٦) .

**مدیریت**

د یو مدیر له خوا د خپلو کارکوونکو له کړنو څخه څارنه او په اداره کې همغږي او همکاري رامنځته کول، ترڅو په اداره کې د کار کوونکو کړنې د هماغه اداري لپاره اغېزناکې او ګټورې واقع شي، مدیریت بلل کیږی (مصلح ،۱۳۹۸،ص:۳).

یا په بل عبارت له نورو څخه د کار اخیستلو هنر ته مدیریت ویل کیږي(علاقه بند،۱۳۹۴،ص:۱۰).

### رهبري

رهبري د يو کارکوونکي هغه لارښوونې دي، چې له مخې يې ګروپي کړنې د يو ځانګړې موخې په خاطر ترسره کېږي يا په بل عبارت: رهبري په افرادو کې له هغه نفوذ څخه عبارت ده، چې په يو ځانګړې موقعيت کې رامنځته کېږي او د خپلو اړيکو له مخې د يو شمېر ټاکل شوو اهدافو د ترلاسه کولو په موخه پر مخ ځي(مصلح، ۱۳۹۸،ص.۲٦٦).

په دې اړه يو څو نقاط خورا اړين دي، لکه: د رهبر ځانګړتياوې او د دې ترڅنګ اطاعت هغه اصل دی، چې د رهبر او رهبرۍ ترمنځ مستقيم تړاو لري. تر دې ځايه مو د ادارې، مديريت او رهبۍ اړونده مفاهيم روښانه کړل، چې يو له بل سره ژورې اړيکي لري او په حقيقت کې د يوې اغېزمنې ادارې لپاره داسې يو مثلث دی، چې نشتوالی به يې د نن ورځې ادارې اهداف پوره نه کړي.

اوس د دې لپاره، چې په دې پوهه شو، چې د يوې ادارې په اغېزمنتوب کې د انساني سرچينو د مديريت ونډه څه ده؟ اړتيا ده، چې د يادې برخې لاندې موارد په يوه اداره کې پياده او تطبيق کړو.

### د انساني ځواک روزنه او د هغې مديريت

د انساني ځواک ښوونه او روزنه د ملتونو د ودې او پرمختګ اصلي عامل دی. هيوادونه او ادارې بايد خپلې پانګې، بوديجې او صنعت ته د پاملرنې تر څنګ د انساني ځواک ښوونې او روزنې ته هم ډېره پاملرنه ولري. د شوروي اتحاد د ړنګيدلو څخه وروسته ګورباچوف وويل:« موږ بايد، چې په يوه نوې ليد سره نړۍ ته وګورو او په دې کې انسان ته بايد د ټولو شيانو په منځ کې د محور په توګه وکتل شي»(ګريفن،۱۳۸۳،ص.۱۵۱).

هند هم په تيره نيمه پېړۍ کې د انساني ځواک په روزنه باندې زيات تمرکز و کړ او نن چمتو دی، چې د نړيوالو بازارونو لپاره خپل انساني ځواک وړاندې کړي. په دې اساس نن ورځ د انساني ځواک رزونه تر هر بل وخت ډېره د اقتصادي او علمي ودې په هر اړخيزه پراخوالي کې ځانګړې ونډه او ارزښت لري. په ۱۹۸۸م کال کې د ملګرو ملتونو ادارې په دې اړه هر اړخيزه څېړنه وکړه، چې د ۴۵ هېوادونو متخصصينو په کې ونډه درلودله او دې څېړنې ثابته کړه، چې د انساني ځواک روزنه اقتصادي ودې په پراخوالي کې تر ټولو مهم او اړين عامل دی. دوی وويل چې د انساني ځواک روزنه د مخ پر ودې هيوادونو لپاره ډېره اړينه ده، تر څو د هغوی انساني ځواک نوي کسبونه زده کړي او د دندو د سرته رسولو مهارتونه ترلاسه کړي. د مديريت په برخه کې د اتريش هېواد مشهور عالم پيټر دراکر هم په دې نظر دی، چې د اقتصادي او ټولنيزه وده په پياوړي مديريت پورې اړه لري. د نوموړي باور، هر چېرې چې د اقتصادي ودې په پراخوالي کې يوازې د سرمايې له عامل څخه ګټه اخيستل شوې؛ نو هلته

ودې او پرمختګ په واقعي توګه صورت نه دی نیولی؛ خو هر کله چې په دې برخه کې په ښه ډول انساني ځواک په ښه ډول مدیریت شي او د دوی روزنې ته پاملرنه وشي؛ نو بیا اقتصادي او ټولنیزه وده هم رامنځ ته کېږدي. له دې امله دراکر ټینګار کوي، چې د انساني ځواک روزنه د مدیریت له مهمو او حساسو دندو څخه ده( طوسی،۱۳۷۴. ص ۵٦).

په ښوونځیو او پوهنتونونو کې ښوونې او روزنې موخه داده، چې ځوانان په ادارو کې د کار کولو لپاره تیار کړي؛ خو کارکوونکي ددې معلوماتو سربېره ددې اړتیا لري، چې د دندو د ښه سرته رسولو لپاره اړین مهارتونه هم زده کړي. د خدمت پر مهال زده کړه له کارکوونکو سره ددې مرسته کوي، تر څو د یوې ادارې د موخو په لاسته راوړلو کې په موثر ډول چارې پرمخ یوسي. د بیلګې په توګه د آی بي آم(IBM)[1] شرکت په کال کې یو میلیارد ډالر او فورډ[2] شرکت بیا نیم ملیارډ ډالر د کارکوونکو د زده کړې او روزنې لپاره لګوي. امریکایي شرکتونه(مایکروسافت، ګوګل، امازون او...) په یوه کال کې ټول ټال ۵۸ میلیارد ډالر د کارکوونکو په روزنه لګوي، چې په منځني توکه هر کس ته ۲۵ ساعته رسیږي. خو د فورچون په څیر لوي شرکتونه هر کارګر ته په کال کې ۵۰ ساعته رزونه ورکوي. له دې لګښت څخه ۴۰ سلنه په کارکوونکو او ٦۰ سلنه پر مدیرانو او سرپرستانو لګیږي( قلی پور، ۱۳۹۵ص ص ۳۲۴- ۳۲۵).

د یادو مطالبو ته په کتو ویلای شو، چې د کارکوونکو روزنه د یوې ادارې لپاره لاندې ګټې او اغېزې لري:

**۱- د کارکوونکیي فعالیتونو ښه والی:** کارکوونکي د پوهنې د مهارت په ترلاسه کولو سره کولای شي، چې په خپله کاري ساحه کې په اغېزمنه توګه کړنې ترسره کړي، ستونزې تحلیل او هغوی ته د حل لارې پیدا کړي.

**۲- د مهارتونو او وړتیاوو نوي کېدل:** د کارکوونکو د روزنې یوه موخه داده، چې کارکوونکي به ورځني یا نویو مهارتونه او معلومات ولري؛ ځکه چې هره ورځ ټکنالوجي د تغییر په حال کې ده او نوو مهارتونو زده کړې ته اړتیا ده. که چېرې کارکوونکي په خپله کاري ساحه کې نوي مهارتونه ترلاسه کړي دیوې ادارې اغېزمنتیا لوړیږي.

**۳- د ارتقا لپاره تیارېدل:** نن ورځ ټولې ادارې ددې لپاره د کارکوونکو د روزنې پروګرامونه پرمخ وړي، چې و کولای شي په راتلونکي کې د ادارې لوړ خالي بستونه ډک کړي. په دې کار سره د کارکوونکو رضایت ترلاسه کیږي، هغوی له ادارې سره ځانونه تړلي حسابوي او د ادارې موخو ته ژمن کیږي.

[1] . International Business Machines
[2] . Ford Motor Company

**۴- د نويو کارکوونکو آشنا کول:** اداره بايد له کارونو سره د خپلو نويو کارکوونکو د آشنا کولو لپاره د زده کړې او روزنې پروگرامونه په لاره واچوي، ترڅو کارکوونکي د خپلې ادارې له ټولو قوانينو، مقرراتو، دندو، لوايحو، پلانونو، د نويو کارکوونکو او ادارې موخو څخه خبر شي. په دې کار سره به نوي کارکوونکي د ادارې او د خپلو دندو په وړاندې د مسؤليت احساس وکړي(کيومرثي، ۱۳۹۵، ص ص ۱۸۴-۱۸۵).

## د غوره کاري چاپېريال او انساني اړيکو مديريت کول

يو څه موده وړاندې د انساني سرچينو د مديريت په اړه يو مشکوک انځور موجود و او داسې فکر کېده، چې دا مديريت او پوهه، يوازې د کارکوونکو لپاره د تفريحي او خدماتي فعاليتونه ترسره کول ؛ خو اوس دا فکرونه له منځه ولاړل، نن ورځ په ټولو ادارو کې د انساني سرچينو مديريت يو مهم مديريت بلل کېږي او اړوند مديران يې په ادارو کې له ډېر نفوذ څخه برخمن دي. نن ورځ په دې مديريت کې د کاري ځواک لګښتونه، له کارکوونکي څخه د ګټې اخيستنې ښه والی، کارکوونکو ته د هڅونې د حقوقو ورکول، دولتي قوانينو ته پاملرنه، د ادارې په وده او دوام کې د انساني ځواک ونډه او په ټوله کې د غوره کاري چاپيريال په رامنځ ته کولو کې خپلې چارې پرمخ وړي. د يوه غوره کاري چاپيريال په رامنځ ته کولو کې لاندې موضوعات ډېر د ارزښت وړ دي او د يوې ادارې د موثريت سبب کېږي.

**۱. د کارکوونکو د ارزښت او احترام مديريت کول:** په يوه اداره کې د غوره انساني اړيکو رامنځ ته کول د ادارې د موثريت د لوړېدو سبب کېږي. که چېرې اداره خپلو کارکوونکو د شخصيت احترام وکړي؛ نو د هغوی وړتياوې به وروزل شي او زړونه به يې له ادارې سره وتړل شي. د هونډا شرکت يو مدير وايي: « موږ غواړو، چې د خپلو کارکوونکو له سرونو څخه د هغوی د لاسونو په څير ګټه واخلو. کله چې يوازې د هغوی له لاسونو څخه ګټه اخيستل کېږي، دا د دې معنی لري، چې يوازې دوی اخيستل شوي دي. خو که چېرې د دوی له فکرونو او نظرونو څخه ګټه واخيستل شي ؛ نو د دوی زړونه ترلاسه کېږي»( رابرت،۱۳۸۷ ص ۲۳۹- ۲۴۰).

په اداره کې بايد د کارکوونکو سپکاوي او پر هغوی د بې ځايه انتقاد کولو څخه پرهيز وکړو. که چېرې په اداره کې کارکوونکي له تېروتنو سره مخامخ کېږي؛ نو په بشپړ ډول دوی هم ملامت نه دي؛ ځکه کېدای شي چې هغوی په سم ډول د ادارې له اصولو سره بلد شوي نه وي او يا هم هغوی ته لازمه روزنه نه وي ورکړل شوي. د کارکوونکي د اصلاح او د هغه د ظرفيتونو څخه د کار اخيستنې مخکې بايد د هغه شخصيت ته احترام وشي. که چېرې مديران دا کار ترسره کړي؛ نو کارکوونکي به اضافي کارونه هم ترسره کړي(ګريفن،۱۳۸۳،ص.۲۸۱).

**۲. له کارکوونکو سره په مهربانۍ چلند کول:** په اداره کې باید د مدیرانو او کارکوونکو تر منځ اړیکه د والدینو او اولادونو په څیر وي. لکه څرنګه چې په کورنی کې د کورنی د غړو ترمنځ صمیمانه او عاطفي اړیکې موجودې وي، په اداره کې هم باید ورته حالت حاکم وي. د جاپاني مدیریت یوه ځانګړنه داده، چې د کارکونکو سره لکه د مور او پلار په څېر تعامل ترسره کېږي او حتی د هغوی کورنیو ستونزو ته هم رسېدنه کېږي(رضائیان، ۱۳۸۷،ص.۲۲۴).

**۳. د کارکوونکو د رضایت ترلاسه کول:** د ادارې او کارکوونکو ترمنځ د اړیکو درلودل د کار لپاره تر ټولو غوره انګېزه ده. که چېرې کارکوونکي له ادارې او اداره له کارکونکو سره په خپلو منځونو کې اړیکه ولري؛ نو دا اړیکې د ادارې پر ټولو کارونو مثبت اغېز اچوي او په دې سره د یوې ادارې اغېزمنتوب لوړیږي (ګریفن،۱۳۸۳،ص.۱۰۷).

د کارکوونکو رضایت هغه وخت ترلاسه کېږي، چې په اداره کې غوره کاري فضا او چاپیریال رامنځ ته شي. یعنې د ادارې چاپیریال باید له هر اړخه سالم وي. په اداره کې د ناوړه او غیر اخلاقي فضا د شتون له امله د کارکوونکو د نارضایت کچه لوړیږي. په داسې شرایطو کې به کارکوونکي ونه شي کولای، چې خپل ورسپارل شوي کارونه په ښه ډول ترسره کړي؛ بلکې په دې سره له کارونو زړه توري کېږي. برعکس که د انساني سرچینو د مدیریت چارې منظمې وي او وکولای شي یوه غوره سالم کاري چاپېریال رامنځ ته او کارکوونکي و پوهېږي، چې دوی له هر اړخه په حفاظت کې دي؛ نو د هغوی د رضایت کچه لوړیږي او دندې په ښه شکل سره پرمخ بیایې. دا کار د یوې ادارې په اغېزمنتوب کې ډېره ونډه لري( رضائیان،۱۳۸۷، ص ۴۲۹)

**د کارکوونوکو تشویقول:** د انګیزې د ایجادولو یوه بله لاره د کارکوونکو تشویقول دي. تشویق د حرکت کولو لپاره انرژي ده؛ خو د پاملرنې وړ خبره داده، چې د کار او هڅونې ترمنځ باید نسبي اړیکه موجوده وي، که چېرې دا دوه عامله سره تناسب ونه لري د هڅې او تلاش روحیه له منځه ځي. که چېرته یو کارکوونکی په سم ډول خپله دنده ترسره کړي؛ نو سمدلاسه او د محاسبې پرته باید د هغه هڅونه ونه شي او برعکس که کله یې هم کار په سم ډول ترسره نه کړ؛ نو سمدلاسه او پرته له محاسبې باید ونه رټل شي؛ بلکې په دواړو حالتونو کې د سمې پاملرنې او محاسبې وروسته باید د هغه د کړنې په وړاندې عکس العمل وښودل شي، یعنې تشویق باید د هغه د کار د اغېزمنتوب او د هغه تنبه هم باید هغه ته د احترام او استدلال سره مطابق وي. اداره باید په موقع سره هم د ادارې په داخل او هم د ادارې څخه بهر د خپلو کارکوونکو قدرداني او هڅونه وکړي، که داسې ونه شي نو کارکوونکي

به د دندو په وړاندې بې علاقې شي او د ادارې د تولید سطحه به راټیټه شي. له یوې خوا به په اداره کې د بې تفاوتۍ روحیه حاکمه او له بلې خوا به د ادارې د اغېزمنتوب کچه راټیټه شي (ګریفن،۱۳۸۳،ص.۱۸۱).

**له دندې څخه د کارکوونکو د رضایت لوړول:** د دندې رضایت د کار په وړاندې د کارکوونکي له فکر څخه عبارت دی. یا له دندې او د هغې د مختلفو فکتورونو په وړاندې د کارکوونکي چلند د دندې د رضایت څخه عبارت دی. له دندې څخه د کارکوونکو رضایت ترلاسه کول د ادارې او په ځانګړې ډول د انساني سرچینو د مدیریت له مهمو او اساسي دندو څخه شمېرل کېږي. کله چې کارکوونکی له دندې او د هغې له مزایاو څخه رضایت ولري، د کار د اغېزمنتوب اندازه لوړیږي. اداره به خپله وګنې او د هغې د موخو ترلاسه کولو لپاره به تل په هڅه کې وي. باید یادوونه وشي، چې د کارکوونکي د هڅونې او له دندې څخه د رضایت ترمنځ مستقیمه اړیکه شتون لري. کارکوونکي کېدای شي د انعام، ترفیع، روزنې او د یو کاري چاپېریال د وسایلو د شتون په صورت کې له خپلې دندې رضایت ولري، خو دا رضایت هغه وخت د یو کارکوونکې د هڅونې سبب کېږي، چې کله د نوموړي د دندې د ګټورتوب او اغېزمنتوب سطحه لوړه شي ( رحماني او ناصري، ۱۳۹۶، ص۱۶۴).

**د انساني سرچینو د مدیریت ګټې**

په یوه اداره کې د نورو ګټو او لاسته راوړنو ترڅنګ د انساني ځواک او سرچینو د مدیر یت ګټه دا ده، چې د اداره په حاکم فرهنګ باندې د خپل نظارت دنده ترسره کوي یا په بل عبارت د یوې ادارې د ټولو کار کوونکو د اړونده چارو ترمنځ همغږي او همکاري رامنځته کوي، د هغې څار او تنظیم پر مخ وړي او د یوې ادارې د موخو په ترلاسه کولو کې ترې ګټه اخلي. په ټولیزه توګه ویلای شو، چې د انساني سرچینو مدیریت په هره اداره کې پرمختګ، د کارونو غوره انسجام او د کارکونکو سالمه هڅونه رامنځته کوي.

**پایله**

د انساني سرچینو مدیریت د یوې ادارې له مهمو کړنو څخه شمېرل کېږي. اداره یو داسې ټولګه ده، چې په هغې کې انسانان په شریکه سره د یو شمېر ځانګړو موخو لپاره په موثر ډول هڅې او فعالیتونه کوي. که څه هم مدیریت د پلان جوړونې، تنظیمونې، رهبرۍ او څارنې دندې په غاړه لري؛ خو دا ټولې دندې هغه وخت ترسره کېدای شي، چې په اداره کې یو ښه کاري ځواک شتون ولري. دا کاري ځواک هغه وخت ګټور کېدای شي، چې تر سالم مدیریت لاندې ونېول شي. د انساني سرچینو د مدیریت په اړه ټول هغه تړلي موضوعات چې دا ځواک پرې مدیریت کېدای شي او هم د دوی د ښه مدیریت له امله د ادارې د ګټورتوب او اغېزمنتوب سبب ګرځي باید په پام کې ونیول شي. د انساني سرچینو مدیریت ډېرې دندې لري. د بیلګې په توګه: د انساني سرچینو تامین،

د هغوی د اړتیاو تامین، د غوره کارکوونکي موندنه، انتخاب، ګمارنه، د انساني سرچینو لپاره پلان جوړونه، د انساني سرچینو روزنه او د یوه غوره کاري چاپېريال رامنځ ته کول. که چېرې یوه اداره د انساني سرچینو د مدیریت پورتني ټول موارد په پام کې ونیسي؛ نو په باوري توګه ویلای شو، چې د هغې د ګټورتوب او اغېزمنتوب کچه به ډېره به لوړ شي.

**وړاندیزونه**

۱- د دندې لایحې که داسې ډیزاین شي، چې جذابیت ولري او کارکوونکي ورڅخه زړه توری نه شي بهتره به وي.

۲- د مکافاتو او مجازاتو برخه دې، په خپل وخت او په دقیقه توګه پلې شي.

۳- د یوې ادارې عمومي پالیسي دې داسې جوړه شي، چې د انساني سرچینو د وقار او احترام ساتنه وکړي.

۴- د انساني سرچینو ښونې روزنې او ظرفیت لوړونې برخې ته دې، ځانګړې پاملرنه وشي.

۵- دنده دې زیاته ګټوره نه وي؛ بلکې یو څه خپلواکي دې ولري، چې کارکوونکي ځانونه محض بندیان احساس نه کړي.

٦- مدیران او رهبران دې خپلو کارکوونکو کاري انګېزه او د راتلونکي ضمانت په اړه ډاډ ورکړي.

# The Role of Human Resources in the Effectiveness of an Organization

Professor Zarwali Siddiqi, Faculty of Social Sciences, Shaikh Zayed University, Department of General History
Senior Teaching Assistant: Saifullah Gharwal, Faculty of Social Sciences, Shaikh Zayed University, Department of General History
**Email: zarwalisediqi@gmail.com**

**Abstract**

With the rapid advancement of technology at the global level, organizations have expanded, and significant changes have occurred in the delivery of services. Compared to the past, the provision of fast and timely services in various sectors is now considered a critical necessity. Likewise, there is intense competition among service-providing organizations worldwide, and all strive to ensure the satisfaction of their clients and beneficiaries. Considering these circumstances, multiple resources contribute to the progress of any organization, among which human resources stand as one of the most essential. Human resources translate organizational decisions into action and provide solutions to emerging challenges. Therefore, it is necessary that this vital sector be managed effectively and that an enabling work environment be created, so it can deliver high-quality services to society and play a constructive role in the development of the organization.This scholarly review article logically examines and explains the fundamental question: To what extent are human resources important and influential in the effectiveness of an organization? This effectiveness becomes evident when the core functions of human resource management—such as identifying human resource needs, recruitment, selection, planning, training, and evaluation—are carried out properly. This is a review-based article, and its information has been gathered from various academic sources in the field of management.

**Keywords:** Effectiveness, Human Resources, Leadership, Management, Organization

**منابع**

رحماني، عبدالطيف او ناصري، حشمت الله. ( ۱۳۹۶). مديريت منابع انساني. چاپ اول، کابل: انتشارات سعيد.

رضائيان، علي.(۱۳۸۷). مباني مديريت رفتار اداري. تهران. انتشارات سمت.

روحي، افغان.(۱۴۰۳). د اداري اړوند معلومات، جلال آباد، مومند خپرندويه ټولنه.

زارعی متين، حسن.(۱۳۹۳). مديريت منابع انسانی. چاپ چهارم، انتشارات: مرکز تبليغات اسلامی حوزه علميه قم.

سعادت، اسفنديار.( ۱۳۹۵ ).مديريت منابع انساني. چاپ بيست و يکم، تهران: اداره مطالعه و تدوين کتب علوم انساني دانشگاه( سمت ).

شوک، رابرت ال.( ۱۳۸۷). داستانی از مديريت ژاپانی در امريکا. مترجم:ايرج پاد، تهران:دفتر نشر فرهنگ اسلامی.

طوسي، محمدعلي.(۱۳۷۴). آموزش و پرورش و بالنده سازی نيروی انساني د نظام دولتي. فصلنامه پژوهشگاه علوم انسانی و مطالعات فرهنگی.

علاقه بند، علي.(۱۳۹۴). مديريت عمومي، تهران: نشر روان.

قلي پور، آرين.(۱۳۹۵). مديرت منابع انساني ( مفاهيم، تيوريها و کاربردها ).چاپ دهم، تهران: اداره مطالعه و تدوين

کيومرثي، فيروز. (۱۳۹۵). مباني اداره و مديريت.چاپ اول، تهران: انتشارات علم استادان.

گريفن، مورهد .(۱۳۸۳). رفتار سازماني، ترجمه: مهدی الوانی و غلام رضا معمار زاده، تهران: انتشارات ميوند.

محمدزاده، عباس، مهروژان، آرمن.( ۱۳۷۵). رفتار ادارهي نگرش اقتضايي. چاپ اول، تهران: انتشارات علامه طباطبايي.

مصلح، نثاراحمد(۱۳۹۸). د مديريت پېژندنه، جلال آباد: زيار خپرندويه ټولنه.

ميرکمالی، سيدمحمد.(۱۳۷۳). رهبری و مديريت آموزشی. تهران: نشر رامين.

Stephen P Robbin and Coulter Mary.(2006). Management.Newjersey,USA.

# د اسلامي شریعت او وضعي قوانینو پر وړاندې د وګړو  د برابرۍ اصل پېژندنه

پوهنوال عبدالرحمن رحیمي د شیخ زاید پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، د حقوقو څانګې استاد.
برېښنالیک:Abdurahmanrahimi636@gmail.com

**لنډيز**

د اسلامي شریعت او وضعي قوانینو پر وړاندې د وګړو  د برابرۍ اصل معنا داده چې د اسلامي شريعت او قانون پر وړاندې ټول وګړي مساوي حقوق او مکلفيتونه لري او يو پر بل باندې غوره والی نه لري. دا اصل د قانون حاکمیت تضمینوي او د ټولنیز نظم د ټېینګښت لپاره اساسي شرط بلل کیږي. نوموړی اصل نه یواځې د افغانستان د لغوه شوي  اساسي قانون د مهمو موضوعاتو څخه شمېرل کیږي بلکې د اسلامي شريعت او نړیوالو بشري حقوقو له مهمو اصولو څخه هم دي. د مقالې په ترڅ کې پر دې بحث شوی، چې دا اصل څنګه په اسلامي فقه، د افغانستان د لغوه شوي اساسي قانون او نړیوالوتقنیني اسنانودو کې مطرح شوی او علمي بڼه یې څومره خوندې ده. دغو موخو ته د رسیدا او د موضوع د ښه وضاحت  په منظور له معتبرو علمي او ديني د کتابونو او مقالو څخه د کتابتوني تحقیق په توګه استفاده شوې ده  او په پایله کې دا څرګنده شوی چې د وضعي قوانينو په پرتله د اسلامي شریعت حکمونه، د قانونو پر وړاندې د وګړو د برابروالي اصل په هکله  ډېر لرغونی، هر اړخيز او جدي دي. او د بشپړ تطبیق په صورت کې کولای شي عملاً په بشري ټولنو کې  د عدالت، نظم او ثبات او  د انسانانو ترمنځ د نژادي ، نسبي، ژبنې ، مذهبي ،  توروالي او سپينوالي او  دندییز و موقفونو پر بنسټ د توپیریزو چلندونه مخه ونیسي او ټول انسانان د قانون پروړاندې د خپلو حقوقو او مکلفیتونو له مخې  په برابرره توګه مسؤول وګڼل شي.

**کلیدي ټکي:** شريعت، وګړي. د برابرۍ اصل، وضعي قوانين، د قانون لغوي معنا، د قانون اصطلاحي معنا، پارلمان.

### سریزه

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمد لله رب العلمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین وعلی اله واصحابه اجمعین !**

انسانان په ټولنه کې اوسیږي او دا واقعیت دی چې د ټولنیز ژند پرته له ستونزو سره مخامخ کېږي، ځکه انسانان فطرتاً ټولینز دي او د ژند ټول پرمختگونه او سهولتونه یې د ټولیز ژند سره تړلي دي. که له یوه پلوه انسانان د الله جل جلاله اشرف المخلوقات دي، خو د بله پلوه الله جل جلاله د همدغه اشرف المخلوقاتو لپاره د ټولنیز ژوند د تیرولو او له هغې څخه د خوندونو او مزایاوو په موخه معیارونه او اصول ورښودلي دي، که چیر ې انسانان له دغو معیارونو او اصولو څخه گټه واخلي او په خپل ژند کې یې عملي کړي ، نو طبیعي خبره ده چې د انسانانو په ژند کې به خوند او لذت پیداشي او د انسانانو د ژوند ټولې اړیکې او مراودات به انساني شي او خپلې ټولې دندې او مکلفیتونه به په ښه توگه ترسره کړي. له دغو اصولو څخه یو هم د وگړو د برابری اصل دی چې اسلامي شریعت یې په گڼو شرعي نصوصو کې یادونه کړې ده. که چېرې په انساني ټولنه کې همدا یو اصل په سمه توگه پلی شي او د خپل ژوند معیار یې وگرځوي، اوسنی بشري ناخوالې، بشریت دښمنه سیاستونه او کړنې به، چې هره ورځ یې بې دریغه انسانان قربان ورکوي، له منځه لاړې شي او بشري ټولنې به د یوه واقعې، انسانې، او با عزته ټولنېز ژوند پر لورې یون پیل کړي.

### موخې

۱- د قانون پر وړاندې د وگړو د برابري اصل حقوقي او شرعي تحلیل.

۲- د وگړو د برابري اصل په هکله د اسلامي شریعت، ملي او نړیوالو تقنیني اسنادو ترمنځ د توپیرونو څرگندول.

۳- په افغانستان کې د د ې اصل د تطبیق د وضعیت ارزول

۴- د هغو خنډونو څېړنه چې د قانون د برابر تطبیق مخه نیسي (لکه تبغیض، فساد سیاسی مداخله...).

۵- د عدالت د تامین لپاره د نوموړي اصل د پیاوړتیا لارې چارې وړاندیزول.

### د کار مواد او میتود

د مقالې په ترتیب کې د معتبرو علمي کتابونو، مقالو او قوانینو څخه گټه اخیستل شوې ده او همدارنگه د مقالې مواد د کتابتوني څېړنې په بڼه راټول شوي دي. لیکنه تر ډېره حده د موضوع د اړونده موادو څخه د عمومي

برداشت په اخیستنې سره په روانه ژبه او د صفحې د منځنیو ماخذونو په ذکر کولو سره د توصیفي تحلیلي څېړنې په بڼه ترتیب شوې ده.

**د قانون لغوي او اصطلاحي معنا**

د قانون لغوي او اصطلاحي معناوې په لاندې توګه جلا، جلا د بحث لاندې نیسو.

**د قانون لغوي معنا**

قانون په عربي ژبه کې اصل، مقیاس، اندازې ته وایي (عمید، ۱۳۸۶،ص. ۱۸۷۳). د قانون د کلمې اصلي منشا له رومي او یا فارسي ژبو څخه اخیسل شوې ده او په لاتیني ژبه کې د کنیسا مجلس او ټولو هغو شیانو ته قانون ویل کیدل چې د کنیسا په مجلس کې وضع کیدل (دریز، ۱۳۸۶، ص. ۲۰).

**د قانون اصطلاحي معنا**

قانون هغه حقوقي قاعده ده چې د قانون جوړونې د مرجع له خوا وضع کیږي (لنگرودی، ۱۳۸۱، ص. ۲۸۴۶).

یا په بل عبارت قانون د هغو صریحو او معقولو قواعدو څخه عبارت دی چې د حاکمه پلاوي له خوا د ټولنې د ساتنې او وګړو د حقوقو د تامین لپاره وضع کیږي او تطبیق یې جبري وي (حقوقي اصطلاحاتو قاموس، ۱۳۸۷،ص. ۲۲۵).

ددې لپاره چې د وګړو د برابري اصل په اصل ښه پوه شو لومړی یې په اسلامي شریعت او بیا یې په وضعي قوانینو کې تر بحث لاندې نیسو.

**په اسلامي شریعت کې د وګړو د برابري اصل څرنګوالی**

هر قانون په یوه مشخصه جغرافیه کې پلی کیږي او د دغې جغرافیې د وګړو حقوق، امتیازات، غوښتنې او مکلفیتونه تنظیموي او د هغوی ترمنځ هر ډول متمایز برخورد د قانون د اصولو له مخې مردود وي . اسلامي شریعت یو نړیوال قانون دی او په کومه مشخصه جغرافیه پورې تړلی نه دی او د ټول بشریت لپاره یې یو ډول حکمونه وضع کړي دي، خو له دې امله چې ټول انسانان پرې ایمان نه لري د هغې د حکمونو د تطبیق ډګرونه یوازې اسلامي هیوادونه دي. اسلامي شریعت یوازینی قانون دی چې، د قانون پر وړاندې د وګړو د برابري اصل اصل یې په کامله او واقعي معنا منلی دی او حتی نه یوازې د مسلمانانو د رئیس او د یوه عادي مسلمان ترمنځ یې پر مساوات حکم کړی، بلکې هغه انسانان چې ایمان ور باندې نه لري، خو په دارلاسلام کې اوسیږي په حقوقي او قضایي مسایلو کې د مسلمانانو سره برابر حقوق لري.

په اسلامي شریعت کې د وګړو د مساوات اصل په لاندي شرعي دلیلونو ثابتولی شو:

**الف- قراني ایتونه:** الله جل جلاله فرمايي: ﴿ **يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَ أُنْثَى وَ جَعَلْنَاكُمْ شُعُوباً وَ قَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ** ﴾ [د الحجرات سورت ۱۳ ایت]. ژباړه: آی خلکو! بېشکه مونږ تاسو له یوه سړي او له یوې ښځې پیدا کړي یئ او مونږ تاسو څانګې او قبیلې ګرځولي یئ، د دې لپاره چې تاسو یو بل سره وپېژنئ، بېشکه د الله په نېز په تاسو کې ډېر عزتمن، ستاسو زیات پرهېزګار دی(عثماني، ۱۳۸۶، ج۱۳، ص. ۱۶۴).

**ب- نبوي حدیثونه**

**عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا:أَنَّ قُرَيْشًا أَهَمَّهُمْ شَأْنُ الْمَرْأَةِ الْمَخْزُومِيَّةِ الَّتِي سَرَقَتْ، فَقَالُوا: مَنْ يُكَلِّمُ فِيهَا رَسُولَ اللَّهِ ﷺ؟ فَقَالُوا: وَمَنْ يَجْتَرِئُ عَلَيْهِ إِلَّا أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ حِبُّ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ؟فَكَلَّمَهُ أُسَامَةُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ:أَتَشْفَعُ فِي حَدٍّ مِنْ حُدُودِ اللَّهِ؟ «ثُمَّ قَامَ فَاخْتَطَبَ، فَقَالَ:إِنَّمَا أَهْلَكَ الَّذِينَ قَبْلَكُمْ، أَنَّهُمْ كَانُوا إِذَا سَرَقَ فِيهِمُ الشَّرِيفُ تَرَكُوهُ، وَإِذَا سَرَقَ فِيهِمُ الضَّعِيفُ أَقَامُوا عَلَيْهِ الْحَدَّ،وَايْمُ اللَّهِ، لَوْ أَنَّ فَاطِمَةَ بِنْتَ مُحَمَّدٍ سَرَقَتْ، لَقَطَعْتُ يَدَهَا** ( البخاري، ۱۴۲۲، ج ۸ ، ص. ۱٦۰، رقم، ٦۷۸۸).

**ژباړه:** له حضرت عایشه رضی الله تعالی عنها څخه روایت دی: د مکې د فتحې په وخت کې د مخزوم قبیلې یوې ښځې غلا کړې وه چې، قوم یې وغوښتل چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د هغې په اړه خبرې وکړي، نو اسامه د زید زوی سره یې د هغې د سفارش په اړه خبرې وکړې چې هغه له رسول الله سره وغږېږي، کله چې اسامه له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره وغږېده نو رسول الله صلی الله علیه وسلم په غوصه شو او ویې فرمایل: آیا تاسو د الله تعالی په حدودو کې شفاعت او سفارش کوئ؟ او بیا یې خطبه وویله او ویې وفرمایل: له شک پرته پخواني خلک دې خبرې هلاک کړي ول چې کله به یو شریف سړي غلا وکړه نو هغه به یې خوشې کړ او کله به چې کمزوري سړي غلا وکړه حد به یې پرې قائم کړ، بیا یې وویل: قسم په هغه ذات چې زما نفس د هغه په لاس کې دی، که فاطمه د محمد لور غلا وکړي زه به یې خامخا لاس قطع کوم.

**عَنْ الْمَعْرُورِ بْنِ سُوَيْدٍ، قَالَ: لَقِيتُ أَبَا ذَرٍّ بِالرَّبَذَةِ، وَعَلَيْهِ حُلَّةٌ، وَعَلَى غُلَامِهِ حُلَّةٌ، فَسَأَلْتُهُ عَنْ ذَلِكَ، فَقَالَ: إِنِّي سَابَبْتُ رَجُلًا، فَعَيَّرْتُهُ بِأُمِّهِ، فَقَالَ لِيَ النَّبِيُّ ﷺ: يَا أَبَا ذَرٍّ، أَعَيَّرْتَهُ بِأُمِّهِ؟ إِنَّكَ امْرُؤٌ فِيكَ جَاهِلِيَّةٌ، إِخْوَانُكُمْ خَوَلُكُمْ، جَعَلَهُمُ اللَّهُ تَحْتَ أَيْدِيكُمْ، فَمَنْ كَانَ أَخُوهُ تَحْتَ يَدِهِ، فَلْيُطْعِمْهُ مِمَّا يَأْكُلُ، وَلْيُلْبِسْهُ مِمَّا يَلْبَسُ، وَلَا تكَلِّفُوهُمْ مَا يَغْلِبُهُمْ، فَإِنْ كَلَّفْتُمُوهُمْ فَأَعِينُوهُمْ** (البخاري، ۱۴۲۲، ج۸، ص ۱٦، رقم ٦۰۵۰)..

**ژباړه:** د معرور ابن سويد رضي الله عنه څخه نقل دي چې زه د ابوذر غفاري رضي الله عنه سره په ربذه مقام کې مخ شوم په داسې حال کې چې مريې(غلام) يې هم ورسره و او دواړو يو شان چپنې اغوستې وې، ما ترې په تعجب پوښتنه وکړه چې خپل غلام ته دې ولې د ځان په شان چپنه وراغوستې ده؟ بيا يې راته قصه وکړه، چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه کې مې يو سړي ته کنځل وکړل او د مور پيغور مې ورکړ(دا سړی بلال حبشي رضي الله عنه و، د هغه مور تور رنګې وه) کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم خبرشو ماته يې وويل: ای ابو ذره تا ورته د مور پيغور ورکړ؟ ته داسې سړی يې چې اوس درپکې هم د جاهليت خوی شته، دا خو ستاسو ورونه دي، ستاسو چارې درسموي(غلامان مودي) الله تعالى ستاسو د لاس لاندې روستلي دي، د چاچې يو مسلمان ورور د لاس لاندې و؛ نو له هغه څه دې خوراک ورکوي چې دی يې کوي او هغه لباس دې ورته ورکوي چې دی يې د ځان لپاره کوي، په داسې کار يې مه مکلف کوئ چې د دوی له توان څخه پورته وي او که پرې مکلف مو کړل؛ نو بيا ورسره مرسته کوئ

بېلګي: په اسلامي شريعت کې په دې هکله ډېر دليلونه شته، خو ددې لپاره چې موضوع ډېره اوږده نه شي په اسلامي شريعت کې د وګړو د واقعي برابري يا مساوات د څو بېلګو يادونه کوو.

کله چې حضرت عمر رضى الله عنه خليفه وټاکل شو منبر ته پورته شو او د خطبې په پيل کې يې د وګړو د برابروالي پر اصل ټينګار وکړ او داسې يې وفرمايل: (اې خلکو زه پر تاسو خليفه مقرر شوی يم، خو تر تاسو غوره نه يم که نيک کار مې کاوه زما مرسته وکړئ او که بدي راڅخه وشي، نو ماسم کړئ. د خطبې د پای په شيبو کې يې يو ځل بيا پر اصحابو غږ وکړ چې هر هغه چا چې زه د خليفه په توګه مقرر کړی يم هغوی زما د عزل حق هم لري داسې يې وفرمايل: (تر څو پورې چې د الله او د هغه د رسول اطاعت کوم نو زما اطاعت وکړئ اوکه د الله او د هغه د پيغمبر له فرمان څخه مې نا فرماني وکړه نو زما اطاعت پر تاسو لازم نه دی. يوه ورځ يې غازيانو ته د وينا په ترڅ کې داسې وفرمايل: (دا مې خوښه وه چې له تاسو سره د بحر د څپو په منځ کې په يو بيړۍ کې ناست وای او د ختيځ او لوديځ لورته يې وړلی او خلکو په خپله خوښه له خپل منځ څخه يو کس د امارت لپاره ټاکلی وای که په سمه لاره تللی، نو د هغه اطاعت به يې کولای او که کږيدلی نو هغه به يې قتل کولی. عبدالرحمن بن عوف رضى عنه وويل چې څه کيدل که د ويلی وای چې که منحرف کيدلی، نو هغه يې عزل کولی. حضرت عمر رضى الله وويل نه د هغه وژل د هغه کسانو لپاره چې وروسته ترې راځي ډېر عبرتناک دي.

حضرت علي رضى الله عنه د خپل خلافت په دوره کې خپله زغره ورکه کړې وه، وروسته يې د يوه يهودي سره وموندله په هغه يې دعوی وکړه موضوع يې د هغه وخت قاضي ته وړاندې کړه حضرت علي خپل زوی او خپل غلام د شهادت لپاره حاضر کړل. قاضي د امير المؤمنين د زوی شهادت قبول نه کړ او د يهودي په

ګټه یې پریکړه وکړه  ځکه امیرالمؤمنین سره له دې چې حق په جانب وه، خو د خپل ملکیت د اثبات لپاره یې دلیل نه درلود او د قاضي حکم ته یې غاړه کیښو ده(حوا، ۱۳۹۰، ص. ۳۱۶:).
حضرت عمر رضی الله عنه ابو موسی اشعري ته د قضا په هکله اوږد لیک واستوه، چې بېلا بېل موارد یې درلودل د لیک په پیل کې یې دا سې ورته لیکلي و: ( په خپله ناسته پاسته او څېره کې د خلکو ترمنځ برابري او مساوات قایم ساته، ترڅو د هیڅ ځواکمن کس سره دا غلطه هیله پیدا نشي چې ته ورسره د چا پر خلاف مرسته کوې او یا د عدل او انصاف په قایمولو کې کوم کمزوری کس  له تا څخه ناهیلی یا وډار شي (غازي، ۱۹۹۹، ص. ۱۶۴).

**په وضعي قوانینو کې د قانون پر وړاندې د وګړو د برابري اصل څرنګوالی**

د معاصرې نړۍ په ټولو هېوادونو کې د وګړو د برابروالي اصل د یوه مهم اصل په توګه منل شوی دی. له دې امله نوموړی اصل نه یوازې د هېوادونو په اساسي قوانینو، جزایي قوانینوکې تسجیل شوی دی، بلکې په نړیوالو تقنیني سندونو کې هم ځای پر ځای شوی دی. د افغانستان د۱۳۹۲ لمریز کال لغوه شوي اساسي قانون (۲۲) ماده د وګړو د تساوي یا برابروالي اصل په هکله داسې لیکي: (د افغانستان د اتباعو ترمنځ هر راز تبعیض او امتیاز منع دی. د افغانستان اتباع ښځې او نارینه د قانون پر وړاندې مساوي حقوق او وجایب لري) (اساسي قانون، ۱۳۸۲، ماده،۲۲، ۵).

همدا رنګه د افغانستان د ۱۳۹۶ لغوه شوي جزا کوډ شپږمه ماده داسې لیکي: (که مظنون، تورن (متهم) او محکوم د ملیتي، نژادي، ژبني، قبیلوي، دیني یا مذهبي، سیاسي عقیدې، جنس، تحصیل، شغل، نسب شتمۍ، ټولنیز موقف، د اوسیدنې او میشتیدو د ځای د تعلقاتو له په پام کې نیولو پرته د قانون پر وړاندې د بشپړ تساوي څخه برخمن دی)(جزا کوډ، ۱۳۹۶، ماده،٦، ص،۷۱).

**استثنآت:** که څه هم د معاصرې دونیا په وضعي قوانینو او نړیوالو تقنیني سندونوکې د وګړو د برابروالي پر اصل ډېر ټینګار کیږي او د ډیموکراسۍ تر پوښښ لاندې تل همدغه غږ اوریدل کیږي، خو هغه ډول چې د وګړو د برابروالي اصل په اسلامي شریعت کې په پام کې نیول شوی دی په بل هیڅ وضعي قانون کې نه دی نیول شوی. په وضعي قوانینو کې د دولت د رئیس، وزیرانو، پارلمان غړو ډیپلوماتانو لپاره ځانګړي امتیازات په پام کې نیول شوي دی په دې معنا چې له یوه پلوه ځینې عملونه د دوی لپاره جرم نه ګڼل کیږي یا د جرم د ارتکاب په هکله د تعقیب څخه خوندي دي او د بله پلوه د هغوی جرمونو ته  د عامه محکمو له خوا رسیده ګي نه کیږي، بلکې د هغوی لپاره ځانګړي محکمې شته او د ځانګړیو تشریفاتو له مخې ورته رسیده ګي کیږي، که د دولت په رئیس باندې د بشري ضد جرمونو، ملي خیانت یا جنایت د ارتکاب تور ولږیږي د عامه محکمو له خوا ورته رسیده ګي

نه کیږي بلکې د هغه د تعقیب لپاره د عامو وګړو پر خلاف په وضعي قوانینو یو ځانګړی د تعقیب پروسیجر په پام کې نیول کیږي. د افغانستان د ۱۳۸۲ لغوه شوی اساسي قانون نهه شپیتمه ماده په دې هکله داسې یادونه کوي(جمهور رئیس د ملت او ولسي جرګې پر وړاندې د دې مادې د احکامو مطابق مسؤول دی. پر جمهور رئیس د بشري ضد جرمونو، ملي خیانت یا جنایت د ارتکاب تور لګول د اولسي جرګې د ټولو غړو د درېیمې برخې لخوا غوښتل کېدی شي. که چېرې دا غوښتنه د ولسي جرګې د ټولو غړو له درېیو څخه د دوو برخو د رایو لخوا تأیید شي ولسي جرګه د یوې میاشتې دننه لویه جرګه دائره وي. که لویه جرګه منسوب شوی اتهام د ټولو غړو له درېیو څخه د دوو برخو د رایو په اکثریت تصویب کړي جمهور رئیس له وظیفې څخه ګوښه او موضوع ځانګړې محکمې ته سپارل کېږي. ځانګړې محکمه د ولسي جرګې له درېیو غړو د سترې محکمې له درېیو غړو چې لویه جرګه یې ټاکي او د مشرانو جرګې له رئیس څخه جوړېږي. دعوی د هغه شخص لخوا چې د لویې جرګې له خوا ټاکل کېږي اقامه کېږي، په دې حالت کې د اساسي قانون په اوه شپېتمه ماده کې راغلي حکمونه تطبیقېږي. د دغو استثنأتو بېلګې په لاندې عنوانونو کې لیدلای شو.

**الف- دپارلمان غړي:** په وضعي قوانینو کې په هغو هیوادونو کې چې پارلماني نظامونه لري، د خلکو استازي په پارلمان کې د بشپړې آزادۍ څخه برخمن دي. د دوی ځینې عملونه چې د عادي وګړو لپاره جرم ګڼل کیږي د دندې د اجرا پر مهال جرم نه دي لکه: توهین، وهل ټکول او دسې نور. ددې څخه موخه داده چې په ښه توګه دندې ترسره کړي(حوا، ۱۳۹۰، ص۳۱۹).

**ب- ډیپلوماتان او د هغې په څېر کسان ( د دولت رئیسان، وزیران، د پارلمان غړي:** ډیپلوماتان هغو کسانو ته وایي چې د خپل متبوع هیواد په استازیتوب په بهرني هیواد یا نړیوال سازمان کې سیاسي دندې ترسره کوي(دانش، ۱۳۹۳، ص، ۵).

ډیپلوماتان د ۱۹۶۹ میلادي کال د ویانا کنوانسیون د حکمونو له مخې د عادي وګړو پر خلاف خوندیتوب لري چې هیڅ کله هم عادي وګړي له دغو خوندیتوبونه څخه برخمن کیدلی نه شي. ډیپلوماتان په بهرني هېواد کې له تلاشۍ څخه خوندی دي. اداري ارګانونه او قضایي ضبط پولیس نشي کولی ډیپلومات، د دوی بکسونه او کورونه تلاشي کړي. همدارنګه د ځینو ځانګړیو حالتونو پرته قضایي مقامات نه شي کولای د جرم یا مدني تخلف په صورت کې هغوی تعقیب کړي(دانش،۱۳۹۳، ص، ۵۸- ۵۹).

د افغانستان د جزا کوډ (۴) مادې (۷)، بند هغه کسان چې ډیپلوماتیک خوندیتوب لري داسې تعریف کړي دي: بین المللي مصؤونیت لرونکي اشخاصو، له جمهور رئیس، د جمهور رئیس له مرستیالانو، صدراعظم، وزیر،

سفیر، د بهرنیو دولتونو نورو سیاسي استازو، د بین المللي او بین الحکومتي سازمانونو له استازو، او نورو هغو اشخاصو څخه عبارت دي چې دیپلوماتیک مصؤونیت په هکله د ویانا له ۱۹۶۹ کنونسیون او تر بین المللي ملاتړ لاندې اشخاصو پر خلاف د جرمونو د مخنیوي او مجازاتو په هکله ۱۹۷۳ کنوانسیون سره سم د بین المللي مصؤنیت لرونکي دي، د هغو د کورنیو د غړو په شمول(جزا کوډ، ۱۳۹۶، ماده، ۴، ص،۶۹).

وضعي قوانین د هغوی د خوندیتوب لپاره ځینې دلایل وړاندې کوي چې ډېر منطقي او علمي بنسټ نه لري.

**۱-** وضعي قوانین وايي چې د دیپلوماتیک خوندیتوب اساس د میلمه هیواد درناوی او د هیوادونو ترمنځ د متقابل احترام اصل دی. دا دلیل ډېر منطقي نه ښکاري ځکه چې ډیپلومات په کوربه (مقیم فیها) هیوادکې د خپل متبوع هیواد استازی دی، نو دا احترام د خپلو متبوع هیواد پر بنسټ کسب کوي او له جزایي تعقیب څخه یې خوندي کوي. که چېرې واقعاً د ډیپلوماتیک خوندیتوب دلیل د میلمه هېواد درناوی وي، نو لومړي، خو په خپله میلمه هیواد د کوربه ( مقیم فیها) هیواد درناوی نه دی مراعات کړی او هغه یې تر خپو لاندې کړی دی او ډیپلومات یې د کوربه هېواد ټولنیز نظم مختل کړی. دا به ډېره غیر عادلانه او غیر منطقي وي، چې څوک د چا متقابل احترام نه ساتي ولې د هغه څخه د متقابل احترام هیله کوي.

۲- همدارنګه وضعي قوانین وايي چې د دیپلوماتیک خوندیتوب دلیل دادی چې د دیپلوماتانو دندې ډېر حساسې دي او هغه باید د جزایي تعقیب پر بنسټ ځرګندې نه شي. دا دلیل هم د نیوکو څخه خالي نه دی ځکه چې که رښتیا هم د ډیپلومانو دندې ډېرې حساسې وي، نو دا حساسیت ولې ډیپلومات په خپله نه ساتي، دوی خو په خپله دا حساسیت له منځه وړي او پر جرم مرتکب کیږي، کنه نو ولې به په مقیم فیها هېواد کې د قضایي تعقیب لاندې راځي.

**پایله**

د قانون پروړاندې د وګړو د برابري اصل خورا مهم اصل دی. د دې اصل معنا داده چې ټول وګړي د هغوی د قوم، مذهب، جنس، ژبې، ټولنیز مقام، اقتصادي حالت په پام کې نیولو پرته د قانون پروړاندې یو شان حقونه، آزادۍ او مسؤولیتونه لري او هیڅوک د قانون څخه لوړ نه دی. نوموړی اصل بشري حقونه او عدالت تضمینوي او په ټولنه کې د تبعیض، تعصب او ناروا چلند مخه نیسي. د دې اصل سم تطبیق په ټولنه کې د وګړو د حقه حقونو د لاسته راوړلو لامل ګرځي او د ټولنیز انسجام، پرمختګ او په دولتي نظام باندې د خلکو بار د زیاتوالي لامل ګرځي. برعکس که نوموړي اصول په ټولنه کې په سمه توګه عملي نشي، نو دغه حالت به د بې عدالتیو، ټولنیزې بې امنۍ او په نظام باندې د خلکو ترمنځ د باور د کمېدو لامل وګرځي. له همدې امله دا ډېره اړینه ده

چې حکومتونه، تقنيني ارګانونه، عدلي او قضايي ادارې بايد د قانون پروړاندې د برابري اصل بشپړه ننګه وکړي او عملي يې کړي، ترڅو د هر ډول انديښنو، تربګنيو او بې عدالتيو څخه پاکه، متحده، پرمختللې ټولنه ولرو.

**وړانديزونه**

۱- د قانون د پلي کوونکو ادارو ( قضايي، اداري او امنيتي ارګانوونو ) د مسلکي ظرفيتونو لوړول ترڅو قانون د برابر تطبيق يقيني شي

۲- د عامه پوهاوي لوړول ترڅو خلک د قانونو پروړاند د خپلو حقونو څخه خبر شي

۳- د فساد ضد بنسټونو پياوړتيا ترڅو د قانون له مخې د افرادو پروړاندې چلند يو شان وي.

۴- په دې هکله د رسنيو د رول پياوړي کول ترڅو د قانون پر وړاندې د وګړو د نه برابرۍ پېښې ثبت او خپرې کړي.

۵- د قومي، ژبني، سمتي ، سياسي او نورو ملاحظاتو د پاللو او د قانون پر وړاندې د وګړو د نه برابرۍ اصل د زيانونو او د هغې پر ځای د اسلامي شريعت د حکمونو د حاکميت د ترويجولو او د هغې د ګټو په منظور سيمينارونو جوړول.

۶- د قومي، ژبني، سمتي سياسي او نورو ملاحظاتو د پاللو او د قانون پر وړاندې د وګړو د نه برابرۍ اصل د ناوړه دوديزې پديدې د ختمولو په منظور د مسؤولو ارګانونو تشکيلول.

۷- د قومي، ژبني، سمتي او نورو سياسي ملاحظاتو د پاللو او د قانون پر وړاندې د وګړو د نه برابري اصل په تور د تورنو کسانو جدي تعقيب او د ثبوت به صورت کې د شديدو اداري مؤيداتو تطبيق او رسنيز کول.

# The Principle of Equality of Individuals before the Law

Associate Professor Abdurahman Rahimi, Lecturer of Law Department, Faculty of Law and Political Science

**Email**: Abdurahmanrahimi97@gmail.com

## Abstract

The core meaning of this principle is that all individuals have equal rights and obligations based on Islamic Sharia and the law, and no one holds superiority over another. This principle ensures the rule of law and is considered a fundamental condition for maintaining social order. It is not only one of the key values enshrined in the Constitution of Afghanistan but also one of the fundamental principles of Islamic Sharia and international human rights law. The article discusses how this principle is addressed in Islamic jurisprudence, Afghanistan's Constitution, and international legislative instruments, and examines the extent to which it is academically established. To achieve the above goals and to provide a clearer understanding of the topic, a library-based research method was used, drawing from reputable scholarly and religious books and articles. The findings reveal that compared to modern statutory laws, Islamic Sharia offers a more ancient, comprehensive, and serious approach to the principle of equality before the law. If Islamic Sharia is fully implemented, it can practically promote justice, order, and stability in human societies, and prevent discriminatory behavior based on race, lineage, language, religion, skin color, or professional status. It ensures that all individuals are equally responsible before the law in terms of their rights and duties. To better understand this principle, the article explores the following topics:

**ماخذونه**

البخاري، محمد بن اسماعیل. (۱۴۲۲هـ). صحیح البخاري. ج۸ ، تحقیق: محمد زهیر بن ناصر الناصر. دار طوق النجاة. مصر.

البخاري، محمد بن اسماعیل. (۱۴۲۲هـ.). صحیح البخاري. ج۸، السلطانیة مطبعة الکبری الآمیریة. مصر.

حوا، سعید. (۱۳۹۰ش). اسلام د فطرت دین. ژباړن: امان الله، اماني او عبدالواسع، صابر. لومړی چاپ، انتشارات اصلاح افکار.

دانش، حفیظ الله. (۱۳۹۳ش). نړیوال جزا حقوق. لومړی ټوک، مستقبل خپرندویه ټولنه.

دریز، غلام محی الدین. (۱۳۸۶ش). اساسات حقوق اسلام. انتشارات فیضي.

عثماني، محمد شفیع. (۱۳۸۶هـ). تفسیرمعارف القرآن، ج۱۳، چ۲. انتشارات شیخ الاسلام احمد جام.

عدلیې وزارت. (۱۳۸۲ش). اساسي قانون، رسمي جریده(۸۱۸)ګڼه. کابل: عدلیې وزارت.

عدلی وزارت. (۱۳۹۶ش). د جزا کوډ. رسمي جریده، ۱۲۶۰ګڼه. کابل: عدلیې وزارت.

عمید، حسن. (۱۳۸۶ش). فرهنگ عمید. جلد اول، تهران: موسسه انتشارات امیر کبیر.

غازي، محمود احمد. (۱۹۹۹م). آدب القاضي. مطبع اداره تحقیقات اسلامي. اسلام اباد.

کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی. (۱۳۸۷ش). د حقوقي اصطلا حاتو قاموس. چاپوونکې اداره: (USAID).

لنگرودی، محمد جعفر. (۱۳۸۱ش). ترمینولوژی حقوق. جلد چهارم، چاپ دووم. کتابخانه گنج دانش.

نذیر، داد محمد. (۱۳۸۹ش). اساسات حقوق اسلام. چاپ سوم، انتشارات نعماني.

# د جعلي خبرونو په پېژندنه کې د رسنيز سواد ونډه

پوهنوال نقیب الله عطیش، شیخ زاید پوهنتون، د ژورنالېزم او عامه اړیکو پوهنځی، د ژورنالېزم څانګې استاد

**برېښنالیک:** naqib.atish@gmail.com

**لنډیز**

د ټولنیزو رسنیو د کارونې پراختیا د اطلاعاتي بهیر د چټکتیا ترڅنګ، د افرادو ترمنځ د اړیکو په ټینګولو کې هم زیاتې اسانتیاوې رامنځته کړې دي. د یادو او نورو فرصتونو په خواکې ټولنیزو رسنیو په ملي او نړیواله کچه یو شمېر ننګونې هم رامنځته کړې، چې یو له هغو د جعلي خبرونو خپرول دي. د هېوادونو ترمنځ خپلمنځي رقابت، اپوزیسیون او مغرضه اشخاص په مجازي فضا کې د خپلو ګټو په خاطر، د حقایقو په تحریفولو سره عامه افکار د دولت په مقابل کې راپورته کوي. د ټولنیزو رسنیو ټاکلي اړخ په نړیواله کچه یو لړ اندیښنې رامنځته کړي، چې د هېوادونو ترمنځ دغه اندیښنې د دې لامل شوې چې د یادې پدیدې د مخنیوي او مهارولو لپاره، څېړنو ته لاره هواره کړي. د دې څېړنې موخه د جعلي خبرونو په مخنیوي کې د رسنیز سواد رول ته خلکو د پام اړول دي. ټاکلي مقاله ښیي چې څنګه رسنیز سواد د خلکو د معلوماتو تحلیل او ارزونې وړتیا لوړوي، ترڅو هغوی د جعلي یا غلطو خبرونو سره مبارزه وکړي. په دې مقاله کې د اړوندې موضوع په تړاو د موجوده څېړنو په تحلیل تمرکز شوی او په دې اړه د څېړونکو لخوا د وړاندې شویو نظرونو په رڼا کې کتنه شوې. د جعلي خبرونو مخنیوي کې د رسنیز سواد ونډه دا ده، چې دا افرادو ته د معلوماتو ارزونې او تحلیل وړتیا ورکوي، تر څو د ګمراه کوونکو خبرونو په وړاندې هوښیار او پیاوړي شي. په ټولنه کې د جعلي او ناسمو خبرونو خپرېدل، په ټولنیزو رسنیو کې د کاروونکو لخوا د دغه ډول خبرونو په استفادې او بیا خپرولو پورې تړاو لري.د څېړنې پایلې ښیي چې د افرادو د باور او منطق سره د جعلي خبر ورته والی، د ټولنیزو رسنیو د بېلابېلو کاروونکو لخوا د جعلي خبر لایک او نشرول، په ټولنه کې شته اطلاعاتي خلا او په رسمي رسنیزو بنسټونو د خلکو بې باوري هغه لاملونه دي، چې په ټولنه کې د جعلي خبرونو مصرف او باور کولو ته زمینه برابروي. د جعلي خبرونو په مخنیوي کې د رسنیز سواد اهمیت په دې کې دی، چې دا افرادو ته د معلوماتو د سمې ارزونې او تحلیل وړتیا ورکوي، تر څو د دروغو او ګمراه کوونکو معلوماتو په وړاندې هوښیار و اوسي.

**کلیدي ټکي:** ټولنیزې رسنۍ، جعلي خبر، خبر ، خبري سازمانونه، رسنیز سواد.

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمد لله رب العلمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین وعلی اله واصحابه اجمعین !**

د انټرنيټ پيدايښت او د ټولنيزو رسنيو منځته راتګ، اطلاعاتو ته د خلکو لاسرسي خورا اسانه کړی دی. د بشري تاريخ په اوږدو کې انسانان هېڅکله هم د اطلاعاتو له دې ډول پراخ حجم سره نه و مخ شوي. پخوابه ورځپاڼې او راديو تلويزيون د محدودو اسانتياو په لرلو، د اطلاع رسونې چاره پرمخ وړه خو اوس مهال ټولنيزو رسنيو په اطلاعاتي بهير کې، د ډله ييزو رسنيو د انحصار کچه راټيټه کړې او يادې رسنۍ خپلو کاروونکو ته په چټګ ډول د اطلاعاتو د لېږد اسانتياوې په واک کې ورکوي.

ډله ييزې رسنۍ د ښوونيزو او تفريحي خپرونو په خوا کې، د ورځنيو مهمو پېښو په اړه د مخاطبانو د خبرونې دنده هم په غاړه لري. له همدې امله ډله ييزې رسنۍ بايد په مسلکي او قانوني لحاظ خپل مسئوليت ته ژمنې وي. که چيرې په دې برخه کې لږه بې پروايي وشي، دا به د مخاطبانو په وړاندې د رسنيو د اعتبار کمېدو او له قانوني او حقوقي چلند سره د مخ کېدو لامل شي. د ټولنيزو رسنيو کاروونکو سره د قانوني سرغړونو په صورت کې بيا تر ډېره د ډله ييزو رسنيو په څېر د قانوني چلند سره د مخ کېدو وېره نه وي، او په ټاکلو رسنيو بشپړ قانوني څار هم د افغانستان په څېر هېواد کې، يو څه ستونزمن برېښي.

ټولنيزې رسنۍ لکه څرنګه چې په اطلاعاتي دوران او د خلکو په خبرونه کې اغېزمن رول ترسره کوي، ځينې مهال کېدای شي يو لړ ستونزې هم رامنځته کړي. له ټولنيزو رسنيو څخه د جعلي او ناسمو خبرونو خپراوی، د هرډول سياسي او ټولنيز بدلون او نورو بحرانونو مديريت ټکنی کوي او د مسلکي ورځپاڼه ليکنې او ټولنيز ارتباطي نظام په تخريبولو سره، په لويه کې دټولنې عيني او رواني امنيت له منځه وړي. کله چې بشري ټولنه په ټولنيز، اخلاقي او کلتوري لحاظ له دغه ډول حالت سره مخ شي، په علمي ژبه کې ورته پوسټ تروت Post Truth وايي. دا اصطلاح هغه حالت ته کارول کېږي، چې د عامه افکارو په جوړښت کې د عيني واقعيتونو په نسبت د شخصي باور او احساساتو اغېز زيات شي(ساعی، ۱۴۰۰). په دې ډول حالت کې احساسات، شخصي رايې او غيري منطقي نظرونه پر استدلال او منطق برلاسي مومي، او کاذب څواک د هغه چا لاس ته ورځي چې په ټولنيزو رسنيو کې د نفوذ خاوند وي. په ټولنيزو رسنيو کې جعلي او واقعي خبرونه دواړه په يوه پلاتفورم کې وړاندې کېږي، چې دا موضوع په مجازي فضا کې د واقعي او جعلي خبر پېژندنه ستونزمنه کوي. په ټولنيزو رسنيو کې د اطلاعاتو تبادله او دوران د هغې په کيفيت او څرنګوالي برتري لري. اوس د دې پرځای چې د يو مطلب مسلکي جوړښت او توليد ته پاملرنه وشي، د هغې د خپرېدو سرعت او د خلکو غبرګون ته پاملرنه کېږي. رسنۍ او په لويه کې ژورناليزم، په انساني ژوند کې د يوې اړتيا او ضرورت له مخې رامنځته شوی، چې د چاپېريال

ورځنۍ مهمې پېښې په خبري او نورو بېلابېلو ژانرونو کې مخاطبانو ته وړاندې کوي. په رسنيز کاري بهير کې د اطلاعاتو صحت خورا ارزښت لري، او د معلوماتو ټاکلی اړخ د مخاطبانو په وړاندې خبر او رسنۍ ته اعتبار وربښي. د ژورناليزم د اصولو له مخې خبريال دا حق نه لري چې په خبر کې د واقعيتونو پرځای خپل نظر شريک کړي. په خبريالۍ کې خبر او حقيقت يو له بل سره لازم او ملزوم دي، داسې چې مخاطب د خبر په اورېدو او لوستلو سره پرې باور کوي. ناسم او جعلي خبرونه د حقيقت مانا او مفهوم خرابوي او په هغې کې لاسوهنه کوي. همدارنگه، ځينې کمپيوټري پروگرامونه چې پخوا يوازې د سينمايي فلمونو په جوړولو کې کارېدل، د اړوند بهير له ودې سره د پام وړ مرسته کړې. اوس مهال، د اړوندو سافټويرونو د عامې کارونې په نتيجه کې، د پېژندل شويو او مشهورو شخصيتونو له ويډيوگانو څخه خبري اړتياوې لکه د پېښې په غږ، ويډيو او متن کې په لاسوهنې سره، ناسم او جعلي خبرونه جوړېږي، چې بيا يې عادي کاروونکو ته پېژندنه او تشخيص ستونزمن شي. د جعلي خبرونو په مخنيوي کې د رسنيز سواد رول يوه مهمه موضوع ده، چې په وروستيو کلونو کې د پراخې څېړنې او بحث لاندې راغلې ده. رسنيز سواد د دې وړتيا لري چې وگړي د معلوماتو د ارزونې او تحليل په برخه کې غوره پوهه ولري، ترڅو د معلوماتو اصالت او صداقت و ارزوي. د رسنيز سواد زياتوالی خلکو ته دا توان ورکوي چې د دغه ډول معلوماتو څخه ځان وژغوري، د معلوماتو سرچينې وپېژني او د هغوی صداقت و ارزوي.

## موخې

۱ -د رسنيز سواد او جعلي خبر پېژندنه.

۲ -د جعلي خبر په پېژندنه کې د رسنيز سواد رول او اهميت څرگندول.

۳ -په ټولنه باندې د جعلي خبرونو ناوړه اغېزې روښانه کول.

۴ -په جعلي خبرونو باندې د خلکو د باور کولو د لاملونو ښودل.

۵- د رسنيزسواد زده کړې ته د ښوونيزو بنسټونو توجه جلبول.

## جعلي خبر

د «جعلي خبر» مفهوم د امريکامتحده ايالاتو د ۲۰۱۶ کال د ټاکنيزو سياليو په بهير کې د اړوند هېواد په ټولنيزه، سياسي او حقوقي برخه کې رواج شوه، چې د ځينو نظر خاوندوانو په اند هغه مهال جعلي خبرونو د ټاکنو په پايلو کې، ټاکونکی رول لاره(مرادی، ۱۴۰۰). د ځينو پوهانو په اند د جعلي خبر د سمې او دقيقې پېژندنې لپاره تر دې دمه يو هر اړخيز او جامع تعريف نه دی وړاندې شوی او په دې برخه کې د څېړونکو لخوا بېلابېلې پېژندنې وړاندې شوي دي، د آکسفورډ ډيکشينري د جعلي کلمه(( ساختگي، غيري واقعي او تقلبي )) مانا کړې ده. په اصطلاح کې جعلي خبر هغو اطلاعاتو ته ويل کېږي، چې د خلکو د بېلاره کولو او غولونې په موخه توليد او

خپرېږي. په جعلي خبر کې هڅه کېږي، چې مخاطبانو ته ناسم باور ولېږدوي او يا يې هم په وړاندينيو سمو باورونو کې، شک او ترديد رامنځته کړي.

د جعلي خبر کلمه د هغو ناسمو اطلاعاتو د پېژندنې لپاره مطرح شوه، چې په اصلي رسنيو او په ځانګړي ډول په ويب پاڼې پورې تړاو لري. نو په دې اساس جعلي خبرونه هغه خبري مقالې په برکې نيسي، چې ډېرى د لوستونکو د گمراه کولو او د هغوی څخه د ناوړه گټه اخيستنې لپاره ليکل کېږي خو کولی شو له نورو سرچينو يې تائيد کړو ( متقي، ۱۴۰۰).

د ځينو څېړونکو په اند د جعلي خبر پديده د ټولنيزو رسنيو د دوران اړوند ده، چې نوې رامنځته شوې او په رسنيزه برخه کې له وړاندې کارېدونکو کلمو، لکه پروپاګند او شايعې سره بشپړ ډول توپير لري. د انساني ټولنو په هره تاريخي دوره کې د هغه مهال مروجو ارتباطي وسيلو ته په کتو، په مختلفو بڼو ټولنيز دروغ او ناسم اطلاعات وړاندې شوي دي، دبېلګې په ډول هغه مهال چې د بشري ټولنو ترمنځ اړيکي په شفاهي بڼه په مخامخ ډول نيول کېدې، ټولنيز دروغ به د شايعاتو په بڼه راڅرګندېدل او اوس مهال، چې ټاکلی عصر د اړيکو په نوم نومول شوی او خلک په ډيجټلي بڼه اړيکه ټينګوي، دروغ د جعلي خبر په مفهوم او قالب کې وړاندې کېږي (ساعی، ۱۴۰۰). په لويه کې د جعلي خبر د څرنګوالي د پېژندنې لپاره دوه مفاهيم کارول کېږي چې يو يې ميس اينفورميشن (په غيري قصدي توګه د ناسمو اطلاعاتو وړاندې کول) او بل يې ډيس اينفارميشن يعنې په قصدي ډول د غلطو او ناسمو اطلاعاتو د توليد او وړاندې کولو په مانا دی(طاليشی، ۱۴۰۲). همدارنګه په يوه بله پېژندنه کې جعلي خبر هغه خبري مقالې بولي، چې په قصدي او دقيق ډول ناسمې او د لوستونکو د گمراه کولو وړتيا ولري. د ژانګ او قرباني په نوم څېړونکي د جعلي خبر د پېژندنې په اړه وايي«جعلي خبر هغه دروغ او ناسم خبرونه او روايتونه په برکې نيسي، چې ډېرى په انټرنيټ کې خپرېږي، ترڅو د لوستونکو د غولونې له لارې د مولفانو سياسي، مالي او نورو موخو ته رسيدګي وکړي» (Ghorbani, 2020).

وروستی څېړنې جعلي خبر هغه خبر بولي چې د تائيد وړ نه وي او لوستونکي گمراه کوي. جعلي خبر د بيان د ازادی او د ژورناليزم او رسنيز ډګر لپاره يو لوی ګواښ شمېرل کېږي او په دولت او رسنيو خلک بې باوره کوي. د جعلي خبرونو د اغېز په اړه ويل کېږي چې د امريکا د ۲۰۱۶ کال په ټاکنو کې، ۲۰ خپاره شوي جعلي خبرونه ۹ ميليونه ځلې په فيسبوک پاڼه شريک شوي وو او تر ۷ ميليونه ډېرو خلکو پرې کومينټونه او خپل نظر څرګند کړی(شعبانی، ۱۴۰۱).

**د رسنيز سواد پېژندنه**

د رسنيزسواد د پېژندنې لپاره د پوهانو لخوا بېلابېل تعريفونه شوي، چې ټاکلي تعريفونه په خپل منځ کې مشترک ټکي لري او هره پېژندنه د رسنيز سواد يوه برخه روښانه کوي. د جيمزپاټر په اند اکثره خلک د سواد کلمې ته له چاپي رسنيو سره رابطه ورکوي او د لوستنې او ليکنې د وړتيا لرلو معادله يې بولي. همدارنګه ځينې نور يې د رسنيو د نورو ډولونو لکه فلم او تلويزيون سره د مخ کېدلو له امله، ټاکلی مفهوم بصري سواد ته پراخه وي.ځينې نور ليکوالان بيا د اطلاعاتي سواد او کمپيوټري سواد اصطلاحګانې کاروي په داسې حال کې چې په يواځې ډول يوه اصطلاح هم د رسنيزسواد معادله کېدی نشي بلکې هره اصطلاح د رسنيزسواد يوه برخه جوړوي. يا په بل عبارت رسنيزسواد ټول ياد شوي موارد او وړتياوې په برکې نيسي د بيلګې په ډول که له لوستلو سره بلدتيا ونه لرو نو له چاپي رسنيو نه استفاده نشو کولی او که د بصري آدابو په درکونه کې ستونزه ولرو، نشو کولی چې له تلويزيوني خپرونو څخه څه درک کړو او د کمپيوټر سره د نابلدتيا په صورت کې به له هغو مهمو پېښو او مسايلو ناخبره و، کوم چې د انټرنيټ په پاڼه خپرېږي(امينی، ۱۴۰۰).

همدارنګه جين تالين رسنيزه پوهه داسې راپېژني: رسنيزه پوهه د رسنيو د هغو پيغامونو د تحليل او تجزيې کولو له وړتيا څخه عبارت ده، چې هره ورځ د موږ د اطلاع او بوختونې په موخه وړاندې کيږي او همدارنګه رسنيز سواد د خپرونو، ويډيو، مجازي ننداريې او د ټولو رسنيو په وړاندې د انتقادي فکر کولو له وړتيا څخه عبارت دی.

د يونس شکرخوا په اند رسنيزه سواد د درکونې له هغې وړتيا څخه عبارت ده، چې د هغې په اساس کولی شو د رسنيو د مختلفو ډولونو ترمنځ امتيازي توپير او د رسنيزو توليداتو بېلابېل ډولونه تفکيک او و پېژنو.

د زېل په نوم يو بل کارپوه وايي چې رسنيزسواد د رسنيو د پيغام په جوړښت او عمل او د هغو سازمانونو پېژندل دي چې ټاکلي پيغامونه ايجادوي(رجبی، ۱۴۰۰).

د رسنيز سواد په اړه چې د پوهانو له خوا کوم تعريفونه وړاندې شوي دي په خپل منځ کې مشترک ټکي لري چې په مخاطب کې د بېلابېلو رسنيزو متونو په وړاندې د اړوندو مطالبو د تحليل، ارزونې او د انتقادي فکر کولو وړتيا پياوړې کوي.

رسنيز سواد له هغې پوهې او وړتيا څخه عبارت ده،چې د هغې له امله د رسنيزو متنونو څخه د استفادې پرمهال د اړوندو مطالبو د درکونې او ډېرې ګټې اخيستنې په خوا کې، د مخاطب د تېروتنې کچه راټيټوي(امامی، ۱۴۰۰).

### د رسنیز سواد درې اړخونه

الف: د رسنیز رژیم د مصرف په اړه د خپلې پوهې لوړل: په دې برخه کې د رسنۍ مخاطب په رسنیزې محتوا تمرکز کوي او د بېلابېلو رسنیزو سرچینو څخه د رسنیز خوراک اندازه او د مصرف ډول تعینوي.

ب: په دویمه مرحله کې مخاطب د رسنیزې محتوا د انتقادي مطالعې او لیدنې مهارت او وړتیا ترلاسه کوي.

ج: په دریمه مرحله کې مخاطب اړوندې رسنۍ په ټولنیز، سیاسي او اقتصادي لحاظ تجزیه کوي کوم چې په لومړي لید کې د مشاهدې وړ نه وي (البرزی دعوتی، ۱۳۹۸) .

### ټولنیزې رسنۍ

ټولنیزې شبکې د هغو انلاین کانالونو ټولګې ته وایي، چې کاروونکو ته د اړیکو ټینګولو او د محتوا شریکولو اسانتیا برابروي. ټولنیزې رسنۍ د نویو رسنیو هغه ډول دی، چې تر ډله ییزو رسنیو وروسته رامنځته شوي او د انټرنیټ په مټ د پیغام تولیدونکي او ترلاسه کوونکي ترمنځ د تعامل زمینه برابروي.

### د ټولنیزو شبکو ځانګړتیاوې

په عمومي ډول ټولنیزې شبکې لاندې ځانګړتیاوې لري:

### د لاسرسي لرلو وړتیا

د ټولنیزو شبکو له مهمو ځانګړتیاوو څخه یو هم دا ده، چې د نړۍ په هره برخه کې د لاسرسي لرلو وړتیا لري. کاروونکي د خپلې خوښې شبکې ته د داخلېدلو لپاره یواځې کمپیوټر او انټرنیټ ته اړتیا لري.

- **کم لګښت**

ټولنیزو شبکو ته د لاسرسی لپاره کاروونکی زیات لګښت ته اړتیا نه لري. په حقیقت کې زیاترو ټولنیزو پاڼو لکه، YouTube Facebook ،Twitter، Myspace او داسې نورو ته لاسرسی لرل وړیا دي، چې همدا کار د دې لامل شو، چې انټرنیټ د زیاتو خلکو پاملرنه ځان ته را واړوي.

- **د کارونې اسانتیا**

د ټولنیزو شبکو کارونه تخصصي زده کړې او مهارت لرلو ته اړتیا نه لري.استفاده کوونکي کمپیوټر او انټرنیټي اسانتیاو ته په لاسرسي لرلو سره کولی شي، چې د خپلې خوښې محتوا په اسانۍ سره ترلاسه او استفاده ترې وکړي.

➢ **چټکه اړيکه**

د ټولنيزو شبکو په کارونې سره کاروونکي کولی شي، چې په ډېره دچټکۍ يوله بل سره په اړيکه کې شو او اړين معلومات سره شريک کړي.

➢ **استمرار**

د ټولنيزو شبکو يوه مهمه ځانګړتيا دا ده، چې د يوې مقالې، مجلې، ويډيو او پيغام تر خپرېدو وروسته هم په فوري ډول د بدلون راوستلو وړتيا لري او خپرونکی هروخت چې و غواړي کولی شي، چې بدلو ن په کې رامنځته کړي.

په ټولنيزو رسنيو کې پيغام اخيستونکی د پيغام د لېږونکي سره تعامل کولی شی او په لېږل شوي پيغام کې د بدلون راوړلو او بيا نشرولو وړتيا لري. د ټولنيزو رسنيو کم لګښت، اسانه لاسرسي او له دې لارې د اطلاعاتو چټک لېږد او خوراوي، د ډېرو خلکو پاملرنه ځانته اړولې او له دې لارې د جعلي خبرونو خپرول هم شوني شوي دي. په ټولنيزو رسنيو کې هر فرد کولی شي چې په چټکۍ سره خبر نشر کړي، چې د ټولنيزو رسنيو دغې ځانګړنې د خبري سرچينو او د جعلي خبرونو د ژر خپراوي په تړاو اندېښنې راپورته کړې دي. داچې په انټرنيټ او ټولنيزو رسنيو باندې قانوني څار لږ څه ستونزمن دی، له همدې امله يې کاروونکو د يو کليک په کولو پرته له کومې قانوني وېرې، ناسم او تخريبونکي مطالب له نورو سره شريکوي. په دغه ډول فضا او چاپېريال کې د خوندي پاتې کېدلو لپاره، چې د جعلي خبر نشرونکي د ناسمو اطلاعاتو په وړاندې کولو خلکو ته سرخوږی جوړوي، رسنيز سواد لرل له مخاطبانو سره د جعلي خبر په پېژندنه کې ډېره مرسته کوي. د رسنيزسواد په مرسته مخاطبان کولی شي چې د واقعي او جعلي خبرونو ترمنځ توپير وکړي.

**په جعلي خبر د خلکو دباورو کولو لاملونه**

د خلکو له باور او منطق سره د جعلي خبرونو مطابقت : د جعلي خبر توليدونکي په دې پوهيږي چې په يو ځانګړي وخت او مهال کې څه ډول جعلي خبر توليد کړي. د جعلي خبر د باوري کولو لپاره بله مهمه کړنه د يو واقعيت په بنه د هغې ښودنه ده، د دې ډول خبر توليدونکي مخاطبانو ته خبر په داسې ډول وړاندې کوي، چې د يوه واقعي خبر ټول عناصر او ځانګړنې په ځان کې لري او يو عادي شخص له ځيرتيا پرته پرې غولېدلی شي. په جعلي خبر د باورو کولو دريم لامل په خبر کې د عامه اړخ او لوري پلوي ده. په جعلي خبر کې د خبر توليده ونکی په ظاهره ډېری د عامو خلکو پلوي کوي او خپل ځان د حکومت په مقابل کې ښيي، له همدې امله دغه ډول خبرونه د عامو خلکو د منښې وړ ګرځي.

**د جعلي خبرونو تولید څه وخت زیاتېږي؟**

جعلي خبرونه هغه مهال زیاتیږي کله چې په هېواد کې ځانګړې پېښې رامنځته شي، لکه د توکيو د نرخونو لوړوالی، زلزله او داسې نورې امنيتي او ټولنيزې پېښې چې خلک د اړوندو پېښو په تړاو د رواني فشار کمولو په هدف د لاروچارو د موندلو په لټه کې وي.

ځینې وخت يو جعلي خبر له غیري رسمي رسنیو څخه رسمي رسنیو ته لار پیدا کوي، چې د رسمي رسنیو د تائید له امله د جعلي خبر د خورېدو دایره پراخيږي، نو له همدې امله د هېواد رسمي رسنی باید د جعلي خبرونو تر اغېز لاندې رانه شي. د خبرونو په وړاندې کولو کې باید هڅه وشي چې د خبر ټولو عناصرو ته ځواب وویل شي. کله چې د خبرونو په وړاندې کولو کې د خبر اړوند ټولو پوښتنو ته ځواب ونه ویل شي، مخاطبان د ټاکلې خلا د ډکولو لپاره جعلي خبرونو ته مخه کوي. همدارنګه، په واکمن نظام د خلکو بې باوري هم غیر رسمي سرچينو او رسنيو ته د خلکو میلان زیاتولی شي. په هره اندازه چې په حکومت د خلکو د باور کچه راټيټيږي، په همغه اندازه خلک غیر رسمي رسنیو ته ډېره مخه کوي.

**د جعلي خبر په نشرولو کې د ټولنيزو رسنيو رول**

د ډله ييزو رسنیو د منځته راتګ په لومړیو کې د راډيو تلويزيون او مطبوعاتو سره د مخاطبانو اړيکه يو اړخيزه او دوی به یواځې له دغو رسنیو څخه خپرېدونکي مطالب تعقیبول. د رسنیو هغه مخاطبان چې یواځې یې د رسنیو له لارې نشر شوي مطالب لوستل هغوی ته یې Lurker لرکر ویل. د دوی په خوا کې د ټولنیزو رسنیو هغو کاروونکو ته چې د مطالبو په لوستلو سربېره یې له یادو رسنیو پوستونه هم خپرول پوسټر Poster بلل (البرزی دعوتی، ۱۳۹۸). د ټولنیزو رسنیو د منځته راتګ په لومړیو کې د «پوسټر» په پرتله د «لرکر» شمېر زیات و او هغه مهال ډېری مخاطبان یواځې د رسنیو لیدونکي او لوستونکي وو او تر ډېره یې د رسنیزې محتوا په تولیدولو کې رول نه لاره. خو د ټولنیزو رسنیو په ودې او پرمختګ سره اړوندو رسنیو د خپلو کاروونکو لپاره داسې اسانتیاوې رامنځته کړې، چې د تېر وخت غیر فعال کاروونکو هم په فعالو کاروونکو واوښتل. د ټولنیزو رسنیو کاروونکو اوس کولی شول چې د «لایک»، «ډیس لایک» او «شییر» بټنو په لمس او کېکاږلو سره، د نشر شویو مطالبو په اړه خپل غبرګون څرګند کړي او د ټولنیزو رسنیو یادې وړتیا هم په ټولنه کې د جعلي خبرونو له نشرولو سره مرسته وکړه.

څېړونکو د ټولنیزو رسنیو کاروونکو د جعلي خبر سره د برخورد په تړاو په څلورو برخو ویشلي دي(البرزی دعوتی، ۱۳۹۸):

**۱. قانع کوونکي:** دا هغه اشخاص په برکې نيسي چې د ځانګړو موخو لپاره د نورو د ترغيب او اغېز لپاره جعلي خبرونه نشروي.

**۲. زرباور کوونکي :** د ټولنيزو رسنيو هغو کاروونکو ته وايي چې په جعلي خبرونو ژر باور او اعتماد کوي.

**۳. زړور کاروونکي:** چې د جعلي خبر سره د مخ کېدو په صورت کې لږ اغېزمن کېږي خو نورو ته لارښوونه نه کوي.

**۴. روشنفکره کاروونکي:** چې ژر باور نه کوي او د جعلي خبر په وړاندې مشکوک او سخت ليدلوري لري. له جعلي خبر څخه په نه اغېزمن کېدو سربېره نور هم د يو خبر په ناسم والي خبروي.

د ټولنيزو رسنيو د کاروونکو پورته وېش ته په کتو، د کاروونکو د رسنيزې پوهې د لوړولو لپاره ديوې هر اړخيزې طرحې جوړول به په لويه کې، د ټولو رسنيزو کاروونکو او په ځانګړې ډول د ژرباورکونکې طبقې لپاره ډېر اهميت لري.

د ټولنيزو رسنيو د کاروونکو د پورته ويش په خواکې ځينو څېړونکو په يوه بله وېشنه کې د ټولنيزو رسنيو هغه کاروونکي په ګوته کړي، چې په قصدي ډول د جعلي خبرونو په نشرولو لاس پورې کوي. د ټولنيزو رسنيو په يادو کاروونکو کې ځينې يې واقعي انسانان نه دي خو د جعلي او ناسمو خبرونو په نشرولو کې مهم رول ترسره کوي.

**الف: اتومات کمپيوټري حسابونه** social bots : ټولنيز يا اجتماعي بوټونه هغه پروګرامونه يا اتوماتيک سيستمونه دي، چې په ټولنيزو شبکو کې کارول کېږي او موخه يې ممکن، د معلوماتو خپرول، تبليغاتو کول او يا د خلکو د نظرونو جوړول وي.دغه سيستم د تبصرې کولو، پوسټونو شريکولو او له محتوياتو سره د تعامل کولو په برخه کې د انسان په څېر عمل کوي. ټاکلي سيستم په ټولنيزو رسنيو کې هغه حسابونه په بر کې نيسي، چې د يو کمپيوټري الګوريتم له لارې کنټروليږي. دغه الګوريتم د دې وړتيا لري چې په يواځې سر له وړاندې تعين شوې محتوا توليد او د ټولنيزو رسنيو له ټولو کاروونکو سره اړيکه ټينګه کړي. دغه بوټونه ممکن د ورکړل شوې برنامې له مخې د ټولنيزو رسنيو په فضا کې مثبت يا منفي اغيزې ولري. دوی د هغې وړتيا له مخې چې لري يې، کېدای شي چې د جعلي خبرونو په خپرولو کې هم ترې استفاده وشي.

**ب: انټرنېټي پاروونکي** trolls: د "ترول" اصطلاح د هغو کسانو لپاره کارول کېږي چې په انټرنيټ کې په قصدي توګه د نورو په خبرو، نظرونو او بحثونو کې ګډوډې رامنځته کوي. ترولونه ډېرى وخت د نورو په خبرو کې د تېروتنو يا غصې پيداکولو لپاره دا ډول چلند کوي، دهغوی احساسات ازاروي او غيري ضروري او بې اساسه

تبصرې کوي. دا هغه واقعي او ریښتیني کاروونکي په برکې نیسي چې غواړي په ټولنه کې ګډوډي رامنځته کړي. د دوی اصلي موخه د ټولنیزو رسنیو د کاروونکو ترمنځ منفي احساسات لکه وېره او غوسه رامنځته کول دي، چې په دې ډول د هغو ترمنځ شک او بې باوري رامنځته کړي. په دې ډول حالت کې کاروونکي په دې نه پوهېږي چې څه وکړي، په پایله کې له حقیقت څخه تېرېږي او په دروغو باور کوي. ترولونه یواځې د جعلي خبرونو په تکرار خپراوي بسنه نه کوي، بلکې په تهاجمي بڼه داسې عمل کوي چې لومړی د کاروونکو د هڅونې په موخه هغوی ته پیغام لېږي، لېږل شوي پیغام ته د مخاطبانو د نه غبرګون په صورت کې، ترول د دریم شخص له ادرسه لېږل شوي پیغام ته غبرګون ښيي او د موضوع په تړاو موافق او مخالف نظرونه څرګندوي ترڅو نور خلک په بحث کې ښکېل او ګډون ته و هڅوي. ترول په بحث کې د ټولنیزو رسنیو د کاروونکو په ښکېلولو سره بحث ته دوام ورکوي او د بېلابېلو مخالفو، موافقو او توهین آمیزه نظرونو په وړاندې کولو بحث غځوي.

**ج: نیم اتومات انلاین حسابونه (Cyborg)**: دا اصطلاح هغو کسانو ته کارول کېږي چې خپله دنده، ژوند او نورو فعالیتونه د تکنالوږژی سره د ژورې اړیکې له لارې ترسره کوي. سایبرګ هغه شخص ته وایي چې د انسان او تکنالوژی ترمنځ یو ډول ګډ ژوند یا اړیکه لري، کاروونکی د کمپیوټر او انټرنیټ له لارې خپلې ټولنیزې، مسلکي او شخصي اړیکې او فعالیتونه ترسره کوي. ټاکلی حساب په ټولنیزو رسنیو کې د فعالیت کولو په موخه داسې جوړېږي چې واقعي او جعلي حسابونه دواړه په کې برخه لري. لومړی د واقعي اشخاصو څخه د یو فرد په وسیله په ټولنیزو رسنیو کې یو حساب ثبت او جوړېږي، ترهغې وروسته په ټولنیزو رسنیو کې د یوې ځانګړې کمپیوټري برنامې په مټ فعالیت ترسره کوي او په دې ډول انسان او ربات په ګډه د جعلي خبرونو د خپرواوي لپاره زمینه برابروي.

**د تصمیم نیونې سیستمونه**

د ټولنیزو رسنیو کاروونکو عکس العمل او تصمیم نیونه هغه وخت خورا مهمه کېږي کله چې دوی د جعلي خبرونو سره مخ کېږي. د دې موضوع د پوهیدو لپاره، د "لومړی او دویم سیستم" مفکوره ډېره ګټوره ده. دغه مفکوره د روانشناس دانیل کانمن له څېړنو څخه سرچینه اخلي او د انسانانو د فکر کولو دوه مختلف ډولونه تشریح کوي(آزادی، ۱۳۹۸):

**لومړی سیستم**: د فکر کولو دا سیستم چټک او اتوماتیک دی. کله چې د یو کار یا موضوع سره مخ شي، انسان پرته له تفکر او په ډېر کم وخت کې ځواب ورکوي. لومړی سیستم د احساساتو او داخلي تجربو پراساس عمل کوي او ډېری وخت د چټکې تصمیم نیونې لپاره کارول کېږي. دا سیستم معمولاً لږې انرژي او هڅې ته اړتیا

لري، خو په دې کې د تعصب او سیستماتیکو تېروتنو احتمال زیات وي. که څوک د جعلي خبر سره د لومړي سیستم پر اساس تعامل وکړي، نو د دې امکان شته چې په دې خبر باور وکړي، ځکه چې ټاکلی سیستم د ژور تحلیل پرته ګړندي ځواب ورکوي.

**دویم سیستم:** د لومړی سیستم په مقابل کې د تصمیم نیونې دویم سیستم، د فکر کولو یو ساده او کنترول شوې بڼه وړاندې کوي. ټاکلی سیستم انرژي ته اړتیا لري او پرته له توجه او پاملرنې کار نه کوي، د فعالیت په صورت کې د لومړی سیستم د تصمیمونو د فیلتر کولو وړتیا هم لري. له جعلي خبر سره د پورته توضیحاتو اړیکه په دې کې ده چې جعلي خبر هغه مهال اغېز کوي کله چې د مخاطب لخوا ومنل شی. د مخاطب لخوا د یو شي منل تر ډېره د هغه په تصمیم نیونه پورې ارتباط پیداکوي، مخاطب د جعلي خبر سره د مخ کېدو په صورت کې نشي کولی د لومړي سیستم په مرسته جعلي خبر تشخیص کړي او په دې ډول په جعلي خبر ژر باور کوي. خو کله چې مخاطب د جعلي خبر سره د مخ کېدو په صورت کې د تجزیې او تحلیل له لارې هغه ارزوي، نو بیا کاروونکي د رسنیز سواد په لرلو د جعلي خبر په دام کې نه راګیرېږي او په دې ډول د ټولنیزو رسنیو دیو ځواکمن کاروونکو په توګه راڅرګندېږي. د دانیل کانمن د څېړنو له مخې جعلي خبرونه په وړاندې غبرون د فکر کولو له لومړي سیستم څخه اغېزمن کېږي په داسې حال کې چې مهم او غټ تصمیمونه په دویم سیستم کې صورت مومي. لومړی سیستم د فردي خاطرو، عقایدو او تجربو له مخې په تصمیم نیونه کې چټک عمل کوي او د داخلي احساساتو په بڼه راڅرګندېږي. دویم سیستم بیا لږ په ځنډ عمل کوي او تصمیم نیونه یې د عقل او منطق په ملتیا د هغو اطلاعاتو پر اساس چې د پنځه ګونو حواسو له لارې ترلاسه کېږي صورت مومي. د یادونې وړده چې په تصمیم نیونه کې دواړه سیستمونه یوله بل سرمرسته هم کوي، خو په هره اندازه چې دویم فکر پیاوړي وي د لومړی فکر تر اغېز لاندې نه راځي، کوم چې ډېری د نورو تابع وي.

### د فلټر ببل تیوري(The Filter Bubble Theory)

ټاکلي اصطلاح په ۲۰۱۱ کال کې د« الی پاریزر» په نوم د انټرنیټ یوه فعال د «حباب فیلتر: هغه څه چې انټرنیټ له تاسې پټوي» په کتاب کې مطرح کړه. د دې تیوری له مخې د لټون انجنونه او د ټولنیزو رسنیو په پلاتفورمونو کې کارېدونکي الګورېتمونه، یو کاروونکي ته د هغه د انتخابونو، تېرو کړنو او خوښونې پر اساس هغه ته شخصي شوی مواد وړاندې کوي او هغه له داسې معلوماتو ګوښه کوي چې د ده د باورونو خلاف او یا د موضوع په تړاو مختلف لیدلوری وړاندې کړي. د دې نظریې له مخې، الګورېتمونه هغه محتویات فیلټر کوي چې د یو کاروونکي د پخوانیو تعاملاتو او خوښو پراساس ورته وړاندې کېږي. په دې توګه، افراد یوازې هغه محتویات ویني چې د هغوی سره سمون لري، چې دا د نړۍ په اړه یو محدود یا غلط درک رامنځته کولی شي. د ایلي پایزر په اند که

څه هم شخصي کول کولی شي د کاروونکي تجربو ته وده ورکړي، خو له بل لوري مختلفو افکارو ته د لاسرسي مخه نیسي، او د یو اړخیزو نظرونو د پراختیالامل کیږي. په ټولیزه توګه، "فلټر ببل" د معلوماتو جریان محدودوي، او د کاروونکو لپاره د بدیلولیدلورو او معلوماتو ترلاسه کول سختوي.

ټاکلې تیوري هغه فکري انزوا څرګندوي چې کله ویبپاڼې له داسې الګوریتم څخه استفاده کوي، چې د هغې له مخې انټرنیټ خپلو کاروونکو ته هغه اطلاعات وړاندې کوي کوم چې دوی خوښوي. ویبپاڼې ټاکلې فرضیې د کاروونکو د اړوندو اطلاعاتو له مخې راټولوي لکه په انټرنیټ کې د هغه د وړاندینۍ پلټنې مخینه، هغه مطالب چې دې پرې کلک کړی وي او همدارنګه په ګوګل او انسټاګرام ترسره شوې پلټنې.

د ډیجیټل رسنیو له منځته راتګ وړاندې خبري رسنیو خپلو ټولو کاروونکو ته یو ډول محتوا ښودله خو اوسمهال رسنیزه محتوا شخصي شوې او د یادې تیورۍ له مخې خبري ویبپاڼې کولی شی خپل هر کاروونکي ته په خپلواک ډول خپله شخصي شوې محتوا ښکاره او وړاندې کړي. د کاروونکو له لوري د اطلاعاتو شخصي کول د حباب فلتر لامل کیږي او په پایله کې د تعصب، افراطیت او د بېلابېلو لیدلوریو د نه زغملو په لامل تمامیږي. په دغه ډول فضا کې د همفکره اشخاصو لخوا په نشر شویو جعلي خبرونو باور ډېریږي په ځانګړي ډول هغو کسانو ته چې خبرونه له ټولنیزو رسنیو څخه ترلاسه کوي. په دغه صورت کې خلک له دغه ډول حالت څخه را ایستل او هغوی ته له رسنیو څخه سمې استفادې کولو لارښوونه کول، کولی شي چې په جعلي خبرونو د باور کچه راټیټه کړي.

### د شاهدۍ پر بنسټ پوهه(Epistemology of Testimony)

ټاکلې څېړنه په دې اړه بحث کوي چې څنګه موږ د نورو د شاهدۍ له لارې پوهه ترلاسه کوو. دا څېړنه په دې تمرکز کوي چې څرنګه معلومات یا پوهه له یوه شخص (ویناوال) څخه بل شخص (اورېدونکی) ته انتقالیږي او ټاکلي معلومات څنګه باوري او معتبر ګڼل کیږي. په ورځني ژوند کې، ډېر خلک د خپلې پوهې په ترلاسه کولو کې د نورو پر ویناوو تکیه کوي، او له همدې امله شاهدي د پوهې یوه مهمه سرچینه ګڼل کیږي .د شاهدي ایپسټمولوژي د نورو له لارې د پوهې ترلاسه کولو لارې چارې څېړي او دا روښانه کوي، چې څه شی ټاکلې پوهه توجیه او معتبره کوي. ټاکلې نظریه موږ ته د هغو اطلاعاتو اعتبار راپېژني، چې د نورو څخه ترلاسه کیږي. لکه څرنګه چې وړاندې یادونه شوه، رسنیزسواد له مخاطبانو سره له رسنیو څخه د ترلاسه شویو اطلاعاتو په ارزونه کې مرسته کوي، ټاکلې نظریه هم همدغه لیدلوری تعقیبوي. د بېلګې په ډول کله چې دټولنیزو رسنیو کاروونکي د خپلې پاڼې څخه کومه ویدیو یا خبر نشروي په حقیقت کې د نشر شوې محتوا په تړاو د منښې او تائیدی عمل

ترسره کوي. په همدې ډول که د ټاکلي مطلب لوستونکی د نشر شوې محتوا د ریښتینولي په اړه قضاوت کوي، په حقیقت کې د اړوندې محتوا په اړه یو ډول د پېژندنې(تائیدي) عمل ترسره کوي. لکه څرنګه چې محکمه د قضیې د دواړو لوریو د وړاندې شویو ګواهانو د شاهدي پر اساس پرېکړې ته رسیږي، په همدې ډول په ټولنیزو رسنیو کې کاروونکي هم اصلي حقیقت ته لاسرسی نه لري، خو د نورو لخوا محتوا ته ورکړل شوي لایک او کومېنټونه او د بېلابېلو ادرسو یې خپرېدل د نشر شوي جعلي خبر د تصدیق او ګواهانو تله درنوي. د ټاکلې تیوري له مخې له کره شواهدو پرته د یو څیز له تائیدولو باید ډډه وشي او د نورو لخوا د یو مطلب د تائید په اړه هم باید مشکوک نظر ولرو او په دې توګه له تحقیق پرته، د هر ډول مطالبو په تائیدلو سره د جعلي محتوا په نشرولو کې ونډه وانخلو.

**د جعلي خبرونو په مخنیوي کې د رسنیز سواد ارزښت**

د جعلي خبرونو سره د مقابلې یوه اغېزمنه لار د رسنیز سواد زده کول دي. دا زده کړه د ټولنیزو رسنیو کاروونکو ته وړتیا ورکوي ترڅو د جعلي خبرونو څخه اغېزمن نه شي او د غلطو یا ناسمو معلوماتو له خپرولو څخه ځان وساتي. د ټولنیزو رسنیو کاروونکي د رسنیز سواد له لارې په دې پوهیږي، چې څنګه د معلوماتو د صحت او اصالت په اړه دقیقه ارزونه وکړي او په دې ډول د غلطو خبرونو د خپرولو او باور کولو په پروسه کې ونډه وا نخلي. د ټولنیزو رسنیو عام کاروونکي د جعلي خبرونو په لوستنې او له نورو سره یې د شریکولو له لارې د دغه ډول خبرونو له تولیدوونکو سره، موخې ته په رسېدوکې مرسته کوي. په ټولنه کې د رسنیزسواد ترویجول یو له هغو مهمو او اغېزمنو لارو څخه دی، چې د ټولنیزو رسنیو کاروونکو ته د اصلي او جعلي خبرونو د توپیر کولو وړتیا وربښي. د جعلي خبرونو سره د مقابلې یوه اغېزمنه لار د رسنیز سواد زده کړه ده. دا زده کړه د ټولنیزو رسنیو کاروونکو ته وړتیا ورکوي، ترڅو د جعلي یا ناسمو معلوماتو له خپرولو څخه ځان وساتي. رسنیز سواد له کاروونکو سره مرسته کوي ترڅو په ټولنیزو رسنیو کې د یو خبر په اصالت کې د شک پرمهال، د حقیقت موندلو هڅه وکړي.نو له دې امله په اوږد مهال کې د تخریبوونکو او جعلي خبرونو د مخنیوي لپاره د خلکو د رسنیزې پوهې او سواد کچه لوړول یوه مهمه اړتیا ده.

**د رسنیز سواد ځینې مهم ټکي**

۱. **د سرچینو تحلیل:** د رسنیزسواد لرونکي کسان د رسنیو له لارې خپرو شوو معلوماتو د صحت او سموالي په اړه تحلیل کوي. دوی پوهیږي چې کومې سرچینې د معلوماتو لپاره معتبرې او کومې نه دي، او د دې تحلیل په مرسته د جعلي خبرونو په وړاندې حساسیت پیداکوي. رسنیزسواد مخاطبان په دې پوهوي چې سرچینې په

خبرونو څنګه اغیز لرلی شي او د دې تر شا ممکن ځانګړې ګټې یا اجنداګانې شتون ولري. دوی د سرچینو په مختلفو اړخونو لکه د خبریال یا موسیسې د سیاسي او اقتصادي ګټو په اړه هم فکر کوي.

**۲. د معلوماتو پراخه کتنه :**رسنیزسواد لرونکي کسان په یوه موضوع باندې یوازې د یوې سرچینې په اساس قضاوت نه کوي، بلکې د یوې موضوع په اړه مختلفې سرچینې او نظرونه مطالعه کوي ترڅو بشپړ او دقیق معلومات ترلاسه کړي. رسنیزسواد خلک هڅوي چې د رسنیو څخه د ترلاسه شویو اطلاعاتو په اړه سطحي قضاوت ونه کړي او د معلوماتو په تحلیلولو سره د احتمالي تحریف او لاسوهنې په اړه دقت او فکر وکړي.

**۳. د بیلابیلو ژانرونو پېژندنه:** رسنیزسواد د خلکو سره مرسته کوي چې بېلابېل رسنیز ژانرونه وپېژني. مخاطبان باید د دې وړتیا ولري چې د سرمقالې، خبر، راپور او طنز ترمنځ توپیر وکړای شي. د دې پوهې له لارې، خلک کولی شي چې د بېلابېلو ژورنالیستیکو ژانرونو د لیکنې چوکاټ او موخې و پېژني او په دې ډول د جعلي خبرونو ښکار نه شي.

**۴. د ټولنیزو رسنیو په اړه پوهه لرل :** د ټولنیزو رسنیو کاروونکي باید د ټولنیزو او ډله ییزو رسنیو ترمنځ توپیر وکړي. په نننۍ عصر کې ټولنیزې رسنۍ خورا اغیزناکې دي، رسنیزسواد د خلکو سره مرسته کوي چې څنګه د ټولنیزو شبکو له لارې د خپرو شویو معلومات ارزونه وکړي، ځکه چې ډېری جعلي خبرونه د ټولنیزو رسنیو له لارې خپریږي.

**۵. د انتقاد وړتیالرل :**رسنیزسواد د خلکو سره مرسته کوي چې د شخصي یا ټولنیزو نظریاتو پرته، د خبرونو او اصلي معلوماتو پر اساس خپل قضاوتونه وکړي. د انتقاد وړتیا د دې لامل کېږي چې کاروونکي یوازې د احساساتو په اساس قضاوت ونه کړي او د حقیقت په اړه فکر وکړي. دا وړتیا لرل هم د جعلي خبرونو په مخنیوي کې یوه مهمه وسیله ده.

**پایله**

د جعلي خبرونو د ممکنه اغېز په تړاو د څېړونکو له لیدلورو دې پایلې ته رسېږو، چې په مخاطبانو د جعلي خبر اغېز تر ډېره د هغوی په برداشت او پوهې پورې اړه لري. کله چې خبر د مخاطبانو ترمنځ خپل دوران طی نه کړي او په لومړي پړاو کې د جعلي یا ناسم په توګه وپېژندل شي ، نو د هغې د خپرېدو بهیر دربدلی شي. خو که خبر د مخاطبانو له لوري د واقعیت په توګه ومنل شي، نو دا به په پراخه کچه د یوې رېښتینې او معتبرې پېښې په توګه نشر شي. په دې توګه، د جعلي خبرونو د خپرېدلو مخنیوي لپاره ضروري ده، چې خلک د رسنیز سواد په زده

کړه سمبال شي. په لويه کې د هېواد په کچه او په ځانګړي ډول په ښوونيزو بنسټونو کې د رسنيزسواد په ترويجولو سره، په رسنيزو مخاطبانو کې د واقعي او جعلي خبر ترمنځ د توپير کولو وړتيا غښتلې کېږي.

همدارنګه د خلکو له باورونو سره د جعلي خبر ورته والی، د حاکم ځواک په مقابل کې د عامو خلکو لوری نيول او په ليکنه کې د راښکونکو کلمو کارونه هغه نور لاملونو دي چې د دې ډول خبرونو په خپرېدو کې مهم رول لري.

جعلي خبرونه ډېری د غيري رسمي رسنيو له لارې خپرېږي، خو کله چې ټاکلي خبرونه رسمي رسنيو ته لار پيدا او په اړه يې خلک او مشهور اشخاص ليدلوری څرګند کړي، د باور کچه يې نوره هم زياتيږي. همدارنګه له بېلابېلو سرچينو څخه د يو جعلي خبر خپرېدل هم د هغې د ريښتينولی اړخ پیاوړي کوي. د دې ترڅنګ له دوستانو او هم فکره کسانو څخه د جعلي خبر ترلاسه کول هم په جعلي خبر د باور کولو لامل کېدلی شي. په ټولنيزو رسنيو کې په هره اندازه چې يو خبر د کاروونکو لخوا ډېر کومينټونه، تاييد او لايکونه ترلاسه کوي په همغه اندازه يې د باور کچه ډېريږي. په دې سربېره په ټولنه کې شته سياسي، قومي او مذهبي تعصب او په رسمي څېرو او رسنيو د خلکو د باور کچه راټيټېدل هم د جعلي خبرونو نشرېدلو ته زمينه برابروي.په ټولنه کې اطلاعاتي او رسنيزه خلا هم د ناسمو خبرنو خپرېدو لامل کېږي او خلک د خپلې اطلاعاتي اړتيا د پوره کولو لپاره غيري رسمي رسنيو ته مخه کوي. په په ټوله کې، رسنيز سواد د افرادو لپاره يو اړين مهارت دی چې هغوی ته د جعلي خبرونو په وړاندې د مقاومت کولو وړتيا ورکوي. کله چې خلک د رسنيو او اطلاعاتو په ارزونه کې مهارت ولري، دوی کولی شي غوره تصميم ونيسي او د ريښتنيو معلوماتو په رڼا کې سمې پرېکړې وکړي. په پايله کې ويلی شو چې حاکم نظامونه په ټولنه کې د جعلي خبرونو د مخينوي او د ممکنه زيانونو د لمنځه وړلو لپاره بايد ريښتينو اطلاعاتو ته د خلکو لاسرسی اسانه کړي او د دې ترڅنګ په ښونيزو بنسټونو کې د رسنيز سواد زده کړې ته عملي زمينه برابره کړي.

**وړاندیزونه**

۱- ملي رسنۍ باید په ټولنه کې د جعلي خبرونو سره د مقابلې لپاره د رسنیز سواد زده کړې برنامې پیل کړي. دې ته اړتیا ده چې رسنۍ د خپلو مخاطبانو د پوهې کچه لوړه کړي، ترڅو دوی وکولای شي د جعلي او ریښتیني خبرونو ترمنځ توپیر وکړي. دا برنامې باید د ښوونځیو، پوهنتونونو، او عامه غونډو له لارې اجرا شي، ترڅو هر فرد په دې برخه کې ښه پوهه ترلاسه کړي.

۲-  ملي رسنۍ د بېطرفی  اصل ته په پاملرنې سره، د ټولو مهمو پېښو په اړه د خپلو مخاطبانو اطلاعاتي اړتیا پوره کړي، او رسمي رسنۍ باید داسې اطلاعاتي خلا رامنځته نه کړي چې مخاطبان غیري رسمي سرچینو ته مخه کړي.

۳- په رسنیزو ټولو پروګرامونو کې باید د خلکو غوښتنو، ستونزو او خبري لومړیتوبو ته پاملرنه وشي او مخاطبانو ته هغه څه وړاندې شي چې له دوی سره په ورځیني ژوند او اړتیاو کو مرسته کوي.

# The Role of Media Literacy in Identifying Fake News

Associate Professor Naqibullah Atish, Sheikh Zayed University, Faculty of Journalism and Public Relations, Lecturer in the Department of Journalism
**Email:** naqib.atish@gmail.com

**Abstract**
The expansion of social media usage, along with the speed of information flow, has also created greater opportunities for building connections between individuals. Alongside these and other opportunities, social media has also introduced a number of challenges at both national and international levels, one of which is the spread of fake news. Competition between countries, opposition groups, and malicious individuals distort facts in the virtual space to manipulate public opinion against governments for their own benefit. The specific aspects of social media have raised various concerns globally, leading countries to take steps towards research aimed at preventing and controlling this phenomenon. The purpose of this research is to highlight the role of media literacy in combating fake news. The article demonstrates how media literacy enhances individuals' ability to analyze and evaluate information, enabling them to fight fake or misleading news. This paper focuses on analyzing existing research related to the topic and provides an overview of the views presented by researchers. The role of media literacy in preventing fake news is to equip individuals with the ability to evaluate and analyze information, making them more alert and resilient against deceptive news. The spread of fake and misleading news in society is linked to the use and sharing of such news by social media users. The findings of the study indicate that the similarity of fake news to individuals' beliefs and logic, the liking and sharing of fake news by various social media users, the existing information gap in society, and people's mistrust of official media institutions are the factors that facilitate the consumption and belief in fake news in society. The importance of media literacy in preventing fake news lies in its ability to equip individuals with the skills to accurately assess and analyze information, making them more cautious and aware in the face of false or misleading information.
**Keywords:** Social media, fake news, news, news organizations, media literacy.

**ماخذونه**

امامی،حسین.(۱۳۹۴)، سواد رسانه ای در تئوری وعمل،فصلنامه نقد کتاب، اطلاع رسانی و ارتباط: سال دوم،شماره۵ بهار.

امینی، فهیمه.( 1393 ).ضرورت آشنایی با سواد رسانه اي در خانواده.اولین کنفرانس بین المللی سواد رسانه اي درایران 30 مهر13 .

البرزی دعوتی، محمدحسین. (۱۳۹۸). تفاوت های خبرجعلي و شایعه ازمنظر اسناد علمی، کارشناسان و نظریه پردازان ژورنالیسم، خبر و علوم ارتباطی. مطالعات میان رشته ای ارتباطات و رسانه، ۲(۳).

آزادی، محمد حسین.(۱۳۹۸).راهکارهای مقاله با خبر جعلی برای معاونت سیاسی سازمان صدا و سیما ایران. پایانامه کارشناسی ارشد علوم ارتباطات، دانشگاه صداوسیمای تهران.

ساعی، محمدحسن، (۱۴۰۰)، راهکارهای مقابله با اخبار جعلی در سازمانهای خبری ورسانه های ایران: فصلنامه علمی وسایل ارتباط جمعی رسانه سال سی و دوم، شماره۲.

طالشی، سیدمحمدمهدی زاده، (۱۴۰۲)، رسانه های اجتماعی و اخبار جعلی در تصر پساحقیقت: فصلنامه پژوهش های ارتباطی، سال سی ام، شماره ۱(پیاپی ۱۱۳).

متقي، وحید (۱۴۰۰)، ارایه رویکرد تنسور سه بعدي برای طبقه بندی و تشخیص اخبار جعلي: علوم وفنون مدیریت اطلاعات دوره ۷، شماره ۴ زمستان.

مجید رجبی،(۱۳۹۲)، سواد رسانه ای مدیران و کارکنان روابط عمومی های وزارتخانه ها و سازمان های دولتی کشور و عوامل مرتبط با آن. پایان نامه کارشناسی ارشد رشته ارتباطات گرایش تحقیق،دانشگاه صداوسیمای جمهوری اسلامی ایران دانشکده ارتباطات.

Zhang, X., & Ghorbani, A. A. (2020). An overview of online fake news: Characterization, detection, and discussion. Information Processing & Management, 57(2), 102025.

# پهٔ پښتو ادب کې فکري تنوع

پوهندوی ظاهرشاه زهیر، شیخ زاید پوهنتون، ژبو او ادبیاتو پوهنځی، پښتو څانگه
**ایمیل ادرس:** zahirzaheer123@gmail.com

**لنډیز**
انسان پهٔ فطري توگه داسې پیدا شوی دی، چې فکر یې پهٔ زماني جریان کې پراخېږي او د خپلې کنجکاوۍ پر مټ د نویو پېښو او شیانو پهٔ هکله فکر کولو ته اړ کېږي. د انسان پهٔ ژوند کې فکري تنوع لهٔ دوو خواوو سپړلی شو، چې یوه خوا یې پهٔ مادي شیانو کې د ژوند د ضرورتونو لهٔ مخې را منځ ته کېږي او بله خوا د انسان پهٔ معنوي ژوند پورې اړه لري. پهٔ ټولنیزو علومو کې، پهٔ ځانگړې توگه پهٔ شعر او ادب کې فکري تنوع د شاعر او لیکوال پهٔ فکري او خیالي لید پورې تړلې ده، څومره چې د شاعر یا لیکوال فکري او خیالي لید پراخ او تېز وي پهٔ همغه کچه یې پهٔ شعر او لیکنه کې فکري تنوع ځای نیسي. پهٔ پښتو ادب کې ډېرې داسې بېلگې شته، چې یوې موضوع ته شاعرانو او لیکوالانو لهٔ څو زاویو کتلي دي او یو زوړ فکر او خیال ته یې له نوي لیدلوري کتلي دي. پهٔ دې مقاله کې لهٔ تشریحي مېتود څخه استفاده شوې ده او د دې مقالې څخه یو هدف دا دی، چې که موږ پهٔ پښتو ادب کې پر دغو بېلابېلو لیدونو پوه شو او فکر پرې وکړو، نو د شاعرانو او لیکوالانو د سبکونو پهٔ پېژندنه کې لهٔ موږ سره ډېره مرسته کولی شي.

**کلیدي ټکي:** پښتو، ادب، فکري تنوع، شننه او سپړنه

## سریزه

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمد لله رب العلمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین وعلی اله واصحابه اجمعین !**

په شعر او ادب کې فکري تنوع یو مهم بحث دی، ځکه چې د یو شاعر یا لیکوال علمي او ادبي شخصیت له همدې لارې څرګندېږي. بله دا چې د فکري تنوع پر بنسټ یو ادبپوه کولی شي، چې د شاعر یا لیکوال سبک مشخص کړي او د سبکونو په پېژندنه کې له موږ سره مرسته کوي. تر ټولو مهمه خبره دا ده، چې په شعر او ادب کې فکري تنوع هرې موضوع ته د شکل او منځپانګې له مخې ښکلا ورکوي او یوې زړې موضوع او مطلب ته نوښت ورکوي.

په دې لنډه مقاله کې د فکري تنوع په هکله بحث شوی دی، لومړی برخه یې د فکري تنوع په پېژندنه را ټوله او دویمه برخه یې د فکري تنوع په بېلګو را ټوله ده. په بېلګو کې د کلاسیکې او معاصرې شاعرۍ د ځینو مشهورو شاعرانو ځیني بیتونه سره پرتله شوي دي او دغه بیتونه بیا د شکل او معنا له مخې تشریح شوي دي، چې له تشریح وروسته پکې د فکري تنوع د څرګندولو هڅه شوې ده. د فکري تنوع د څرګندلو لپاره د دوو شاعرانو هغه بیتونه سره پرتله شوي دي، چې د موضوع او مطلب له مخې سره نېږدې دي، خو د الفاظو او موضوعي تنوع له مخې له یو بل سره توپیر لري او هر شاعر د موضوع د افادې لپاره یوه بېله او ځانګړې زاویه کارولې ده.

## د څېړنې موخې

۱. د پښتو ځانګې محصلان به د دې مقالې په لوستلو سره د کلاسیکې او معاصرې دورې د شاعرانو د فکري تنوع له مخې سبکي ځانګړنې وپېژني.
۲. لوستونکي او محصلان به په شعر او ادب کې د فکري تنوع له اهمیت څخه خبر شي او د کره کتنې پر وخت به د تکراري او نوې پنځونې ترمینځ توپیر وکړای شي.
۳. د پښتو ادب محصلان او لوستونکي به د دې مقالې په لوستلو سره د ادبي غلا ، توارد او فکري تنوع پر توپیرونو پوه شي.

## کړنلاره او کارتوکي

په دې لیکنه کې له تشریحي مېتود (Descriptive method) څخه استفاده شوې. تشریحي مېتود د څېړنې هغه مېتود دی، چې موضوعات په تشریحي توګه وړاندې کوي او د موضوع ناڅرګندې خواوې راسپړي. د څېړنې ډول کتابتوني دی، په دې لیکنه کې له علمي او ادبي اثارو استفاده شوې ده او ډېر تمرکز د شعر او ادب په موضوعي خوا شوی دی.

**۱. ۱. تېرو اثارو ته کتنه**

پهٔ ادبیاتو کې فکري تنوع دې ته ویل کېږي، چې لیکوالان، شاعران او څېړونکي د مختلفو فکرونو، نظریو، کلتورونو او ژبنیو سبکونو لهٔ لارې خپل افکار پهٔ قلم لیکي او پر ژبه یې بیانوي. فکري تنوع لهٔ ډېرو اړخونو پهٔ انسانانو کې وده کوي او د انسان پهٔ ورځني ژوند کې ډېر رول لري. د فکري تنوع اساس د انسان عقل دی او د ژوند ډېرې پدیدې د عقل پهٔ قوت مني، تغییر پکې را ولي او د ځان پهٔ گټه یې کاروي. عقل د انسان وجودي ودې سره سم پرمخ ځي او ورو ورو وده کوي. کله چې انسان لهٔ ماشومتوب مرحلې څخه ووځي، نو فکر یې لا پراخېږي او پهٔ ژوند کې یې مسوولیتونه او صلاحیتونه ډېرېږي. د ژوند تېرولو لپاره یې چاپېریال پراخېږي، پهٔ دې معنا، چې لهٔ کوره تر کلي، لهٔ کلي تر ښاره، لهٔ ښاره تر هېواده او لهٔ هېواده تر نورې نړۍ پورې رسېږي. پهٔ دې مرحله کې د خپل باور، علم او مسلکي مهارتونو لهٔ لارې د ژوند تېرولو مسیر ټاکي او د خپل فکري تنوع پر مټ د ژوند پهٔ چارو کې بدلون راولي. فکري تنوع د شاعر او لیکوال پهٔ فکر او خیال دواړو پورې اړه لري. ( ازمون، ۱۳۹۷ل، ص: ۱۹۱)

پهٔ هنر او ادب کې فکري تنوع ډېره مهمه موضوع ده، ادب څېړونکو فکري تنوع ته د ادب زړهٔ وایي، که دا نهٔ وي نو د یوې ټولنې ادب پرمخ تگ نهٔ شي کولی، حتی چې ادب د رکود حالت ته ځي او باالاخره مري او لهٔ منځه ځي. فکري تنوع یوې پدیدې ته لهٔ څو اړخونو کتل دي، کله چې یوې پدیدې ته لهٔ ډېرو اړخونو وکتل شي، نو د هغهٔ شي یا عمل اصلي هدف موږ ته څرگندېږي او هغهٔ هدف ته د رسیدو لارې چارې اسانېږي. د بېلگې پهٔ توگه الله ج پهٔ ځمکه کې اوسپنه پیدا کړې ده، انسان پهٔ اوایلو کې اوسپنه وپېژنده او دا یې درک کړه، چې لهٔ لرگیو، ډبرو او فلزاتو کلکه ده، بیا یې پهٔ متواتره توگه لهٔ اوسپنې د ژوند د هوساینې لپاره ډېرې الې جوړې کړې او دغه لړۍ جاري ده. اوسمهال که موږ پام وکړو، پهٔ ډېریو شیانو کې د اوسپنې پر ځای لهٔ پلاستیک کار اخېستل کېږي، یوه وجه یې دا ده چې د اوسپنې وزن دروند دی او لهٔ یو ځای نه بل ته یې نقلول گران دي. دې ته وایي فکري تنوع، چې پهٔ مادي شیانو کې یې انسانان د خپلې کنجکاوۍ او فکري رنگارنگۍ لهٔ مخې استفاده کوي. همدا ډول که موږ اوسنۍ تکنالوژۍ ته پام وکړو، چې لهٔ ورځې نه بلې ته یې نوښتونه ډېر گړندي کېږي او ډېرې اسانتیاوې رامنځ ته کوي.

پهٔ ټولنیزو علومو او پهٔ ځانگړې توگه پهٔ هنر او ادب کې فکري تنوع دې ته وایي، چې لیکوال او شاعر لهٔ بهرني چاپېریال نه پهٔ تأثر او د ټولنې اړتیاوو ته پهٔ کتو د انساني ژوند ارزښتونو ته لهٔ نویو زاویو وگوري او د خپل اسلامي قانون او عقیدې پهٔ چوکاټ کې دننه پهٔ ادب او هنر کې داسې سوژې او پیغامونه وړاندې کړي، چې لهٔ موږ څخه پټې خواوې هم څرگندې او روښانه شي. یا پهٔ هنر او ادب کې یو شي، یو مطلب یا یوې موضوع ته د ژبې پهٔ

چوکاټ کې رنګارنګي او ښکلا ورکول د فکري تنوع برخه ده. د پښتو ادب پخواني اثار تر ډېره د حماسیت په رنګ رنګ شوي ول او د نظم یا نثر عمومي مفکورې به په حماسیت ولاړې وې، خو وروسته پکې دیني، تصوفي، اخلاقي، ټولنیز او سیاسي موضوعات هم مخې ته راغلل، چې دې ته په عموم کې فکري تنوع ویل کېږي.

«د لسمې هجري پېړۍ د پای تر وختونو پورې مضمون د یوه متن د پیغام، محتوا او معنا په مفهوم استعمالېږي، تر هغې وروسته په یوه فني کلمه بدلېږي» (درمل، ۱۴۰۳ل ص: ۲۰۲)

فکري تنوع له فرده واخله تر یوې ډلې او له ډلې واخله تر یوې ټولنې همداسې روان وي. د فرد په توګه فکري تنوع دا ده چې د خپلې خیالپردازۍ او ژور فکر پرمټ یوې پدیدې ته له نورو څخه په جلا انداز کې وګوري او یوه نوې زاویه انتخاب کړي. دلته به د پښتنو شاعرانو څو بېلګې وړاندې کړو، ترڅو موضوع په ښه ډول څرګنده شي.

### ۱. ۲. د کلاسیکې او معاصرې دورو شاعرانو د ځینو شعري بېلګو پرتلنه

د رحمان بابا دوه مشهور نظمونه چې په یو کې یې دا دنیا (جهان) ستایلی دی او بل کې یې غندلی دی، همدا رنګه د خوشحال خان خټک د دوو بیتونو مفاهیم له یو بل سره ټکر لري:

ښه ده ښه ده دا دنیا
چې توښه ده د عقبا
په دنیا کې بدي نشته
که بدي نه وي له تا
په دنیا کې لوی حکمت دی
پرې پوهېږي حکما
دا دنیا ده بې وفا
بې وفا ده بې بقا
نه یې مخ شته نه یې څټ شته
لکه لوټه د صحرا
په ساعت کې یې خندا ده
په ساعت کې یې ژړا

(ع، بېنوا. ۱۳۸۲: ۴۷)

چې له دوسته له دوښمنه ښه سلوک کا
د هغو سړیو ښه زندګاني ده
څو وا ناخلې له غلیمه انتقام
مرد نه خوب کا نه خوړهٔ کا نه ارام
(ز، مشوانی. ۱۳۸۴: ۳۰۴)

تاسوګورئ چې رحمان بابا په لومړیو بیتونو کې دنیا ښه بللې ده او پهٔ ورپسې بیتونو کې یې د دنیوي ژوند منفي اړخونه ښودلي دي او د دنیا بدیو او بد بختیو ته یې په ښه سترګه نه دي کتلي. خوشحال خان خټک د هغو خلکو زنده‌ګي ښه بولې چې د دوست ترڅنګ له دوښمن سره هم ښه سلوک کوي، خو په دویم بیت کې د پښتني جذباتو پلوي کوي او له دوښمنه انتقام یې ارزو ده.

د رحمان بابا بیتونه که له یو بل سره مقابله کړو، پوهېږو چې رحمان بابا که دنیا ښه بللې ده د یو بل مقصد لپاره یې بللې ده، چې هغه د اخرت ژوند دی او د رحمان بابا په نظر په دې دنیا کې حکمت دا دی چې د اخرت لپاره پکې توښه تیاربږي. همدا مقصدیت په هغو بیتونو کې هم موندلی شو چې دنیا پکې بده ګڼل شوې ده، ځکه په دې بیتونو کې رحمان بابا دا جهان بې وفا او بې بقا بللی دی، ځکه یې بللی چې دی د هغه بل جهان (اخرت) ژوند وفادارۍ او ابدیت ته قایل دی. دا دنیا یې د هغه ابدي ژوند لپاره د کار او مزدورۍ یو ښهٔ فرصت بللی او ځکه یې ورته ښه ویلې ده، خو د اخرت په مقابل کې یې د انساني ژوند غوښتنو د پوره والي لهٔ مخې نیمګړې بللې ده. د خوشحال خان خټک لومړي بیت ته که ځیر شو د دهٔ له بزمي ادب سره تړاو لري او دویم یې بیا د رزم ولولې را ښیي، چې دا ظاهراً یو ټکر معلومېږي، خو په حقیقت کې دا ټکر نه دی او د دواړو بیتونو موارد سره بېل بېل دي. خوشحال خان خټک د خپلې فکري تنوع او تېزاندازۍ له مخې دا کار په یو بیت کې هم کړی، چې لومړی نیم بیتی یې له رزم او دویم یې له بزم سره تړاو لري:

توره چې تېرېږي خو ګزار لره کنه
زلفې چې ول ول شي خو خپل یار لره کنه

پایله

## ۱. ۳. د فکري تنوع لپاره دوې لارې

د فکري تنوع یا رنګارنګۍ لهٔ مخې د دوو یا څو شاعرانو د پنځونو پرتله په دوو لارو کولی شو:

یوه - که شاعران د بېلو بېلو دورو وي، (فرض کړئ محمد صدیق پسرلی لهٔ کاظم خان شیدا سره پرتله کوو) څرګنده ده چې د دوی د ژوند شرایط سره توپیر لري او سره لهٔ دې چې دواړه د هندي سبک شاعران دي، خو د کاظم خان شیدا شاعرۍ ځینې ځانګړنې داسې دي چې د پسرلي صیب لهٔ شاعرۍ سره څرګند توپیرونه لري، د بېلګې په ډول د عربي او فارسي ژبو لغتونه یا ځینې ګړنې دا سې دي چې دواړه شاعران یې سره بېل کړي دي. همدا رنګه که د شعر منځپانګه په نظر کې ونیسو، ټولنیزو ارزښتونو ته په پام سره، کیدی شي د دواړو شاعرانو فکري تومنه په نسبي ډول یو بل ته نېږدې وي، خو په ځینو ځایونو کې هغه فلسفي فکر چې د پسرلي په شاعرۍ کې شته، د شیدا په شاعرۍ کې یې نه شو پیدا کولی. دلته خبره د شاعر د بهترۍ او کمترۍ نه ده، ځکه د هر شاعر ځانګړی مقام وي، بلکې دلته خبره یوازې د پرتلې ده. لاندې دوه بیته د عمومي مفهوم له مخې سره نېږدې دي او په دواړو کې مدعا مثل صنعت کارول شوی، خو د الفاظو او اصلي هدف له مخې سره توپیر لري.

نه خلاصېږي پُرګویان له ګوشمالیه
رامعلوم شول د رباب له قیل و قاله
(خلیل، ۱۳۹۳ ل. ل، ص: ۹۷)

اوړي هوښیارانو ته تل خپل خلک
پوخ چې شي پر ځانګه ثمر پېتی شي
(پسرلی، ۱۳۹۰ ل، ل: ۳۴۷)

شیدا وایي هغه خلک چې پُرګویان (با علمه او با هنره خلک یا هغه څوک چې ښکلې او منظمې خبرې کوونکي) دي، له یو ډول اذیت سره مخ دي. یا هغه څوک چې د علم او هنر لوړو پوړیو ته رسیږي، هغه ته هرومرو په ابتدا کې د تربیت لپاره سزا ورکول کېږي، چې شاعر دغه رنګ خلک د (ګوشمالیه) په کنایې سره ښودلي دي. ګوشمال اسم مفعول دی، یعني هغه څوک چې د سزا ورکولو په موخه یې غوږ تاوېږي. د دې ادعا لپاره شاعر په دویم نیم بیتي کې مثال وړاندې کوي او پُرګویان له رباب سره تشبیه کوي، چې د پوره او ښکلې نغمې لپاره یې لومړی غوږونه تاوېږي (تارونه یې ټینګېږي) او له هغه وروسته د پوره نغمې جوګه ګرځي.

پسرلی صیب د پښتنو عمومي ژوند ته په کتو پهٔ لومړي بیت کې ادعا کوي چې هوښیارو خلکو ته لومړی خپل خپلوان یا رشته داران د لارې خنډ جوړېږي او هوښیاري یې نه شي زغملی او پهٔ دویم بیت کې د خپلې ادعا د

ثبوت لپاره د ځانګې او مېوې مثال وړاندې کوي. مېوه چې له ځانګې پیدا شوې وي، یعنې لومړی ځانګه ګل شوې وي او بیا یې مېوه نیولې وي، نو مېوه له هرشي نه ځانګې ته ډېره نېږدې وي. کله چې مېوه پوخوالي ته رسېږي، د ګټې او خوراک جوګه کېږي، نو پرځانګه پېټی شي او ځانګه ښکته ځان واچوي، ترڅو مېوه ځنې وغورځېږي.

دواړه شاعران د با کماله او با هنره خلکو په هکله خبره کوي او هغه هم په مدعا مثل صنعت کې، چې دغه عمومي یوشانوالی مونږ ته د بیتونو نېږدې والی ښيي، خو کله چې د دواړو بیتونو اصلي مفاهیم په نظر کې نیسو، نو په هغه صورت کې د بیتونو ترمنځ معنوي توپیر رامنځ ته کېږي. کاظم خان شیدا وایي، هغه څوک چې غواړي د علم او کمال خاوند شي، نو په ابتدا کې به تکلیف ته غاړه ږدي، وروسته به د پُرګویۍ توان پیدا کوي، چې د داسې خلکو تشبیه یې له رباب سره ورکړې ده او رباب چې په ګویایۍ کې کامیاب دی، علت یې د غوږونو تاوول دي چې وړاندې له غوږولو یې مزي (تارونه) ټینګېږي. پسرلي صیب بیا په پښتني ټولنه کې هغه خلک چې په خپله هوښیارۍ کې کمال ته رسېدلې وي، لهٔ مېوې سره تشبیه کړي دي او هغه کسان چې همدغه باکماله شخص ته په خپلوۍ کې نېږدې دي، له ځانګې سره تشبیه کړي دي، چې په خپل ځای کې ښه تشبیه ده.

دوهٔ: که شاعران د یوې دورې کسان وو، نو پوهېږو چې دوی نسبتاً په یو ډول شرایطو کې ژوند کړی وي او لهٔ ټولنیز ژونده اخېستي تأثرات یې سره ورته دي. دغه شاعران کیدی شي د سبک له مخې سره توپیر ولري، خو د عمومیاتو له مخې به یې شاعري سره نېږدېوالی لري. دلته پوښتنه پیدا کېږي چې د یوې دورې شاعرانو د شاعرۍ پرتلنې ته اړتیا څه ده؟ ځواب ځرګند دی، شاعران که د یوې دورې هم وي، خو د شاعرۍ سبک یې سره بېل وي او دغه بېلوالی یوازې په ټولنیزو شرایطو پورې نه محدودېږي، بلکې د شاعر ذاتي ځانګړنې هم پکې داخلې وي. په معاصره دوره کې دوهٔ مشهور شاعران، درویش درانی او پیرمحمد کاروان که پهٔ نظر کې ونیسو، دغه دواړه شاعران په عموم کې د تغزل ترځنګ د یوې ګډې تراژیدۍ شاعران دي، چې هغه د افغان وطن سیاسي او جنګي حالات دي، خو دوی د خپل ځانګړي سبک له مخې له یو بله بېل دي.

چې بیا نه توره پورته شي، نه سر په وینو رنګ شي
باداره دغه جنګ دې د وطن اخري جنګ شي
(درویش ل، ل ص: ۱۳۹۶)

تم پکې لښکر چې د غاټولو د ریدیو شي
دا خزان وطن دې بیا پاچا د پسرلیو شي
(کاروان ل، ل، ص: ۱۳۹۵: ۱۲۳)

ډېر کم کسان به وي چې د پورتنیو دوو شاعرانو شاعري یې نه وي لوستې او له ادب سره تړلي کسان د دغو شاعرانو د شاعرۍ پر اهمیت او بېلوالي واقف دي. باید ووایو چې دغه بېلوالی هم د یوې پرتلې له مخې کېږي، که له دواړو مو یو پوره او بل نیمګړی لوستی وي؛ نه شو کولی چې د دوی د شاعرۍ مناسبه پرتلنه وکړو او د سبکونو پر ځانګړنو یې ځانونه پوه کړو، ځکه په ځینو مواردو کې د دوی شاعري ډېر باریک توپیرونه سره لري.

همدا ډول که مونږ په پښتو کې د هندي سبک د دوو شاعرانو، حمید مومند او کاظم خان شیدا (چې دواړه د یوې دورې شاعران دي) د شاعرۍ په هکله ګرېږو، نو د دوی ترمنځ د شعر باریکی له لاندې دوو بیتونو معلومولی شو.

چې په تورو سترګو تور رانجه شي پورې
له یوې تورې بلا پاخي سل نورې
(صمیم، ۱۳۸۷ ل، ل، ص: ۸۹)

په خلاف د خپل تأثر سرما سایي شوه
چې د سترګو یې لا زیاته ګویایي شوه
(حنیف، ۱۳۹۳ ل، ل، ص: ۹۷)

دواړه شاعران په عموم کې یوه خبره کوي، چې هغه د تورو سترګو د ښکلا او تأثیر خبره ده، خو یو یې په یو او بل یې بیا په بل انداز کې کوي. حمید بابا وایي چې کله د معشوق پر تورو سترګو تور رانجه پورې شي، نو یوه بلا خو په خپله د یار تورې سترګې دي، خو کله چې تور رانجه ورسره هم یو ځای شي، نو د یوې تورې بلا نه سل نورې پیدا شي، یعنې د یار تورې سترګې لا پسې ښکلې او نازولې شي. د حمید مومند خبره د شیدا په پرتله ساده ده او د لوستونکي ذهن په اسانۍ ور رسېږي. شیدا همدغې خبرې ته له بېلې زاویې ګوري او په لومړي سر کې د رانجو اصلي حیثیت ته متوجه کېږي او وروسته یې د یار د تورو سترګو له ښکلا سره یو ځای کوي، چې خوند او رنګ یې لا سپوا کېږي. د رانجو یو حیثیت دا دی چې کله یې انسان ژبې ته یوسي، نو اواز ورسره خپ کېږي یعنې د انسان اواز له منځه ځي، خو د شیدا پهٔ نظر، رانجهٔ د ژبې پرځای له سترګو سره لګېدلي، نو رانجو د خپل تأثیر(اوازبندۍ) خلاف کار کړی او تورې سترګې یې د ښکلا د اغېز له مخې ګویانې کړې دي، یا لا ښکلې کړې دي.

د کلاسیکې دورې دوه نور مشهور شاعران چې دواړه یې د بېلابېلو مکتبونو خاوندان دي، خوشحال خان خټک او رحمان بابا، لومړی یې د رزم او بزم شاعر دی، دویم یې تصوفي. د خوشحال په شعر کې مونږ ته د رزم او بزم

مفاهیم او پیغامونه له ورایه سترګګونه وهي، خو د رحمان بابا په شعر کې لهٔ دنیا بې رغبتي او حقیقت ته میلان زمونږ په فکر کې راتداعي کېږي. دغه بېلوالی مونږ په لاندې دوو بیتونو کې روښانولی شو.

که طالع او هنر دواړه سره کېږدي
زه خوشحال به پکې ونیسم هنر
(مشوانی، ۱۳۸۴ ل، ل، ص: ۲۵۷)

دا هنر نه دی چې خاورې څوک سره زر کا
چې زر خاورې کا رحمانه هنر دا دی
(بېنوا، ۱۳۸۲ ل، ل، ص: ۴۷)

تاسو پوهېږئ چې د خوشحال خان خټک په پوهه او فکر کې (هنر) کلمه ډېر پراخ مفهوم لري او د هنر تر چتر لاندې یې ډېر شیان راوستلي دي، چې ښه بېلګه یې د دستارنامې شل هنره دي، چې مونږ ته یې یو په یو ښودلي دي. دی څکه هنر خوښوي چې د دنیوي ژوند د سمون لپاره په هر څهٔ کې هنر او کمال ته اړتیا ده. خوشحال خان خټک پوهېږي چې هر وخت په بخت کار نه کېږي، څکه دی لومړیتوب هنر ته ورکوي او غواړي چې هرڅوک په خپل ژوند کې د هر کار لپاره لهٔ ځان سره یو هنر ولري، چې د هغه په مرسته خپل کارونه په ښه توګه ترسره کړي او دنیوي ژوند د هنر او کمال پر مټ ښکلی او متمدن کړي.

رحمان بابا بیا وایي چې که دا هنر وي چې سړی په خپل ژوند کې د ځان لپاره خپله شتمني ولګوي، خو اصل هنر دا دی چې د بل چا لپاره خپله شتمني مصرف کړې، چې د دې ذخیره ابدي ده او نهٔ ختمېږي. که حقیقت ته پام وکړو له دې نړۍ پرته یو بل ژوند شته او د هغهٔ حقیقت لهٔ موږ څخه پټ دی، چې هغه د اخرت ژوند دی، نو د اخرت ژوند د دې دنیا په مقابل کې ډېر لوی دی، چې د هغه خوښي او غم دواړه همېشه دي، نو رحمان بابا اصل هنر دا ګڼي چې په دې ژوند کې هغه زر او شتمني چې ته یې لرې، خاورې وګڼه یا ورته د خاورو په ارزښت قایل شه، چې د بل چا د خیر لپاره یې درته مصرف کول اسان شي. د رحمان بابا ادعا که موږ دا ډول توجیه کړو چې دهٔ د تېنګار له مخې د دنیوي ژوند د ګټې څټې هنر نفي کړی دی، سمه نه ده، څکه پهٔ حقیقت کې دی له دې هنره منکر نه دی، خو د دې لپاره، چې د دویم هنر (زر او مال ته د خاورو په سترګه کتل) پهٔ خلکو ومني، لومړی یې نفي کړی. د بلاغت اصول همدا ایجابوي، چې کله یو کار یا یوه خبره د خلکو پهٔ نظر کې ناممکنه برېښي، نو د منلو لپاره یې مبلغ هڅه کوي چې د خپل منطق په زور ناممنکه خبره خلکو ته ممکنه کړي. که مونږ د خوشحال خان خټک او رحمان بابا پهٔ هکله غږېږو، یا یو چا ته په دې قناعت ورکوو، چې رحمان بابا تصوفي او خوشحال خان خټک رزمي او بزمي شاعر دی، نو ښه لاره یې د دوی د شاعرۍ پرتله ده. له پاسنیو بیتونو مونږ

ته څرګندېږي چې رحمان بابا یو تصوفي شاعر دی، چې د دنیوي ژوند پرځای د اخرت ژوند ته پهٔ ډېر ارزښت قایل دی، خو خوشحال خان خټک د دنیوي ژوند لپاره د هنر او کمال سپارښتنه کوي.

لهٔ پور ته بېلګو څخه موږ دې پایلې ته رسېږو، چې پهٔ هنر او ادب کې فکري تنوع د شاعر یا لیکوال پهٔ سبک کې ډېر رول لري او د هر شاعر او لیکوال سبک ته تشخص ورکوي. سبک پېژندنه پهٔ پوهنتونونو کې د یو څانګړي مضمون پهٔ توګه تدریس کېږي، چې هغه یوازې تیوریکي بحثونه دي، خو د سبک بېژندنې دویمه او مهمه برخه پهٔ عملي توګه د سبکونو معلومولو لپاره ځیني لارې چارې دي، چې دغه برخه د لومړۍ برخې پایله ده. که موږ دویمه برخه زده نهٔ وي، لومړۍ هغه یې ګټه نهٔ کوي، د همدې لپاره اړینه ده، چې د سبکونو د بېلوالي او ورته ځیني لارې چارې وپېژنو. د دې لارو څخه یوه ښه لاره پهٔ شعر او ادب کې د فکري تنوع پېژندنه ده، څکه موږ کولی شو، چې لهٔ دې لارې سبکونه کټګوري کړو او باالاحره موږ دې ته رسېږو، چې پهٔ معاصره دوره کې د مشهورو شاعرانو سبکونه پهٔ فردي تونګه وپېژنو.

**وړاندیزونه**

۱. د ژبو او ادبیاتو پښتو او دري څانګو محصلان دې یاده موضوع ولولي او د ادبي موضوعاتو پهٔ تحلیل کې دې ورڅخه ګټه پور ته کړي.

۲. هغه استادان چې د سبکپوهنې مضمون تدریسوي او یا د ادبپوهنې اړوند نور مضمونونه تدریسوي، دغه مقاله دې ولولي او د سبکونو د ورتهوالي او بېلوالي دواړو مواردو کې ترې استفاده کولی شي.

۳. د ادبیاتو استادان دې پردې موضوع نور کار وکړي، تر څو پښتو ادب د منځپانګې او سبکي ځانګړتیاوو لهٔ مخې یوې چوکاټ بندۍ ته ننوځي او پهٔ را تلونکي کې د پښتو ادب منځپانګه د نوي او زاړهٔ فکر او خیال لهٔ مخې را وسپړل شي.

۴. هر هغه څوک چې د شعر او ادب پهٔ تحلیل او تجزیه کې پخه تجربه لري، پهٔ دې برخه کې دې پر فکري رنګارنګۍ او تنوع نوره لیکل وکړي او د هر لیکوال او شاعر ادبي تشخص ته دې د همغو شرایطو لهٔ عینکو وګوري، پهٔ کومو کې یې چې ژوند کړی دی، چې دا کار به پهٔ راتلونکي کې د منځپانګې لهٔ مخې د سبکونو پهٔ کټګورۍ کې ډېره مرسته وکړي.

# Intellectul diversity Pashto Litrature

Assistant Professor Zahir Shah Zaheer, Sheikh Zayed University, Faculty of Languages and Literature, Pashto Department
zahirzaheer123@gmail.com

**Abstract**
A human being is naturally created in such a way that their thinking expands over the course of time, and through their curiosity, they are inclined to reflect on new phenomena and things. In human life, intellectual diversity arises from two sources: one side originates from material things and the necessities of life, and the other side is connected to the spiritual dimension of human existence. In the social sciences, especially in poetry and literature, intellectual diversity is directly related to the poet's and writer's intellectual and imaginative vision. The broader and deeper their intellectual and imaginative perspective is, the greater the intellectual diversity that appears in their writing and poetry. In Pashto literature, there are many examples in which poets and writers have viewed a single topic from various angles and have approached one idea with a fresh perspective and new imagination. If we understand and reflect on these diverse viewpoints in Pashto literature, it can greatly help us in identifying the styles of poets and writers.

**Keywords**: Pashto, literature, intellectual diversity, analysis, and exploration

**مأخذونه**

۱. ازمون، لعل پاچا. (۱۳۹۷ ل.ل). پښتو نظم پوهنه. جلال اباد: د ختیځ خپرندویه ټولنې تخنیکي څانگه

۲. بېنوا، عبدالروف. (۱۳۸۲ل.ل). د رحمان بابا دیوان. پېښور: یونیورسیټي بک ایجنسي

۳. پسرلی، محمد صدیق. (۱۳۹۰ ل.ل). غزلبڼ. میدان وردگ: افغان مسلکي مطبعه

۴. ترابي، محب الله. (۱۳۹٦ل.ل). د غزلبڼ عظمت. کندهار: غرفان خپرندویه ټولنه

۵. درمل، احسان الله. (۱۴۰۳ل.ل). سل بهاره حسن. کابل: سروش خپرندویه ټولنه

٦. درانی، درویش. (۲۰۱۸ م). دا بوټي به لونگ شي. کوټه: صحاف نشراتي مؤسسه

۷. خلیل، حنیف. (۱۳۹۳ ل.ل). د کاظم خان شیدا دیوان. کابل: دانش خپر ندویه ټولنه

۸. صمیم، آصف. (۱۳۸٦ ل.ل). د عبد الحمید مومند کلیات. کابل: دانش خپر ندویه ټولنه

۹. کاروان، پیرمحمد. (۱۳۹۵ ه ش) . زرزري وزرې. کابل: دانش خپرندویه ټولنه

۱۰. مشوانی،زاهد عبد القیوم. (۱۳۸۴ه ش). د خوشحال کلیات. کابل: اسد دانش مطبعه.

# د اسلامي شريعت او وضعي قوانينو له نظره د تأميني او تربيتي اقداماتو پېژندنه

پوهنـدوی پـاڅون مياخېـل، د شـيخ زايـد پوهنتـون، د حقوقـو او سـياسي علومـو پـوهنځي، د حقوقـو څانګې استاد

**برېښناليک:** pasoonwafamiakhil@yahoo.com

**لنډيز**

د مجازاتو تطبيقول له جرمونو سره د مبارزې لپاره يوازينۍ وسيله انګېرل کېده، خو د وخت په تېرېدودو سره وليدل شول چې مجازاتو دا وسيله په يوازې ډول مطلوبې موخې ته د رسيدو لپاره کافي نه ده او په ډېرو مواردو کې د جرمونو په مخنيوي کې اغېزناکه نه واقع کيږي، نو له دې امله حقوقپوهان او قانون جوړوونکي په دې لټه کې شول، ترڅو د جرم له تکرار او د هغو له خطرونو څخه د ټولنې د ملاتړ، له جرمونو سره د مبارزې، د مجرم او د هغه د بياځلي جرمي اقداماتو د احتمال تر کنټرول لاندې راوستو او د کابو کولو په موخه بديلې لارې وپلټي. له همدې کبله د وقايوي وسايلو په توګه د تأميني تدبيرونو تر لاس لاندې نيول د هيوادونو په قوانينو کې له هغې جملې د افغانستان په قانون کې درج شول او د دې ترڅنګ د اسلامي فقهې له نظره تاميني او تربيتي اقدامات په مشخص شکل نه دي واضح شوي؛ مګر په جامع شکل د دغو اقداماتو په اړه بحث شوی دی، لکه په اسلامي فقه کې د فرد اصلاح، په ټولنه کې د فساد مخنيوی او نور هغه اقدامات چې د تاميني او تربيتي اقداماتو په ډله کې يې ګڼلای شو. په دغې څېړنيزه مقاله کې د اسلامي فقهې او وضعي قوانينو له نظره تاميني او تربيتي اقدامات تر څېړنې لاندې نيول شوي دي.

**کليدي کلمې:** اصلاح او روزنه، امر بالمعروف او نهيې عن المنکر، تأميني اقدامات، تربيتي اقدامات، د فساد مخنيوی، سلبوونکي تدابير.

## سریزه

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمد لله رب العلمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین وعلی اله واصحابه اجمعین !**

دا چې د اسلام مبارک دین یو جامع او کامل دین دی او د انسانانو لپاره پکې د ژوند کولو ټول امورات او کړنې ښودل شوې دي، له همدې مخې یې مسلمانانو ته د نېکو اعمالو د اجرا کولو امر کړی او د بدو اعمالو له ترسره کولو یې منعه کړې دي؛ لېکن که بیا هم څوک جرمي اعمال ترسره کوي، په مقابل کې یې ورته جزاګانې هم تعینې کړې دي. همدا شان اسلامي شریعت د جرمونو د ارتکاب د مخنیوي او د مجرمینو د اصلاح لپاره خاص اصول او قواعد پیشبیني کړي دي، چې نن ورځ ورته په حقوقي اصطلاح کې تاميني اقدامات وايي.

په اوسني عصر کې دا غبرګون کیدای شي د جزا یا د حبس د بدیل او یا تأمیني تدبیرونو په بڼه څرګند شي، سربیره پر دې په ډېرو هیوادونو کې له ترمیمي عدالت څخه ګټه اخیستل کېږي. د قوانینو د انفاذ او تطبیق څخه پخوا جزاګانې ستغې او بې رحمانه وې، په قانون کې نه اتکل کیدې، له جرم سره یې تناسب نه درلود، په مجرم سربیره یې د هغه نور خپلوان هم هدف ګرځول او ډېرى له مجرم څخه د غچ اخیستو په موخه تعین او تطبیقدلې.

خو د وخت په تېریدو سره عدالت غوښتونکې بشري ټولنې بریالی شوې، ترڅو د جزا ټاکنه او د هغې تطبیق قانوني، عادلانه، متناسب، انساني او د مجني علیه، مجرم او ټولنې لپاره ګټور کړي، د مجرم اصلاح کول او د ټولنې غېږې ته د هغه بیرته ستنول، د مجازاتو د خورا مهمو موخو په څېر وګڼل شول. د اعدام جزا ډېره محدوده شوه، د حبس جزاګانې هم په ډېرى مواردو کې په نغدي جزاګانو واړول شوې او تأمیني تدبیرونه، د حبس بدیلونه او ترمیمي عدالت د عدلي او قضایي نظامونو د ډېرې پاملرنې وړ وګرځیدل، چې د دې څېړنې پام وړ موضوعات دي.

### د څېړنې ارزښت

د دې څېړنې اساسي ارزښت دا دی چې د تأمیني او تربیتي اقداماتو په اړه روښانتیا وړاندې کېږي. همدارنګه د اسلامي شریعت او قانون له مخې د ټاکل شوو تاميني اقداماتو او تربیتي لارو چارو د تطبیق د شرایطو راسپړنه یې بل د ارزښت وړ ټکی دی.

### د څېړنې ستونزه

هره څېړنه د یوې ستونزې د حل په موخه ترسره کېږي، په دې څېړنه کې د جرم د مخنیوي او یو سالم ژوند ته د مجرم د ورګرځولو په برخه کې د یو اساسي عنصر یعنې د تأمیني او تربیتي اقداماتو او تدابیرو وضاحت د اسلامي

شریعت او وضعي قوانینو په رڼا کې وړاندې شوی دی چې وړاندې یې د دغسې مقایسوي وضاحت نه شتون یوه ستونزه وه.

## د څېړنې موخې

### اصلي موخه

۱ ـ د اسلامي شریعت او وضعي قوانینو په رڼا کې په تأمیني او تربیتي اقداماتو پوهېدل.

### فرعي موخې

۱ ـ په شخص باندې د تأمیني او تربیتي اقداماتو د تطبیق وخت؛

۲ ـ د تامیني او تربیتي تدابیرو د تطبیق په لاسته راوړنو پوهېدل؛

۳ ـ د تأمیني او تربیتي تدابیر د تطبیق پر شرایطو پوهېدل.

## د څېړنې پوښتنې

### اصلي پوښتنه

اسلامي شریعت او وضعي قوانینو د مجرم د اصلاح په موخه کوم تأمیني او تربیتي اقدامات په پام کې نیولي دي؟

### فرعي پوښتنې

۱ ـ تامیني او تربیتي اقدامات کله په یو شخص د تطبیق وړ دي؟

۲ ـ په تامیني او تربیتي تدابیرو کې د مجرم په تړاو کوم موارد په نظر کې نیول کېږي؟

۳ ـ د تامیني او تربیتي اقداماتو د تطبیق شرایط کوم دي؟

## د لیکنې کړنلاره

د دغې موضوع دڅېړنې او وضاحت لپاره هڅه شوېده، چې له کتابتوني ډول څخه ګټه واخیستل شي، که څه هم د موضوع د شرحې لپاره د بېلابېلو علمي کتابونو، علمي لیکنو، په حقایقو باندي د ولاړو منابعو، نوو علمي رسالو او څه ناڅه انترنیتي ویبپاڼو له مطالبو څخه استفاده شوې ده، چې د څېړنې له تشریحي میتوده ګټه اخیستنه راښیي. د دې ترڅنګ د لیکنې ټول اصول او اساسات پکې مراعات شوي دي.

**لومړی مطلب: د اسلامي فقهي له نظره د تاميني او تربيتي اقداماتو مفهوم**

د دې لپاره چې په تاميني او تربيتي اقداماتو باندې سم پوه شو، ښه دا ده، چې لومړی د دغو کليمو په لغوي شننه لاس پورې کړو. نو لومړی د تامين لغوي مفهوم وړاندې کوو او بيا د تربيې په لغت بحث کوو، له دواړو وروسته په اقدام هم رڼا اچوو، ترڅو په پای کې د دغو اصطلاحاتو په دقيقه معنا پوه شو او ورپسې د دغو اقداماتو په اړه بحث وکړای شو.

**لومړی جز: د تامين لغوي مفهوم**

د(أَمَنَ يؤَمِنُ)له کليمې څخه اخيستل شوی او د تفعيل له باب څخه دی، چې د مصدر صيغه يې(**تأميناً**)ده او لاندينۍ معناوې لري:

۱ـ د ساتنې او حفاظت په معنا، لکه چې وايي:(**أُمَنَ مَصَالِحَهُ**)يعنې په خپل سامان يې ساتونکی او محافظ مقرر کړ.(عمر، ۲۰۰۸م).

۲ ـ د پوره کولو په معنا، لکه چې وايي:(**أَمَنَ حَاجَاتَ بَيتِهِ**)يعنې د خپل کور ضروريات او حاجتونه يې پوره کړل(عمر، ۲۰۰۸م).

۳ـ د تړون په معنا، لکه چې وايي:(**أَمَنَ عَلَى حَيَاتِهِ**)يعنې په خپل ژوند يې امين وګرځوه او د تامين تړون يې ورسره د مال په مقابل کې وکړ، چې د مشکل په وخت کې به يې ورکړي(عمر، ۲۰۰۸م).

همدارنګه په قرانکريم کې د امانت کليمه داسې استعمال شوې ده، د الله تعالی قول دی:{**إِنَّا عَرَضْنَا الأَمَانَةَ عَلَى السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَالْجِبَالِ فَأَبَيْنَ أَن يَحْمِلْنَهَا وَأَشْفَقْنَ مِنْهَا وَحَمَلَهَا الإِنسَانُ إِنَّهُ كَانَ ظَلُومًا جَهُولا**}(سورت الاحزاب:آيت۷۲). ژباړه: بيشکه موږ وړاندی کړ موږ امانت(ثواب ـ عقاب)پر آسمانونو او پر ځمکه او غرونو(کله چې مو پيدا کړ په دوی کې فهم او نطق)پس منع راوړه دوی له دی چې بورته کړی هغه(د امانت بار)او ويريدل دوی له هغه(امانت)او پورته کړ هغه(د امانت بار)انسان بيشکه چې دغه(اسنان)دی ظالم ډير بی ويری نادان(په عاقبت خپل)( القرآن الکريم،(۱۹۹۸)تفسير کابلي.جلد:۲،آيت شمېره:۷۲).

نو دا ويلای شو، چې د تامين کليمه د حفاظت، ساتنې او امانت په معنا ده.

**دویم جز: د تربیې کلیمې لغوي مفهوم**

تربیت د(ربّ)(یُرَبّي) له باب څخه اخستل شوی او د مصدر صیغه ده،رَبِّ ماضي کلیمه ده او یربي یې مضارع ده، د فاعل صیغه یې(مُربٍ) ده. له همدې مخې د رب مختلفې معناګانې شوې دي:

۱ـ د پالنې او روزنې په معنا، لکه عربان چې وايي:(ربي الأب ابنه) یعنې پلار د خپل زوی پالنه وکړه.

دغه راز په همدې معنا د(رب)کلیمه په قرانکریم کې هم استعمال شوې ده:{وَقُل رَّبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيرًا}(سورت اسرائیل: آیت۲۴). ژباړه: او دا دعا کوه، اې پروردګاره! پر دوی رحم وکړه، لکه څنګه چې یې له زړه سوي او خواخوږۍ سره ماشومتوب کې زه پاللی یم(القرآن الکریم،(۱۹۹۸)تفسیر کابلي.جلد:۲.آیت شمیره:۲۴).

۲ـ د زیادت او رشد په معنا، لکه عربان چې وايي:(رَبِّيَ الْشّخصُ الّمَالُ)یعنې شخص خپل مال زیات کړ.

۳ـد ساتلو په معنا، لکه عربان چې وايي:(وَالشّاةُ تُرَبِّيْ فِي الّبَيتِ لِلَبَنِهَا)یعنې مېږه په کور کې د شیدو په خاطر ساتل کېږي(عمر، ۲۰۰۸م).

د رب کلیمه په ګڼو معناګانو راغلې ده، خو د تربیې معنا روزنه او پالنه ده، له همدې مخې تربیه د روزنې او پالنې په معنا اخلو.

**دریيم جز: د اقدام لغوي مفهوم**

د اقدام کلیمه له(أَقْدَمَ) (يُقَدِّمُ) څخه اخیستل شوې ده او خپله د مصدر صیغه ده، چې په لاندې ډول یې معناګانو ته اشاره کوو:

۱ـد برید کولو په معنا، لکه چې وايي:(أَقْدَمَ عَلَى الْعَمَلِ)یعنې د کار په ترسره کولو یې بې له ځنډه شروع وکړه(عمر، ۲۰۰۸م).

۲ـ اقدام د قدم په معنا، چې قدم له(قْدَمَ، يُقَدِّمُ)څخه اخیستل شوی دی او د مخکې والي په معنا راځي، لکه الله تعالی چې په قران کریم کې فرمایلي دي:{أَنتُمْ وَآبَاؤُكُمُ الأَقْدَمُونَ}(سورت شعرأ:آیت ۷۶).ژباړه: تاسې او ستاسو مخکیني پلرونه او نیکونه(القرآن الکریم،(۱۹۹۸)تفسیر کابلي.جلد:۲.آیت شمېره:۷۶).

نو ویلای شو، چې اقدام د مخکې والي او د یو کار د پیلولو په معنا راځي.

**دويم مطلب: د اسلامي فقهې په رڼا کې د تاميني او تربيتي اقداماتو اصطلاحي مفهوم**

لکه څرنګه چې د تاميني او تربيتي اقداماتو اصطلاح يوه نوې اصطلاح ده، نو له همدې مخې په پخوانيو فقهي کتابونو کې د دې اصطلاح لپاره کوم جامع تعريف شتون نه لري؛ لېکن مفهوم يې په جامع او کوټلي ډول موجود دی، چې په لاندې ډول ورته اشاره کوو.

دا چې اسلامي شريعت د جرمونو د ارتکاب د مخنيوي او د ټولنې او د مجرمينو د اصلاح لپاره خاص اصول او قواعد پيشبيني کړي دي، چې نن ورځ ورته په حقوقي اصطلاح کې تاميني اقدامات وايي او د ښه وضاحت لپاره يې په څو مواردو کې په لاندې ډول تر بحث لاندې نيسو.

**لومړی جز: امر بالمعروف او نهيې عن المنکر**

امر بالمعروف او نهيې عن المنکر، د اسلام د سپېڅلي دين له مهمو فرايضو څخه دی او همدارنګه د اسلام يو مهم رکن هم دی، چې نور فرايض پرې اتکا لري او د اسلام سپېڅلي شريعت د هغه په قايمولو ډېر زيات اهتمام کړی دی، تر دې چې پرېښودنکی يې غندلی او څوک چې ترې منکريږي، هغه د کفارو له ډلې څخه حسابېږي. اسلامي فقهاوو دغه فريضه د عمومي دفاع د حق او په عين حال کې د انحراف، فحشاء او فساد په وړاندې د ټولنيز مکلفيت په توګه شمېرلې ده(عوده، ۲۰۰۶م).

د دې مکلفيت نه رعايت د الهي برکاتو د بندېدلو او د ټولنې پر برخليک او تقديراتو باندې د ناصالحو افرادو د مسلط کېدو سبب ګرځي، له همدې مخې د احاديثو په کتابونو کې په دې ارتباط د صحابه کرامو له خوا خورا زيات احاديث رانقل شوي دي.

قران کريم په مختلفو ځايونو کې د دې مهمې فريضې پر اداء کولو ټينګار کړی دی او کومو امتونو چې دا واجب ترک کړی، هغوی ملامته شوي دي. د مؤمنانو له عمده دندو څخه يوه د نوموړي کار د سرته رسولو په نسبت بشپړ اهتمام دی(محمد بن الحسن، ۱۴۱۲هـ ق).

الله تعالی په خپل سپېڅلي کتاب قران کريم کې په دې ارتباط داسې فرمايلي دي: {**وَلْتَكُن مِّنكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَأُوْلَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ**}(سورت آل عمران، ايت ۱۰۴).ژباړه: په تاسې کې بايد څه داسې خلک هرومرو وي، چې د نېکۍ لور ته بلنه وکړي، په ښو امر وکړي او له بدو منعه وکړي، کوم خلک چې دا کار وکړي، همغوی به بريالي شي(القرآن الکريم،(۱۹۹۸)تفسير کابلي.جلد:۱،آيت شمېره:۱۰۴).

د آل عمران سورت په بل ځای کې راغلي دي، الله تعالی فرمايي: {كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَوْ آمَنَ أَهْلُ الْكِتَابِ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُم مِّنْهُمُ الْمُؤْمِنُونَ وَأَكْثَرُهُمُ الْفَاسِقُون}(سورت آل عمران، ايت ۱۱۰). ژباړه: اوس په نړۍ کې هغه غوره ډله تاسې ياست، چې د انسانانو د اصلاح او لارښونې لپاره منځته راوړل شوې ده، تاسې د نېکۍ امر کوئ او له بديو منعه او پر الله ايمان لرئ. که دغو کتابيانو ايمان راوړی وای، نو د همدوی لپاره به ښه وه، که څه هم په هغوی کې ځينې د ايمان خاوندان شته؛ خو د دوی زياتره کسان له فرمان څخه سرغړونکي دي(القرآن الکريم،(۱۹۹۸)تفسير کابلي.جلد:۱،آيت شمېره:۱۱۰).

د پورتنيو ايتونو په استناد دا ويلای شو، چې خوارلس کاله مخکې قران کريم د اصلاح او ارشاد په برخه کې پراخ احکام ذکر کړي دي؛ لېکن په داسې حال کې چې وضعي قوانين تقريبا له دوو پېړيو را پدېخوا د امر بالمعروف او نهيې عن المنکر له نظريې سره اشنا شوي او د امنيتي او تاميني اقداماتو په نوم يې ځينې احکام رامنځته کړي دي. همدارنگه په وضعي قوانينو کې تاميني اقدامات تر ډېره پورې د اسلام د مبارک دين له تاميني اقداماتو څخه په اقتباس رامنځته شوي دي، چې د ټولنې د امنيت او هوساينې په خاطر د ډېر پام وړ دي.

**دويم جز: اصلاح او روزنه**

بله مهمه مسئله چې د اسلام د سپېڅلي شريعت د اهتمام وړ ده، هغه د بشري نفوسو د اصلاح او روزنې اړتيا ده او په قران کريم کې دې مسئلې ته په مختلفو تعبيرونو اشاره شوې ده، د الهي احکامو او د پيغمبرانو د رسالت اصلي موخه د خلکو اصلاح او نېکو اعمالو ته د هغوی لارښونه ده، دلته د مثال په ډول د قران کريم يو څو ايتونه رانقلوو.

۱ ـ الله تعالی د خلکو د اصلاح او روزنې په اړه فرمايلي دي:{وَلاَ تُفْسِدُواْ فِي الأَرْضِ بَعْدَ إِصْلاحِهَا وَادْعُوهُ خَوْفًا وَطَمَعًا إِنَّ رَحْمَتَ اللَّهِ قَرِيبٌ مِّنَ الْمُحْسِنِينَ}(سورت الاعراف: آيت۵۶). ژباړه: او په ځمکه کې فساد مه کوئ، چې کله په هغې کې اصلاحات راغلي دي او هماغه الله تعالی له وېرې او امېد سره وبلئ، په يقيني توگه د الله تعالی رحمت نېکانو ته نژدې دی(القرآن الکريم،(۱۹۹۸)تفسير کابلي.جلد:۱،آيت شمېره:۵۶).

دلته الله تعالی له اصلاح وروسته د فساد په نه کولو مطلق امر کړی دی او مسلمانان يې هغه وخت له فساد کولو څخه منعه کړي دي، کله چې په ځمکه کې اصلاح رامنځته شوې وي.

۲ ـ په بل ايت کريمه کې د شعيب عليه السلام د رسالت مقصد داسې بيان شوی دی، الله تعالی فرمايي:{وَإِلَى مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُواْ اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَهٍ غَيْرُهُ قَدْ جَاءَتْكُم بَيِّنَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ فَأَوْفُواْ الْكَيْلَ وَالْمِيزَانَ وَلاَ تَبْخَسُواْ النَّاسَ

أَشْيَاءَهُمْ وَلاَ تُفْسِدُواْ فِي الأَرْضِ بَعْدَ إِصْلاحِهَا ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ}(سورت الاعراف:آیت۵۸).ژباړه: او د مدین اوسېدونکو ته موږ د هغوی ورور شعیب علیه السلام ولېږه، هغه وویل: اې زما قومه! د الله تعالی بندګي وکړئ، له هغه پرته ستاسې هېڅ بل رب نه شته، تاسې ته د رب څرګنده لارښونه راغلې ده، نو تله او پیمانه پوره کوئ، خلکو ته د هغو په شیانو کې تاوان مه اړوئ او په ځمکه کې فساد مه کوئ، چې کله د هغې اصلاح شوې ده، په همدې کې ستاسې ښېګڼه ده، که تاسې په رښتیا مؤمنان یاستئ(القرآن الکریم،(۱۹۹۸)تفسیر کابلي.جلد:۱،آیت شمېره:۵٦).

د ټولنې د اصلاح او روزنې د اړتیا په باب د قران کریم ایتونو ته په پام دا ویلی شو، چې اصلاح او روزنه د تربیتي او تاميني اقداماتو مهم فکتورونه دي او په کلي ډول دې موخې ته د رسېدو لپاره قران کریم د مختلفو طریقو په وسیله له منل شوو عقلاني روشونو څخه استفاده کړې ده.

**درېیم جز: د فساد مخنیوی**

یو له هغو مهمو موضوعاتو څخه چې اسلامي شریعت پرې ټینګار کوي، هغه د فساد د مخنیوي او دفعې مسئله ده، چې د قران کریم په مختلفو ایتونو کې ورته اشاره شوې ده، چې په لاندې توګه ترینه یادونه کوو.

۱ـ الله تعالی فرمایلي دي:{... **كُلُواْ وَاشْرَبُواْ مِن رِّزْقِ اللَّهِ وَلاَ تَعْثَوْا فِي الأَرْضِ مُفْسِدِينَ**}(سورت البقره: آیت ٦۰). ژباړه: ... د الله له لوري درکړای شوې روزي وخورئ، وڅښئ او په ځمکه کې ورانی مه کوئ(القرآن الکریم، (۱۹۹۸) تفسیر کابلي.جلد:۱،آیت شمېره:٦۰).

۲ـهمدارنګه په بل ځای کې الله تعالی فرمایي: {...**فَاذْكُرُواْ آلاء اللَّهِ وَلاَ تَعْثَوْا فِي الأَرْضِ مُفْسِدِينَ**}(سورت الاعراف: آیت۷۴). ژباړه: ... نو د هغه د قدرتونو له ځلاوو(نعمتونو)څخه مه غافل کیږئ او په ځمکه کې فساد مه راولاړوئ(القرآن الکریم،(۱۹۹۸) تفسیر کابلي.جلد:۱،آیت شمېره:۷۴).

۳ـسربېره پر دې په بل ځای کې فرمایي:{**وَلاَ تُفْسِدُواْ فِي الأَرْضِ بَعْدَ إِصْلاحِهَا وَادْعُوهُ خَوْفًا وَطَمَعًا إِنَّ رَحْمَتَ اللَّهِ قَرِيبٌ مِّنَ الْمُحْسِنِينَ**}(سورت الاعراف:آیت۵٦).ژباړه: او په ځمکه کې فساد مه راوړئ، چې کله په هغې کې اصلاحات راغلي دي او هماغه الله تعالی له وېرې او امېد سره وبلئ، په یقیني توګه د الله تعالی رحمت نېکانو ته نژدې دی(القرآن الکریم،(۱۹۹۸) تفسیر کابلي.جلد:۱،آیت شمېره:۵٦).

د پورتنیو ایتونو د مفهوم پر اساس دا ویلای شو، چې د جرمونو د مخنیوي او د فساد د دفعې له مهمو اسبابو څخه یو چې په قران کریم کې وربانديې ټینګار شوی، د روزنیزو او تربیتي اقداماتو مسئله ده، چې په پراخه اندازه ورڅخه ذکر شوی دی.

**څلورم جز: له ځینو اجتماعي حقوقو څخه محرومیت (سلبوونکي تدابیر)**

د دې لپاره چې په ټولنه کې د جرمونو سطحه راټیټه شي، اسلامي شریعت د جرم مرتکبین له یو شمېر حقوقو څخه محروم کړي دي، یعنې هر کله چې کوم شخص جرم ترسره کړي، اسلامي شریعت د هغه د تنبیه لپاره نوموړی له ځینو حقوقو څخه محروموي، ترڅو د دغو حقوقو د سلب له لارې پر نوموړي فشار راشي او له خپل کار او جرمي عمل څخه پښېمانه او لاس په سر شي، همدارنګه مجرم د ملامتیا احساس وکړي او د خپلو ځینو حقوقو د سلب په پایله کې نورو ته هم د عبرت او هم د الګو سبب وګرځي. نو د موضوع د ښه وضاحت لپاره دغه موضوع په لاندې ډول تر مطالعې لاندې نیسو.

**لومړی جز: د شهادت یا د ګواهۍ له حق څخه محرومیت**

د اجتماعي حقوقو له جملې څخه د یو حق محرومیت د شهادت د حق سلبېدل دی، چې د دغه حق د سلب په پایله کې نوموړی په ټولنه کې داغداره کېږي او خلک یې د شهادت نه منلو له مخې منفور او رټلی ګڼي. په دې اړه په قرانکریم کې ډېر مثالونه راغلي دي، په ځانګړي ډول د هغو کسانو په اړه چې په پاک لمنو ښځو باندې د زنا او نامشروع اړیکو تورونه پورې کوي، په اسلامي شریعت کې دغسې کسانو ته چې په خلکو تهمت لګوي، اتیا درې مجازات ټاکل شوی دی او د دې ترڅنګ د هغوی شهادت هم نه منل کېږي.

د تور او تهمت پورې کولو او د تور پورې کوونکي شخص د شهادت او شاهدۍ د نه منلو په اړه الله تعالی فرمایلي دي:{**وَالَّذِينَ يَرْمُونَ الْمُحْصَنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَأْتُوا بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاء فَاجْلِدُوهُمْ ثَمَانِينَ جَلْدَةً وَلا تَقْبَلُوا لَهُمْ شَهَادَةً أَبَدًا وَأُولَئِكَهُمُ الْفَاسِقُونَ**}(سورت النور: آیت۴). ژباړه: او څوک چې په پاک لمنو ښځو باندې تور ولګوي، بیا څلور شاهدان تېر نه کړي، هغوی اتیا دُرې ووهئ او د هغوی شاهدي هېڅکله مه منئ او هغوی خپله فاسقان دي(القرآن الکریم،(۱۹۹۸) تفسیر کابلي.جلد:۱،آیت شمېره:۴).

دلته د شهادت د حق نه مراد هغه شهادت دی، چې په محاکمو کې اعتبار لري، یعنې دغه شخص چې تور یې پورې کړی دی، د شهادت ورکولو حق نه لري او د شهادت صلاحیت یې د(ابد)لفظ ته په پام سره له لاسه وځي او د عمر تر پایه پورې شهادت نه شي ورکولای. که څه هم په ورپسې ایت کې د توبې او اصلاح په صورت کې نوموړی له دې ډول محرومیت څخه معاف کېدی شي(ابو علي فضل بن الحسن، ۱۹۸۸).

د دې لپاره چې په پاک لمنو ښځو د تور لګوني مخنيوی وشي، ټولنه له دا ډول فساد څخه پاکه شي او د ښځو او مېرمنو حرمت او درناوی وشي، الله تعالی دغه ډول مجرمينو ته اتيا دُرې او تر ابده پورې د شهادت نه قبلول وضعه کړي دي(ابو علي فضل بن الحسن، ۱۹۸۸).

**دويم جز: هجر**

په اسلامي شريعت کې د تعزيري جزاګانو په سلسله کې يوه جزا هجر دی، يعنې د معاشرت ترک، چې په دې ارتباط د الله تعالی دا قول د ثبوت په حيث رانقلولی شو:{**وَاللَّاتِي تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ فَعِظُوهُنَّ وَاهْجُرُوهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ** ...}(سورت النسأ:آيت۳۴).ژباړه: او تاسې چې د کومو ښځو له سرغړونې څخه انديښمن ياست، هغوی(لومړی) پوه کړئ،(بيا)د خوب ځايونه ورڅخه جلا کړئ(القرآن الکريم،(۱۹۹۸) تفسير کابلي.جلد:۱،آيت شمېره:۳۴).

همدارنګه رسول الله صلی الله عليه وسلم دغو درې کسانو کعب بن مالک، مرارة بن ربيع العامري او هلال بن اميه ته چې د تبوک په غزا کې يې د رسول الله صلی الله عليه وسلم له امر څخه مخالفت کړی و، همدا جزا ورکړه. له دغو درې کسانو سره پنځوس ورځې خبرې اترې او ناسته ولاړه ممنوع وه تر هغې چې الله تعالی د دوی په هکله دا آيت نازل کړ:{**وَعَلَى الثَّلَاثَةِ الَّذِينَ خُلِّفُوا حَتَّى إِذَا ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ أَنْفُسُهُمْ وَظَنُّوا أَنْ لَا مَلْجَأَ مِنَ اللَّهِ إِلَّا إِلَيْهِ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ لِيَتُوبُوا إِنَّ اللَّهَ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ**}(سورت التوبه:آيت۱۱۸).ژباړه:او(خصوصاً)پر هغو دريو تنو چې بېرته پاتې شوي وو(د توبې له قبولېدو)تر هغه پورې چې تنګه شوه پر دوی ځمکه(په سبب د بې التفاتی د خلقو)سره له ارتوالي د دی(ځمکې)او تنګ شو پر دوی زوړنه د دوی(له ډېره غمه)او يقين يې وکړ چې نه شته ځای د پناه له(قهره د) الله(هېڅا ته)مګر هم ده ته دي، بيا رجوع وکړه(الله)پر دوی(په توفيق د توبې سره)له پاره د دې چې توبه وباسې دوی، بېشکه چې همدا الله دی ښه توبه قبلوونکی ډېر رحم والا(په انعام د اجر او ثواب سره)(القرآن الکريم،(۱۹۹۸) تفسير کابلي.جلد:۱،آيت شمېره:۱۱۸).

**درېيم جز: مصادره**

مصادره د مالونو او وسايلو له ضبط او اخيستو څخه عبارت ده، په دې ډول جزا کې د هغو وسايلو چې جرم پرې واقع کيږي او د هغو شيانو مصادره شامل دي، چې ساتل يې ممنوع دي(عوده، ۲۰۰۶م).

** څلورم جز: تشهير(خلکو کې مشهورول)**

په اسلامي شريعت کې د تعزيري جزاگانو له جملې څخه يوه جزا تشهير هم ده. د تشهير مقصد دا دی، چې محکوم عليه د مجرم په حيث وپېژندل شي. د تشهير جزا په هغو جرمونو مرتبېږي، چې څوک د خلکو له اعتماد څخه ناوړه استفاده وکړي او د خلکو په اعتماد باندې تېری وکړي، لکه د دروغو شهادت(گواهي)، له خلکو سره ټگي او په معامله کې غش يا دوکه کول، يا غولول. په موجوده عصر کې په اخبارونو، رسنيو او په عامو ځايونو کې په محکوم عليه باندې د صادر شوي حکم اعلان د تشهير ځينې وسايل دي(عوده، ۲۰۰٦م).

**پنځم جز: تغريب (تبعيد)**

رسول الله صلی الله عليه وسلم د تبعيد جزا هم ځينو مخنثينو نر ښځيو ته ورکړې او له مدينې څخه يې د هغوی په وتلو باندې امر کړی دی. همدا شان عمر فاروق رضي الله تعالی عنه ضبيع ته د دورو وهلو جزا ورکړې ده او بيا يې بصرې يا کوفې ته تبعيد کړی دی، خلکو ته يې امر کړی دی، چې خبرې اترې او ناسته ولاړه ورسره پرېږدي، ترڅو توبه وباسي او هر کله چې د هغې منطقې د حاکم له خوا عمر فاروق رضي الله عنه ته د هغه د اصلاح اطمينان حاصل شو، بيا يې خلکو ته اجازه ورکړه، چې خبرې اترې ورسره شروع کړي(عوده، ۲۰۰٦م).

**شپږم جز: مجرد اعلام**

مجرد اعالم په دې معنا دی چې قاضی د مجرم پر محکوميت باندې د حکم له صادرېدو وروسته هغه ته يو شخص واستوي او ورته ووايي چې اورېديل مې دي چې فالنی عمل دې تررسه کړي، چې مجرم پوه يش چې د عمل څخه نور خلک هم خرب شوی او احساس د رشمنده گی وکړي(الکاساني.۱۹۸٦م).

**اوم جز: توبيخ(رټل)**

توبيخ او رټل هم په اسلامي شريعت کې د تعزيري مجازاتو څخه گڼل کېږي، توبيخ او رټل معنوي او روحي جزا ده، قاضي په هغه صورت کې چې د شخص په اصلاح کې دا جزا مؤثره وي او اهانت پورې ونه رسېږي، کوالی شي تطبيق يې کړي؛ مگر که د شخص اهانت پکې وو او يا هم د شخص اصلاح نه وه بيا نو نه شي تطبيقېدای(ابن فرحون.۱۳۰۱هـ ش).

همدارنگه عبدالرحمن رضي الله عنه د کوم عادي شخص سره د رسول الله صلی الله عليه وسلم په حضور کې دعوه درلوده او هغه ته يې وويل چې ای د تورې زويه رسول الله صلی الله عليه وسلم ددې جملې په اورېدو سخت خفه شو او په قهر سره يې وفرمايل:د سپينې زوی او تورې زوی هېڅ فرق او حاکميت نه لري مگر هلته

چې حق يې ورباندې وي عبدالرحمن په دې توبيخ خجالت شو غاړه يې په ځمکه کېښوده او هغه ته يې وويل تر هغې مې وهه څو دي زړه غواړي(عوده.۱۳۷۴هـ ش).

پورتني ذکر شوي موارد په اسلامي فقه کې د شر او فساد د مخنيوي او د ټولني د اصلاح لپاره وضعه شوي دي، چې معاصر حقوق پوهان ورته د تاميني او تربيتي اقداماتو اصطلاح کاروي.

دويم مبحث: د افغانستان اسلامي امارت نافذ شوي قوانينو کې تاميني او تربيتي اقدامات

د افغانستان اسلامي امارت نافذ شوي قوانينو کې تاميني او تربيتي اقدامات اصطلاح يوه نوې اصطلاح ده، نو له همدې مخې په نافذ شوی قوانينو کې د دې اصطلاح لپاره کوم جامع تعريف شتون نه لري. خو په عام ډول ورته داسی تعريف کولای شو: تاميني تدبيرونه له هغو اقداماتو څخه عبارت دي، چې د ذيصلاح محکمې له خوا د تورن يا محکوم د تربيت يا اصلاح، له ټولنيز ژوندانه سره د هغه د بيا انطباق يا د تورن يا محکوم د خطرناک والي حالت ته په پام سره، د جرم له پيښېدو او تکرار څخه د مخنيوي لپاره نيول کېږي او په فيصله کې ذکر کېږي، چې د ښه وضاحت لپاره يې په څو مواردو کې په لاندې ډول تر بحث لاندې نيسو.

**لومړی جز: امر بالمعروف او نهيې عن المنکر**

امر بالمعروف او نهيې عن المنکر، د اسلام د سپېڅلي دين له مهمو فرايضو څخه دی او همدارنګه د اسلام يو مهم رکن هم دی، چې نور فرايض پرې اتکا لري او د اسلام سپېڅلي شريعت د هغه په قايمولو ډېر زيات اهتمام کړی دی، تر دې چې پرېښودنکی يې غندلی او څوک چې ترې منکرېږي، هغه د کفارو له ډلې څخه حسابېږي. اسلامي فقهاوو دغه فريضه د عمومي دفاع د حق او په عين حال کې د انحراف، فحشاء او فساد په وړاندې د ټولنيز مکلفيت په توګه شمېرلې ده(عوده، ۲۰۰۶م).

د افغانستان د اسلامي امارت نظام امير المؤمنين شيخ القرآن والحديث مولوی هبة الله اخندزاده حفظه الله د(۱)ګڼه ۳/ ۱/ ۱۴۴۶هـ ق ګڼه فرمان په اساس د امر بالمعروف او نهيې عن المنکر قانون نافذ دی، چې ذکر شوی فرمان دوه مادې لري چې عبارت دي له: لومړی ماده:(د امر بالمعروف او نهيې عن المنکر قانون په(۱)مقدمه،(۴) فصلونو او(۳۵)مادو کې توشيح کوم). دويمه ماده:(دغه فرمان د توشېح له نېټې څخه نافذ او د ياد قانون له متن سره يو ځای دې په رسمي جريده کې خپور شي)(د افغانستان اسلامی امارت د عدليې وزارت، رسمي جريده، ۱۴۴۶هـ ق).

په دې کې شک نشته چې امر بالمعروف او نهيې عن المنکر په اسلام کې تر ټولو غټ او لوی کار دی او دا هغه مهم کار دی چې الله تعالی د هغه لپاره ټول انبیأ علیهم الصلوة والسلام را لیږلي دي. که د امر بالمعروف او نهيې عن المنکر کمپله ټوله شي او دا کار پرېښودل شي، سستي پکې وشي، دیانتداري به ولاړه شي، په عموم کې به په دین کې سستي راشي او گمراهي به ډېره شي، ناپوهي به زیاته شي، فساد به ډېر شي، سرغړونې به پراخې شي، ښارونه به ویجاړ شي، بندگان به هلاک شي او په خپل هلاکت به خبر نه شي، مگر په ورځ د قیامت کې. متأسفانه چې همداسې شوي دي، ځکه چې د دې قطب علم او عمل دواړه زاړه شوي دي، رسم او حقیقت یې په بشپړ ډول له منځه تللی دی او د مخلوق پر زړونو باندې چاپلوسي او غوړه مالي غالبه شوې ده، د خالق تعالی له مراقبت او مراعت څخه پاک شوي دي او خلک د څناورو په څېر د خپلو نفسي خواهشاتو او شهواتو په تعقیب کې دي، د ځمکې پر مخ باندې رېښتني مؤمنان چې د الله تعالی په لاره کې د چا د ملامتیا څخه وېره نه لري، ډېر کم دي، نو هر څوک چې د دې سستۍ د مخنیوي هڅه وکړي او غواړي چې دا تشه ډکه کړي، چې هغه یا د دې کار مسؤلیت پر غاړه واخلي، یا د دې کار پلي کول ترسره کړي او وغواړي چې دا زوړ شوی سنت بیا را تازه کړي او درونه بار یې پر اوږو واخلي، د ژوندي کولو لپاره یې خپلې پایڅې را پورته کړي، نو هغه د ټولو خلکو له منځه څخه د یو داسې سنت ژوندي کول خوښ کړه چې زمانه د هغه سنت مرگ ته رسېدلې ده او داسې درجه یې الله پاک ته د نږدې کیدو لپاره خوښه کړه چې الله پاک ته د نږدې کېدو ټول درجات د دې درجې د لوړوالي په نسبت کښته دي،(په نیکۍ امر کول او له بدیو منعه کول د مهمو واجباتو او د اسلام له سترو احکامو او شعائرو)څخه دي او د هر چا د نیکۍ او نجات لامل دی او ضایع کول یې د هر چا د هلاکت یو لامل دی(د افغانستان اسلامی امارت د عدلیې وزارت، رسمي جریده، ۱۴۴۷هـ ق).

لکه څرنگه چې پورته ذکر شول چې د افغانستان اسلامي امارت امر بالمعروف او نهيې عن المنکر قانون یوه(۱) مقدمه،څلور(۴)فصله او پنځه دیرش(۳۵) مادې دی، چې په ذکر شوی قانون کې تاميني او تربیتي اقدامات د جرم د وقوع نه مخکې پیشبنی شوې، مخکې له دې چې جرم واقع شي، د جرم د واقع کېدو مخه نیسي او د ټولنې افرادو ته په نېکۍ کولو امر کوي او له بدیو یې منعه کوي د افغانستان اسلامي امارت امر بالمعروف او نهيې عن المنکر قانون څلور ویشتمه(۲۴)ماده، لومړی(۱)فقره داسې صراحت لري:(هغه شخص چې په ښکاره ډول منکر عمل تر سره کوي،معصیت او کوونکي ته یې په کتو سره، په لاندې ډول د محتسب په واسطه تعزیر ورکول کیږي:

۱: توصیه

۲: د الله تعالی له عذاب څخه تخویف(ویرول).

۳: په قهر جنو الفاظو تنبیه او تهدید.

۴: منکر عمل کوونکې ته په تلف د مال سره تعزیر ورکول.

۵: له یو ساعت څخه تر څلور ویشتو ساعتونو پورې حبس په عمومی محابسو کې.

۶: له یوې ورځې څخه تر درې ورځو پورې حبس په عمومي محابسو کې.

۷: هغه سزا چې محتسب یې مناسبه وګڼي او په محکمو پورې خاص نه وي(د افغانستان اسلامي امارت د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون(۲۴)ماده،(۱)فقره).

همدارنګه دویمه(۲) فقره داسی صراحت لري(محتسب مکلف دی، د امر بالمعروف او نهی عن المنکر په وخت کې د دې مادې په(۱) فقره کې مندرج تعزیر مراتب رعایت کړي(د افغانستان اسلامي امارت د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون(۲۴)ماده،(۲)فقره).

د پورته مادې څخه داسې معلومېږي چې تاميني او تربيتي اقدامات د جرم د وقوع نه مخکې پیشبنې کېږی او واضح کېږي او مرتکب ته د احوالو سره سم مجازات ورکوي، خو ددې باوجود که یو شخص اصلاح نشي نو محتسب کولای شي چې سرغړونکی شخص محکمې ته معرفي کړې، چې پدې اړه د افغانستان اسلامي امارت د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون(۲۵)ماده،(۳)فقره داسی صراحت لری(که سرغړونکی شخص د دې مادې په(۱ او ۲)فقرو کې د درج شوي حکم له تطبيق څخه وروسته اصلاح نه شي، محکمې ته ورپېژندل کېږی(دافغانستان اسلامي امارت د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون(۲۵)ماده،(۳) فقره).

**لومړی مطلب: د تاميني تدابیرو موارد**

تاميني موارد له هغو مواردو څخه عبارت دي، چې د جزا کوډ د تاميني مواردو یا حالتونو په توګه په ګوته کړي وي. په دې اړه د افغانستان اسلامي امارت د محاکمو جزايي اصولنامې(۱۹) ماده داسې صراحت لری(په مباحو امورو کې چې کله امام یې د کولو حکم وکړي د یادو امورو عملي کول واجب او مخالفت کوونکی یې د تعزیر مستحق دی)(د افغانستان اسلامي امارت د محاکمو جزايي اصولنامې(۱۹) ماده.

همدا راز د افغانستان اسلامي امارت د محاکمو جزايي اصولنامې(۵۴) ماده(۱)فقره داسی صراحت لری(هغه شخص چې د قاضي د نهائي حکم د منلو څخه د اصولو خلاف سرغړونه وکړي مجرم دی،قاضي دې په يو مياشت حبس محکوم کړي(د افغانستان اسلامي امارت د محاکمو جزايي اصولنامې(۵۴) ماده(۱)فقره).

**دویم مطلب: د ازادۍ سلبونکي تدبیرونه**

د ازادۍ سلبوونکي تدبيرونه هغه تدبيرونه دي، چې له مخې يې د مجرم يا محکوم ازادي سلبيږي او هغه له خپل ازاد حالت څخه بې برخې کيږي. چې د افغانستان اسلامي امارت د محاکمو جزايي اصولنامې(۷۶) ماده داسې صراحت لری(قاضي کولای شي، نظري(عائن) د حسد څخه په نصيحت کولو سره منع کړي، د انکار په صورت کي دې پخپل کور کې تر يو کال پورې تعزيرآ نظر بند کړي)(سترې محکمې متحد المال ځانگه،۱۴۴۷هـ ق).

له پورتنۍ مادې څخه دا په ډاگه کيږي، چې د ازادۍ سلبوونکي تدبيرونه په نظري(عائن) شخص لپاره وضعه کيږي او پر هغه پلي کيږي. همدارنگه دغه تدبيرونه پر هغه چا عملي کيږي، څوک چې نظري(عائن)اشخاص وي.

**دریيم مطلب: اقتصادي تدبیرونه یا د شیانو هلاک کول**

اقتصادي تدبيرونه يا د شيانو مصادره هغه تدبيرونه دي، په کومو کې چې په مجرم باندې اقتصادي بنديز لگول کيږي او يا د هغه مالونه او توکي هلاک کيږي، که چيرې ضبط شوي شيان د هغو شيانو له جملې څخه وي، چې د هغو جوړول، استعمال، ساتل، واردول، وړاندې کول، پېر يا پلور په خپل ذات کې جرم وي، نو محکمه د هغو په هلاک حکم کوي، چې د افغانستان اسلامي امارت د محاکمو جزايي اصولنامې(۱۲) ماده(۱) فقره داسی صراحت لری(تعزير د مال په اخيستلو سره منع دی)(د افغانستان اسلامي امارت د محاکمو جزايي اصولنامې(۱۲) ماده(۱) فقره).

او همدارنگه د افغانستان اسلامي امارت د محاکمو جزايي اصولنامې(۱۲) ماده(۲) فقره داسی صراحت لری( قاضي کولای شي، مجرم ته لاندې دوه ډوله تعزير ورکړي:

۱ـ باهلاک المال.

۲ـ بحبس المال په غير منقول کې(د افغانستان اسلامي امارت د محاکمو جزايي اصولنامې(۱۲) ماده(۱) فقره).

او همدارنگه د افغانستان اسلامي امارت د محاکمو جزايي اصولنامې(۱۳) ماده داسی صراحت لری(د مفسدينو، شريرو او فساقو هغه ځايونه چې دوی پکې د عادت له مخې فسادې کړنې تر سره کوي، قاضي دې تعزيرآ ونړوي(د افغانستان اسلامي امارت د محاکمو جزايي اصولنامې(۱۳) ماده).

**پایله**

د پایلې په برخه کې ویلی شو، چې په اسلامي شریعت او وضعي قوانینو کې د تاميني تدابیرو یو هدف تعقیب شوی دی، چې هغه د مجرمینو اصلاح او د جرم د تکرار مخنیوی دی. دا چې په اسلامي شریعت کې (امر بالمعروف او نهيې عن المنکر) یو داسې اساس او بنسټ دی، چې مخکې له دې چې جرم واقع شي، د جرم د واقع کېدو مخه نیسي او د ټولنې افرادو ته په نېکی کولو امر کوي او له بدیو یې منعه کوي، چې د افغانستان اسلامي امارت د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون(۲۵)ماده،(۳)فقره داسی صراحت لری(که سرغړونکی شخص د دې مادې په(۱ او ۲)فقرو کې د درج شوي حکم له تطبیق څخه وروسته اصلاح نه شي، محکمې ته ورپېژندل کېږی) دلته مخکې له دې چې جرم واقع شي او شخص مجرم وپېژندل شي لومړی ورته د تخلف د مخنیوی امر کوی او که چېری متخلف شخص اصلاح نشي بیا محکمې ته واک ورکړل شوی، چې د مجرم په اړه حکم وکړي. بله موضوع دا ده، که څه هم مصادره په اسلامي شریعت کې په واضح توګه ذکر کړی، لیکن په وضعيې قوانینو کې بیا مصادره نشته، د مصادري پر ځاي هلاک المال، بحبس المال په غیر منقول کې ذکر شوی، چې د افغانستان اسلامي امارت د محاکمو جزایي اصولنامې(۱۲) ماده(۱) فقره داسی صراحت لری(تعزیر د مال په اخیستلو سره منع دی) او همدارنګه د افغانستان اسلامي امارت د محاکمو جزایي اصولنامې(۱۲) ماده(۲) فقره داسی صراحت لری( قاضي کولای شي، مجرم ته لاندې دوه ډوله تعزیر ورکړي:۱ـ باهلاک المال. ۲ـ بحبس المال په غیر منقول کې، همدا زار د جرم د تکرار په مخنیوي کې اسلامي شریعت او وضعیي قوانین یو شان دریځ لری.

**وړاندیزونه**

د اسلامي شریعت او وضعي قوانینو له نظره تأميني او تربیتي اقداماتو څېړنې پر مهال بنده یو څه اړتیاوې درک کړې، هیله ده، چې اړوند اشخاصو ته ورسېږي او غور پرې وکړي.

۱ـ په ټوله کې د افغانستان اسلامي امارت او بیا په خاص ډول د لوړو زده کړو وزارت ته وړاندیزکوم، چې د هیواد د ټولو پوهنتونونو په درسي نصاب کې شرعي تأميني او تربیتي اقدامات ځای پر ځای کړي.

۲ـ د حقوقو او شرعیاتو پوهنځیو محصلان دې د علمي سویې د لوړاوي په خاطر د قوانینو او اسلامي شریعت په رڼا کې د تأميني او تربیتي اقداماتو په پرتله او مقارنه کار وکړي.

۳ـ دا چې عربي ژبه د حقوقو او شرعیاتو محصلانو ته ډېره اړینه او ضروري ده، نو محصلین باید په تأميني او تربیتي اقداماتو د ښه پوهېدو په خاطر په ښه توګه له عربي آثارو استفاده وکړي.

۴ـ د فقهې ډېر کتابونه لیکل شوي او اکثره یې په عربي ژبه دي، د مجربو او په عربي ژبې له حاکمو استادانو څخه تقاضا کوم، چې د پښتو ژبې د غني کېدو لپاره دې د عربي ژبې کتابونه پښتو ته راوژباړي.

# The Concept of Security (Preventive)and Reformatory Measures in Islamic Sharia and Statutory Law

Assistant Professor Patsoon Miakhil Sheikh Zayed University, Faculty of Law and Political Science, Department of Law
**Email:** pasoonwafamiakhil@yahoo.com

**Abstract**
In the past, the implementation of punishments was regarded as the only method for combating crime. Over time, however, it became evident that punishment alone is not sufficient to achieve the intended objectives, and in many cases, it is not effective in preventing criminal behavior. As a result, legal scholars and lawmakers began exploring alternative approaches that could prevent the recurrence of crime, protect society from its dangers, address criminal conduct more comprehensively, and place offenders as well as the likelihood of repeated offenses under effective control. For this reason, many legal systems, including that of Afghanistan, have incorporated security and preventive measures as essential protective tools. At the same time, Islamic jurisprudence does not define security and reformatory measures in a single fixed form, although it discusses them extensively. Concepts such as individual reform, the prevention of corruption in society, and the principle of enjoining what is right and forbidding what is wrong are all considered part of these measures. This research article examines both preventive and reformatory measures from the perspectives of Islamic jurisprudence and statutory laws.

**Keywords:** Reform and training, enjoining what is right and forbidding what is wrong, security measures, reformatory measures, prevention of corruption, restrictive measures.

**ماخذونه**

القران

ابن فرحون،ابوعبدالله محمد.(۱۳۰۱هـ ش).تبصرة الحکام فی اصول الاقضیه و منهاج الحکام، بیروت:دار الکتب العلمیه.

ابو علي فضل بن الحسن.(۱۹۸۸ز). مجمع البیان فی تفسیر القران. دار المعرفة. بیروت.

د افغانستان اسلامي امارت د محاکمو د جزايي اصولنامه، د ستري محکمې قضايي معاونیت د متحدالمال څانګه.(۱۴۴۷هـ ق). ګڼه:۲۲.

د عدلیې وزارت رسمي جریده.(۱۴۴۶هـ ق). د افغانستان اسلامي امارت د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون. پر له پسې نمبر(۱۴۵۲).

د عدلیې وزارت رسمي جریده.(۱۴۴۷هـ ق). د افغانستان اسلامي امارت د امر بالمعروف او نهی عن المنکر د قانون د تفیذ د هیئتونو طرزالعمل. پر له پسې نمبر(۱۴۷۴).

عوده، عبدالقادر.(۲۰۰٦م). التشریع الجنایي الاسلامي مقارنا بالقانون الوضعي. ټوک.۱. دار الکتب العربي. بیروت.

عوده،عبدالقادر.(۱۳۷۴هـ ش).د اسلام جنايي تشریع او وضعي قوانین،ژباړه.عبدالهادی هدایت.پېښور:پیغام نشراتي مرکز.

القرآن الکریم، (۱۹۹۸)تفسیر کابلي، پښتو ژباړه. ج: ۲.(ب ط) خپرندوی: فهد ال سعود سعودي.

الکاساني، ابوبکر علاؤ الدین.(۱۹۸٦م).بدایع الصنایع فی ترتیب شرایع.بیروت:دارالکتب العلمیة.دوهم چاپ.

محمد بن الحسن.(۱۴۱۲هـ ق). وسائل الشیعة.ټوک.۱۱. دار الاحیاء التراث العربي. بیروت.

مختار، عبدالحمید عمر.(۲۰۰۸ز). معجم اللغة العربیة المعاصرة. ټوک.۲. عالم الکتب. پاکستان.

مودودي، سید ابو الاعلی.(۲۰۱۷م). تفهیم القران تفسیر. ژباړه: قیام الدین کشاف. عالم الکتب. پاکستان.

# په معاصره نړۍ کې د حجاب د تطبيق فقهي تحليل او ټولنيزې پايلې

پوهندوی دکتور مفتي عزت نور د شيخ زايد پوهنتون، شرعياتو پوهنځي د فقه او قانون څانګې استاد
**ايميل ادرس:** shabzalmi@gmail.com

**لنډيز**
د حجاب موضوع د اسلام له نظره د ښځې د کرامت، عفت، او ټولنيز ثبات له مهمو ارکانو څخه ده. اسلام حجاب يوازې د جامو د پوښښ په معنا نه، بلکې دحياء، وقار او د ټولنيز اړيکو د تنظيم يوه الهي فريضه ګرځولې ده. د دې څېړنې اهميت په دې کې نغښتی چې په معاصره نړۍ کې د حجاب په اړه فکري مغالطې او ناسم تعبيرونه زيات شوي، نو اړينه وه چې دا موضوع دقرآن کريم او د احاديثو په رڼا کې علمي او په فقهي توګه وڅېړل شي. د څېړنې ضرورت د دې لپاره څرګند شو چې د حجاب حکم الهي امر دی، د ټولنې د اخلاقي سلامتي او د ښځې د شخصيت د ساتنې له پلوه واضح او مستند وپيژندل شي. د څېړنې ميتود استقرايي او تحليلي دی، يعنې د قرآن کريم آيتونه، د نبي کريم –صلی الله عليه وسلم –احاديث، او د فقهاوو اقوال په ترتيب سره راټول او د فکري او فقهي تحليل له لارې تشريح شوي دي. د څېړنې پايلې څرګندوي چې حجاب د مسلمانې ښځې لپاره يو فرضي حکم دی، چې د ايمان او تقوی نښه ګڼل کيږي، د عفت، حياء او ټولنيز نظم ساتنه کوي، او د ټولنې د فساد مخنوي مهمه وسيله ده. څېړنې ومونډله چې حجاب د ښځې د ازادۍ بند او مخنوی نه، بلکې د کرامت ساتنې ضمانت دی، او دهغه مراعت د امت د اخلاقي بيدارۍ نښه ده.

**کليدي ټکې:** اواز، حجاب، زيور، ښځه، لباس

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحيم، الحمد لله رب العلمين والصلاة والسلام على سيد المرسلين وعلى اله واصحابه اجمعين !**

حجاب د اسلام له اساسي او مقدسو ارزښتونو څخه یو ارزښتمن اصل دی، چې د عفت، پاک، وقار او اسلامي هویت څرګندونه کوي. اسلام د انسان د فطرت له غوښتنو او د ټولنې د اخلاقي سلامتی له اصولو سره سم، د ښځې او سړي ترمنځ د تعامل حدود ټاکلي دي، څو انساني کرامت خوندي، د فتنو دروازې بندې، او د ټولنې عفت او طهارت ساتل شوی وي. حجاب نه یوازې د جامو یو ډول پوښ دی، بلکې یو معنوي او اخلاقي نظام دی چې دمؤمنې ښځې د شخصیت، عقیدې او اطاعت د نښې په توګه یادیږي.

قرآن کریم د حجاب حکم ډیر په صراحت او وضاحت سره په زیاتو آیاتونو په مختلفو ځایونو کې بیان کړی دی، کله د سورة النور په (۳۱) آیت کې الله تعالی فرمایي: **{وَقُلْ لِلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا}**.

ژباړه: او مؤمنو ښځو ته ووایه چې خپلې سترګې ټیټې کړي، خپل شرمګاه ځایونه دې وساتي، او خپله ښکلا دې نه څرګنده وي، مګره هغه چې څرګنده وي.

همدارنګه د سورة الأحزاب په (۵۹) آیت کې الله تعالی فرمایي: (**{يَاأَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاءِ الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيبِهِنَّ ذَلِكَ أَدْنَىٰ أَنْ يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ}**.

ژباړه: ای پیغمبره –علیه الصلاة والسلام – خپلو مېرمنو، لوڼو او د مؤمنانو ښځو ته ووایه چې د خپلو ټیکریو (بهرنیو پوښونو) یوه برخه پرځان راکش کړي، دا د دې لپاره ښه ده چې وپیژندل شي او ازار ونه ویني.

د دغو قرآني ایاتونو او د زیات شمیر احادیثو ( چې دلته ته یې د اختصار په بنیاد نشو راوړلی) په رڼا کې څرګندیږي چې حجاب د مسلمانې ښځې لپاره یوازې یو عرفي عادت نه، بلکې یو الهي امردی، چې دهغې ایمان، عزت او سپځلتیا څرګندوي. د حجاب فلسفه د ښځې د محرمیت او د ټولنې د اخلاقي توازن د ساتنې لپاره ده، نه د ښځې د محرومیت لپاره. له فقهي پلوه د امت علماوو په اتفاق سره حجاب واجب ګڼلی، او د هغه پرېښودل د کبیره ګناهونو له جملې ګڼل کیږي. امام ابوحنیفه، امام مالک، امام شافعي او امام احمد رحمهم الله ټول په دې متفق دي چې د ښځې ټول بدن باید له پردیو نارینه وو پټ وي، پرته له مخ او لاسونو، خو که د فتنې ویره وي، نو مخ پټول واجب ګرځي.

په معاصره ټولنه کې، چې فحشا، بې حیایي او اخلاقي زوال څپې ډیرې شوي دي، د حجاب ارزښت لا زیات مهم ګرځیدلی دی. حجاب د ایمان د ساتنې، د عزت د دفاع، او د اسلامي هویت د ژوندي ساتلو یوه ظاهره ده. نو د شرعي له نظره حجاب د ښځې لپاره د بندیز علامه نه، بلکې د کرامت، امن، عفاف او عزت نښه ده. هره مؤمنه

ښځه چې د خدای تعالی امر د تعمیل په نیت حجاب اغوندي، هغه د جنت د وعدې وړ ګرځي او د فاسقانو نظرونو څخه د الهي ساتنې ترسیوري لاندې راځي.
له بده مرغه چې په تیر جمهوري او فاسد نظام کې چې د غرب د مفکورې پر اساس جوړ شوی وو، اسلام او شرعي احکام پلي کول د جومات او مدرسې تر حدودو مربوط وو، ډیره پرېښودل، پرښځو ستر کول، د چا کور ته په اجازې غوښتلو سره ننوتل، دا هرڅه د ملایانو او اهل تصوف دنده ګرځیدلې وه، عوام او د وخت حاکمان ورڅخه مستثنی شوي وو.
که تیر شلکلن جمهوري نظام ته د عقل سلیم له رویه نظر وشي، نو دښځو حقوق او حجاب په مدني سطحه په مکمل ډول سره پایمال شوي وو، په ښارونو کې دزده کړو په پلمه له ښځو او نجونو څخه د مشغولا او سات تیرۍ نانځکې جوړې کړل شوي وې، په دفترونو، کارخونو او نورو کار ځایونو کې د ګډ کار کولو په نوم او د ښځو د آزادی په نوم د مامورینو د سات تیرۍ وسیله ګرځول شوي وې، بلکې د ښځو په توهین کې د غربي کلتور په تقلید او پیروۍ په افغانستان کې د وخت بې شرمه حاکمانو څو ګامه نور هم وړاندې تللي وو، کله به چې له غربي او نورو کفري هېوادونو څخه حاکمان او هیئتونه افغانستان ته په دوره راغلل، زمونږ بې ناموسه، بې ننګه حاکمانو به د هغوی دخوشالتیا او له هغوی څخه د بېدینۍ د کرډیټ اخېستلو په خاطر د معارف ښکلې ښکلې نجونې په زور او رضا راغونډې کړې، د ګلانو ګېډۍ به یې په لاسو کې ورکړې او په هوایي ډګرونو او لویو لارو کې یې دهغوی د هرکلي لپاره درولې.
د غو بې ناموسه حاکمانو په همدې هم بسنه ونکړه، بلکې د خپلو محفلونو د رنګین ګرځولو لپاره یې نجونو ته ګډا او نڅاګانې ور زده کړې، ګډیدل او نڅیدل یې د تعلیم یوه برخه ورته ګرځولې وه. همدارنګه د دغو پیغلو او ځوانانو د غولولو او تشویق په خاطر یې د «هنرمند» لقب ایجاد کړو او هغه څوک به چې زیات په دې فحشاوو کې ډوب شو، نو هنرمند به بلل کیده. له اسلام څخه د ملت د نوې توکم د بې لارې کولو په خاطر یې په راډیو، تلوېزیون او تیاترونوکې د نارینه وو په پرتله زیاتې ښکلې پیغلې او ښځې په کارونو ګومارلې وې.
لکه څرنګه چې اسلام د ښځو د حقوقو په ساتلو او ورکړې باندې زیات تاکید او ټینګار کړی دی، همدا رنګه یې د ښځو لپاره د ژوند کولو بنیادي اصول هم بیان کړي دي، چې د هغو اصولو څخه یو هم حجاب دی، حجاب د الله تعالی له طرفه د ښځو لپاره لوی نعمت او سعادت دی. نو دې بې سترې او فحشاوو د مخنوي، او د حجاب د مراعت کولو او عامه پوهاوي په خاطر، او خپلې ټولنې ته د خدمت په پار مې دا مختصره رساله ولیکله چې د نبي کریم –صلی الله علیه وسلم - څخه د حجاب اړوند د روایت شویو ترهیبي او ترغیبي احادیثو مجموعه ګڼل

کیږي، چې د حجاب اړوند ضروري مسائل په ډېر لنډ او مدلل ډول د قرآني ایاتونو او احادیثو په رڼا کې تشریح شوي دي.

## د څېړنې موخه

دا چې هېواد مو تازه د غرب او نورو کفري هېوادونو د استعمار او اشغال څخه ازاد شوی، او د کفري یرغل لمن ټوله شوي ده، نو لازمه ده چې د اخلاقي، فکري او فرهنګي استعمار څخه مو هم ټولنه په بشپړ ډول خلاصه شوي وي، او د تل لپاره مو ټولنه د فحشا او بې حیایی څخه پاکه او د عزت، عفت او پاکدامنی په زیور خایسته شوي وي. د دې څېړنې موخه هم د دې مسلمانې ټولنې په اخلاقي او دیني زیور سمبالول دي.

## د څېړنې ګړنلاره او دکار توکي

په دې علمي مقاله کې مو څېړنې میتود او کړنلاره استقرایي او تحلیلي ده، یعنې د قرآن کریم آیتونه، د نبي کریم – صلی الله علیه وسلم – احادیث، او د فقهاوو اقوال په ترتیب سره راټول او د فکري او فقهي تحلیل له لارې تشریح شوي دي. او د معتبرو حنفي مذهب متونو څخه حوالې راوړل شوي دي.

## دښځو لپاره ترټولو ښه او غوره حجاب

دښځو لپاره ترټولو بهترین حجاب او پرده په کور کې پاتې کیدل او په کور کې اوسیدل دي، الله تعالی په قرآن کریم کې ښځو ته خطاب کوي او فرمایي: (وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ). (سورة الأحزاب: ۳۳) ژباړه: پاتې دې شي دوی په خپلو کورونو کې. یعني په خپلو کورونو کې دې پاتې شي بغیر له ضرورته دې بهر ته نه را وځي.
الله تعالی په قرآن کریم کې په یو بل آیت کې فرمایي: (**وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ ذَٰلِكُمْ أَطْهَرُ لِقُلُوبِكُمْ وَقُلُوبِهِنَّ**). سورة الأحزاب: ۵۳).
ژباړه: کله چې تاسو (له امهات المؤمنین څخه) د کوم شي پوښتنه کوی، نو د پردې ترشا یې ترې کوئ، دا ستر ستاسو د زړونو او د دوی (امهات المؤمنین) د زړونو لپاره ډېر ښه او پاک دی.
سبحان الله! یوطرف صحابه – رضي الله عنهم - دي بل طرف امهات المؤمنین – رضي الله عنهن - دي او د خیر القرون زمانه ده، بیا هم الله تعالی صحابه- رضي الله عنهم - د امهات المؤمنین- رضي الله عنهن - سره د مخامخ خبرو څخه منعه کړي دي او امهات المؤمنین یې په حجاب مکلفې ګر ځولي دي نو زمونږ د زمانې به څه حال وي؟! او ولې به زمونږ د زمانې ښځې حجاب نکوي ایا دوی تر امهات المؤمنین- رضي الله عنهن - زیاتې دینداره او غوره دي؟ نه په هیڅ صورت سره هم نه، په هرحال او هره زمانه کې به ښځې حجاب کوي او په حجاب کولو باندې به مجبوریږي.

په بل آیت کې الله تعالی فرمایي: (لَا تُخْرِجُوهُنَّ مِنْ بُيُوتِهِنَّ وَلَا يَخْرُجْنَ)،( سورة الطلاق: ١). ژباړه: تاسو (خپلې طلاقې شوي) ښځې له کورو څخه مه باسئ، او نه دې دوی په خپله له کورو وځي.

**بغیر له سخت ضرورت څخه د ښځې بهر ته وتل سخت جرم دی**

– ابن مسعود رضي الله عنه - فرمايي: چې رسول الله – صلی الله علیه وسلم - وفرمایل: چې ښځه عورت ده او کله چې د کور څخه بهر ځي نو شیطان یې خلکو ته ښکاره کوي.(سنن الترمذي: ٣/٤٦٨).یعني کله چې ښځه د کور څخه بهر ځي نو شیطان یي خلکو ته حسن، زینت ښکاره کوي او دخلکو په زړو کې د ښځې محبت او د هغې دلیدلو شوق پیدا کوي چې دا ټول د گمراهی اسباب دي.

– حضرت جابر – رضي الله عنه - څخه روایت دی چې رسول الله – صلی الله علیه وسلم - وفرمایل: چې ښځه د شیطان په شکل کې له کور څخه ځي او د شیطان په صورت کې بېرته راځي. ( صحیح مسلم: ١/١٢٩).مطلب د حدیث دا دی چې شیطان د ښځې په ذریعه سره خلک گنهگار او په گناه کې مبتلا کوي.

حضرت عبد الله بن عمر - رضي الله عنهما - روات کوي، چې نبي کریم- صلی الله علیه وسلم - وفرمایل: چې د ښځو لپاره د کور څخه بهرته د وتلو هیڅ اجازه نشته، البته د سخت ضرورت په وخت کې وتلی شي. (کنز العمال: ٨/٢٦٣). یعني بغیر له سخت ضرورت څخه بهر ته د ښځو د وتلو اجازه نشته. د دې حدیث په آخر کې راځي چې، د ښځو لپاره په لاره باندې د تگ او راتگ حق نه جوړیږي، التبه د سخت ضرورت په وخت به د لارې په یو طرف او کناره باندې تگ او راتگ کوي.

حضرت عائشه – رضي الله عنها - روایت کوي چې که چېرته نبي کریم – صلی الله علیه وسلم - زمونږ د زمانې ښځې لیدلي وی چې کوم ډول لباس کوي، نو خامخا به یې مساجدو ته له تگ څخه منعه کړي وی.(صحیح البخار:١/١٧٣، باب خروج النساء الی المساجد باللیل والغلس).

د دې حدیث څخه ښکاري چې د صحابه- رضي الله عنهم - په زمانه کې هم حضرت عائشه – رضي الله عنها - ښځې بهرته د وتلو څخه منعه کولې.

**د سخت ضرورت په وخت کې دښځو بهرته د وتلو شرطونه**

دا ښکاره خبره ده چې ښځې هم انساني مخلوق دی او په ورځني ژوند کې ورته د کور څخه د وتلو اړتیا او ضرورت پیدا کیږي. لکه څرنگه چې په مقدمه کې تېرشول چې اسلام د ښځې د عزت، عف او حجاب د ساتنې ترټولو پشپړه تگلاره وړاندې کړې ده. لکه څرنگه چې حضرت رسول الله – صلی الله علیه وسلم - ام المؤمنین سوده بنت زمعه – رضي الله عنها - مخاطبه کړه او داسې یې ورته وفرمایل: «**قد أذن لكن أن تخرجن لحاجتكن**»

(**صحيح مسلم: ۱۷۰۹/۴، باب اباحة الخروج للنساء لقضاء الحاجة**). ژباړه: الله تعالی تاسو ته د دې اجازه درکړې ده چې خپل حاجت او ضرورت پوره کولو لپاره بهر ولاړې شی. هر مسلمان په دې باندې پوهیږي چې، د اسلام مقصد دا نه دی چې ښځه له ټولو ټولنیزو چارو او مشروع فعالیتو څخه محرومه پاتې شي، بلکې د هغې د کرامت، امن او اخلاقو د ساتنې لپاره یې ځانګړي حدود او اصول ټاکلي دي چې په لاندې ډول سره یې بیانوو:

### ۱ - شرعي حجاب په مکمل ډول رعایتول

اول شرط دا دی چې د سر څخه تر پښو پورې به یې مکمل شرعي حجاب کړی وي، او د بدن هیڅ برخه به یې نه وي ښکاره.

الله تعالی فرمایي: (**يَاأَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاءِ الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيبِهِنَّ**). (سورة الأحزاب: **۵۹**).

ژباړه: ای پیغمبره –علیه الصلاة والسلام – خپلو مېرمنو، لوڼو او د مؤمنانو ښځو ته ووایه چې د خپلو ټېکریو (بهرنیو پوښونو) یوه برخه پرځان راکش کړي.

مفسرینو د «جلباب» تفسیر د ټول بدن په پټوالي سره کړی دی. حضرت عبد الله بن عباس – رضي الله عنهما – فرمايي: د جلباب څخه د سر نه تر پښو پورې د ټول بدن پټوالی او ستر مراد دی، په داسې ډول سره چې مخ او څیره یې هم ښکاره نشي، بغیر له یوې سترګې څخه.(تفسير ابن جرير: **۴۶/۲۲**. تفسير روح المعاني: **۸۹/۲۲**).

په قرآن کریم په بل آیت کې الله تعالی وایي: (**وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ**). (سورة النور: **۳۲**).

**ژباړه:** ښځې دې خپل څادرونه په خپلو سینو باندې واچوي.

اګر چې وړاندې له دې آیت څخه په نورو آیتونو کې د ټول حجاب ذکر کړی دی، خو الله تعالی د سینو د پټولو خصوصي حکم څکه وکړو چې سینه د ښځو د زینت او ښایست ځای دی، او په دې کې زیاته د فتنې ویره موجوده ده.

### ۲ – د سنګار او د زینت لباس به نکوي

کله چې ښځې بهرته د سخت ضرورت په وخت کې ځې نو حجاب او لباس یې باید زینتي نه وي چې د خلکو پام ځان ته رواړه وي، الله تعالی فرمایي: (**وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ**). (سورة النور: **۳۲**).

ژباړه: او نه دې ښکاره کوي ښځې خپل زینتونه.

نو کله چې لباس او یا حجاب زینتي وي، دخلکو توجه او نظر ور اوړي نو مقصود نه ورباندې حاصلیږي، چې هغه د خلکو د فتنې او گناه څخه ساتل دي، نو بناء حجاب او لباس به هم زینتي نه وي. بل ځای په قرآن کریم کې الله تعالی وایي: (وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِنْ زِينَتِهِنَّ). (سورة النور: ۳۲).

ژباړه: ښځې دې خپلې پښې په زور سره په ځمکه نه وهي، د دې لپاره چې خلک د ښځو په پټ زینت باندې خبر نشي او هغه وا نوري.

د هغه زیوراتو او زینتي شیانو څخه چې اواز پورته کیږي په دوه قسمه دي: یو یې هغه دي چې په خپله اواز کوي، د داسې قسم زیوراتو استعمال د ښځو لپاره جائز ندی. حدیث شریف کې راځي «**مع كل جرس شيطانا**».

ژباړه: د هر اواز کونکي زیور (زنگ) سره شیطان وي.

دوهم قسم هغه زیورات دي چې په خپله اواز نه کوي، بلکې یو د بل سره په لگیدلو او یا په زوره سره په ځمکه باندې په وهلو اواز کوي، چې پاس په ذکر شوي آیت کې هم د دې اړوند حکم شوی دی، د دې استعمال روا دی خو په دې شرط چې ښځې په قصدي ډول سره اواز ترې ونه باسي.

– حضرت عائشه- رضي الله عنها - روایت کوي، چې رسول الله– صلى الله عليه وسلم - یوه ورځ په مسجد کې ناست وو، چې د مزینه قبلې یوه ښځه په داسې حال کې راغله چې ځان یې سینگار کړی وو او دزینت لباس یې اغوستی وو، نبي کریم – صلى الله عليه وسلم - خلک مخاطب کړل، او ویې فرمایل: ای خلکو په مساجدو کې ښځې د زینتي لباس او تکبري لباس څخه منعه کړئ؛ ځکه بني اسرائیل هغه وخت لعنتي شول چې ښځې یې د زینتي او تکبري لباس څخه منعه نکړې.(ابن ماجه: د حدیث شمیره: ۴۰۰۱).

**دښځې اواز**

د پاس ذکر شوي مسئلې څخه یوه بله مهمه مسئله واضحه شوه چې کله الله تعالی ښځې د زیوراتو د اواز څخه منعه کړې دي نو د ښځو اواز به د غیر محرمو څخه پټول څومره ضروري او لازمي وي؟! ځکه اواز هم د ټولو څخه زیات د فتنې او گمراهۍ سبب جوړیږي، او په فتنه کې د واقع کېدلو د لویو دواعي وو څخه ده.

فقهاء کرامو په دې مسئله باندې پوره تحقیق او څېړنه کړې ده چې خلاصه یې همدا ده چې کله د ښځو په اواز کې تکلف او نرمي وي د نارینه وو سره په نرمه لهجه خبرې کوي، او یا د ښځو څخه اشعار او نورې خبرې اورې چې سبب د فتنې گرځې، نو په دې وخت کې د ښځې اواز عورت دی، اوریدل یې حرام دي، ځکه خو شریعت ښځې د اذان، په لوړ اواز د تلاوت او په لمانځه کې په زوره د تکبیر ویلو څخه منعه کړې دي(رد المحتار: ۴۰۶/۱، مطلب في ستر العورة).

### ۳ - د سترګو حفاظت به کوي

کله چې د ضرورت او اړتیا په صورت کې ښځه بهرته ځي نو ضروري ده چې د سترګو حفاظت به کوي او غیر محرم به نه ګوري. الله تعالی فرمايي: (**وَقُلْ لِلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ**).(سورة النور:۳۱).

ژباړه: ای د الله تعالی رسوله - علیه الصلاة والسلام - ته مسلمانانو ښځو ته اوایه چې سترګې د ټیټې ساتې او د خپلو شرمګاوو حفاظت دې کوي.

ام سلمه روایت کوي، چې زه او حضرت میمونه- رضي الله عنهما - د نبي کریم– صلی الله علیه وسلم - په خدمت کې وو چې نابینا او یو ړوند صحابي حضرت عبد الله بن ام مکتوم راغی، نبي کریم – صلی الله علیه وسلم - مونږ ته اویل چې پرده وکړئ! مونږ ورته اویل چې ای دالله رسوله – علیه الصلاة والسلام - هغه خو ړوند دی، ده مبارک ورته اویل چې که ابن ام مکتوم ړوند دی، تاسو خو نه یی ړندې، ایا تاسو دی نه وینئ؟.(سنن ابوداود: ۶۳/۱، باب ما جاء في قوله تعالی«وقل للمؤمنات». د دې حدیث څخه څومره واضح د ستر او حجاب اهمیت او لوزمیت معلومیږي، یو طرف ته ازواج مطهرات دي او بل طرف ته لوی صحابي دی او د دوی په منځ کې د الله تعالی رسول دی چې هیڅ د فتنې ویره او خوف نشته بیا هم ازواج مطهرات په حجاب کولو باندې مکلفې ګرځول کیږي، په دې کې امت ته لوی درس او تعلیم ورکول کیږي، چې په هر حالت کې باید ښځې د ستر په کولو باندې مجبورې کړل شي که د فتنې ویره وي او کنه وي.

### ۴ – خشبویي او عطر به نه لړه وي

له څرنګه چې وړاندې په نورو شرطونو کې بیان وشو چې هر هغه شی چې د سړیو توجه جلب کوي او سبب د فتنې ګرځي د هغه استعمال روا ندی. په عطرو او خوشبو سره د خلکو توجه په لوړه کچه را اړوي، کله چې خلک د عطرو بوی حس کوي نو د فتنې او شهوت د تحریک لامل جوړیږي. حضرت ابو موسی اشعري څخه روایت دی چې نبي کریم– صلی الله علیه وسلم - وفرمایل: چې کومه ښځه د عطرو په استعمال سره په نارینه وو باندې تېره شي، او دا نارینه د خوشبو بوی حس کړي، نو دا ښځه زنا کار ده.(**سنن ابوداود: ۴/ ۷۵، کتاب الترجل**). حضرت ابو هریره – رضي الله عنه – روایت کوي چې، رسول الله – صلی الله علیه وسلم – وفرمایل: کله چې کومه ښځه مسجد ته ځي نو د خوشبو او عطرو څخه دې داسې غسل وکړي، لکه څنګه یې چې د جنابت څخه کوي.(سنن النسایي: ۱۵۳/۸، اغتسال المرأة من الطیب). که په دې مبارکو حدیثونو کې لږ سوچ هم وشي، دې نتیجه ته سړی رسېدلی شي چې د رسول الله – صلی الله علیه وسلم – په زمانه کې چې ټول صحابه وو، بیا هم ښځې مسجد ته د تلو پروخت د عطرو د استعمال څخه په کلکه منعه کېدلې، د دې زمانې به کوم حال وي چې فتنې او فساد آخري حد ته رسیدلی دی.

### دښځې لپاه بغير له محرمه د سفر کولو حکم

داچې ښځه د عفت، عزت، عصمت او پاکی نښه ده، نو د هغې د تګ راتګ او سفر لپاره شريعت ځانګړې لارښونې ټاکلي دي. حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنهما روايت کوي چې نبي عليه الصلاة والسلم فرمايي: هغه ښځې چې په الله تعالى او په ورځ د آخرت ايمان لري، روا نه ده چې د دريو شپو دسفر په اندازه سفر وکړي، مګر دا چې له هغې سره يو محرم وي.(صحيح مسلم: ۹۷۵/۲، باب سفر المرأة مع محرم..).

زمونږد حنفي فقهاوو په نيز باندې ښځه د شرعي سفر په اندازه چې (۴۸) ميله او يا له دې زيات بغير له محرمه سفر نشي کولی. (تبيين الحقائق: ۳/۲، کتاب الحج). کله چې د شرعي سفر د اندازې څخه سفر کم وي، خو خوف او ويره د فتنې وي، او يا د ښځې سفر ته ضرورت نه وي، نو په دې صورت کې هم روا نه دي چې ښځه دکور څخه بهر لاړه شي.

### د ښځې او نارينه يوځای کيدل حرام دی

په اسلامي ټولنه کې د ښځو او نارينه وو يوځای کيدل نه يوازې د اخلاقو د کمزورۍ لامل کيږي، بلکې د فتنې، بې حيايی او د فحشا د خپرېدلو سبب هم جوړيږي. په زياتو آياتو او احاديثو کې نارينه او ښځې د يوځای کېدلو څخه منعه شوي دي، الله تعالى فرمايي: (وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِنْ وَرَاءِ حِجَابٍ ذَٰلِكُمْ أَطْهَرُ لِقُلُوبِكُمْ وَقُلُوبِهِنَّ). سورة الأحزاب: ۵۳) ژباړه: کله چې تاسو (له امهات المؤمنين څخه) د کوم شي پوښتنه کوی، نو د پردې ترشا يې ترې کوئ، دا ستاسو د او د دوی (امهات المؤمنين) د زړونو لپاره ډير ښه او پاک دی.

حديث شريف کې نبي کريم – صلى الله عليه وسلم – فرمايي:« إياكم والدخول على النساء»(صحيح البخاري: ۳۷/۷، باب لا يخلون رجل بامرأة الا ذو محرم). ژباړه: تاسو ښځو ته له ورتلو او داخلېدو څخه ډډه وکړئ.

په يو بل حديث شريف کې نبي عليه الصلاة والسلام فرمايي: «لَا يَخْلُوَنَّ رَجُلٌ بِامْرَأَةٍ إِلَّا كَانَ ثَالِثَهُمَا الشَّيْطَانُ». (سنن الترمذي: ۴۶۶/۳، باب ما جاء في كراهية الرجال على المغيبات). ژباړه: نه يوازې کيږي سړی د ښځې سره مګر د ريم يې شيطان وي.

د همدې لپاره شريعت ښځې ته امر کړی چې د خپل عزت، عصمت او حيا ساتنه وکړي، او له نارينه وو څخه ځان جلا وساتي، ترڅو د پاکې او صالحې ټولنې بنسټ ټينګ پاتې شي.

### د نرم او تنګ لباس اغوستونکو ښځو سزا

داچې شريعت د ښځې د حيا او عفت ضامن دی، او د دوی د عزت او عصمت لپاره يې ګڼ شمير اصول ټاکلي دي يو هم له دغو اصول څخه د تنګ او په بدن پسې چسپېدلی لباس دی. په زياتو احاديثو کې د اسې لباس

ځخه په کلکه منعه شوي دي. د دې په خاطر چې ټولنه د فساد او بې حیايي ځخه وژغورل شي او د فتنې مخه ونیول شي. حضرت ابو هریرة -رضي الله عنه- روایت کوي چې رسول الله –صلی الله علیه وسلم- فرمایي: دوه ډوله خلک دوزخیان دي، دا خلک به هیڅ کله هم جنت ته داخل نشي او نه به د جنت بوی حس کړي: یو هغه ښځې چې دومره نرم، لنډې او په بدن پسې چسپېدلي لباس اغوندي، د زیات نرموالي له امله داسې ښکاري لکه لوڅې او بربنډې ښځې، او د زیات تکبر له امله په تګ راتګ کې یوبل طرف ته مایله وي، او د نارینه وو توجه یې ځان ته اړولې وي، او د سر ویښتان یې دومره په سر باندې را ټول او غونډه کړي وي لکه د خراساني اوښانو کېوونه (بوک).(صحیح مسلم: ۱۶۸۰/۳، باب النساء الکاسیات العاریات).

په یو بل روایت کې راځي رسول الله – صلی الله علیه وسلم - فرمایي:«**لَعَنَ اللَّهُ الْكَاسِيَاتِ الْعَارِيَّاتِ**»(المبسوط: ۱۵۵/۱۰، النظر الی الأجنبیات). ژباړه: الله تعالی لعنت ویلی دی په هغه ښځو باندې چې اغوستونکي او بربنډې وي. یعني کله چې ښځه دومره نرم لباس واغندي چې د هغې اندامو انسان ته معلومیږي او د انسان د شهوت د تحریک لامل ګرځي، داسې ده لکه بربنډه، ګویه بلکل یې لباس نه دی اغوستی.

د فقهاوو په نزد باندې هم د زیات نرم او په بدن پسې چسپېدلي لباس اغوستل جایز نه دي.(المبسوط: ۲۱۹/۱، فصل، بیان مایستحب في الصلاة وما یکره).

## د نامحرمو ښځو د لیدلو سره فورا نظر بل اړخ اړول ضروري دي

چونکې انسان په طبعي ډول کمزوری پیدا شوی دی، او شریعت هم د خپل وس مطابق انسانان مکلف ګرځولي دي. نو کله چې په ورځني ژوند کې په کومه نا محرمه ښځه باندې په غیر قصدي ډول نظر پرېوت، نو ضروري ده چې فورا نظر بل اړخ واړول شي ترڅو د فتنې او بې حیايي مخنوی شوی وي. حضرت جابر بن عبد الله روایت کوي، چې ما د رسول الله– صلی الله علیه وسلم - ځخه پوښتنه وکړه چې په نا پامۍ کې په ښځه باندې د نظر لږیدو سره باید څه وشي؟ رسول الله – صلی الله علیه وسلم - راته اویل چې فورا د نظر بل اړخ ته واړول شي. (صحیح مسلم: ۱۶۹۹/۳، باب النظر الفجأة).

په یو بل حدیث شریف راځي، نبي علیه السلام حضرت علي ته وایي: «**يَا عَلِيُّ لَا تُتْبِعِ النَّظْرَةَ النَّظْرَةَ فَإِنَّ لَكَ الأُولَى وَلَيْسَتْ لَكَ الآخِرَةُ**»(سنن الترمذي: ۱۰۱/۵، باب ماجاء في النظرة الفجأة). ژباړه: ای علي، په یو ځل کتلو پسې بل ځل کتل مکوه، ځکه اول ځل ستا لپاره شته، او دوهم ځل نشته. یعني په اول ځل کتلو کې ګناه ځکه نشته چې په غیر قصدي ډول شوی دی، او په دوهم ځل بیا په قصدي ډول کتلو باندې ګناه شته.

حضرت علي روایت کوي چې رسول الله– صلی الله علیه وسلم - چې د حج په مراسمو کې نبي کریم– صلی الله علیه وسلم - ته یوه ځوانه ښځه راغله، د حج اړوند یې پوښتنه وکړه، نو په دې وخت کې فضل بن عباس د

نبي کریم– صلی الله علیه وسلم - سره په سوارلی باندې ناست وو، نبي کریم– صلی الله علیه وسلم - د حضرت فضل بن عباس مخ بل طرف ته تاو او واړه ولو، حضرت عباس پوښتنه وکړه چې ولې دې د فضل مخ بلې خوا واړه ولو؟ نبي کریم– صلی الله علیه وسلم - جواب ورکړو چې ما ځوان او ځوانه ولیدل نو زه په دوی باندې د شیطان د فتنې څخه ووریدم.(سنن الترمذي: ۲۲۳/۳، کتاب الحج، باب ماجاء أن عرفة کلها موقف).

## د لېور څخه ستر کول واجب دی

عقبة بن عامر  فرمايي چې د رسول الله ص څخه د لېور اړوند پوښتنه وشه؟ نبي کریم –صلی الله علیه وسلم - وفرمایل: چې لېور د ښځې لپاره مرگ دی. «(صحیح البخاري:۳۷/۷، باب لا یخلون رجل بامرأة الا ذو حرم).
لېور د ښځې لپاره ځکه مرگ او هلاکت دی چې د لېوره سره راشه درشه زیاته کیږي، او په فتنه کې د واقع کېدلو ویره زیاته وي، له دې امله د لېوره څخه ستر کول واجب دي او ضرورت څخه د لوره سره یوځای کیدل حرام دي.

## د نارینه وو سره مشابهت کول لویه گناه ده

اسلام د نارینه او ښځو ترمنځ طبیعي توپیر ته ډېر اهمیت ورکړی دی، ځکه دا توپیر د فطرت، نظام او ټولنیز تعادل اساس جوړوي. د ښځو د نارینه وو سره په جامو، بڼه، خبرو یا چلند کې مشابهت کول نه یوازې د فطرت خلاف عمل دی، بلکې شرعا هم سخت منع شوی عمل دی.
حضرت ابن عباس –رضي الله عنه- روایت کوي چې نبي کریم –صلی الله علیه وسلم –لعنت ویلی دی په هغه ښځو باندې چې د نارینه وو سره مشابهت کوي، او په هغه نارینه وو باندې چې دښځو سره مشابهت کوي. (سنن الترمذي: ۱۰۵/۵، باب ما جاء في المتشبهات بالرجال من النساء). د بخاري شریف د یو روایت په آخر کې رځي «أخرجوهم من بیوتکم». (صحیح البخاري: ۱۵۹/۷، باب المتشبهون بالنساء والتشبهات بالرجال). ژباړه: تاسو یې له خپلو کورو څخه وباسئ!. یعني کله چې ستاسو په کور کې داسې څوک پیدا شول چې د بل جنس سره مشابهت کوي، نو دا بد خلک دي په دوی باندې لعنت ویل شوی دی، په خپلو کورو کې یې مه پریږدئ.
عبد الله بن عمر –رضي الله عنهما –روایت کوي چې نبي کریم –صلی الله علیه وسلم - وفرمایل: درې کسان به جنت ته کله هم داخل نشي: د مور او پلار عاق شوی. د سړیو سره مشابهت کونکي ښځې. او دیوث سړی. دیوث هغه کس ته ویل کیږي چې د ده کور ته خلک ځي او راځي او دی یې هیڅ پروا نکوي. (طبراني معجم الکبیر: ۱۲/ ۳۰۲).

دغه مشابهت د ټولنې د اخلاقي توازن د ړنګېدلو، د حیا د له منځه تلو او د فطري حدودو د ماتېدو سبب ګرځي. کله چې ښځه د نارینه وو په څېر لباس، غږ، حرکات یا طرز ژوند غوره کوي، نو د خپل فطري او شرعي مقام څخه تنازل کوي، او د اخلاقو، کورنۍ او ټولنې د بربادۍ لامل ګرځي، له همدې امله شریعت دښځې لپاره ځانګړی طرز او لباس ټاکلی، ترڅو د ښځو عفت او عزت ساتنه وشي. او د نارینه وو او ښځو ترمنځ د الله تعالی فطري توازن وساتل شي.

### د فاجرو او فاسقو ښځو څخه حجاب کول

له څنګه چې د نارینه وو څخه حجاب لازمي ګرځول شوی وو، په همدې ډول دینداره ښځه شریعت مکلفه ګرځولي ده ترڅو د فاسقو او فاسد ښځو څخه هم حجاب وکړي، د فاسقو او فاجرو ښځو په مخ کې خپل ښایست او زینت څرګند نکړي. د دې حکم موخه داده چې دینداره ښځه د هغو ښځو له ناوړه، فاسدو خبرو او بدو عادتو څخه وساتل شي، او هم د نورو نارینه وو د فتنې څخه وساتل شي، ځکه فاجرې او فاسقې ښځې نارینه وو ته د دیندارې ښځې صفت او دهغې زیب او زینت بیانوي چې په دې سره مسلمانه او دینداره ښځه د فاسقو له طرفه په فتنه کې واقع کیږي. (رد المحتار: ۳۷۱/۶، فصل في النظر واللمس).

### په نبوي دور کې د صحابیاتو ښځو د حجاب پابندي

د رسول الله– صلی الله علیه وسلم - په مبارکه زمانه کې کله چې د حجاب د فرضیت دا مبارک آیتونه نازل شول نو د صحابه وو ښځو ورته لبیک اوویل، په هر حالت کې یې د حجاب پابندي وکړه، نه یې غم او مصیبت ته وکتل، نه یې فقر او غربت ته وکتل، بلکې په هر وخت او په هر حال کې یې حجاب او پرده کوله، او د الله تعالی د حکم پرځای کول یې خپله واجبه وګڼله. ځکه خو ام المؤمنین حضرت عایشة – رضي الله عنها – ویل: الله تعالی دې په اولنیو مهاجرو ښځو باندې رحم وکړي، کله چې د حجاب ایتونه نازل شول، نو خپل څادرونه یې پرې واچول، او ځانونه یې ورباندې پټ کړل. (صحیح البخاري: ۱۰۹/۶، باب ولیضربن بخمرهن علی جیوبهن).

حضرت ام المؤمنین ام سلمه فرمایي: کله چې د حجاب آیتونه نازل شول، نو د انصارو ښځو به دومره د ارامی او وقار په حالت کې رواتلې لکه په سرو باندې یې چې مرغان ناست وي، او په تورو څادرو باندې به یې ځانونه پټ کړی وو. (روح المعاني: ۲۴۶/۱۱).

### د کومو خلکو څخه حجاب کول ضروري نه دی

په قرآن کریم کې الله تعالی مسلماني ښځې په حجاب باندې مکلفې ګرځولي دي، وروسته بیا الله تعالی هغه خلک ذکر کړي دي چې دهغوی څخه حجاب کول ضروري ندي، دا خلک چې ورڅخه حجاب ضروري

محارم دي. محرم هر هغه کس ته ویل کیږي چې د ښځې د همیش لپاره ورسره نکاح جائز نه وي، هغه که د نسب له امله وي، یا د سبب او یا دزنا له امله.

**محرم کسان الله تعالی په لاندې ترتیب سره ذکر کړي**

۱ – پلار ، نیکه، جد او پورته نور ترآخره پورې.

۲ – خوصر (د خاوند پلار).

۳ – ځامن، لمسي او لاندې نور ترآخره پورې.

۴ – د خاوند ځامن (د خاوند هغه اولاد چې د بلې ښځې څخه وي).

۵ – ورور.

٦ – د ورور ځوی.

۷ – دخور ځوی .

۸ – ماما (د مور ورور)

۹ – تره (چاچا د پلار ورور).

۱۰ – مسلمانې ښځې، وینځې او یا هغه کوچني ماشومان چې شوق نه لري.

بغیر له پاس ذکر شویو کسانو څخه نور ټول غیر محرم دي او حجاب ورڅخه ضروري او فرض دی،

**پایلې**

۱ – حجاب د الهي امر یوه څرګنده نښه ده: د قرآن کریم د آیتونو (لکه دسورة النور:۳۱، او سورة الأحزابک ۵۹) له مخې، حجاب د مسلمانې ښځې لپاره یو شرعي حکم دی، نه یوازې یو عرفي یا فرهنګي عمل؛ بلکې دا دایمان یو برخه ده.

۲ – حجاب د عفت او پاکدامنۍ سمبول دی: له احادیثو څخه څرګندیږي چې رسول الله – صلی الله علیه وسلم – دښځې عفت او حیاء د هغې د ایمان پشپړتیا سره تړلي ګڼلي. حجاب د ښځې شخصیت، وقار او عفت ساتلو یوه قوي وسیله ده.

۳ – حجاب د ټولنې د اخلاقي سلامتۍ ضمانت کوي: کله چې د ښځې د حجاب احکام مراعت کړي، د ټولنې د فحشا، زنا او اخلاقي فساد کچه ښکته راځي، ځکه حجاب د نارینه وو د نظر کنټرول او د ښځو د عزت ساتلو سبب کیږي.

۴ – حجاب دښځې لپاره بندیز نه بلکې د ښځو کرامت دی: اسلامي تاریخ ثابتوي چې صحابیاتو ښځو، د حجاب تر سیوري لاندې د علم، طبابت، جهاد، تعلیم او نورو ډګرونو کې ګډون درلود. نو حجاب بندیز نه، بلکې د کرامت او عزت ساتنې نظام دی. او د غرب دظاهري ازادي پرخلاف اسلامي حجاب د ښځې واقعي عزت او فطري ازادي ساتي.

۵ – بې حجابي د مسلمه امت لوی ضعف دی: د امتونو د زوال یو علت د حیاء له منځه تلل دي. کله چې ښځې واقعي بې حجابه شي د فحشاء دروازې پرانستل کیږي او ټولنه له اخلاقي انحطاط سره مخ کیږي.

**وړاندیزونه**

۱ – د اسلامي تعلیماتو پراخ تدریس: په ټولو تعلیمي مراکزو کې باید د حجاب اهمیت او فلسفې په اړه مفصل درسي مواد تدریس شي، خطیبان د منبرونو له لارې عامه پوهوی وکړي تر څو ښځې او نارینه دواړه د دې حکم شرعي او اخلاقي بنسټ وپیژني.

۲ – د کورنۍ د روزنې رول پیاوړی کول: مور او پلار او باید دخپلو لورو لپاره د حجاب عملي نونه وي. د کور چاپیریال باید داسې جوړ شي چې حیاء او عفت پکې د اخلاقو برخه شي.

۳ – د ټولنیزو رسنیو اصلاح او نظارت: په دې برخه کې د اسلامي امارت اړوند مکلفیت لرونکي ادارات باید د رسنیو د هغو خپرونو مخه ونیسي چې د بې حجابۍ، فیشن او اخلاقي بې پروایۍ تبلیغ کوي، او د حجاب ارزښت ته وده ورکوونکي پروګرامونه باید په دوامدار ډول جوړ کړل شي.

۴ – اسلامي امارت مسؤلین دې اړوند ادرات مکلفې کړي ترڅو د حجاب په عام کولو او د حجاب د موانعو په له منځه وړولو کې د خپل توان مطابق کوشش او هڅې وکړي، او اړوند ادارتو ته دې د پوره صلاحیت ترڅنګ هر قسم امکانات هم برابر کړي.

# Jurisprudential Analysis of the Implementation of Hijab in the Contemporary World and Its Social Consequences

Assistant Professor Dr. Mufti Ezzat Noor, Faculty of Sharia, Department of Fiqh and Law, Shaikh Zayed University
**Email Address:** shabzalmi@gmail.com

**Abstract**
From the Islamic perspective, the concept of hijab is one of the essential foundations of a woman's dignity, modesty, and social stability. In Islam, hijab is not merely a matter of clothing; rather, it is a divine obligation that represents modesty, honor, and the proper regulation of social interactions. The importance of this research lies in the fact that, in the contemporary world, intellectual misconceptions and distorted interpretations regarding hijab have become widespread. Therefore, it was necessary to examine this subject academically and jurisprudentially in the light of the Qur'an and the Hadith. The need for this research arises from the reality that the ruling of hijab is a divine command, which must be clearly and authentically understood—both for the moral well-being of society and for the protection of a woman's personality and dignity. The research follows an inductive and analytical methodology: Qur'anic verses, Prophetic traditions, and the statements of jurists were collected, organized, and explained through scholarly and jurisprudential analysis. The findings of the study indicate that hijab is an obligatory ruling for Muslim women, regarded as a sign of faith and piety. It preserves chastity, modesty, and social order, and serves as a vital means to prevent moral corruption in society. The research concludes that hijab is not a restriction on women's freedom; rather, it is a safeguard for their honor and a symbol of the moral awakening of the Muslim community.

**Keywords**: voice, hijab, adornment, woman, clothing.

**اخځلیکونه**

۱ – القرآن الكريم

۲ – البخاري، محمد بن اسماعيل البخاري (المتوفى:۲۵۶)، صحيح البخاري، الناشر: دارالطوق النجاة.

۳ – مسلم بن الحجاج القشيري (المتوفى: ۲۶۱)، صحيح مسلم، الناشر: دارالاحياء التراث العربي.

۴ – الترمذي، محمد بن عيسى (المتوفى: ۲۷۹)، سنن الترمذي، الناشر: مطبعه مصطفى الحلبي.

۵ – ابوداود، سليمان بن أشعث السجستاني (۲۷۵)، سنن أبي داود، الناشر: المكتبه العصريه.

۶ – النسايي، أحمد بن شعيب (المتوفى: ۳۰۳)، سنن النسائي، الناشر: مكتب المطبوعات الاسلاميه.

۷ – ابن ماجه، أبوعبد الله محمد يزيد القزويني (۲۷۳)، سنن ابن ماجه، الناشر: دارالحياء الكتب العربيه.

۸ – الهندي، علي بن حسام الدين المتقي (المتوفى: ۹۷۵)، كنز العمال في سنن الأقوال والأفعال، الناشر: مؤسسة الرسالة.

۹ – الامام مالک بن أنس (المتوفى: ۱۷۹)، موطأ لامام مالک، الناشر: مؤسسة زايد بن سلطان.

۱۰ – حنبل، أحمد بن محمد بن حنبل (المتوفى: ۲۴۱)، مسند أحمد، الناشر: مؤسسة الرسالة.

۱۱ – البيهقي، أحمد بن الحسين (المتوقى: )، شعب الايمان، الناشر: دار الكتب العلميه.

۱۲ – الطبراني، سليمان بن أحمد (المتوفى: ۳۶۰)، المعجم الكبير، الناشر: مكتبه ابن تيميه.

۱۳ – الطبري، محمد بن جرير (المتوفى: ۳۱۰)، جامع البيان في تأويل القرآن، الناشر: مؤسسة الرسالة.

۱۴ – اسماعيل حقي بن مصطفى الحنفي (المتوفى: ۱۱۲۷)، روح المعاني، الناشر: دارالفكر.

۱۵ – الزيلعي، عثمان بن علي فخر الدين (المتوفى: ۷۴۳)، تبيين الحقائق، الناشر: المطبعه الكبرى الأميريه.

۱۶ – السرخسي، محمد بن أحمد شمس الأئمة (المتوفى: ۴۸۳)، المبسوط، الناشر: دارالمعرفه.

۱۷ – ابن عابدين، محمد بن أمين بن عابدين الشامي (المتوفى: ۱۲۵۲)، رد المحتار على در المختار، الناشر: دار الفكر.

و صلى الله تعالى على خير خلقه محمد وعلى آله و أصحابه أجمعين

وآخر دعوانا أن الحمد لله رب العالمين

# په کورنۍ د ناروا جنسي اړیکو بدې اغیزې

پوهندوی مسیح الله حذیفي، لغمان پوهنتون، شرعیاتو پوهنځی، اسلامي تعلیماتو څانګه
**برېښنالیک:** masihullahhozifi@gmil.com

**لنډیز**

د شهوت په اساس د ښځې او سړي ترمنځ پیوستوالی او جنسي پارونې ته جنسي اړیکې ویل کیږي، اوس که دغه شهواني جنسي اړیکه په شریعت کې روا وي هغې ته روا جنسي اړیکه وایې او که د شریعت لخوا ناروا وي او شریعت ترې منع کړې وي، دغه اړیکې ته ناروا جنسي اړیکه وایې، باید ووایم چې د ناروا جنسي اړیکو څخه مراد، زنا، نکاح المتعة، لواطت، سحاق او استمناء بالید، دی دا هغه کارونه دي، چې په ناروا جنسي اړیکو سره نومول کیږي او اسلامي شریعت دغه اړیکي ناروا بللي دي، په کورنۍ باندې ناروا جنسي اړیکې مختلفي بدې اغېزې لري لکه: تاو تریخوالي او وژنې رامنځ ته کوي، همدا رنګه ناروا جنسي اړیکو په نتیجه کې زنا رامنځ ته کیږي او په زنا سره د ښځې بکارت له منځه ځي او کله چې داسې ښځه واده شي د دې او د خاوند اړېکه یې تر مرګه پورې نشي رغیدلای، د نسب د ورکیدو لامل کیږي، په کورنۍ کې نور فسادونه رامنځ ته کوي، ځېنې تناسلي امراض او ناروغۍ ترې رامنځ ته کیږي، همدا رنګه له امله یې د ډېرو کورنیو غړي بې تعلیمه پاتې کیږي، همداررنګه له امله یې په ټولنه کې جرمونه زیاتیږي.

په کورنۍ باندې د ناروا جنسي اړیکو بدې اغیزې بیانولو سره د فساد، فحشاء او بد ناموسۍ مخه نیول کیږي، چې د دې مو ضوع د اهمیت څرګندوی کوي، د څیړنې موخې د ناروا جنسي اړیکو معنا او مفهوم پیژندنه، د ناروا جنسي اړیکو ډولونو پیژندنه او په کورنۍ باندې د ناروا جنسي اړیکو بدې اغیزو څېړنه، د کار توکي او کړنلاره کتابتوني تحقیق دی.

کلیدي کلمات: بدې اغیزې، جنسي اړیکې، ډولونه،کورنۍ.

## سریزه

**بسم الله الرحمن الرحيم، الحمد لله رب العلمين والصلاة والسلام على سيد المرسلين وعلى اله واصحابه اجمعين ! أما بعد:**

قال الله عزوجل: **إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَنْ تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِينَ آمَنُوا لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ** (النور: ۱۹).

هر مسلمان، چې عاقل او بالغ وي، باید د ژوند په ټولو چارو کې پدې باندې وپوهیږي، چې څه روا او څه ناروا دي؛ ځکه اسلام د ژوند د ټولو برخو لپاره یو چوکاټ جوړکړی دی او د هغه چوکاټ دننه به مسلمان خپله زندګي تیروي او هر څوک چې پدې لاره باندې لاړه؛ نو د کامیابۍ تر بریده رسیږي او څوک چې خپل سری ژوند یې پیل کړ؛ نو د غه خلک د تاوان او هلاکت په لار روان شو؛ نو اسلامي چوکاټ کې د جنسي غریضې د پوره کولو لپاره ځانګړي اصول او قوانین جوړ شوي دي او په دغو اصولو باندې تلل اړین دي، تر څو د ناروا جنسي اړیکو څخه انسان ځان وژغوري او د حلالې لارې څخه، چې شرعي نکاح ده خپله غریضه خړوب او شرعي مقاصد پوره کړي، داچې ټولنه مو د فساد او ناروا جنسي اړیکو څخه پاکه پاتې شي، د دې اهمیت په نظرکې نیولو سره مې وغوښتل ، په دې موضوع کې څېړنه وکړم.

## موخې

لوستونکي به په دې وتوانیږي چې:

۱- د ناروا جنسي اړیکو معنا او مفهوم به وپېژني.

۲- د ناروا جنسي اړیکو ډولونه به وپېژني.

۳- په کورنۍ باندې د ناروا جنسي اړیکو بدې اغیزې به وپیژني.

## مېتود او کړنلاره

ما د خپل تحقیق په بهیر کې دا تګلاره غوره کړې ده، چې د هرې موضوع د څېړنې په موخه مې د الله تعالی کتاب قرآن کریم ته مراجعه کړې ده، یعنې هڅه مې کړې، چې اساس یې لومړی په قرآن کریم کې پیداکړم ورپسې مې نبوي سنتو ته مراجعه کړې ده، همدا راز د څېړنې په بهیر کې مې د قرآن کریم او نبوي سنتو کې د پلټنې وروسته د فقهې مستندو، معتمدو او د اعتبار وړ مأخذونو ته مراجعه کړې ده یعنې د لیکنې کړنلاره مې کتابتوني تحقیق دی، د قرآن کریم آیتونو ژباړه مې د کابلي تفسیر څخه کړې ده، دا چې مقاله په پښتو ژبه ده؛ نو د پښتو ژبې ټول معیارونه مې په نظر کې نیولي او تطبیق کړي دي.

## د ناروا جنسي اړيکو پېژندنه

په عربي ژب دود کې ناروا لپاره حرام لفظ استعماليږي؛ نو (محرم) اسم مفعول دی له (حرم) څخه اخستل شوی دی، حرام او ناروا د حلالو نقيض دی ويل کيږي دا حلال دي او دا حرام دي، لکه چې الله عزوجل فرمايي: ﴿وَلَا تَقُولُوا لِمَا تَصِفُ أَلْسِنَتُكُمُ الْكَذِبَ هَذَا حَلَالٌ وَهَذَا حَرَامٌ﴾ (النحل: ۱۱۶).

**ژباړه:** او دا چې ستاسې ژبې د دروغو حکمونه صادروي چې دا حلال او دا حرام دي.

په اصطلاح کې حرامو تعريف دادی: (**فهو: ما طلب الشارع ترکه على وجه الحتم والإلزام**) (جديع، ۱۴۱۸هـ، ج ۱، ص ۴۳).

ژباړه: دا هغه څه دي چې شارع الله عزوجل يې په حتمي او لازمي طريقه باندې د پرېښودلو غوښتنه کړې وي.

ځېنو يې داسې تعريف کړی دی: (**ما ذم فاعله شرعاً واستحق العقاب** ) (جديع، ۱۴۱۸هـ، ج ۱، ص ۴۳).

ژباړه: هغه چې شرعا يې ترسره کوونکي ته بد ويل کيږي او د عذاب مستحق گرځي حرام گڼل کيږي.

دجنسي اړيکو پېژندنه

د جنسي اړيکو تعريف علماوو داسې کړی دی: (**اتّصال شهوانيّ بين الذكر والأنثى "جاذبيّة الجنس** ) (احمدمختار، چاپ کال نه لري، ج ۱، ص ۴۰۵).

**ژباړه:** د شهوت په اساس د ښځې او سړي ترمنځ پيوستوالی او جنسي پاروني ته جنسي اړيکې ويل کيږي.

اوس که دغه شهواني جنسي اړيکه په شريعت کې روا وي هغې ته روا جنسي اړيکه وايې او که د شريعت لخوا ناروا وي او شريعت ترې منع کړې وي، دغه اړيکې ته ناروا جنسي اړيکه وايې.

## د ناروا جنسي اړيکو رامنځ ته کېدل

دا چې په لومړيو کې مسلمانې ميرمنې ساتلې شوې ملغلرې وې، د قيمتي کاڼو په څېر يې ساتنه کېدله، که د حاجت او اړتيا په موخه به له کوره وتلې؛ نو پاک دامنې به وې او د پردې خيال به يې ساتلو او په حيا او په ابرو کې به بېرته خپلو کورنو ته راستنېدلې، همدا سلسله د تابعينو او تبع تابعينو د زمانې پورې روانه وه، له هغې څخه وروسته هم چې تر څو اسلامي نظام قائم وو، حيا پاک لمنې او پيغلې د عزت په جامو کې پټې وې؛ خو وخت په وخت چې اسلامي دولتونه له منځه تلل پاک لمنې او عفت هم ورسره لږ لږ په کمېدو شو، بيا هم ځېنې هيوادونه په حيا، پرده عزت او ابرو مشهور وو، بيا فتنې ډېرې شوې، خواهش پرستي شوه خلک د غرب تک تور تمدن ته لېواله شو، مخکې له دېنه چې د بې حيايۍ مرض په عامو او خاصو خلکو باندې يو شان اغېزه وکړي د استشراق نړېوالې مدرسې خلاصې شوې او دا عنوان يې ورکړ چې دلته دمريضانو علاج کيږي، چې په دې وخت کې څلورمه پېړۍ روانه وه، د دغو مدارسو بچې لا پنځوس کلن شوي نه وو پېړۍ لا نيمايي ته نه وه رسيدلې چې، د

اسلام په بڅپانو هلاکونکی طوفان راوالوته، غربي فکر عام شو، اسلامي ډېوې په مړه کېدلو شوې، د شریعت څخه ناخبري رامنځ ته شوه، د نارینه وو او ښځینو وو ترمنځ ناروا اختلاط او ګډون رامنځ ته شو، عربو هم د عجمو په څېر بې لارۍ ته سوق شو، د میرمنو بې حجابي رامنځ ته شوه، دا د غربي تمدن د خپرېدو لپاره زرین چانس شو، هغو بې حیا خلکو ته موقع په لاس ورغله چې د حیا او پاک لمنۍ په نوم یې څه نه پېژندل، د شریعت هغه احکام شاته اوغورځېدل خصوصا چې د میرمنو پورې اړوند وو؛ نو په نتیجه کې یې نا مشروع اړیکې رامنځ ته شوې او مسلمانان هم په دې ناوړه مرض باندې اخته شو، چې لا به تر کومه دوام کوي(شحاته، ۱۴۳۲هـ، ج ۱، ص ۱۲۵).

**د ناروا جنسي اړیکو ډولونه**

غواړم دلته د ناروا جنسي اړیکو د پنځوو ډولونو، زنا، نکاح المتعة، لواطت، سحاق او استمناء بالید، څخه په لنډه توګه یادونه وکړم.

**لومړی: زنا**

په لغوي لحاظ زنا عربي کلمه ده د لیکلو بڼې یې دوه دي (زنی) او ( زنا) دواړه د رسم الخط موافق دي، اصل کې زنا فحاشۍ خاصې ناروا جنسي اړیکې او فجور ته وایي، د تنګسیا په معنا باندې هم لکه حدیث کې راځي: **لَا يُصَلِّيَنَّ أَحَدُكُمْ وَهُوَ زَنَّاءٌ** (ربیع، ۱۴۱۵هـ، ج ۱، ص ۱۲۴).

**ژباړه**: په تاسو کې دې یو کس لمونځ په داسې حالت کې نه کوي چې هغه تنګ وي ( اودس ماتي تنګ کړی وي).

او نا روا جنسي خاصه اړیکه په دې نوم ځکه ونومول شوه، چې دا په داسې لنډ تنګ وخت کې ترسره کیږي چې انسان باندې پکې تنګسیا او ویره وي، یا دا چې حکم کې یې تنګسیا ده، عربي کې ویل کیږي( فلان الزاني) فلاني زنا کار دی خپله نطفه یې داسې ځای کې استعمال کړه، چې ده ته یې نسبت نه کیږي، یا دا چې په ځان یې تنګسیا راوسته؛ ځکه زنا په داسې ځای او وخت کې ترسره کیږي تنګ وي (ابن منظور، ۱۴۱۴هـ، ج۱۴، ص ۴۶۰).

په اصطلاحي لحاظ زنا تعریف دادی: (**فَهُوَ كُلُّ وَطءٍ وَقَعَ عَلَى غَيرِ نِكَاحٍ، وَلَا شُبهَةِ نِكَاحٍ، وَلَا مِلكِ يَمِينٍ**) (ابن رشد، ۱۴۲۵هـ، ج۴، ص ۲۱۵).

**ژباړه:** دا هر هغه نژدېکت دی چې بغیر د نکاح نه یې صورت نیولی وي، مشابه د نکاح سره هم نه وي او وینزې سره هم نه وي.

**د زنا حرمت**

زنا حرامه ده او له کبیره ګناهونو څخه ده، د حراموالي په اړه یې الله عزوجل په قرآن کریم کې فرمایلي دي: ﴿**وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنَا إِنَّهُ كَانَ فَاحِشَةً وَسَاءَ سَبِيلًا**﴾ (الاسراء: ۳۲).

ژباړه: زنا ته مه نږدې کیږئ، بېشکه دا بې حیایي ده او بده لار ده.

**دویم: نکاح المتعة (موقته نکاح)**

بل د ناروا جنسي اړیکو له جملې څخه د متعې نکاح ده، چې په لغوي لحاظ متعه، فائدې او خوند اخېستلو ته وايي(فیروزآبادي، ۱۴۲۶هـ، ج:۴، ص ۴۳۳).

په اصطلاح کې متعه نکاح دیته وايي: (**أَن يَقُول الرَّجُل لِامرَأَةٍ خَالِيَةٍ مِنَ المَوَانِعِ أَتَمَتَّعُ بِكِ كَذَا مُدَّةً بِكَذَا مِنَ المَالِ**) (مرغیناني، ۱۲۱۸هـ، ج۲، ص ۳۸۴).

**ژباړه:** چې یو کس یوې ښځې ته چې د موانعو څخه خالي وي ووايي چې زه له تانه دومره وخت لپاره په دومره اندازه مال نفع اخلم.

او طربقه یې دا ده چې یو سړی یوې ښځې ته ووايي: چې د دومره پیسو په بدل کې به زه له تا څخه تر فلانۍ نېټې پورې ګټه اخلم.

د امت مسلمه ټولو علماوو په دې اجماع کړې ده، چې دا د اسلام په پیل کې روا وه او روسته بیا منسوخه شوې ده او په حرمت باندې یې اجماع د امت ده په صحابه کرامو کې عمر، علي، ابن مسعود، ابن الزبير رضي الله عنهم څخه یې په حرمت صراحت ذکر دی، امام مالک، امام ابو حنیفه، امام اوزاعي، لیث، امام شافعي، داود ظاهري رحمهم الله ټول یې په حرمت متفق دي تر منځ یې اختلاف نشته دی(عبدالملک، ۱۴۱۰هـ، ج۱، ص ۱۱۰).

**دریيم: لواطت**

لواطت په لغوي لحاظ ( لاط الرجل لوطا ولاوط ) څخه اخېستل شوې دی معنا یې ده فلاني د لوط علیه السلام د قوم عمل وکړ، او لوط علیه السلام د انبیاوو څخه یو نبي وو ، دې عمل ته د لواطت نوم ځکه ورکړل شو چې د لوط علیه السلام قوم به دا کار ډېر کاوه (ابن منظور، ۱۴۱۴هـ، ج۷، ص ۳۹۶).

په اصطلاح کې، له شا طرف نه د سړي نژدېکت بل سړي ته، او یا د یو نارینه بل نارینه ته د شا له طرف څخه نزدیکت ته لواطت وايي (قلعجي، ۱۴۰۸هـ، ج۱، ص ۳۹۴).

**د لواطت حکم**

لواطت له شا له طرفه د نارینه سره یا د خپلې میرمنې سره یا د پردۍ مېرمنې سره نزد یکت کول حرام دي، د حرمت په اړه یې الله عزوجل په قرآن کریم کې فرمایلی دي:

﴿وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ أَتَأْتُونَ الْفَاحِشَةَ مَا سَبَقَكُمْ بِهَا مِنْ أَحَدٍ مِنَ الْعَالَمِينَ (٨٠) إِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ الرِّجَالَ شَهْوَةً مِنْ دُونِ النِّسَاءِ بَلْ أَنْتُمْ قَوْمٌ مُسْرِفُونَ﴾ (الأعراف: ۸۰، ۸۱).

**ژباړه:** او لوط علیه السلام چې کله خپل قوم ته وویل: تاسو داسې یو بې حیايي ته راتګ کوئ، چې ستاسو نه مخکې په ټول عالم کې ورته هیڅ چا راتګ ندی کړی، تاسو له زنانه وو نه ورا خوا سړو ته په شهوت سره راتګ کوئ؛ بلکې تاسو یو زیاتی کونکی قوم یاست.

همدرانګه د ابن عباس رضی الله عنهما څخه روایت دی هغه وايې: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

«مَنْ وَجَدْتُمُوهُ يَعْمَلُ عَمَلَ قَوْمِ لُوطٍ، فَاقْتُلُوا الْفَاعِلَ وَالْمَفْعُولَ بِهِ (ابن ماجة، ۱۴۳۰هـ، ج۸، ص ۷۳).

**ژباړه:** څوک چې مو اومندل، چې د لوط علیه السلام د قوم عمل یې کاوه فاعل او مفعول دواړه ووژنی.

**څلورم سحاق(د یوې ښځې بل ښځې سره سولیدل)**

په لغوي لحاظ، سحاق په لغت کې سولیدلو ته وايي.

په اصطلاح کې، سحاق دیته وايي (**أَن تفعَل المَرأَةُ بِالمَرأَةِ مِثل صُورَةِ مَا يَفعَل بِهَا الرَّجُل**) (البهوتي، ۱۴۲۱هـ، ج۱، ص ۱۴۳). **ژباړه:** چې یوه ښځه د بلې ښځې سره هغسی کار وکړي کوم چې یو نارینه یې د بل نارینه سره کوي.

**د سحاق حکم**

دا چې دوه زنانه د یو بل سره د جنسي اور د مړ کولو په موخه سولیږي راسولیږي دا کار شرعا حرام دی؛ ځکه د بل چا عورت ته لاس وروړل که نارینه وي او که زنانه وي پخپله حرام دی او خپل عورت ته د چا لاس یا د بدن یوې برخې د شهوت په نیت لګیدل حرام دي لکه الله عزوجل فرمايي: ﴿وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ﴾ (المؤمنون: ۵). **ژباړه:** مؤمنان هغه کسان دي چې د خپلو عورتونو ساتنه کوي.

حدیث کې راځي: **عَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تُبَاشِرُ الْمَرْأَةُ الْمَرْأَةَ إِلَّا وهُمَا زَانِيَتَانِ، وَلَا يُبَاشِرُ الرَّجُلُ الرَّجُلَ إِلَّا وهُمَا زَانِيَانِ** (هيثمي، ۱۴۱۴هـ، ج۸، ص ۱۰۲).

**ژباړه:** د ابو موسی اشعري رضی الله عنه څخه روایت دی فرمايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: ښځه د ښځې سره نه یوځای کیږي؛ مګر دا دواړه زنا کارې حسابیږي او سړی د سړی سره نه یو ځای کیږي؛ مګر دا دواړه زنا کار حسابیږي

**پنځم: استمناء بالید( د لاس نه جنسي ګټه اخیستل)**

استمناء بالیددیته وایې: (إِخرَاجُ المَنِيّ بِغَيرِ جِمَاعٍ، مُحَرَّمًا كَانَ، كَإِخرَاجِهِ بِيَدِهِ استِدعَاءً لِلشَّهوَةِ..) (رملي، ۱۴۰۴هـ، ج۳، ص ۱٦۹). **ژباړه:** پرته د جماع څخه د ځان نه د مني خارجول، ګویا که هغه ناروا وي لکه د خپل لاس په ذریعه باندې.

**د استمناء بالید حکم**

په لاس باندې مني ویستل حرام عمل دی؛ ځکه چې شریعت د شهواني غریضې د خړوبولو لپاره شرعي لار ښودلې ده، چې هغه نکاح ده او دغه لاره شریعت نه ده خودلي بل داچې په دې سره د فرج حفاظت لمنځه ځي او الله عزوجل د مومنانو په صفاتو کې داسې فرمایلی دي: ﴿وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ﴾ (المؤمنون: ۵).

**ژباړه:** مؤمنان هغه کسان دي چې د خپلو عورتونو ساتنه کوي

په کورنۍ باندې د ناروا جنسي اړیکو بدې اغېزې: دلته غواړم په کورنۍ باندې د ناروا جنسي اړیکو بدې اغیزې د مختلفو حیثیتونو څخه په جلا جلا توګه ذکر کړم.

**لومړی: د وژنې او تاوتریخوالي له حیثیته**

ناروا جنسي اړیکې تاو تریخوالې او وژنې رامنځ ته کوي: په اسلامي ټولنو کې یواځې کورنۍ دا بد نه ګڼي چې د کورنۍ غړی نارینه یا ښځینه یې ناروا جنسي اړیکې ولري؛ بلکې ټول قوم او ټولې کورنۍ دا غواړي، چې د کورنۍ غړي او په ځانګړې توګه انجونې دې په ټوله کې د سړو د اختلاط څخه ځان وساتي.

همدارنګه د ناروا جنسي اړیکو په پایله کې نور ډېر جرمونه منځ ته راځي؛ ځکه هره کورنۍ غواړي، چې کوم هلک یا جلۍ د یوې کورنۍ د شرم او عار سبب ګرځېدلې وي؛ نو هغه کورنۍ غواړي چې دغه شرم د پلار، ورور، ځوی، کاکا او یا ماما په توسط له منځه یوسي، لومړی د هغه پېغلې او ځوان په خلاف سخت دریځ نیول کیږي، چې ناروا جنسي اړیکې لري؛ تر دې چې د دوی د قتل او وژنې لپاره لارې چارې کتل کیږي او بغیر د محکمې څخه د هغوی د وژنې لارو چارو باندې غور کیږي او د کورنۍ د یو فرد د ناوړه حرام عمل په پایله کې ټوله کورنۍ په ناروا او قتل کې اخته کیږي؛ ځکه د یو انسان د وژلو لپاره شریعت اصول او مقررات ټاکلي دي؛ خو دغه اصول او مقررات په پام کې نه نیول کیږي، قانون او شریعت ته رجوع نه کیږي او د شرم نه د خلاصې په موخه موضوع تر قتله رسیګي او تاو تریخوالی رامنځ ته کیږي، چې د دې پېښو څېړنه هیومن رایټس کړیده او پایله یې په لاندې ډول اعلان کړې ده:

په (۱۹۹۷ م)کال کې په مصر کې د جنسي اړیکو د درلودلو له امله (۵۲) مېرمنې د خپلو کورنیو لخوا وژل شوي دي.

په (۱۳۹۸ م)کال کې په اردن کې (۳۰) ښځې وژل شوي دي، په (۲۰۰۲م)کې (۲۲) ښځې وژل شوي دي او په (۲۰۰۳م) کې (۱۷) ښځې وژل شوي دي.
په (۱۹۹۶م)کال کې په لبنان کې (۳۶) ښځې وژل شوي دي.
په فلسطين کې له (۲۰۰۱م) څخه تر (۲۰۰۴م) پورې (۳۳) ښځې وژل شوي دي.
په يمن کې (۱۹۹۹م) (۲۱)، په (۲۰۰۰م)کال کې (۱۵)، په (۲۰۰۱م) کال کې (۱۸) ښځې وژل شوي دي.
په (۱۹۹۸ م)کال کې (۸۵۰) ښځې وژل شوي دي او په (۱۹۹۹م) کال کې د (۵۶۰) ښځې په اور سوزول شوي دي.
او په (۱۹۹۶ م)کال کې په بنگلديش کې (۲۰۰) ښځې د خوټکيدلو اوبو په توسط سوزل شوې او وژل شوي دي.
په مصر کې (۱۹۹۶م) کال کې (۱۲۵) پېښې رامنځ تو شوي دي(هشام، ۲۰۰۶م، ج ۱، ص ۲۰۱).

**دويم: د کورنۍ له حيثه**

دويم د نار وا جنسي اړيکو په کورنۍ بله بده اغېزه دا ده، چې د دې اړيکو د رامنځ ته کېدلو څخه زنا رامنځ ته کيږي، که بلکل دا اړيکه پټه وساتل شي او څوک ترې خبر نه شي؛ نو د الله عزوجل ذات خو ترېنه خبر دی او بل دا چې په زنا سره د ښځې بکارت له منځه ځي او کله چې داسې ښځه چې بکارت يې زايله شوي وي او واده شي، د دې او د خاوند اړيکه يې تر مرگه پورې نه شي رغيدلای؛ ځکه هغه تل په خپل ميرمن شکمن اوسي او فکر کوي چې زما ميرمنې به د پيغلتوب په دوران کې زنا کړې وي؛ ځکه خو يې د بکارت پرده د لاسه ورکړې ده؛ نو ژوند به يې تريخ او د جنجالونو او ستونزو څخه ډک وي؛ اگر چې د بکارت د پردې د منځه تللو نور لاملونه هم شته؛ خو په پراخه کچه د ناروا جنسي اړيکو شتون د خلکو تر منځ بې باوري رامنځ ته کړې ده(هشام، ۲۰۰۶م، ج ۱، ص ۲۰۱).

**درېيم: د نسب له حيثه**

ناروا جنسی اړيکې، چې په کورنۍ ډېره بده او لويه اغېزه کوي او لويه ستونزه ده، هغه د نسب اثبات دی، کله چې د يو نارېنه د يوې انجلۍ سره ناروا جنسي اړيکه وي او په پايله کې يې ماشوم پيدا شي؛ نو پلار د دغه ځوی د ځوی ولۍ څخه انکار کوي؛ تر دې که زېږونکي مور په محکمه کې د دعوی اقامة هم وکړي، هغه يې د دفعې لپاره بېلابېل دلائل لټوي او په شريعت کې د نسب د اثبات لپاره اصل پلار ته نسبت دی، لکه په دې اړه الله عزوجل فرمايي:

﴿**ادْعُوهُمْ لِآبَائِهِمْ هُوَ أَقْسَطُ عِنْدَ اللَّهِ فَإِنْ لَمْ تَعْلَمُوا آبَاءَهُمْ فَإِخْوَانُكُمْ فِي الدِّينِ وَمَوَالِيكُمْ** ... ﴾ (الأحزاب: ۵).

**ژباړه**: د پخپلو پلارانو پر نوم يې راوبلئ دا د الله عزوجل په نزد ډېر د انصاف خبره ده،که پلاران يې نه پېژنئ؛ نو بيا په اسلام کې ستاسو ورونه او مريان دي

سړی ته د هغه ماشوم نسبت کيږي، چې د روا جنسي اړيکې له امله يې ميرمنې زيږولی وي او ښځې ته د هغه ماشوم نسبت کيږي : چې دې زيږولی وي برابره خبره ده چې جنسي اړيکه شرعي وي او که غير شرعي وي، اسلامي شريعت د نسب له انکار څخه منعه کړې ده رسول الله عزوجل فرمايي: **أَيُّمَا رَجُلٍ جَحَدَ وَلَدَهُ وَهُوَ يَنْظُرُ إِلَيْهِ احْتَجَبَ اللَّهُ مِنْهُ وَفَضَحَهُ بِهِ عَلَى رُءُوسِ الْخَلَائِقِ بَيْنَ الْأَوَّلِينَ وَالآخِرِينَ** (أبوداود، ۱۴۰۳هـ، ج۲، ص ۲۴۶).

ژباړه: هر سړی چې د خپل بچي څخه انکار وکړي او دې ورته ګوري (پيژني يې چې دا زما بچی دی) دا (بچی) به ترېنه الله عزوجل په پرده کې کړي او دی (پلار) به يې د قيامت په ورځ باندې د مخکنو او روستنو خلکو په وړاندې وشرموي.

د ناروا جنسي اړيکو نه چې کوم ماشومان پيدا شي؛ نو هغه خلک په عامو لارو، او د جوماتونو مخو ته غورځوي، هڅه کوي چې خپلې ناروا جنسي اړيکې پټې وساتي او په راز يې څوک خبر نه شي؛ نو په پايله کې دغه ماشومان د ډېرو خطرونو سره مخامخ شي، کله يې ځناور لکه: سپي،پېشوګان اوخوري او ژوند له لاسه ورکړي، ځينې نور چې د دولت يا عامو خلکو لاس ته ورشي هغوي يې په يتيم خانو کې واچوي او بې موره بې پلار د ژوند شپې او ورځې تېروي؛نو په يوه ناروا اړيکه مکمله کورنۍ بې بنسټه او بې بنياده شوي.

**څلورم: د فساد له حيثته**

د ناروا جنسي اړيکو په پايله کې په کورنۍ کې ډيرې نور فسادونه رامنځ ته کوي د مثال په توګه:

الف:کومه جلۍ چې ناروا جنسي اړيکه ولري؛ نو د خپلې کورنۍ څخه ويريږي، چې که زما په دې اړيکه خبره شي؛ نو وبه وژل شم؛ نو له دغه ډار او وېرې له امله له خپل کور څخه وتښتي، ځان لپاره د خويندي ځای په لټه کې وي، چې د رنډۍ خانو په شبکو پېښنه شي او بيا د تل لپاره د جنس بازۍ يو ارزان بيه سامان وګرځي، خپله کورنۍ هم وشرموي د تل لپاره دا ميرمن دغې کورنۍ ته درد سر وي او د ځان لپاره هم د يوې غښتلې او شرعي کورنۍ د بنسټ ايښودنې څخه هم د تل لپاره بې برخې شي.

ب: کله هغه ماشومان چې دناروا جنسي اړيکو له امله زېږېدلې وي، د يتيم خانو څخه وتښتي خصوصاښځېنه د فاحاش خانو ښکار شي او تل لپاره د جنسي غيرزې د خړوبولو يو ناروا وسيله وګرځي (هشام، ۲۰۰۶م، ج۱، ص ۱۲۰).

**پنځم: د امراضو له حیثته**

د ناروا جنسي اړیکو له امله ځېنې تناسلي امراض او ناروغۍ رامنځ ته کیږي او دا ساري ناروغۍ وي له یو ځخه بل ته انتقالیږي؛ تر دې چې ټوله کورنۍ په دغه ناروغۍ اخته شي او بیا سرایت د خپلو خپلوانو کورنۍ وو ته وکړي بالاخره ټوله ټولنه په دغو ناروغیو اخته شي، چې ځېنې له دغه ناروغیو څخه په لاندې توگه دي:

- د ښځې د عقامت او شنډوالي لامل کیږي.
- ایډز.
- حرقان یا زیړی.
- فم، خارخ او د تناسلي الې دانه کیدل زخمي کیدل، چې په پای کې ترېنه نور بېلابېل مرضونه رامنځ ته کیږي.
- د تناسلي افرازاتو زیاتوالی بد بوی او غیر طبعي رنګ پیداکول.
- د خېټې دردونه، د رحم سرطان او بېلابېل دردونه (هشام، ۲۰۰۶م، ج ۱، ص ۱۲۱).

**شپږم: د تعلیم سره د عدم علاقې له حثیته**

کله چې ناروا جنسي اړیکې زیاتې شي؛ نو له امله یې د ډېرې کورنیو غړي بې تعلیمه پاتې کیږي لامل یې دا وي، چې د دې زیاته فیصدي په تعلیمي چاپیریال کې رامنځ ته کیږي؛ نو بیا خلک دېته زړه نه ښه کوي چې پخپلو اولادونو تعلیم وکړي، چې د بېلګې په ډول به یې د مصر هیواد یوه څېړنه راوخلو هغه څېړنه داسې وایي: چې د نامشروع جنسي اړیکو زیاته فیصدي په ځانګړې ډول هغه ناروا جنسي اړیکې چې حمل ترېنه رامنځ ته شوې ده د مصر پوهنتونونه دي، چې د ۲۵۵ زره نارینه او ښځینه محصیلینو له جملې څخه ۱۷٪ یې ناروا جنسي اړیکې لرلې او عرفي ودونه یعنې د مور او پلار له اجازې پرته یې خپل منځ کې ودونه سره وکړل، د ازهر پوهنتون په (۲۰۰۶م) کال کې یوه مجله خپره کړې ده او په هغې کې یې یوه څېړنه راخېستې ده، چې څلور لاکه محصلینو او محصلاتو پخپل منځ کې په ناروا جنسي اړیکو درلودلو سره د مور او پلار له اجازې پرته یو بل د ژوند ملګري ګرځولو لپاره یې مظاهرې کړې دي او د ناروا جنسي اړیکو د جوړلو پلویتوب یې کړې دی، چې په دې سره په ټوله کې خلک د پوهنتونو علم او تعلیم سره فاصله پیدا کوي او لامل یې په ښوونیز ډګر کې د ناروا جنسي اړیکو د پیدا کیدلو وېره او ډار وي؛ نو په دې سره کورنۍ او ټولنه د دومره لوی بدبختۍ سره مخ کیږي.

د امریکا یوې څېړنې ښودلې ده، چې په امریکا کې په ښوونیز چاپیریال کې د نار وا جنسي اړیکو په پایله کې په سلو کې ۳۳٪ فیصده ښځې حامله شوې دي او ښونیز تسلسل یې سر ته رسولی دی؛ نو د هغو میرمنو شمېر به څومره وي چې تعلیم ترېنه پاتې شوی دی او یا یې دا جنسي اړیکې پټې ساتلې دي.

د ناروا جنسي اړیکو بل لوی زیان دا دی چې کوم ماشومان چې له دې اړیکې نه پیدا شي او لوی شي د هغوی د زده کړې او د فهم قوه ډېره کمزوري وي په نسبت د هغو باندې چې د حلالې اړیکې په پایله کې تولد شوې وي؛ ځکه دغه بې پلاره او بې موره بې سرپرسته اولادونه د کمترۍ احساس کوي د بېلابېلو ستونزو،ننګونو او پیغورونه سره مخ کیږي چې ذهن یې تل په دې ممترکز وي چې زه ولې یو بې پلاره او بې موره بچې یم، ډېر یې تعلیم پرېږدي، همدا رنګه هغه وګړي چې په ناروا جنسي اړیکو کې ښکیل وي د دوی ذهني ځواک ډېر کمزوری وي که نارینه وي او که زنانه وي د پاک لمنو نارینه او مېرمنو په نسبت ډېر کمزوری وي تل یې ذهن په بد کارۍ راګرځي او اصلي هدف یې هیر وي، جسمي او ذهني کمزورۍ سره مخ وي او د جهل په تیارو کې ورک وي(هشام، ۲۰۰۶م، ج۱، ص ۱۲۱).

**اووم: د جرائمو د زیاتوالي له حثیته**

د ناروا جنسي اړیکو د شتون له امله په ټولنه کې جرمونه زیاتیږي، چې خلاصه یې په لاندې ډول ده:

- د جنۍ وژل کیدل.
- د هلک وژل کیدل.
- د ماشوم وژل کیدل.
- د جنۍ له کور څخه تښتېدل او فاحشه خانو سره وصل کیدل او د هغې په پایله کې د نورو فحشاوو او بې حیایی رامنځ ته کیدل.
- د یتیم خانو څخه د دغه ماشومانو تېښته او بیا په ناروا جنسي اړیکو کې ښکیل تیا، قاتل او غل جوړیدل، د مخدره توکیو قاچاقبري او په دې روګدي کیدل او د داسې نورو جرائمو مرتکبین اکثره هغه خلک وي، چې یا د جنسي اړیکو د لرلو له امله د ځان ساتلو په موخه بې لارې شوي وي، یا هغه ماشومان وي چې د ناروا جنسي اړیکو له امله زېږدلې وي بې تربیته پاتې وي او بې لارې وو ته یې مخه کړې وي(هشام، ۲۰۰۶م، ج۱، ص ۱۲۲).

**پایله**

۱- د جنسي اړیکو تعریف علماوو داسې کړی دی: د شهوت په اساس د ښځې او سړي ترمنځ پیوستوالی او جنسي پارونې ته جنسي اړیکې ویل کیږي، اوس که دغه شهواني جنسي اړیکه په شریعت کې روا وي هغې ته روا جنسي اړیکه وایې او که د شریعت لخوا ناروا وي او شریعت ترې منع کړې وي، دغه اړیکې ته ناروا جنسي اړیکه وایې.

۲- د ناروا جنسي اړيکو څخه مراد، زنا، نکاح المتعة، لواطت، سحاق او استمناء باليد، دی.

۳- زنا، دا هر هغه نزدېکت دی چې بغیر د نکاح نه يې صورت نيولی وي، مشابه د نکاح سره هم نه وي او وينزې سره هم نه وي او په شريعت کې حرامه ګرځولی شوې ده.

۴- متعه نکاح ديته وايي چې يو کس يوې ښځې ته چې د موانعو څخه خالي وي ووايي چې زه له تانه دومره وخت لپاره په دومره اندازه د مال، خوند اخلم او دا نکاح حرامه ده.

۵- د لواطت د شا طرف نه د سړي نزيدېکت بل سړي ته، او يا د يو نارينه بل نارينه ته د شا له طرف څخه نزديکت ته وايې او د شريعت له آنده دا يو حرام عمل دی.

۶- سحاق ديته وايي، چې يوه ښځه د بلې ښځې سره هغه کار وکړي، کوم چې يو نارينه يې د بل نارينه سره کوي او شريعت دا کار حرام بللې دی.

۷- استمناء باليد ديته وايې، پرته د جماع څخه د ځان څخه د مني خارجول ، ګويا که هغه ناروا وي لکه د خپل لاس په ذريعه باندې، چې دا حرام عمل دی.

۸- په کورنۍ باندې ناروا جنسي اړيکې مختلفي بدې اغېزې لري، چې د څېړنې په متن کې په تفصيل سره ذکر شوي دي.

**وړانديزونه**

۱: دولت ته مې وړانديز دادی چې د تلويزيون، راديو ګانو، انټرنټ، ټولنيزو شبکو او د مختلفو پروګرامونو د دايرولو له لارې د ناروا جنسي اړيکو پېژندنې او حرمت په اړه د هيواد افرادو ته پوهاوی ورکړي؛ ترڅو مو هيوادوال، ځوانان او وګړي د ناروا جنسي اړيکو څخه ځان وژغوري.

۲: د امر بالمعروف او نهي عن المنکر محترم وزارت ته مې وړا نديز دا دی چې د ناروا جنسي اړيکو پېژندنې او حرمت په اړه د هيواد افرادو ته پوهاوی ورکړي ترڅو مو هيوادوال، ځوانان او وګړي ده د ناروا جنسي اړيکو څخه ځان وژغوري.

۳: د محترمو استادانو، پوهانو، علماو او خطيبانو او ټولنيزو رسنيو ته مې وړانديز دا دی چې د ناروا جنسي اړيکو پېژندنې او حرمت د هيواد افرادو ته د درسونواو خطابت له لارې بيان کړي؛ ترڅو مو هيوادوال، ځوانان او وګړي د ناروا جنسي اړيکو څخه ځان وژغوري.

# الآثار السلبية للعلاقات الجنسية المحرمة على الأسرة

مسيح الله حذيفي، استاد المشارک في جامعة لغمان، كلية الشريعه، قسم التعليمات الاسلاميه

**ملخص البحث**

إنّ الاتصال القائم على الشهوة بين الرجل والمرأة وإثارة الغريزة يُسمّى علاقةً جنسية. فإن كانت هذه العلاقة جاريةً في إطار ما أباحه الشرع، فهي علاقة جنسية مشروعة، أمّا إذا كانت خارجةً عمّا حده الشرع ومنع منه، فتُسمّى علاقة جنسية محرمة. ويقصد بالعلاقات الجنسية المحرّمة: الزنا، نكاح المتعة، اللواط، السِّحاق، والاستمناء باليد؛ فهذه الأفعال كلّها تدخل في إطار العلاقات التي حرّمها الشرع الإسلامي وعدّها من كبائر الذنوب. وتترك العلاقات الجنسية المحرّمة آثاراً خطيرة ومتنوّعة على الأسرة، من أبرزها: نشر العنف والمشاجرات وقد يصل الأمر إلى القتل، حدوث الزنا وما ينتج عنه من ذهاب بكارة المرأة، الأمر الذي ينعكس سلباً على حياتها الزوجية المستقبلية وقد يلازمها أثره مدى الحياة، ضياع الأنساب واختلاطها، تفشي الفساد في محيط الأسرة وبيئتها، انتشار بعض الأمراض التناسلية الخطيرة، حرمان عدد من أفراد الأسرة من التعليم بسبب ما تخلفه هذه الممارسات من اضطرابات وظروف اجتماعية قاسية، ازدياد الجرائم في المجتمع نتيجة انحرافات تبدأ غالباً من داخل الأسرة. وإن بيان هذه الآثار السلبية يهدف إلى الحدّ من الفساد والفاحشة وسوء السمعة داخل الأسرة والمجتمع، مما يؤكّد أهمية هذا الموضوع وخطورته. أما أهداف هذا البحث فتتمثّل في: التعريف بمعنى ومفهوم العلاقات الجنسية المحرمة، بيان أنواع هذه العلاقات، دراسة الآثار السلبية للعلاقات الجنسية المحرمة على الأسرة، ، أما ادوات العمل ومنهجه فهي الدراسة المكتبية التحقيقية.

الكلمات المفتاحية: الآثار السلبية، العلاقات الجنسية، الأنواع، الأسر.

## مأخذونه

القرآن الكريم.

ابن رشد، أبو الوليد محمد بن أحمد بن محمد بن أحمد بن رشد القرطبي الشهير بابن رشد الحفيد. (١۴٢۵هـــ). بداية المجتهد ونهاية المقتصد. (ج:۴). القاهرة. دار الحديث.

ابن ماجة، أبو عبد الله محمد بن يزيد القزويني. (١٤٣٠ هــ). سنن ابن ماجة. (ج:٨). مصر. دار الريان للتراث. ج ٨ ، ص ٧٣.

١. ابن منظور، محمد بن مكرم بن على، أبو الفضـــل، جمال الدين ابن منظور الأنصـــاري الرويفعى الإفريقى. (١٤١٤ هـ). لسان العرب. (ج: ٧). دار صادر.

٢. ابن منظور، محمد بن مكرم بن على، أبو الفضـــل، جمال الدين ابن منظور الأنصـــاري الرويفعى الإفريقى. (١٤١٤ هـ). لسان العرب. (ج: ١۴). دار صادر.

٣. أبو داود، سليمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشير بن شداد بن عمرو الأزدي السِّجِسْتاني. (١٤٣٠ هـــ). سنن ابي داود. (ج:٢). دار الرسالة العالمية.

٤. أحمد مختار، عبد الحميد عمر. (چاپ كال نه لري). معجم اللغة العربية المعاصرة. (ج:١). بيروت. عالم الكتب.

5. جديع، عبد الله بن يوسـف بن عيسى-بن يعقوب اليعقوب الجديع العنزي. (١٤١٨ هـــ). تيسيرُ علم أصـول الفقه. (ج:١). لبنان. بيروت. مؤسسة الريان للطباعة والنشر والتوزيع.

٦. ربيع، بن حبيب بن عمر الأزدي البصري. (١۴١٥هـــ). الجامع الصحيح مسند الإمام الربيع بن حبيب. (ج:١). بيروت. دار الحكمة. مكتبة الاستقامة.

٧. رملي، شمس الدين محمد بن أبي العباس أحمد بن حمزة شهاب الدين. (١٤٠٤هـ). نهاية المحتاج إلى شرح المنهاج. (ج:٣). بيروت. دار الفكر.

٨. شحاتة، محمد صقر، (١۴٣٢هــ). الاختلاط بين الرجال والنساء، أحكام وفتاوى ثمار وقصص مخزيه، كشف الشبهات لدعاة الاختلاط. (ج:١). بيروت. دار اليس.

٩. عبد الملك، عبد الرحمن. (١۴١٠هـ). العلاقات الجنسية غير الشرعية وعقوبتها. (ج:١). دار النيل.

١٠. فيروزآبادى، مجد الدين أبو طاهر محمد بن يعقوب. (١٤٢٦ هـ). القاموس المحيط. (ج:۴). بيروت. مؤسسة الرسالة للطباعة والنشر والتوزيع.

١١. قلعجي، محمد رواس - حامد صـادق قنيبي. (١٤٠٨ هــــ). معجم لغة الفقهاء. (ج:١).دار النفائس للطباعة والنشر والتوزيع.

١٢. مرغيناني، برهان الدين علي بن أبي بكر بن عبد الجليل الفرغاني الحنفي. (١٢١٨هـــــ). الهدايه في شرح البداية. (ج:٢). بيروت. دار احياء التراث العربي.

١٣. منصــور بن يونس البهوتي الحنبلي، (١۴٢١هــــ). كشـاف القناع عن متن الاقناع. (ج:١).. المملكة العربية السعودية. دار وزارة العدل.

١٤. هشام، عبد الحميد الفرج. (٢٠٠٦م). توابع العلاقات الجنسية الغير المشروعة. (ج:١). قاهرة. دار الفجر للنشر والتوزيع.

١٥. هيثمي، أبو الحسن نور الدين علي بن أبي بكر بن سليمان. (١٤١٤ هـ). مجمع الزوائد ومنبع الفوائد، (ج:٨). القاهرة. مكتبة القدسي.

# د روان لوستنې د ارزوونکو وسايلو تشخيصي څېړنه

څېړندوی لطف اللّٰه صابر د افغانستان د علومو اکاډمي د پښتو ژبې او ادبياتو انستيټيوټ غړی
**رېښليک:** lutfullah.saber@gmail.com

**لنډيز**

د روان لوستنې د ارزوونکو وسايلو تشخيصي څېړنه هغه د پام وړ موضوع ده، چې ښايي زموږ په ژبه کې پرې ډېر کم او د نشت تر بريده کار شوي وي. په روان لوستنه کې د متن سم لوستل، چټکتيا يا سرعت او موزون والی ټول د پام وړ عناصر دي. خو له لوستلو سربېره بايد دا هم څرګنده شي، چې آيا يو تن روان لوستونکی دی او که نه؟ که روان لوستونکی دی؛ نو تر کومه بريده او که ستونزې لري؛ نو سپارښتنې مو ورته څه دي. همدې پوښتنې ته د ځواب ورکولو لپاره دا څېړنيزه مقاله په پام کې نيول شوې ده.

د دې څېړنيزې مقالې په پای کې مو وکولای شول، چې د روان لوستنې ارزوونکي توکي څرګند کړو او په عملي بڼه پرې بېلابېل انتخاب شوي متونه ټسټ کړو. دا څېړنيزه مقاله موږ ته ګام په ګام لارښوونې وړاندې کوي. په ياد مو وي، چې ښايي موضوع د څېړنيزو مقالو د چاپ د محدود چوکاټ په پام کې نيولو له امله هر اړخيزه نه وي څېړل شوې. يو دليل يې ښايي په پښتو ادب کې د دې څېړنيز کار لومړی ګام وي. د دې لپاره چې دا موضوع ډېره په زړه پورې او د نورو څېړنو د ترسره کېدو ګنجايش په ځان کې لري؛ نو له راتلونکو څېړونکو څخه مو هيله ده، چې لا ژورې څېړنې او سپړنې پکې ترسره کړي.

**کليدي کليمې:** روان لوستنه، ارزوونکي وسايل، تشخيصي څېړنه

## سریزه

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمد لله رب العلمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین وعلی اله واصحابه اجمعین !**

روان لوستنه زموږ د ټولنې په ښوونیز نظام کې یوه له پامه لوېدلې موضوع ده. هر څومره چې ورته ژر پاملرنه وشي، د ښوونکو او زده کوونکو دواړو ډلو ګڼ شمېر ستونزې به پرې هوارې شي. روان لوستنه نه یوازې د ادبیاتو پوهنځي زده کوونکو لپاره بلکه د هرې علمي څانګې لپاره یو اړین عنصر دی. یوازې د یو متن لوستل بسنه نه کوي؛ بلکې اړینه ده، چې مفهوم او انځور یې ذهن ته وسپارل شي. په روان لوستلو کې د سم لوستل، سرعت یا چټکتیا او موزون والی ټول عناصر باید په پام کې ونیول شي. که چېري په یاد هر عنصر کې کومه تشه رامنځته کېږي؛ نو روان لوستل به حتما له ځنډ او خنډ سره مخ کېږي.

د روان لوستنې لپاره تمرین کولو ته اړتیا لیدل کېږي. دا هغه مهمه موضوع ده، چې له ډېر پخوا راهیسې ورته په هر هېواد کې پاملرنه شوې ده؛ خو په ارزښت یې له پوهېدلو سربېره لا هم زموږ په هېواد کې ورته پاملرنه نه کېږي.

که چېرې وغواړو، روان لوستونکی نسل وروزو؛ اړینه ده چې د پوهنې وزارت په نصاب کې ورته جدي پاملرنه وشي او سمونه له همغه ځایه رامنځته شي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

لکه څنګه چې د مخه یادونه وشوه روان لوستنه د خپل ارزښت له مخې په هره علمي څانګه کې یوه مهمه موضوع ده. که یو تن روان لوستونکی نه وي؛ نو نه شي کولای خپلې علمي ستونزې هوارې کړي. ګڼ شمېر موضوعات په تیوریکي ډول وړاندې کېږي، د دې څېړنیزې مقالې ارزښت په همدې کې دی، چې دلته یې د تیوریکي بڼې سربېره عملي بڼه هم وړاندې شوې او ګام په ګام لارښوونه وړاندې شوې. د دې مقالې په پای کې به لوستونکي وکولای شي، چې یو متن د روان لوستنې د عنصر په پام کې نیولو سره څنګه وارزوي او په دې پوه شي چې روان لوستونکی دی او که نه.

## د څېړنې موخه

هره څېړنیزه موضوع د یوې موخې له مخې تر څېړنې لاندې نیول کېږي. د دې څېړنیزې موضوع موخه دا ده، چې لوستونکي یې د لوستلو په پای کې وکولای شي، د یو شخص د روان لوستنې کچه معلومه کړي او په پای کې ورته لازمې سپارښتنې کړي.

**د څېړنې پوښتنې**

د دې څېړنې په پایله کې به لاندې پوښتنو ته ځواب وویل شي:

۱- د متن لوستل، د نمرو ورکولو اجزاوې او روان لوستنې اصول باید څنګه په پام کې ونیول شي.

۲- د یو شخص د روان لوستنې کچه څنګه معلومه کړو؟

۳- د یو متن روان لوستنې ته څنګه نمرې ورکړو؟

**د څېړنې میتود**

په دې مقاله کې له تحلیلي- توصیفي میتود سربېره تطبیقي میتود هم کارول شوی. هره توټه متن د روان لوستنې په اصولو بنا دی او له اړتیا سره سم تشریح شوی دی.

**د روان لوستنې ارزوونکي توکي یا وسایل**

روان لوستنه د هر لوستونکي لپاره یو بنسټیز اصل دی. کله چې دا اصل د یو زده کوونکي په وړتیا بدلیږي؛ نو ارزونه یې هم یو مهم اصل ګرځي. د ګلاتورن[3] (۱۹۹۹) په وینا، د ښوونځي لاسته راوړنه یوه داسې دایروي بهیر دی، چې د معیارونو پر بنسټ د رامنځته شوي نصاب، د فعالیت ارزونې، د ارزونې پر بنسټ لارښوونې، او مستندې زده کړې ترمنځ د متقابل اړیکو په توګه تعریف شوې ده. یعنې:




[3] Glatthorn

له همدې امله، ارزونه د ښوونځي د لاسته راوړنو يوه نه بېلېدونکې برخه ده، ارزونه يعنې د معلوماتو سيستماتيک راټولول. (۳:۲۰ مخ)

د mksendlocaloffer له معلوماتو سره سم ارزونه څو ډوله ترسره کېدای شي.

- د يو ماشوم له خوا د رامنځته کېدونکو غلطيو په تحليل کې مرسته کول.
- معياري ارزونې کارول
- د تشخيصي معلوماتو سربيره د دقت اندازه کول (۴:۲ مخ)

the Academy for the science of instruction – five from five په ويب پاڼه کې د روان والی په لوستنه کې ولې اړين دی تر سرليک لاندې مقاله کې د هودسن او ملګرو، ۲۰۱۲ کال نظر رااخلي او وايي:« د لوستلو روان والی د لوستلو د مهارت يوه مهمه برخه ده او روان والی د لوستونکي متن د پوهيدو لپاره خورا مهم دی.» Hudson et al (2012) page 484.

همداراز په يو بل ځای کې د کوهن او ملګرو نظر يې رااخلي او زياتوي چې:«روانی دقت، د اتوماتيکيت او د شفاهي لوستلو هغه عروض (اوزان) سره يوځای کوي، کوم چې په ګډه سره د لوستونکي لپاره د معنی په جوړولو کې مرسته کوي. دا چار د شفاهي لوستلو په جريان کې د کلمو د پېژندلو اسانتيا، مناسب سرعت، تعريف او ګړدود له لارې ښودل کيږي. روان لوستنه په شفاهي او چوپتيا سره لوستلو کې يو فاکتور دی، چې په پوهېدو کې هم محدوديت رامنځته کولای شي او هم يې ملاتړ کولای شي.» Kuhn et al, (2020), page 240

سربېره پر دې د پيډيليډو او ګيازيدزيدو ويلي: «د لوستلو د روانی لپاره منظم، مستقيم او واضح لارښوونه اړينه ګڼل کيږي، ځکه چې ډيری زده کونکي او ډيری هغه کسان چې د لوستلو ستونزې لري د لوستلو په سرعت او عروض (اوزانو) کې له ستونزې سره مخ دي، سره له دې چې دوی په بسيا کچه د کوډ کولو /رمز پرانيستنې مهارت لري. Padeliadu and Giazitziduo (2018), page 233 (۵:۱مخ)

له پورتنيو ويناوو څخه ثابتيږي، چې روان والی په لوستنه کې ډېر رول لري او دا چې روان لوستنه بايد څنګه وارزول شي، په لاندې توګه يې بيانوو:

**د ابتدايي لیک لوست زده کړې د مهارتونو فعال شاخص یا DIBELS**

د ارزوونکو وسایلو د ډیزاین لپاره له DIBELS (د ابتدايي لیک لوست زده کړې د مهارتونو له فعال شاخص[4]) څخه ګټه پورته کېږي. DIBELS معمولاً د ابتدايي ستنو لکه فونیمیکه پوهه، رمز پرانیستنه، روان لوستنه، لغوي زېرمه او په موضوع د سمې پوهېدنې د مهارت ارزونې لپاره کارول کېږي.

DIBELS د لومړي ځل لپاره په ۱۹۹۸ کال کې معرفي شو. دا وسیله څو وارې بیاځلي نوې (اپډیټ) شوې ده. اتمه نسخه یې اوسمهال کارول کېږي. DIBELS په پراخه کچه د نړۍ په ۲۰ هېوادونو کې کارول کېږي او په ځانګړې توګه د امریکا په متحده ایالتونو کې د یوې پېژندل شوې وسیلې په توګه د ابتدايي لیک لوست د مهارتونو ارزونې لپاره د زده کوونکو تر منځ شهرت لري.

په **DIBELS**کې روان لوستنه په عمومي توګه د روانو لوستلو د ارزونې د وسیلې په توګه کارول کېږي.
د روان لوستنې تګلار په ټولیزه توګه لاندې بیانېږي. د یادونې وړ ده، چې د موضوع د ښه وضاحت لپاره یو عملي بېلګه په پام کې نیول شوې :

**۱- د متن لوستل:** د متن په لوستلو کې دوه لاندې برخې شاملېږي.

- **تګلار**: د له زده کوونکو غوښتل کېږي، چې د خپلې پوهې له کچې سره سم یو متن د یوې دقیقې لپاره ولولي.
- **د متن اوږدوالی:** هر متن په معموله توګه ۱۵۰-۱۰۰ کلیمې لري، چې د زده کوونکو د لوستلو له کچې سره سم په پام کې نیول شوی دی.

**۲ .د نمرو ورکولو اجزاوې:د نمرو ورکولو پر مهال باید لاندې دوه اصله په پام کې ونیول شي.**

**چټکتیا:** دا برخه په یوه دقیقه کې د سمو لوستل شوو کلیمو شمېر اندازه کوي.

**ځیرتیا:** دا برخه د سمو لوستل شوو کلیمو سربېره ناسمې لوستل شوې کلیمې هم ورسره اندازه کوي.

[4]. Dynamic Indicators of Early Literacy Skills

**۳. محاسبه او روان لوستنه**

**په یوه دقیقه کې سمې لوستل شوې کلیمې:**(CWPM[5]) دا برخه په یوه دقیقه کې د سمو لوستل شوو کلیمو شمېر حسابوي، چې لاندې عناصرو ته پکې پاملرنه اړینه ده.

**غلطۍ:** هره ناسمه لوستل شوې کلیمه لکه ناسم تلفظ، د کلیمو له پامه غورځول یا هم د کلیمو اضافه کول دا ټول په حساب کې راځي. دا غلطۍ د لوستل شوو کلیمو له ټولګې څخه راکمېږي تر څو په یوه دقیقه کې د سمو لوستل شوو کلیمو شمېر محاسبه شي.

- په لوړ غږ او روانه توګه لوستنه کې د زده کوونکو وړتیا اندازه کوي. په داسې حال کې چې اصلي تمرکز د متن په روان لوستنه باندې دی. په غیرمستقیمه توګه په موضوع سم پوهېدل د متن د لوستلو د بهیر له لارې ارزول کېږي. زده کوونکي له خپلې پوهې سره سم یو متن ټاکي او د یوې دقیقې لپاره يې لولي. په داسې حال کې چې اصلي تمرکز د سمو لوستل شوو کلیمو په شمېر دی. د سمې لوستنې لپاره په موضوع سم پوهېدل ډېر اړین کار دی.

  ○ نمرې په یوه دقیقه کې د سمو لوستل شوو کلیمو په شمېر پورې اړه لري، چې په موضوع د سمې پوهېدنې او روان لوستنې څرګندوونکی دی. که چېرې زده کوونکی په لوستلو کې بیا بیا غلطۍ وکړي؛ نو ښايي معنا يې دا وي، چې په متن باندې په سمه توګه پوهېدلو کې ستونزه لري.

په لوړ غږ روان لوستنه [۶]

**د پلي کولو وړ ټولګې:** د روان لوستنې لپاره شپږم ټولګی په پام کې نیول شوی.

**موخه:**زده کوونکی دا متن د ۶۰ ثانیو لپاره په لوړ غږ لولي.

**د کاروني ځایونه: د خطر (ریسک)** ارزونه او معیار؛ د پرمختګ څار.

[5]. Correct Words per minutes

[6] دا موضوعات د DIBELS. لپاره د چمتو شوي لاربنود څخه اخیستل شوي دي، لاربنود په لاندې سایټ کې د لاسرسي وړ دی:
https://dibels.uoregon.edu/sites/default/files/2024-01/dibels8_admin_scoring_guide.pdf

**د اړتیا وړ مواد:** د ثبت کتابچه، د لیک لوست د زده کوونکي فورمه، قلم یا پنسل، د رسم تخته، ټایمر (وخت ارزوونکی)

**د پلي کولو تګلار**

۱. د رسم تخته او ټایمر داسې کېږدئ، چې د لیک لوست زده کوونکي ستاسې ثبتوونکي موضوعات و نه ویني.

۲. د زده کوونکو د روان لوستنې فورمه د هغوی مخې ته کېږدئ.

۳. دا ځانګړې لارښود ووایاست:

- **د مهربانۍ له مخې دا** (د لومړني پاراګراف لومړۍ کلیمې ته اشاره وکړئ) په لوړ غږیې ولولئ.
- که چېرې مو کومه کلیمه و نه شوه لوستلای زه به یې درته ولولم، تاسې خپلو لوستلو ته دوام ورکړئ.
- **له دې ځایه یې پیل کړئ** (د متن لومړۍ کلیمې ته اشاره وکړئ).
- چمتو یاست؟
- **پیل یې کړئ**

۱. کله چې د لیک لوست زده کوونکي د متن لومړۍ کلیمه لولي، د ټایمر تنۍ کېکاږئ. که چېرې د لیک لوست زده کوونکي له درې ثانیو وروسته کلیمه و نه شوه لوستلای تاسې یې ورته ولولئ، او هغه کلیمه د ناسمو کلیمو په ډله کې وشمېرئ، وروسته بیا د ټایمر تنۍ کېکاږئ.

۲. د ثبت کتابچه له ځان سره ولرئ، لکه څرنګه چې د لیک لوست زده کوونکی ځواب ورکوي، هره کلیمه چې یې ناسمه لوستلې ده پر وړاندې یې (× یا/) نښه کېږدئ.

۳. د ٦٠ ثانیو په پای کې د وروستۍ کلیمې له لوستلو وروسته براکېټ ([]) نښه کېږدئ او ووایاست: «بس».

**د مکث پر مهال مرسته:** که چېرې د لیک لوست زده کوونکي له ۳ ثانیو وروسته هم په یوه کلیمه کې مکث وکړ، کلیمه ورته ولولئ او هغه د ناسمو کلیمو په ډله کې وشمېرئ. دا کار چې هر څو ځله اړین وي د ارزونې پر مهال یې تر سره کړئ. د هرې کلیمې د لوستلو لپاره ډېر تر ډېره ۳ ثانیې وخت په پام کې ونیسئ.

**د روان لوستنې ارزونه ودروئ:** که چېرې د لیک لوست زده کوونکي هېڅ کومه کلیمه په لومړۍ کرښه کې په سمه توګه و نه لوستله؛ نو د ارزونې بهیر ودروئ. د وروستۍ کلیمې له لوستلو وروسته یو براکیټ نښه کېږدئ او نمره یې صفر ثبت کړئ.

**د روان لوستنې د مهارت محاسبه**

د لوستلو چټکتیا په یواځې توګه د لیک لوست د زده کوونکي په هکله اطلاعات نه شي برابرولای. روان لوستنه په یوه دقیقه کې د ټولو لوستل شوو کلیمو شمېر په پام کې نیولو سربېره د ناسمو ویل شوو کلیمو د شمېر له کمولو وروسته محاسبه کېږي. که چېرې د لیک لوست زده کوونکی یوه کلیمه په څو ناسمو بڼو ولولي؛ نو همغه کلیمه یوازې د یوې (۱) ناسمې کلیمې په توګه محاسبه کېږي.

په یوه دقیقه کې د سمو لوستل شوو کلیمو شمېر د لیک لوست د زده کوونکو د روان لوستنې کچه څرګندوي، چې په لاندې توګه محاسبه کېږي:

په یوه دقیقه کې لوستنه

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| په یوه دقیقه کې سمې لوستل شوې کلیمې | = | ناسمې لوستل شوې کلیمې | - | ټولې لوستل شوې کلیمې |

بېلګه:که چېرې د لیک لوست زده کوونکي په یوه دقیقه کې ۵۳ کلیمې ولولې او ۷ یې ناسمې لوستلې وي، د لیک لوست دې زده کوونکي په هره دقیقه کې ۴۶ کلیمې په سمه توګه لوستلې دي. یعنې د هغه د روانو لوستلو کچه په یوه دقیقه کې ۴۶ سمې کلیمې ده.

زده کوونکي تل وهڅوئ، چې د لوستلو پر مهال خپله ټوله ورتیا په کار واچوي، نه دا چې له ډېرې چټکتیا کار واخلي. دا کار له زده کوونکو سره مرسته کوي تر څو پوه شي چې د روانو لوستلو موخه ښه لوستل دي، که څه هم وخت یې په پام کې نیول کېږي.

**د روان لوستنې د ارزولو وسایل**

په دې برخه کې یوازې څو لوستونه د روان لوستنې د ارزولو لپاره د بېلګې په توګه راوړل شوي دي. تاسې کولای شي، د همدې بېلګې پر بنسټ په ټولو لوستونو کې د لیک لوست د زده کوونکو وړتیا وارزوي.

<table>
<tr><td colspan="3">د څلورم لوست روان لوستنه: ځان پېژندنه</td></tr>
<tr><td>د ارزونې لارښود</td><td colspan="2">یادښتونه</td></tr>
<tr><td>د مهرباني له مخې دا (د لومړني پاراګراف لومړۍ کلیمې تهاشاره وکړئ) په لوړ غږ ولولئ.<br><br>که چېرې مو کومه کلیمه و نه شوه لوستلای زه به یې درته ولولم، تاسې خپلو لوستلو ته دوام ورکړئ.<br><br>له دې ځایه یې پیل کړئ (د متن لومړۍ کلیمې ته اشاره وکړئ).<br><br>چمتو یاست؟<br><br>پیل یې کړئ</td><td>د ټایمر پیلول<br><br>مرسته وکړئ<br><br>بس</td><td>کله چې د لیک لوست زده کوونکي لومړۍ کلیمه لولي.<br><br>که چېرې زده کوونکو مکث وکړ، د درې ثانیو لپاره صبر وکړئ؛ سمه کلیمه ولولئ؛ یاده کلیمه د ناسمو کلیمو په ډله کې وشمېرئ.<br><br>که چېرې د زده کوونکو هېڅ کومه کلیمه په سمه توکه و نه لوستله؛ نو د ارزونې بهیر مو ودروئ.</td></tr>
<tr><td colspan="2">سترګې پرانیزه! د بدبینۍ حس له مغزو څخه وباسه! په ځیر ځیر وګوره! طبیعت ټول تا ته په خندا د ژوندانه د هوساینې اسباب راغونډوي. د وطن د ورو او زړو د امېد سترګې ستا په لوري کړې دي، ځکه چې ته د دوی او دوی ستا دي. د کوچنیوالي لوبې کوچنیانو ته پرېږده. د زلمیتوب بې ځایه عیشونه او هوسونه هغه چا ته وړاندې کړه، چې ته یې پېښې کوې.</td><td>۱۵<br>۳۴<br>۵۲<br>۶۹<br>۷۰</td></tr>
</table>

| | |
|---|---|
| ته د خپلو بېوزلو کاریګرو سره لېچې راونغاړه. له بزګرانو سره لاسونه تڼاکې کړه. له زده کوونکو سره ماغزه په کار واچوه. د وطن د پرمختګ لپاره زیار وباسه. پرېږده! چې نور به هوا اوزي ته بې وزرو الوتی نشې. | ۱۵<br>۳۱<br>۴۰ |
| ځان وپېژنه، په تشو خبرو هېڅ نه ترسره کېږي. عملي میدان ته راووځه! دا خاوره ستا همت ته ګوري. کار غواړي. له بې غمی او استراحت سره وداع وکړه. خوب د ګور مړو ته پرېږده! ته خو ژوندی یې. د هېواد راتلونکی سعادت په تا پورې اړه لري. د زلمیتوب طلایي ورځې په همدې خدمت کې تېرې کړه. سر تر پایه د ښېښو کولو په جامو کې ځان مه نغاړه! د دې وخت دی چې ځانته ووایې: آه لا تر څو!؟ ځان وپېژنه! داسې کار وکړه چې نور ستا پېښې وکړي، لکه پخوا چې یې کاوه. | ۱۵<br>۳۲<br>۵۰<br>۶۹<br>۸۷<br>۹۶ |

| **د روان لوستنې شپږم لوست: آریایان** | | |
|---|---|---|
| **د ارزونې لارښود** | **یادونې** | |
| **د مهربانۍ له مخې دا** (د لومړني پاراګراف لومړۍ کلیمې ته اشاره وکړئ) په لوړ غږ ولولئ.<br><br>که چېرې مو کومه کلیمه و نه شوه لوستلای زه به یې درته ولولم، تاسې خپلو لوستلو ته دوام ورکړئ.<br><br>**له دې ځایه یې پیل کړئ** (د متن لومړۍ کلیمې ته اشاره وکړئ).<br><br>چمتو یاست؟<br><br>**پیل یې کړئ** | **د ټایمر پیلول مرسته وکړئ** | کله چې زده کوونکي لومړۍ کلیمه لولي.<br><br>که چېرې زده کوونکو مکث وکړ، د درې ثانیو لپاره صبر وکړئ؛ سمه کلیمه ولولئ؛ یاده کلیمه د ناسمو کلیمو په ډله کې وشمېرئ. |
| | **بس** | که چېرې زده کوونکو هېڅ کومه کلیمه په سمه توکه و نه لوستله؛ نو د ارزونې بهیر مو ودروئ. |

| | |
|---|---|
| له میلاد څخه په زرګونو کلونو مخکې د اوسني افغانستان په شمال کې آریایي قومونه اوسېدل. دوی خپل ټاټوبي ته آریاناوېجه ویله چې د اصیلانو او شریفو خلکو د استوګنې د ځای معنا لري. آریایان په لومړي سر کې په یوه ژبه چې آرییک نومېده، غږېدل او دا د پښتو ژبې اصلي مور ګڼل شوې ده. | ۱۵<br>۳۱<br>۴۹<br>۵۶ |
| آریایانو په آریاناوېجه کې د کوچیتوب او مالدارۍ ژوند درلود؛ خو زرګونه کلونه وروسته یې ښاري ژوند پیل او د لومړي ځل لپاره یې د بُخدي ښار جوړ کړ. (یما) پاچا د آریایي دولت اداره په غاړه درلوده. دا زمانه له میلاد څخه (۱۵۰۰) کاله دمخه اټکل شوې ده.<br>له زرګونو کلونو څخه وروسته آریایان د زیاتوالي له امله د افغانستان نورو سیمو ته وکوچېدل او د هېواد په مرکزي، ختیځو او لویدیځو برخو کې خپاره او مېشته شول | ۱۳<br>۳۲<br>۴۸<br>۴۹<br>۶۴<br>۷۹ |
| له ډېرې مودې وروسته دوی بیا د وګړو د شمېر د زیاتوالي له امله د افغانستان نورو سیمو ته وکوچېدل چې لویدیځ خوا تر ایران او ختیځ خوا ته د هند تر ځنګلونو پورې ورسېدل. آریایانو له خپل ځان سره وړی تمدن هلته خپور او ښه وده یې ورکړه. | ۱۷<br>۳۴<br>۴۹ |

| **روان لوستنه، اتلسم لوست: لیک نښې** | | |
|---|---|---|
| **د ارزونې لارښود** | **یادونې** | |
| **د مهربانۍ له مخې دا** (د لومړني پاراګراف لومړۍ کلیمې ته اشاره وکړئ) په لوړ غږ ولولئ.<br>که چېرې مو کومه کلیمه و نه شوه لوستلای زه به یې درته ولولم، تاسې خپلو لوستلو ته دوام ورکړئ.<br>**له دې ځایه یې پیل کړئ** (د متن لومړۍ کلیمې ته اشاره وکړئ).<br>چمتو یاست؟<br>**پیل یې کړئ** | **دټایمر پیلول مرسته وکړئ**<br><br>**بس** | که چې زده کوونکي لومړۍ کلیمه لولي.<br>که چېرې زده کوونکو مکث وکړ، د درې ثانیو لپاره صبر وکړئ؛ سمه کلیمه ولولئ؛ یاده کلیمه د ناسمو کلیمو په ډله کې وشمېرئ.<br>که چېرې زده کوونکو هېڅ کومه کلیمه په سمه توګه و نه لوستله؛ نو د ارزونې بهیر مو ودروئ. |

| | |
|---|---|
| په هره ژبه کې د لیکنې د سموالي او ښه والي لپاره ځینې نښې نښانې شته چې په هره لیکنه کې یې مراعاتول ضروري دي. بې له دغو نښو څخه لیکنې سمه معنا نه ورکوي او لوستونکي له ډېرو ستونزو سره مخامخ کېږي.<br>اړینه ده چې لیک نښې په لنډ ډول وپېژنو: | ۱۹<br>۳۶<br>۴۳<br>۵۲ |
| ټکی (.): دا نښه د بشپړې جملې په پای کې ایښودل کېږي. لکه: بې له زیار او زحمت څخه کامیابي نشته.<br>کامه (،): کامه یا چپه پېښس د یو لنډ ځنډ لپاره راځي. همدارنګه د کلیمو او جملو د بېلولو لپاره هم کارول کېږي؛ لکه: میروس، اجمل، رشاد او سیمان زیارکښ زده کوونکي دي.<br>شارحه(:): شارحه یا دوه ټکي له هغو کلیمو څخه وروسته راځي چې ورپسې شرح او بیان ولري. لکه: د ژبې مهارتونه دا دي: غوږ نیول، خبرې کول، لوستل او لیکل | ۱۸<br>۲۱<br>۳۹<br>۵۳<br>۵۴<br>۶۹<br>۸۴ |
| سوالیه (؟): دا نښه د پوښتنې لپاره راوړل کېږي؛ یعنې د هر ډول سوالیه جملو په پای کې راځي. لکه: د آریایانو لومړنۍ ژبه څه نومېده؟<br>ندایه (!): دا علامه د غږ کولو یا ندا او تعجب په وخت کې کارول کېږي، لکه: لویه خدایه! ته زموږ د بېچاره ولس په حال رحم وکړې. | ۱۷<br>۲۶<br>۴۴<br>۵۴ |

**د څېړنې پایله یا موندنې**

روان لوستونکی هغه چا ته ویل کېږي، چې لفظي لوستنې سربېره یې مفهوم او انځور ذهن ته له کوم ځنډ او خنډ پرته ورسېږي او بیا بیا یې له فکر کولو وژغوري. کله چې یو تن په مورنۍ ژبه زده کړې کوي، هره کلیمه یې په ذهن کې د روان لوستنې له اصولو سره سم انځور شوي وي؛ نو په زده کړه کې یې کوم خنډ نه رامنځته کېږي. څېړنو ثابته کړې ده کوم کسان چې په بله ژبه زده کړه کوي که څه هم ډېر تمرین یې کړی وي، کله چې د پېچلو مفاهیمو تحلیل ته ورننږدې کېږي؛ نو ذهن یې له بلې ژبې څخه مورنۍ ژبې ته د کلیمو په اړولو کې ځنډ کوي او په پایله کې یې پرلپسې مفاهیم له لاسه ورکوي او ټوله موضوع نه شي اخیستلای.

په دې څېړنیزه مقاله کې له تیوریکي بحث وروسته هغه عملي بېلګې څرګندې شوي دي، چې یو تن اړ دی له لوستلو وروسته یې په عملي بڼه هم وکاروي. د متن لوستل، د نمرو ورکولو اجزاوې، محاسبه او روان لوستنه؛ د روان لوستنې اصلي ارزوونکي توکي دي، چې هره برخه یې خپل عناصر لري. د یادونې وړ ده، چې ګام په ګام لاربښوونه باید په سمه توګه پلې شي که لاربښوونه سمه پلې نه شي نو غوره پایلې به و نه لري. کله چې مو په لاربښوونه سم ځان پوه کړ له دې وروسته لوستونکي ته خپل مفهوم او مقصد په ښه توګه لېږ دولای شئ، چې په پایله کې یې په سیستماتیک ډول د روان لوستنې د پیاوړتیا لامل ګرځي.

**بحث او مناقشه**

روان والی په لوستنه کې ډېر مهم عنصر دی. لکه څرنگه چې هودسن او ملگرو، ۲۰۱۲ کال ویلي: د لوستلو روان والی د لوستلو د مهارت یوه مهمه برخه ده او روان والی د لوستونکي متن د پوهیدو لپاره خورا مهم دی. په همدې ډول دلته هم ثابتېږي، چې روان والی او بیا د روان لوستنې ارزونه هم خپل ارزښت لري. که یو تن د روان لوستنې ټول عناصر په پام کې ونیسي نو د روان لوستنې کچه به یې ورځ تر بلې پیاوړې او انکشاف ومومي.

روان لوستونکي له روان نالوستونکو څخه په خپل فعالیت کې ډېر گړندی پرمختگ کوي. ځکه پوهان وایي په پوښتنه پوهېدل؛ ۵۰ سلنه د پوښتنې د حل معنا لري. که یو تن روان لوستل وکولای شي؛ نو په موضوع پوهېدل به یې ترسره شوي وي او باقي ۵۰ سلنه به د موضوع پر وړاندې غبرگون وښیي؛ خو که یو تن ته لوستل او په موضوع پوهېدل ستونزمن وي؛ نو نه شي کولای چې د موضوع پر وړاندې غبرگون وښیي او خپل نظر وړاندې کړي.
د پورتنۍ مقالې په پایله کې دا ثابتېږي؛ چې موضوع ډېره مهمه او په زړه پورې ده؛ که چېرې روان لوستنه گام په گام تعقیب شي؛ نو غوره پایلې به ولري او د ارزونې کچه به ورو ورو انکشاف ومومي.

**وړاندیزونه**

د دې څېړنیزې مقالې په پایله کې لاندې وړاندیزونه په پام کې نیول شوي دي:
۱- د روان لوستنې موضوع یوه پراخه او د څېړنې وړ موضوع ده، هیله ده چې لیکوالان ورته ځانگړې پاملرنه وکړي او نورې څېړنې پرې هم ترسره کړي.
۲- د روان لوستنې د موضوع ارزښت ته په کتلو سره دې هر څېړونکي په خپله څېړنیزه موضوع کې دې موضوع ته هم په ضمني ډول اشاره وکړي، تر څو د څېړنې ډگر ته نوي گام رااخیستونکي هم له موضوع سره بلد او موضوع عامه شي.
۳- دا موضوع د دې ځای لري، چې نورې کمي او کیفي څېړنې پرې ترسره شي او په بېلابېلو کنفرانسونو کې یې د یوې مهمې موضوع په توگه یادونه وشي.

Assistant professor Lutfullah Saber Afghanistan science academy ASA) researcher Pashto language and literature institute

# Language and literature center

Assistant professor Lutfullah Saber Academic Member of pashto language and literature Institute, Afghanistan Science Academy
**Email**: lutfullah.saber@gmail.com

**Abstract**
The diagnostic study of tools for assessing fluent reading is an important topic, one that has been used very little or almost not at all in our language. In fluent reading, accurate reading of the text, speed, and rhythm are all key elements. However, beyond reading itself, it must also be determined whether a person is a fluent reader or not. If they are a fluent reader, to what extent? And if they have difficulties, what recommendations can be given to them? This research article has been prepared to answer these questions. By the end of this research article, we were able to identify the tools for assessing fluent reading and practically test various selected texts with them. This research article provides us with step-by-step guidance. Keep in mind that due to the limited format of published research articles, the topic may not have been explored from every possible angle. One reason is that this is likely the first step toward such research in Pashto literature. Since the topic is quite interesting and has the potential for further studies, we hope that future researchers will conduct deeper investigations and explorations in this area.

**Keywords**: Fluency, assessment tools, diagnostical research

## اخځلیکونه

۱. د پوهنې وزارت، ۱۳۹۸هـ.ش، پښتو- شپږم ټولگی، کابل:د پوهنې وزارت د اړیکو او عامه پوهاوي ریاست.

*Please note that Wisconsin Department

<assessments= because the strategic use of

an instructional process.

assessment process= AND <formative

assessments.= We avoid the word

practices= (that occur within that process)

1- University of Oregon (2023). 8th edition of Dynamic Indicators of Basic Early Literacy Skills (DIBELS): Administration and Scoring Guide, 2023 Edition. Eugene, OR: university of Oregon. Available: https:// dibels.uoregon.edu
2- latthorn A. A. (1999) Performance standards authentic learning. NY: Eye of Education.
3- https://www.mksendlocaloffer.co.uk/reading-accuracy

The Academy for the science of instruction – five from five-(2025), why fluency is essential to reading, online https://fivefromfive.com.au/fluency/why-f

# ویژه‌گی‌های شعر پرتونادری

پوهنمل فضل‌احمد حماد، پوهنتون شیخ زاید، پوهنحی زبان و ادبیات، دیپارتمنت فارسی دری.
ایمیل آدرس: f.hammad825@gmail.com

## چکیده

شعر معاصر افغانستان در دهه‌های اخیر شاهد ظهور شاعرانی بوده است، که با نگرشی نو و زبان متناسب با تحولات اجتماعی و فرهنگی، افق‌های تازۀ در ادبیات دری گشوده‌اند. در این میان، پرتو نادری به‌عنوان یکی از چهره‌های شاخص شعر معاصر، با برخورداری از سبک فردی و جهان‌بینی مستقل، جایگاهی درخور توجه یافته است. پژوهش حاضر با بهره‌گیری از روش توصیفی ـ تحلیلی و با تکیه بر مطالعه گزیدۀ از آثار شعری وی، در پی آن است تا مهم‌ترین ویژه‌گی‌های زبانی، فکری و زیبایی‌شناختی شعر او را شناسایی و تبیین نماید. یافته‌های تحقیق نشان می‌دهد که زبان شعر پرتو نادری غالباً ساده، شفاف و در عین حال هنرمندانه است و از ظرفیت بالایی در انتقال مفاهیم عاطفی و اندیشه‌گانی برخوردار می‌باشد. موسیقی درونی واژه‌گان، تصویرپردازی‌های نو، کاربرد آگاهانه عناصر بلاغی هم‌چون استعاره، نماد و تشخیص، و نیز بهره‌گیری از عناصر طبیعت در ساخت فضاهای شاعرانه، از برجسته‌ترین مؤلفه‌های سبکی او محسوب می‌شود. از نظر محتوایی نیز مضامینی چون انسان‌گرایی، رنج و امید، آزادی، هویت، غربت و نقد شرایط اجتماعی، حضوری پررنگ و معنادار در شعر وی دارد. برآیند این بررسی نشان می‌دهد که شعر پرتو نادری با ایجاد پیوند میان تجربه زیسته، عاطفه شاعرانه و تأمل اجتماعی، توانسته است سهمی مؤثر در پویایی شعر معاصر افغانستان ایفا کند و جایگاه ادبی قابل اعتنایی در این حوزه به دست آورد.

**واژه‌گان کلیدی:** پرتوی نادری، شعر معاصر دری، ویژه‌گی‌ها.

**مقدمه**

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمد لله رب العلمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین وعلی اله واصحابه اجمعین !**

سخن‌دانستن، سخن‌گفتن و سخن‌سنجیدن از ویژه‌گی خاص آدمی است، و برای درک و شناخت درست سخن و شناخت زیبایی‌ها نیاز به احساس عمیق انسان در قبال طبیعت و هم‌نوعان شان دارد. برای بیان این مسئله احساسی و عاطفی پی‌بردن به ویژه‌گی‌های زبان آهنگین شعر است.

شعر به عنوان یکی از تأثیرگذارترین جلوه‌های هنر و ادبیات، همواره بستری برای بیان احساسات، اندیشه‌های بشری بوده است. در این میان، شاعران بسیار با سبک‌ها و نگرش‌های متفاوت به پدیدآوردن آثار ادبی پرداخته‌اند و هر یک به نوعی در رشد و تحول زبان و فرهنگ ادبی نقش‌آفرینی کرده‌اند. پرتونادری از جمله شاعرانی-ست،که توانسته با بهره‌گیری از زبان ساده و صمیمی، مفاهیم عمیق انسانی و اجتماعی را به شکل دل‌نشین و هنرمندانه در شعر خود بازتاب دهد.

شعر پرتونادری ترکیبی از تجربه‌های شخصی و بازتابی از واقعیت‌های جامعه است که با بیانی شفاف و ملموس به مخاطب ارائه می‌شود. ویژه‌گی‌های چون زبان روان، صداقت در بیان، توجه به طبیعت، تصویرسازی‌های هنرمندانه و مفاهیم اجتماعی و انسانی در اشعار او برجسته هستند. او در اشعار خویش، هم به زیبایی‌های زنده‌گی توجه دارد و هم به تلخی‌ها و رنج‌های که انسان در مسیر زنده‌گی تجربه می‌کند.

در این مقاله، به تحلیل و بررسی ویژه‌گی‌های برجسته شعر پرتونادری پرداخته خواهد شد تا ضمن آشنایی با سبک شعری نوآوری و ظرافت‌های هنری در آثار این شاعر توانا آشکار گردد.

**پیشینهٔ تحقیق**

در زمینهٔ ویژه‌گی‌های و اهمیت شعر آن توسط پژوهش‌گران پژوهش‌های ارزشمندی صورت گرفته است. برخی دانشمندان ویژه‌گی‌های شعر شاعران معاصر را مورد بررسی قرار داده اند. مانند: داکتر سمیع حامد راجع به ویژه‌گی‌های شعر واصف باختری، کاظم کاظمی، استاد خلیل الله خلیلی و استاد باختری راجع به ویژه‌گی‌های اشعار شاعران مقاومت‌گرا در« غیاب تاریخ »، یا داکتر اسدالله حبیب زنده‌گی‌نامه و شاعران معاصر افغانستان را در« تاریخ ادبیات معاصر افغانستان»، ویاهم در «مروری بر تاریخ ادبیات معاصردری» از داکتر قیوم قویم ابراز نظرها در مورد اشعار شاعران افغانستان وجود دارد؛ اما در مقالهٔ حاضر ویژه‌گی‌های شعر پرتونادری با روش تحلیلی مورد بررسی قرار گرفته و نقش‌های هنری و زیبایی‌شناختی در شعر وی بیان شده است.

## هدف تحقیق

این تحقیق اهداف زیر را دنبال می‌کند.

۱ - بررسی ویژه‌گی‌های شعر پرتونادری.

۲ - چگونه‌گی کاربرد ویژه‌گی‌های شعری در شعر پرتونادری.

## روش تحقیق

پژوهش حاضر با روش تحلیلی از منابع معتبر و دست اول استفاده شده است. ابتدا شعر پرتو نادری مطالعه و سپس ویژه‌گی‌های برجستهٔ شعر وی بررسی گردیده است.

## ویژه‌گی‌های شعر پرتونادری

نصرالله پرتونادری یکی از چهره‌های شناخته شده در حوزهٔ ادبیات معاصر کشور و فارسی زبانان می‌باشد، که شعرهای وی سرشار از احساس، عاطفه، عشق، حقیقت، میهن‌دوستی، حالت مردم، نابسامانی‌های جامعه، توجه به فرهنگ و تاریخ، هویت ملی.. و حس انسانی و انسان دوستی را با زبان ساده و شیوا به گونهٔ فاخر با ترکیب‌های خاص هنری و سبک نوسانی میان کلاسیک و معاصر در آمیخته است، این همه درآمیخته‌گی‌ها از ویژه‌گی‌های خاص شعر او می‌باشد.

ویژه‌گی اول: سادگی و شفافیت زبان

پرتو نادری از زبان ساده و قابل درک بهره می‌برد.

مانند:

پیش از آن که بمیرم
روی سنگ گور من نوشته‌اند
مرد خوش‌بخت!
از دهکدهٔ زنده‌گی!
که هر روز سه صد و شست و پنج بار مرده است

(پرتونادری، ۱۴۰۲ش، ب، ص. ٤٩)

در این بیت پرتونادری از زبان ساده بدون کدام پیچیده‌گی واژه‌ها در بافت آن بهره برده است.

یا:

من از زمستان‌های دور گذشته‌ام
و دستانم
در مقابل نزدیک‌ترین دکهٔ نانوایی
سکه‌هایی را می‌شمارند
که پادشاه فقر
بر دو سوی آن گرسنگی را ضرب زده است.
وقتی هر شام، با یک بغل گرسنگی، به خانه برمی‌گردم
کودکانم مفهوم جغرافیای هیچ را
از خطوط شکستهٔ دستان من
به حافظه می‌سپارند
و از کوزهٔ تشنگی، آب می‌نوشند....
کودکان من بر فرهنگ گرسنگی مسلطند
و زبان خارجی می‌فهمند
و از بام تا شام
واژهٔ نان را،
در قاموس دسترخوان،
با هزارویک زبان ترجمه می‌کنند.
(مجددی، ١٤٠٢ش، ص١٤٧)

در این بیت نیز از زبان ساده کارگرفته شده؛ ولی باهمین ساده‌گی سرشار از زیبایی است.

ویژه‌گی دوم: نقد اجتماعی و سیاسی

او در شعرهایش مسایل اجتماعی و بی‌عدالتی را نقد می‌کند.

مانند:

می‌دانم
می‌دانم
این پیراهن شرمساری کیست
این‌سان چرکین و پاره پاره
روی ریسمان خمیدهٔ تاریخ
تاب می‌خورد
در روزگاری که ماه
عمامهٔ سفیدش را
بر فرق سیاه شب می‌گذارد
و شب
در وزن روشنایی
منظومه می‌سراید
دیگر حتا نمی‌توان به آفتاب اعتمادکرد

( خراسانی، ۱٤۰۰ش، ص. ۱۳۲)

پرتونادری در این بیت بر همه کسانی که به قدرت رسیدند گوش‌زد می‌کند، دیگر مردم بر هیچ کسی اعتماد نخواهد کرد، حتا بر حقیقت مانند مکتب دادایسم، که برخود هم نمی‌توان باورداشت.

یا:

شهر کابل بیشه‌زاران غم است
کوچه کوچه خانه خانه ماتم است
نعش ما افتاده بر روی زمین
چشم کور روزگاران بی‌نم است

( پرتونادری، ۱٤۰۲ ش، الف، ص. ۸۸)

در این بیت همان قضاوت را که بر مردم شهر کابل روا داشتند، وانمود کرده است.

یا

پیشوای من!
..« جیلک » سبز غیرت افغانی‌اش
تنگ‌تر از آن است
که شانه‌های سیاه « مشرف » را بپوشاند
پیشوای من
.. و اما؛ شاید
خط دیورند را
به رسمیت نمی‌شناسد..

( تابش، ۱۳۹۳ش، ص .۱۰۸)

در این جا حاکم وقت حامدکرزی را در قبال سیاست دوگانهٔ شان با پاکستان و ملت بی‌چاره در زبان طنز نقد نموده است.

ویژه‌گی سوم: عاطفه و احساس عمیق
مانند:

خورشید تو را سحر سحر می‌بوسد
بی‌آنکه تو را کند خبر می‌بوسد
وانگه چو شوی ز خواب دوشین بیدار
سر تا قدمت شکر شکر می‌بوسد

( پرتونادری، ١٤٠٢ ش، الف، ص. ٤٦)

در این شعر همان عاطفهٔ انسانی را در قالب رویاها با عمق احساس درک نموده و با زبان احساسی و عاطفی در شعر بیان داشته است.

یا:

رفتی و سـفر مبارک از گام نو شـد
سر قافلهٔ امید من نام تو شـد

آیینه شود بهار از دیدن تو
خورشید چراغ روشن شام تو
(پرتونادری، ۱۴۰۲ش، الف، ص. ۱۴۰)

در این شعر همان احساس انسانی را در قالب عاطفی بیان داشته است و زبان آن خیلی سرشار از این مزیدیت است.

**ویژه‌گی چهارم:** استفاده از نمادها و تصاویر بومی
پرتو نادری از طبیعت و نمادهای محلی در اشعارش بهره می‌برد.

مانند
نه پاره‌قند بغلانم
که در دهان کودکی آب شوم
نه عسل بدخشان که با شیر داغ بیامیزم
..من پاره نمک « کلفگانم»
تا هستم هیچ کسی به من نمی‌اندیشد
و تا نیستم
مزۀ همه چیز ته می‌کشد
( پرتو نادری، ۱۴۰۲ش، ب، ص. ۱۲۶)

در این شعر پرتونادری از تصاویر طبیعی مانند:« بغلان و کلفگان»، برای نمادهای بومی شعر خویش ذایقۀ کان نمک در طعام تبارز داده است.

**ویژه‌گی پنجم:** امید و تلاش برای تغییر
اشعار او همواره با پیامی از امید و آینده بهتر همراه بودند.

مانند
در رودبار که از کوه بلند تنهایی من می‌آید
با بازوان عشق شنا کنم
باید پاکیزه شوم
و فراز برج فرو افتادۀ زنده‌گی خویش

چراغ افروزم تا موسای عاطفه‌های عاشقانهٔ من...

(مجددی، ١٤٠٣ ش، ص. ٤)

در این شعر امید داشتن به زنده‌گی را بازتاب داده است.

یا:

آرزو دارم مردگان قرن‌های دور
در گورستان‌های کهنهٔ سرزمین آبایی من
برای چندمین بار از شرم نلرزند
آرزو دارم که دیگر هرگز «ضرب مومن» نیم قارهٔ شمالی
بر پیشانی شکستهٔ دیوارهای کابل خط

درشت ننویسد:
کامیابی مبارک هو!

(خراسانی، ١٤٠٠ش، ص. ١٣٤)

در این بیت آرزو می‌برد، که دیگر نیت کشور همسایه در قبال مردم و وطن‌اش با شعارهای زبان بیگانه در گوش نرسد.

ویژه‌گی ششم: ارتباط با طبیعت

طبیعت در شعر او نماد احساسات و شرایط انسانی است.

مانند

پرپر شده‌ام
چنان سرخ‌ترین گل مرسل
روی جویباری که از خانهٔ تو می‌گذرد
پرپر شده‌ام
تا مفهوم سرخ سرگردانی من
در رازناکی چشمان تو بهار شود

(پرتوی نادری، ١٤٠٢ ش، ب، ص. ٥٢)

در این شعر«گل » نماد زیبایی انسان در دل طبیعت است، که پرپرشدن آن حس خاکساری و جان نثار کردن و از هم گذشتن در برابر هم‌دیگر را بیان داشته است.

یا:

ای کوه بلند پر غرورم تکسار
ای اوج کبود بی عبورم تکسار
من صخرهٔ داغ‌دار دامان توام
از دیدهٔ تو اگر دورم تکسار
(پرتوی نادری، ۱۴۰۲ش، الف، ص.۴۵)

شاعر در این شعر پیوند خویش را به طبیعت برقرار نموده است، که تکسار نام کوهی در کشم بدخشان می‌باشد و نیز شاعر لقب پیر تکسار را از آن خود کرده است.

**ویژه‌گی هفتم:** توجه به تاریخ و فرهنگ

وی میراث فرهنگی افغانستان را در شعرش بازتاب داده است.

مانند
شاید واژه‌ها
در مراسم خاک سپاری
عشق و آزادی
سرگرم مرثیه خوانی بودند
شاید واژه‌ها
سوگ‌یانهٔ رستم را
کنار چاه شغاد
مویه می‌کردند
(قویم، ۱۳۸۷ ش، ص . ۱۳۵)

در این شعر آزادی و عشق ورزیدن ملت خویش مانند اسطورهٔ رستم در کنار چاه شغاد در قالب مرثیه‌خوانی، که نماد از تاریخ و فرهنگ ملت است گره زده.

«شاید واژه‌ها»

این تکرار در ابتدا و انتهای شعر نشان‌دهنده محدودیت زبان در بیان احساسات بزرگ است. عشق واقعی به ملت و فداکاری برای آن، چیزی است که با واژه‌ها به‌ساده‌گی قابل بیان نیست. واژه‌ها شاید بتوانند فقط بخشی از احساس را منتقل کنند، اما عمق فداکاری و دلسوزی را نه.

«در مراسم خاکسپاری»

مراسم خاکسپاری اشاره به قربانی شدن فردی در راه ملت یا آرمان‌ها دارد. وقتی کسی جان یا آسایش خود را برای ملت فدا می‌کند، در نگاه دیگران، همانند مراسم سوگواری دیده می‌شود؛ حتی اگر زنده‌گی ادامه دارد، ارزش و یاد او به صورت نمادین گرامی داشته می‌شود.

«عشق و آزادی»

اینجا می‌توان «عشق» را عشق به ملت و «آزادی» را هدف فداکاری او دانست. فداکاری واقعی، همیشه برای چیزی بزرگ‌تر از خود فرد است: برای مردم، برای آزادی و برای عدالت.

«سرگرمی مرثیه‌خوانی»

این بخش تلنگری به رفتار جامعه یا افراد است که گاهی به جای اقدام عملی یا پاسداشت واقعی فداکاری‌ها، تنها به سوگواری و مرثیه می‌پردازند. یعنی عشق ورزیدن واقعی، فقط گفتن و نوشتن نیست، بلکه عمل و فداکاری است.

«سوگ‌یانه رستم را / کنار چاه شغاد / مویه می‌کردند»

ارجاع به رستم، قهرمان اسطوره‌ای ایران، سمبل شجاعت، فداکاری و خدمت به ملت است. رستم جان خود و زمانش را برای حفظ عدالت و مردم گذاشت. «کنار چاه شغاد» و مویه کردن، یادآور این است که مردم همیشه یاد او را گرامی می‌دارند و غمگین هستند، اما شاید آنچه او انجام داده، با واژه‌ها قابل توصیف نیست.

این شعر به زیبایی نشان می‌دهد که فداکاری واقعی برای ملت و عشق به مردم، چیزی است فراتر از واژه‌ها و مراسم رسمی. مرثیه و سوگواری، تنها یادآوری آن فداکاری است، اما عمل و فداکاری اصلی در لحظه زنده‌گی و عمل قهرمان رخ می‌دهد. رستم به عنوان نماد، الگویی برای عشق ورزیدن فداکارانه و بدون چشم‌داشت به ملت است.

یا:

این جا هزار رستم دستان
از چاه
« از نهایت تاریکی »
چشمی به سوی جادۀ مشرق گشوده‌اند
ما از تبار آتش و نوریم
دلبسته‌گان معبد و خورشید
ما را به سر هوای نیایش نیست
بر بارگاهی تیرۀ تاریخ
( مجددی، ۱٤۰۲ ش، ص. ۸۰)

در این شعر پرتونادری همان غرور انسان بودن خویش را،که همیشه ملت آن را به دل می‌پروراند، به کوردلان تیرۀ تاریخ، که خود نماد از بدکنشی‌اند گوش‌زد کرده است.

**ویژه‌گی هشتم:** بازتاب زنده‌گی مردم عادی

پرتو نادری همیشه وضعیت زنده‌گی مردم را در اشعارش بیان می‌نماید.

مانند

.. وقتی هر شام با یک بغل گرسنه‌گی به خانه بر می‌گردم
کودکانم مفهوم جغرافیایی هیچ را
از خطوط شکستۀ دستان من
به حافظه می‌سپارند
و از کوزۀ تشنه‌گی آب می‌نوشند..
کودکان من به فرهنگ گرسنه‌گی مسلطند
و زبان خارجی می‌فهمند
و از بام تا شام
واژۀ نان را
در قاموس دسترخوان

با هزارویک زبان ترجمه می کنند

( مجددی، ۱٤۰۲، ص. ۱۱۰)

در این شعر پرتونادری حالت مردم و فقر و گرسنه‌گی را که دامن ملت را گرفته و روز به روز این گرگ گرسنه ملت را شکار می کند و حتا کودکان نیز از بیم این گرگ، خواب در چشم شان نه بسته‌اند را بیان داشته است.

**ویژه‌گی نهم:** تصویرسازی شاعرانه

تصاویر زنده و ملموس از ویژه‌گی‌های بارز دیگر شعر او است.

مانند

..این جا که آسمان از ابرهای سرخ سترون
افگنده این قطیفهٔ خونین
بر سینهٔ شکستهٔ تابوت...

(نویسا، ۱۳۹۷ش، ص. ١٦٤)

در این شعر با تصویر شاعرانهٔ« ابرهای سرخ سترون، برسینهٔ شکستهٔ تابوت »،که خود یک ترکیب هنری است حالت کشورش را بیان داشته است.

یا

..وبر پیشانی ستاره‌گان و مهتاب
در نفس‌های خورشید
و هرچه گلی بود در باغچهٔ رویاهایم
نوشتم: دوستت دارم..

( پرتوی نادری، ١٤٠٢ش، ب. ۹۲)

در این ابیات، شاعر با بهره‌گیری از ظرفیت‌های تخیل شاعرانه و زبان تصویرساز، شبکهٔ از تصاویر نمادین و استعاری می آفریند که بر غنای عاطفی متن می‌افزاید. ترکیب «بر پیشانیِ ستاره‌گان و مهتاب» با نسبت دادن ویژه‌گی انسانیِ «پیشانی» به عناصر کیهانی، نمونهٔ از تشخیص و استعاره مکنیه است که به خلق تصویری بصری و خیال‌انگیز می‌انجامد. همچنین تعبیر «در نفس‌های خورشید» با انسانی‌سازی خورشید و انتساب کنش «نفس کشیدن» به آن، پویایی و حیات را به تصویر وارد کرده و به‌صورت نمادین، گرما و شدت عاطفه را القا می کند.

از سوی دیگر، ترکیب «باغچهٔ رؤیاهایم» با تبدیل امر انتزاعیِ «رؤیا» به فضایی عینی و قابل تصور، کارکردی استعاری یافته و زمینه‌ساز شکل‌گیری تصویری ذهنی و مؤثر می‌شود. در مصراع پایانی، «نوشتم دوستت دارم»، شاعر با بهره‌گیری از اغراق هنری، گستره‌ی عمل نوشتن را از سطح محدود کاغذ فراتر برده و آن را به عناصر طبیعت و کیهان تعمیم می‌دهد؛ امری که بیانگر عمق عاطفه و جهان‌شمولی تجربهٔ عشق در متن است. بدین‌سان، این ابیات نمونهٔ گویا از کاربست آگاهانهٔ تصویرسازی شاعرانه در شعر معاصر به شمار می‌آید.

**ویژه‌گی دهم**: پیوند با مفاهیم جهانی

او مسایل جهانی را با زمینه‌های محلی ترکیب می‌نماید.

مانند:

پرنده که می‌شوم
خورشید بر بال‌های من بوسه می‌زند
و من سینه در سینهٔ بادهای کوهستان
آزادی را در آغوش می‌گیرم

(پرتوی نادری، ۱۴۰۲ ش، ب، ص. ۲۹)

تحلیل شعر در پیوند با مسائل جهانی معاصر

این شعر کوتاه با بهره‌گیری از تصاویر نمادین و زبان استعاری، مفاهیمی چون آزادی، مقاومت، امید و رهایی را بازتاب می‌دهد؛ مفاهیمی که در بستر مسائل جهانی معاصر اهمیت ویژهٔ دارند. «پرونده شدن» یا گشودن بال‌ها در آغاز شعر، نمادی از رهایی انسان از محدودیت‌های فردی، اجتماعی و سیاسی است. در جهانی که انسان‌ها با چالش‌هایی چون جنگ، مهاجرت اجباری، سرکوب آزادی‌ها و بحران‌های اجتماعی روبه‌رو هستند، این تصویر می‌تواند بیانگر تلاش برای عبور از وضعیت‌های بسته و حرکت به سوی افق‌های تازه باشد.

تصویر «خورشید بر بال‌های من بوسه می‌زند» نشان‌دهندهٔ حضور امید، زنده‌گی و نیروهای مثبت در مسیر رهایی است. خورشید در بسیاری از فرهنگ‌ها نماد روشنی، حقیقت و حیات است. در سطح جهانی، این تصویر می‌تواند اشاره به نقش ارزش‌های انسانی، همبستگی بین‌المللی و آرمان‌های مشترک بشری در تقویت روحیه‌ی ملت‌ها و حمایت از آزادی‌خواهی داشته باشد.

عبارت «سینه در سینهٔ بادهای کوهستان» نمادی از رویارویی با سختی‌ها و مقاومت در برابر شرایط دشوار است. بادهای کوهستان می‌توانند نمایانگر بحران‌های جهانی مانند جنگ، نابرابری، فشارهای سیاسی و حتی تهدیدهای زیست‌محیطی باشند. ایستادن در برابر این بادها نشان‌دهندهٔ ارادهٔ انسان برای پایداری و حفظ کرامت انسانی است.

در پایان، «آغوش گرفتن آزادی» به‌عنوان اوج معنایی شعر، بیانگر آرزوی نهایی بشر-برای دستیابی به آزادی واقعی است؛ آزادی‌ای که با حقوق بشر، عدالت اجتماعی، آزادی بیان و رهایی از ستم پیوند دارد. شاعر آزادی را نه صرفاً یک مفهوم انتزاعی، بلکه تجربه‌ای عمیق و زیسته معرفی می‌کند. این شعر با زبانی فشرده اما سرشار از تصویر، پیام جهانیِ امید، مقاومت و آزادی‌خواهی را منتقل می‌کند. مفاهیم مطرح‌شده در آن فراتر از مرزهای جغرافیایی و فرهنگی، بیانگر دغدغه‌های مشترک انسان معاصر است و مخاطب را به ایستاده‌گی در برابر محدودیت‌ها و تلاش برای ساختن جهانی آزادتر و انسانی‌تر فرا می‌خواند.

**ویژه‌گی یازدهم:** بی‌پرده بودن در بیان مسایل
پرتو نادری در اشعارش بدون سانسور مسایل را بیان می‌نماید.

مانند:

ظلم بی‌حدی رژیم پادشاهی را ببین
کشتن ما را نظر کن، بی‌گناهی را ببین
معبر کابینهٔ خایین ز بعد انتقال
سرخ از خون جوانان شد تباهی را ببین
جرم از کابینه؛ اما جان ملت در خطر
منطق ما را نگر، کار سپاهی را ببین

(مجددی، ۱٤۰۲ش، ص. ۱۰۸)

در این شعر پرتونادری به زبان بران خویش بدون کدام بیم و ترس ظلم و وحشت طبقهٔ حاکمان دوران را روک و راست بیان می‌دارد. تحلیل شعر با تمرکز بر نقد سیاسی و مسائل اجتماعی

این شعر با زبانی انتقادی و عاطفی، به بازنمایی ظلم، خشونت سیاسی و بحران مشروعیت قدرت می‌پردازد. شاعر با بهره‌گیری از واژگان صریح و تصاویر تکان‌دهنده، وضعیت یک رژیم پادشاهی را از منظر مردم تحت ستم ترسیم می‌کند.

در بیت نخست، شاعر به «ظلم بی‌حد» اشاره می‌کند و کشتار افراد بی‌گناه را برجسته می‌سازد. این تقابل میان «ظلم» و «بی‌گناهی» نوعی دوگانه‌گی اخلاقی ایجاد می‌کند که مخاطب را به قضاوت ارزشی دربارهٔ عملکرد حکومت سوق می‌دهد. در سطح جهانی، چنین تصاویری یادآور نقض حقوق بشر در نظام‌های اقتدارگراست.

ترکیب «کابینهٔ خاین» نشان‌دهندهٔ بی‌اعتمادی شاعر به نخبگان سیاسی است. «سرخ از خون جوانان» نمادی از قربانی شدن نسل جوان در کشمکش‌های قدرت است؛ مسئله‌ای که در بسیاری از بحران‌های جهانی، از انقلاب‌ها تا جنگ‌های داخلی، دیده می‌شود.

در بیت سوم، شاعر تأکید می‌کند که گرچه «جرم از کابینه» است، اما «جان ملت در خطر» قرار دارد. این بیان، مسئولیت سیاسی را متوجه ساختار قدرت می‌کند و هم‌زمان پیامدهای آن را متوجه مردم عادی می‌داند. چنین نگاهی با گفتمان‌های جهانی دربارهٔ مسئولیت حکومت‌ها در قبال امنیت شهروندان هم‌خوان است.

عبارت «کار سپاهی» می‌تواند اشاره‌ای به نقش نیروهای نظامی در سرکوب یا بحران‌های سیاسی باشد. در بسیاری از کشورها، نظامی‌گری افراطی به افزایش خشونت، محدود شدن آزادی‌ها و تضعیف نهادهای مدنی انجامیده است. این شعر نمونه‌ای از ادبیات اعتراض است که با زبان استعاری و عاطفی، به نقد قدرت سیاسی، خشونت دولتی و خیانت نخبگان می‌پردازد. پیام آن فراتر از یک جغرافیای خاص، بازتاب‌دهندهٔ دغدغه‌های جهانی دربارهٔ حقوق بشر، عدالت، و مسئولیت حکومت‌ها در برابر مردم است.

**ویژه‌گی دوازدهم:** ترکیب احساس و واقعیت
او واقعیت‌های تلخ اجتماعی را با احساسات عاطفی ترکیب می‌نماید.

مانند
من از زمستان‌های دور گذشته‌ام
که می‌شد بوی نان را
چنان سرشارترین عطری
برای زیباترین دختر شهر هدیه کرد

و می‌شد تمام روز
شگوفهٔ تصور نان را
در گلدان ذهن کودکان
با عطر فریب
پیوند زد
و چشم انتظار باران ماند
(پرتونادری، ۱۳۸٤ش، ص. ٤٠)

در این شعر پرتونادری حالت نابسامان زنده‌گی را به احساس عاطفی و شاعرانه به تصویر می‌کشد.
این شعر با زبانی لطیف و تصویری، از «زمستان‌های دور» سخن می‌گوید؛ زمستان‌هایی که نه فقط فصل سرما، بلکه نمادی از سختی، فقر و کمبود هستند. با این حال، شاعر آن دوران را با نوعی نوستالژی انسانی به یاد می‌آورد؛ زمانی که حتی بوی نان می‌توانست ارزشمندترین هدیه باشد. «بوی نان» در این شعر تنها یک حس بویایی نیست، بلکه نماد زندگی، بقا و کرامت انسانی است. وقتی شاعر می‌گوید این بو می‌توانست بهترین عطر برای زیباترین دختر شهر باشد، نشان می‌دهد که در شرایط فقر، ارزش‌ها دگرگون می‌شوند و ساده‌ترین نیازها به والاترین آرزوها بدل می‌گردند.

تصویر «گلدان ذهن کودکان» بسیار شاعرانه است. ذهن کودک همچون گلدانی است که باید با امید و شادی پر شود، اما در این شعر، تنها «تصویر نان» در آن کاشته می‌شود. این نشان می‌دهد که فقر، تخیل کودکان را نیز محدود کرده و رؤیاهایشان را به نیازهای اولیه فروکاسته است. «عطر فریب» بیانگر وعده‌های پوچ یا امیدهای ناتمام است؛ امیدهایی که بیشتر شبیه تسکین موقت‌اند تا راه‌حل واقعی. «چشم‌انتظار باران ماندن» نمادی از انتظار برای تغییر، عدالت یا بهبود شرایط است. باران در ادبیات اغلب نشانهٔ رحمت، زندگی و تازگی است. شاعر نشان می‌دهد که با وجود همهٔ سختی‌ها، هنوز امیدی خاموش‌نشده در دل انسان باقی مانده است. این شعر ترکیبی است از نوستالژی، نقد اجتماعی و انسان‌دوستی. شاعر با تصاویر ساده اما عمیق، فقر، معصومیت کودکان، و امید به آینده‌ای بهتر را به تصویر می‌کشد. پیام اصلی آن این است که حتی در سخت‌ترین شرایط، انسان به امید، زیبایی و کرامت نیاز دارد.

**ویژه‌گی سیزدهم:** توجه به هویت ملی
پرتو نادری همواره بر هویت فرهنگی و تاریخی افغانستان تأکید دارد.

مانند

کابل

مادر بزرگ من!..

(پرتوی نادری، ۱٤۰۲ش، ب، ص. ۱۱۲)

در این شعر کابل را که قلب افغانستان در تاریخ جهان بوده است مهر می‌ورزد و تأکید می‌نماید.

یا:

پیاله چایی که می‌نوشم

بوی خون می‌دهد

و مزهٔ تلخ خزان

اگر دستم می‌رسید

عشق را سرود سرزمینی می‌ساختم

که نسب‌نامهٔ بزرگش

به خورشید می‌رسد!

(پرتوی نادری، ۱٤۰۲ش، ب، ص. ۱٤٤)

در این شعر پرتونادری به سرودهای تاریخی و فرهنگی کهن سرزمین خویش اشاره دارد، که، برگرفته از سرودهای کهن ملی و فرهنگی کشور را افسوس می‌خورد.

ویژه‌گی چهاردهم: انعکاس تنهایی و درد فردی

تنهایی و غم از موضوعات ثابت شعر او است.

مانند

شب آمد در دلم توفان به پا کرد

مرا در چاه تنهایی رها کرد

سکوت اختران می‌داند ای دوست

که غم‌های تو با جانم چه‌ها کرد

(پرتوی نادری، ۱٤۰۲ ش، الف، ص. ۳۳)

| اسمان | آسمان | سودا | سودو |
| اسره | اسرو | شیدې | شودو |
| اوبه | اب | ښېښه (شېشه) | شیشو |
| دانه | دانو | ښوروا (شوروا) | شورو |
| برخه | بخرو | شمله | شملو |
| بچی | بچو | کوټه | کوټو |
| بیړه | بیړو | ګنده (چټل) | ګندو |
| بنده | بندو | تنۍ | تني |
| ګونګ | ګنګو | ګنډه | ګند |
| کورنۍ | ګرانو | انګړ | انګن |
| لالا | لالو | ټوکه | ټوک |
| ماما | مامو | ګنډل | ګنن |
| پښتو | سندي | پښتو | سندي |

| | | | |
|---|---|---|---|
| نمونه (بېلګه) | نمونو | مېړه | مړس |
| نخره | نخرو | نر | نر |
| مېخ | میک | ته | تون |
| پنبه (مالوچ) | بنبو | زه | مان |
| کودی (کودړی) | کودی | تاسې | توهي |
| تول | تور | هغه | هو |
| من | من | تپل | تاپن |
| سېر | سیر | پالل | پالن |
| ډوډی | ډوډو | پېژندل | پچانن |
| سپک | سیپک | څکل | چکن |
| ننګ (غیرت) | ننګ | کول | کرن |
| تبر | تبر | لیکل | لکن |
| کهول (کورنۍ) | کهول | لګېدل | لګن |
| تورزن | تورزن | بدلول | بدلن |

(ختک، ۲۰۰۷ م، ص. ۱٦٧ـ۲۰۴).

د پښتو او سندي ژبو یوازې دا څو کلمې د دواړو ژبو پوره اړیکې او نږدېوالی نه شي ثابتولی، دا پورته کلمې ما یوازې د مقالې عنوان ته په کتو د نمونې په ډول راوړې. د دغو دواړو ژبو پوره پرتلنه باید وشي، ځکه دواړه ژبې نږدې ګرامري، فرهنګي او ټولنیزې اړیکې لري، دا اړیکې یوازې په یوه مقاله کې نه شي بیانیدلی. دا چې زما د مقالې عنوان د دواړو ژبو لغوي پرتلنه دی، د عنوان مطابق مې تر خپله وسه د دواړو ژبو هغه کلمې راواخېستلې،

چې د دواړو ژبو نږدیوالی ترې څرګندېږي. نور که ژوند و، ان شــاءالله د دواړو ژبو نورې برخې به هم وخت او حالاتو ته په کتو تر څېړنې لاندې ونیسو.

**پایله**

د پښتو او سندي ژبو له لغوي پرتلنې څرګندېږي، چې دواړه ژبې د اریایي کورنۍ له ګډو ریښو سرچینه اخلي او د تاریخي، جغرافیایي او فرهنګي نږدېوالي له امله یې یوې پر بلې اغېزکړې دی. د دواړو ژبو د کلمو پرتله ښــیي چې د دوی ترمنځ ګڼ شــمېر بنیادي، ورځني او تاریخي الفاظ په جوړښــت، مانا او ریښــه کې ورته والی لري، چې دا ورته والی تصادفي نه دی، بلکې د ګډ لرغوني میراث څرګندونه کوي.

سربېره پر دې، د تاریخي تماسونو، سوداګرۍ او ګډو کلتوري اړیکو شتون د دې لامل شوی دی، چې پښتو او ســـندي د وخت په تېرېدو سره یوې پر بلې اغېز کړی دی. همدارنګه، ځینې ګډې ګرامري بڼې، د اریایي ژبو دودیز غږیز بدلونونه او د کلمو موازي کارونه د دې ژبو د خپلواک پرمختګ تر څنګ د دوی نږدیوالی هم ممکن کړی دی.

په ټولیز ډول د څېړنې پایلې څرګندوي چې پښــتو او ســندي دواړه د هندو اروپایي کورنۍ ژبې دي، چې ګډې لرغونې ریښې لري او د ژبني جوړښت، لغاتو او تاریخي تحول له مخې د پام وړ ورته والی لري. دا ورته والی نه یوازې د علمي څېړنې له پلوه ارزښــت لري، بلکې د دواړو ژبو د ویونکو تر منځ د کلتوري پیوســتون یو مهم ثبوت هم ګڼل کېږي.

په دې څېړنه کې دا څرګنده شوه، چې سندي هم اریایي ژبه ده او د پښتو سره په نسل او اصل کې ډېره نږدې ده. ژبپوهان د پښتو باره کې مختلف نظرونه لري، خو د سندي ژبې په اریاییتوب کې تر اوسه چا کوم شک نه دی څرګند کړی، چې یاده ژبه دې اریایي نه وي. دا چې ســندي اریایي ژبه ده، نو د پښــتو او پښــتنو اریاییتوب هم ترې څرګند شو.

**وړاندیزونه**

۱ . شـیخ زاید پوهنتون کې چې څوک له سـندي او اردو ژبو سره بلد وي، د پښـتو او سـندي ژبو هر اړخېزه څېړنه دې وکړي.

۲ . د پښــتو ژبې اریاییتوب د نوې ژبپوهنې پر اســاس د اریایي ژبو له پرتلې څرګند دی، نور دې د پښــتنو د اسرایلیت افسـانوي نظریه کتابونو کې نه لیکل کېږي، ځکه اسرایل د نړۍ پر مخ یو ناسـور دی، د پښـتنو نسـلي خپلوي ورسره زموږ په تاوان ده.

۳ . د شـیخ زاید پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي اردو څانګې اسـتادان دې د پښـتو او نورو هندي ژبو ترمنځ څېړنې وکړي، چې د پښتو او سیمه ییزو ژبو نږدېوالی معلوم شي.

# A Lexical Comparison of Pashto and Sindhi Languages

Senior Teaching Assistant Faridullah Farid, Faculty of Languages and Literature, Pashto Department, Sheikh Zayed University

**Email address:** faridullahfarid123@gmail.com

**Abstract**

There are many and varied opinions among linguists about the origin and lineage of Pashto and Pashtuns, but there are also many linguists who have given solid reasons for the Aryan nature of this language. Those who have given opinions about the Aryan nature of Pashto include orientalists such as Julius Klaproth, Max Muller, Elphinstone, John Malcolm, James Darmesteter, Robert Leach, Georg Morgensterne and a number of other notable scholars. Among domestic linguists, most linguists, including Abdul Hai Habibi, Mujawer Ahmad Ziyar, Habibullah Teghi, believe that Pashtuns are Aryan and their language, Pashto, is a pure Aryan language. Sindhi is considered one of the Indian languages, and no one has doubted its Aryan nature yet. Since Sindhi is an Aryan language and is close to Pashto in many words and phrases, it was considered necessary to compare it with Pashto and prove its closeness. Thus, in this article, I have compared a number of words in Pashto and Sindhi that are common or closely related to both languages. From the lexical comparison of the two languages, it was found that both these languages are Aryan and have very close relations with each other. The closeness of the two languages will further confirm the Aryan nature of the Pashto language, encourage readers to research every aspect of both languages, and reject the Israelite theory about the Pashtuns. The research method is descriptive and its type is bibliographical.

**Keywords:** Aryanism, Comparison, Language, Pashto, Proximity, Sindhi

**ماخذونه**

تړی، حبيب الله. (۱۳۷۷ هـ ش). پښتانه. پېښور: دانش کتابخانه، قصه خوانی بازار.

حبيبي، عبدالحی. (۱۳۷۸ هـــ ش). د افغانستان لنډ تاريخ. ژباړه: عبدالودود کرزی. کوئټه: سپنزر پرنټرز (پرائيويټ) لميټډ.

حبيبي، عبدالحی. (۱۳۸۴ هـــ ش). د پښتو ادبياتو تاريخ (لومړی او دويم ټوک). پېښور: دانش خپرندويه ټولنه.

خټک، خالد خان. (۲۰۰۷ م). سندهی، پشتو، اردو کي روابط. پېښور: پښتو اکيډمي پېښور پوهنتون.

رضا، محمد افضل. (۱۹۹۸م). اردو کي قديم پشتون شعراء. پېښور: پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون.

زيار، مجاور احمد. (۱۳۷۹ هـ ش). پښتو او پښتانه د ژبپوهنې په رڼا کې. پېښور: د ساپي څېړنو او پراختيا مرکز.

زيور، زيورالدين. (۱۳۸٦ هـــ ش). د پښتو ادبياتو تاريخ لرغونې دوره. اهتمام: ډاکټر زرغونه زيور. پېښور: د ساپي پښتو څېړنو او پراختيا مرکز.

شينواري، معروف شاه. (۱۳۹۷ هـ ش). د پښتو ژبې تاريخي تحول. ننگرهار: کلاسيک خپرندويه ټولنه.

# په شاعرانه ژبه کې د الفاظو سپېڅلتیا

پوهنمل سیدمرجان سروري د شیخ زاید پوهنتون، ژبو او ادبیاتو پوهنځي، پښتو څانګې استاد
**برېښنالیک:** saidmarjansarwari@gmail.com

**لنډیز**
په تاریخي لحاظ که چېرې د شاعرۍ او شاعرانه ژبې په هکله پراخه مطالعه وکړو؛ نو وبه وینو، چې د ادب او شعر کره کتونکي شاعر او لیکوال ته د نورو مواردو ترڅنګ د مناسبو الفاظو په واسطه د حقیقت بیانولو سپارښتنه کوي او دې کار ته لومړیتوب ورکوي. د اسلام په سپېڅلي دین کې هم د شعر په اړه د قران پاک په ایتونو او د رسول اکرم ﷺ احادیثو کې د شاعرانه ژبې الفاظو او موضوعاتو په اړه بشپړې لارښوونې شته. د شاعرانه ژبې څخه موخه دا نه ده، چې ګنې دا د ویونکو د ژبې څخه بله ژبه ده، یا یې الفاظ بل ډول دي؛ بلکې شاعرانه ژبه باید داسې وي، چې الفاظ یې سوچه او سپېڅلي وي. د شاعر او لیکوال کوښښ دا وي، چې له بربنډو او سپکو الفاظو څخه خپله شاعري او لیکنه وساتي. په دغه مقاله کې پر همدغو موضوعاتو سربېره په شاعرانه ژبه لنډ بحث شوی دی. په شعر یا هنري نثر کې د الفاظو د سپېڅلتیا پر ارزښت او اهمیت باندې لنډې، خو ګټورې خبرې شوې دي. لوستونکو ته په شعر او هنري نثر کې دا په ډاګه کوي، چې که شاعر یا لیکوال وغواړي د غوره، سپېڅلو او مناسبو الفاظو په ذریعه ډېر مهم او له حکمت څخه ډک موضوعات په اغېزناک ډول وړاندې کولو سره د ټولنې په اصلاح کې رغنده رول لوبولی شي. د شعر او هنري نثر لیکونکو دا دنده ده، چې د وخت شرایطو سره سم د ټولنې ناخوالې، درد، اسلامي او کلتوري ارزښتونه د الفاظو په امېل کې داسې وپېیي؛ چې د ټولنې د مسیر د بدلون او اصلاح سبب وګرځي، نه دا چې د ټولنې د بې لارې کېدو وسیله شي.

**کلیدي کلمې:** اشعار، الفاظ، ټولنه، سپېڅلتیا، شاعرانه ژبه.

## سریزه

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمد لله رب العلمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین وعلی اله واصحابه اجمعین !**

خَلَقَ ٱلْاِنْسَانَ عَلَّمَهُ الْبَيَانَ. ژباړه: الله تعالی انسان پیدا کړ او هغه ته یې د کلام (بیان) ځواک ور وبښه.

الفاظ په هغه صورت کې ارزښت لري، چې په ادبي ډول استعمال شي. ځینې الفاظ په ورځنیو خبرو کې پر موږ بد لګېږي، لکه سپکه وینا یا کنځل، مګر د دې تر څنګ داسې الفاظ هم شته، چې په اوریدلو سره یې د انسان روح خوښي مومي. که داسې الفاظ بیا په ادبي چوکاټ کې استعمال شي، خامخا د انسان پاملرنه په لا شعوري توګه جلبوي؛ دا ځکه چې شاعر یا لیکوال د خپل شاعرانه کمال په زور لفظونه دومره ښکلي او لطیف کړي وي، چې انسان یې د بیا بیا اوریدلو ارزو لري. په مناسب ځای کې د ښکلو الفاظو استعمال انسان ته په اوریدلو او لوستلو کې یو ډوّل د خوښۍ او د زړه یخوالي احساس پیدا کوي. لوی شاعران او لیکوالان د خپل مطلب او مقصد څرګندولو په موخه رنګین الفاظ خوښوي، بیا یې په خپل شاعرانه کمال سره په موزون ډول پېیي، کله چې نور خلک دغه الفاظ اوري یا یې لولي، نو د شاعر یا لیکوال جذبې سره د لوستونکي او اوریدونکي جذبه او احساس هم په زړه کې سر را پورته کوي، چې همدغه د یوه لوی شاعر یا لیکوال د شاعرانه ژبې کمال بلل کېږي.

### موخې

#### اساسي موخې

۱. په شاعرانه ژبه کې د سپېڅلو الفاظو ارزښت بیانول.

۲. پر ټولنه د شاعرانه ژبې اغېز.

#### فرعي موخې

**۱.** د یو شاعر یا لیکوال د سبک په پېژندلو کې د الفاظو رول

**۲.** په شاعرۍ او هنري لیکنو کې الفاظو ته پاملرنه

### میتود

د څېړنې کړنلاره کتابتوني ده. مېتود یې توضیحي دی. د موضوع د استناد په موخه د قرآن پاک د ایتونو او نبوي احایثو سربېره ځینې دیني کتابونو ته مراجعه شوې ده. د موضوع اړوند د بېلابېلو ادبپوهانو له لوري لیکل شویو اثارو او مقالو څخه هم ګټه اخېستل شوې ده.

### تېرو اثارو ته کتنه

ادبي او هنري میراثونه د یوې ټولنې د روښان فکرو اشخاصو د مهارتونو او ابتکاراتو د ذهني فعالیتونو تجربو یو ارزښتمن محصول ګڼل کېږي. یوه داسې بډایه کلتوري شتمني ده، چې د نسلونو تاریخ او تمدن پکې ساتل

کېږي. د یادونې وړ ده، چې یاد فرهنګي موارد د یوې ټولنې په پرمختګ او تکامل کې مهم رول لوبوي. که تاریخ ته وګورو، د هرې دورې د فرهنګیانو په اثارو کې د هماغه ټولنې او چاپېریال معنوي او مادي ارزښتونه انځور شوي دي، چې دا په واقعیت کې د یوې ټولنې د وخت ټولنیز ژوند د حالاتو څرنګوالی ښیي.

که د افغاني ټولنې کلتور مطالعه کړو، دا ترې جوتېږي چې زموږ د ټولنې د هنر او ادب په بعدونو کې د اسلامي کلتور شغلې له ورایه ځلېږي. که د یادې موضوع لږ نور وضاحت او صراحت وکړو، د بېلګې په توګه به دا موږ ؤمنو، چې زموږ د زیاترو فرهنګي اثارو پیل په بسم الله او یا په ورته مفهوم او ورپسې په حمد شریف یا نعت شریف لیکل شوی وي، چې دا په حقیقت کې د اسلامي فرهنګ سره د افغاني ټولنې د ټړاو ښکاره بېلګې دي. که د افغاني ټولنې لیکوالانو او شاعرانو اثار مطالعه کړو، په زیاترو اثارو کې د اسلامي عقیدې نفوذ اغېزناک ښکاري. د افغانانو په قبیلوي، قومي، ملي او ټولنیز ژوند کې چې د ټولنې اساسي بعدونه ګڼل کېږي، هر بعد ته د اسلامي او ملي فرهنګ وړانګې رسېدلې دي. دا یو منلی حقیقت دی، هر کله چې زموږ په اثارو کې د ملي ارزښتونو غښتلې اغېزمنتیا د اسلامي عقیدې اغېزو سره یو ځای شوې ده، د قوي ځواکمنتیا، جذابیت او د یوې هڅوونکې قوې په حیث یې خلکو کې تبارز کړی دی.

زموږ ملي او افغاني ارزښتونه چې بېلګې یې میړانه، شجاعت، زړورتیا، سرښندنه، د آزادۍ، خاورې او ملي نوامیسو سره مینه درلودل، رښتینوالي، سپېڅلتیا داسې نور چې کله د اسلامي احساساتو په رڼا کې انعکاس ومومي نو جذابیت، الهام ورکړه او د یادو مواردو ساتلو کې یې هڅې په قوت بدلېږي، ځکه چې ذکر شوي ممیزات د افغاني ټولنې هغه غوره او بېساري فرهنګي میراثونه دي چې اسلام مقدس دین نه یوازې هغه د اسلامي اخلاقو برخه ګڼلې، بلکې هغو ته یې ارزښت او اغېزمنتوب وربخښلی دی.

نن موږ د دغه واقعیت عیني شاهدان یو؛ کله چې د وطن دوستۍ، د ازادۍ او خاورې سره د مینې، میړانې، زړورتیا او سرښندنې په باب حماسي شعر یا هنري نثري ټوټه د اسلامي جذباتو په روحیې، مفاهیمو او بېلابېلو تلمیحاتو سره یو ځای لولو یا په ترنم کې وړاندې کېږي، په واقعیت سره یاد حماسي شعرونه په مؤمنو او مسلمانو لوستونکو او اوریدونکو یو ډول جادویي اغېزکوي، یو ډول الهام ورکوي، چې په زړورتیا لویې قهرمانه کړنې ترسره کړي. د پورتنیو خبرو پر بنیاد ویلی شو، کله چې د اسلام مقدس دین اغېزمنتوب د نفوذ د ملي ارزښتونو سره یو ځای شوی دی زموږ د ټولنې معنوي قوت یې په مادي قوت بدل کړی او د بریالیتوب په لارو چارو کې یې ټول خنډونه او ستونزې له منځه وړې او خپلې موخې یې تر لاسه کړې دي. (نړیوال، ۱۳۹۳م، ص. ۴۲)

د شاعرانه ژبې څخه موخه دا نه ده، چې د یادې ژبې ویونه یا الفاظ بېل دي، بلکې شاعرانه ژبه خوږه، نرمه روانه او سوتره ژبه ده، چې الفاظ يې هم د ویونکو له ژبې وي، خو په دومره توپیر چې همدغه الفاظ یو شاعر یا لیکوال په داسې مهارت سره په شعر یا هنري لیکنه کې استعمال کړي چې خوند، معنا او اواز یې د اوریدونکي یا لوستونکي جذبه او احساس بیدار کړي. موخه دا چې شاعرانه ژبه سوچه او الفاظ يې هم سپېڅلې وي. د شاعر یا لیکوال کوشش دا وي چې د بربنډو او لویدلو الفاظو څخه ځان، خپله شاعري او هنري لیکنه وساتي. ( بخاري، ۲۰۱٦م، ص. ۹۳)

د شاعرانه ژبې یوه ځانګړنه دا ده، چې شاعر یا لیکوال الفاظ داسې استعمالوي، چې په هغو کې مدعا د استعارې، کنايې یا سېمبول په شکل وښیي. په شاعرانه ژبه کې کوم الفاظ چې یو شاعر یا لیکوال کاروي، دا د هماغې ټولنې د ژبې الفاظ او کلمې دي، چې دی پکې ژوند کوي. همدغه کلمې چې یو شاعر یا لیکوال یې په خپلو شعرونو یا هنري نثرونو کې استعمالوي له هیچا څخه پټ نه دي ډېر يې اوري هم؛ مګر حقیقت دا دی چې هر څوک د الفاظو په ترتیب او استعمال نه پوهېږي. یو شاعر یا لیکوال د غوره، سپېڅلو او مناسبو الفاظو په وسیله ډېر مهم او له حکمت څخه ډک موضوعات وړاندې کوي. مطلب دا چې په لوړه او اخلاقي شاعرۍ یا هنري لیکنه کې شاعر د کلمو لطیفي معناوې را برسېره کوي، چې دغه لطافت په اصل کې د همدغو الفاظو روح ګڼل کیږي یا په بله معنا لفظ یې چوکاټ او معنا یې روح دی.

د الفاظو استعمال ته پاملرنه، نه یوازې په شاعرانه ژبه کې ضروري ده ، بلکې په عامو خبرو اترو کې د ښکلو الفاظو او د هغوی معناوو ته هم اړینه ده. په شاعرانه ژبه کې د الفاظو سپېڅلتیا څخه زموږ مقصد دا نه دی، چې د عامو خلکو یا د عوامو ویونکو ژبې څخه بله ژبه ده یا یې کلمې بېلې دي؛ بلکې موخه دا ده، چې د شاعرانه ژبې الفاظ باید ډېر پاسته، خواږهٔ او سوچه وي. ځکه که په شعر یا هنري نثر کې ساده، روان او خواږهٔ الفاظ را وړل شي؛ نو په اوریدونکو او لوستونکو کې یې د خوند جذبه هم را ویښېږي. که په لنډون سره ووایو، چې شاعرانه ژبه باید سوچه وي، الفاظ یې سپېڅلي وي او د شاعر یا لیکوال هڅه هم باید دا وي چې له ناوړو الفاظو ځان او خپله لیکنه وساتي. د سپکو او بربنډو الفاظو کارونې څخه په عامه ژبه یا خبرو کې هم ځان ساتل پکار دي؛ خو که په شاعرۍ یا هنري نثر کې داسې الفاظ راوړل شي، خامخا به شعر او هنري نثر بې خونده کړي.

په همدې توګه په شاعرۍ یا هنري لیکنه کې په بې پروا توګه د جنسي الفاظو استعمال مناسب نهٔ دی؛ ځکه چې شاعر یا لیکوال څه چې وایي یا یې لیکي هغه د ځان لپاره شاعر یا لیکوال نهٔ دی؛ بلکې هغه د خپلې ټولنې یو ستر شخصیت دی، د هغه الفاظ او ژبه د هغې ټولنې امانت دی، چې دی پکې ژوند کوي. کومه شاعري یا لیکنه

چې په یوه ټولنه کې د شاعر یا لیکوال لخوا پنځول کیږي، هغه د یادې ټولنې او قوم لپاره فرهنګي پانګه ګرځي او راتلونکو نسلونو ته د امانت په ډول رسیږي. پکار ده، چې شاعر یا لیکوال خپلې ټولنې ته له خولې او د قلم له څوکې څخه داسې الفاظ په امانت پرېږدي، چې د ټولنې په را وروسته نسل کې یې د لوړ شخصیت ستاینه وشي.

په شاعرۍ یا هنري لیکنه کې د بربنډو او ناوړه الفاظو کارونې زیان تر ډېره ټولنې ته رسیږي. د یوې ټولنې ټول نسلونه که موجوده وي یا را تلونکي کې وي په دوی مستقیم اغېز درلودلی شي. تر ټولو مهمه دا ده چې د بربنډو الفاظو استعمال په هیڅ صورت ونهٔ شي، دا ځکه تر څو پورې چې دغه ټولنه وي، دغه لیک که هغه منظوم وي یا منثور له ژوندیو سره به خبرې کوي؛ نو پکار ده چې دا زهر زموږ د شعر او هنري نثر خوږ والی پر تریخوالي بدل نه کړي او هم مو د قلم عفت ساتلی وي.

ولس او ټولنې ته د شاعر او لیکوال فکر، ژبه، اواز او قلم هلته ګټه رسولی شي، چې په موجوده ټولنه کې ټولې هغه ناخوالې چې له دیني، کلتوري، اقتصادي او سیاسي زیانونو یې ولس رنځ وړي؛ په سوچه او سپېڅلو الفاظو کې په ربښتیني توګه داسې وړاندې کړي، چې اوریدونکي او لوستونکي یې حقیقت درک کړي او د هر چا مسؤولیت او صلاحیت کې د یو مثبت بدلون وسیله وګرځي. نه دا چې په شاعرانه ژبه کې داسې الفاظ وکارول شي، چې د ځوان کهول د بې لاریتوب سبب او وسیله شي. دا ځکه چې شعر ژبنی هنر دی، د هنر ځانګړنه دا ده چې لوستونکي یا اوریدونکي ترې اغېزمن کیږي؛ نو ځکه په شاعرانه ژبه کې د الفاظو سپېڅلتیا تر هر څه ډېره مهمه ده، چې د سپکو او بربنډو کلمو پر ځای سپېڅلې او د ټولنې اصلاح په موخه مناسب الفاظ پر خپل ځای وکارول شي.

د معلوماتو له مخې د جهالت په زمانه کې په شعر او شاعرۍ کې د فحاشۍ اړوند موضوعات بیخي ډېر وو. شاعرانو خپله شاعري د معاش سرچینه ګرځولې وه، اوږدې اوږدې قصیدې به ویل کېدلې، د دې ترڅنګ دومره په ازاده توګه شاعري کیده او فحاشي پکې داسې حالت غوره کړی و، چې شاعرانو به په خپلو اشعارو کې په ښکاره توګه د ښځو نومونه اخیستل. (شاهد، ۲۰۱۸م، ص. ۷۴)

په پای کې د دغې خبرې یادونه هم اړینه ده، چې هغه شاعري یا هنري لیکنه، چې په هغه کې د اسلام مبارک دین د ټولنې او انسانیت خیر وي داسې موضوعات پکې اوډل شوي وي، چې الفاظ یې سپېڅلي، مقصد یې د ټولنې اصلاح وي، شاعر او لیکوال یې بیا په واقعي توګه د ټولنې غوره اشخاص بلل کیږي. د یادې موضوع په اړه لازمه ده، چې د حضرت محمد ﷺ د هغه مبارک حدیث یادونه وشي، چې د شعر او شاعرۍ په اړه د قرآن کریم د شعراء(۲۲۴) ایت په اړه فرمایلي دي. وایي چې کله دغه ایت مبارک: وشعراء یتبعهم العاون. ژباړه: ګمرا

هان خلک د شاعرانو پیروي کوي. نازل شو. نو ځینې صحابه کرام رضي الله تعالی عنهم لکه حضرت حسان بن ثابت رضی الله تعالی عنه، حضرت عبدالله بن رواحه رضی الله تعالی عنه او کعب بن مالک رضی الله تعالی عنه په ژړا د نبي کریم ﷺ په حضور کې حاضر شول او ویې ویل چې یا رسول الله ﷺ موږ هم شاعران یو، نبي کریم ﷺ دغه ایت شریف د هغوی د تسلۍ په موخه تلاوت کړ: (( الا الذین امنو و عملوا الصلحت و ذکرو الله کثیراً )) (الشعراء ایت. ۲۲۷)

ژباړه: مګر نهٔ دي هغه کسان چې ایمان یې را وړی او نېک عملونه کوي د الله تعالی ذکر په کثرت سره کوي. له دغه ایت شریف څخه څرګنده شوه، چې ښه شاعري په اسلام مبارک دین کې جواز لري. د موضوع په اړه مناسبه ده چې د رسول اکرم ﷺ هغه مبارک حدیث چې د حضرت عایشې رضی الله تعالی عنها څخه روایت دی هم را وړل شي. حضرت عایشه رضی الله تعالی عنها وایي چې د رسول پاک ﷺ په مخکې مې د شعر ذکر وکړ ( یعنې دا پوښتنه ترې وکړی شوه، چې شعر او شاعري ښه شی دی یا بد؟) نو نبي کریم ﷺ و فرمایل چې (( الشعر کلام حسنه و قبیحه قبیح )) یعنې شعر یو کلام دی چې ښه کلام ښه دی او بد کلام بد. (شاهد، ۲۰۱۸م، ص. ۷۴)

خلفای راشدینو به هم هغه اشعار خوښول، چې په هغو کې به د ښو اخلاقو نصیحت شوی و. حضرت عمر رضی الله تعالی عنه د زهیر په نوم شاعر د شاعرۍ په اړه چې کوم تلقین کړی دی، ډېر پرځای نقد دی. د حضرت عمر رضی الله تعالی عنه هغه الفاظ دا سې وو: (( انه کان لا یعاظل في الکلام و کان یتجنب وحشي الکلام ولم یمدح احداً الا بما فیه )) ژباړه: هغه په وینا کې پېچلتیا نهٔ کوله، له نابلدو او نا اشنا کلمو به یې ځان ساته او د چا مدح او صفت به یې یوازې په هغو صفاتو کولو چې هغه کې به موجود وو. ( بخاري، ۲۰۱٦م، ص. ٦٨)

ګورو چې د رسول اکرم ﷺ مبارک حدیث کې د کلام لفظ را وړلو څخه موخه هم د الفاظو سپېڅلتیا ده. په دې معنا چې په شاعرانه ژبه کې که هغه نظم وي یا نثر الفاظ یې باید سپېڅلي وي او هم یې موضوعات داسې وي، چې په هغو کې حقیقت منعکس شوی وي. همدا رنګه که د شعر په برخه کې د حضرت عمر رضی الله تعالی عنه هغه کلام چې د یوه شاعر په اړه یې وړاندې فرمایلي دي، دا ترې جوتېږي چې یو کلام باید دغه ځانګړنې ولري، الفاظ یې سوچه وي، بې ځایه ستاینه مناسب کار نه بولي.

په شاعرانه ژبه کې الفاظ باید سوچه وي، موضوعات یې حقیقي وي. هر لیکوال یا شاعر چې لیکنه کوي یا شعر لیکي د نورو موضوعاتو تر څنګ د حقیقت او الفاظو سپېڅلتیا ته پاملرنه تر ټولو مهمه موضوع ده. د حقیقت ویلو په موخه نبي کریم ﷺ د غیر مسلمو شاعرانو هم ستاینه کړې ده: (( و عن ابوهریرة رضی الله

تعالی عنه  قال قال رسول الله ﷺ اصدق کلمة قالها الشاعر قول لبید الا کل شیءٍ ما خلا الله باطل.)) ژباړه: له ټولو رښتیا خبره چې کړې ده، هغه د لبید دا خبره ده چې خبردار بې له الله تعالی هر څه باطل (فاني) دي (شاهد، ۲۰۱۸م، ص. ۱۱۶)

د رسول اکرم ﷺ پورتني  حدیث شریف څخه موږ ته دا روښانه شوه، چې په شاعرانه ژبه کې تر ټولو مهمه موضوع دحقیقت بیانول دي. دا چې هره  ټولنه خپل ملي او فرهنګي ارزښتونه لري، الحمدلله افغاني ټولنه یوه اسلامي ټولنه ده، په دې ټولنه کې باید تر هرڅه لومړیتوب د اسلامي ارزښتونو خوندیتوب ته ورکړل شي. په همدې موخه د افغانستان اسلامي امارت رهبر علیقدر امیر المؤالمومنین حفظه الله تعالی  لخوا د مشاعرو د تنظیم په نوم یو فرمان صادر شوی دی، چې پکې د شعر او شاعرۍ اړوند  ټول  هغه موارد  چې د یوې اسلامي ټولنې ورته اړتیا وي واضح شوي دي. په دغه فرمان کې سپارښتنه شوې ده، چې د شاعرانو د شعرونو  په منځپانګه کې داسې موضوعاتو ته ځای ورکړل شي، چې  هغه د ټولنې په اصلاح کې رغنده رول لوبولی شي. د بېلګې په توګه شاعر مکلف دی، چې د شعر په محتوا  کې د دغه ټکي مراعات کړي: اسلامي اخلاق، شرعي سیاست او د نفس تزکیه، د اهل السنة و الجماعت د عقیدې تحکیم، د امت وحدت، اسلامي غوښتنو ته بلنه، د مجازي عشق ناروا خواهشاتو او بې ځایه احساساتو څخه مخنیوی.

د دې ترڅنګ دغه مهم فرمان ځینې نورې برخې هم لري، لکه د هرې مشاعرې لپاره د ارزونې یو پلاوی باید ټاکل شوی وي، چې مسؤلیتونه یې د مشاعرې د ټولو اړخونو ارزونه، د مثبتو او منفي ټکو په ګوته کول، د مثبتو ټکو تکثیرول او د منفي ټکو حذف یا یې په عوض کې د مثبتو ټکو ځای پر ځای کول دي. د علیقدر امیر المؤمنین حفظه الله تعالی په دغه فرمان کې د مکافاتو او مجازاتو برخه هم شته. د مکافاتو برخه هغو شاعرانو اولیکوالانو لپاره ده، چې د شعر او نثر په ژبه یې د ټولنې د اصلاح په برخه کې رول لوبولی وي. د اطلاعات او کلتور وزارت لخو دې یاد شاعران او نثر لیکونکي په مناسبه توګه او د لزوم دید سره سم مکافات شي. د مجازاتو برخه یې  د یاد فرمان له حکمونو څخه د سرغړونې په صورت کې د شریعت له حکمونو سره سم مجازات کېږي، چې په هغه کې د شاعرانو او لیکوالانو سربېره د اطلاعات او کلتور وزارت مسؤلین او کار کوونکي هم شامل دي.

دا د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د مشاعرو د تنظیم فرمان څخه د ځینو هغو مواردو یادونه وشوه،  چې زما د مقالې موضوع سره یې ارتباط درلود. په دغه فرمان کې ډېر مهم مسایل نور هم دي، چې د یوې  اسلامي ټولنې په اصلاح کې د یوه شاعر یا لیکوال له مسؤلیتونو څخه ګڼل کېږي. که چېرې موږ دغه فرمان په دقت سره

مطالعه کړو، څنګه چې د اسلامي شريعت غوښتنه ده، چې د شعر يا هنري نثر منځپانګه او موضوعات بايد څه وي په ټوليز ډول په پام کې نيول شوي دي.

**پايله**

الله تعالی انسان ته پر نورو حيواناتو يوه برتري دا هم ورکړې ده، چې انسان يې د خبرو کولو علم او ځانګړنې څخه برخمن کړی دی. مګر د دغه نعمت تر څنګ يې انسان ته نصيحت کړی دی، چې په استعمال کې يې ډېر احتياط وکړي. په دې معنا چې الله تعالی انسان ته د وينا قوت په نصيب کړی دی، انسان او په ځانګړې توګه، يو مؤمن مسلمان دې د ژبې امانت، که هغه عادي وي يا ادبي مراعت کړي. په ادبي ژبه کې د الفاظو رول تر عادي ډېر مهم دی، ځکه چې شاعر يا ليکوال يوازې د ځان لپاره شعر او نثر نهٔ ليکي، بلکې هغه د ټولنې يو سترګور او يوه شخص دی، د هغه شاعري د يادې ټولنې پانګه او امانت ګڼل کېږي. د يوه شاعر يا ليکوال شاعري او هنري ليکنې د هماغې ټولنې د امانت په توګه دي چې را تلونکي نسلونه هم ترې برخمن کېږي، نو د شاعر او ليکوال لپاره هم اړينه ده، چې خپله ژبه د ټولنې امانت وګڼي، په خپله شاعرۍ او ليکنه کې د الفاظو سپېڅلتياته پاملرنه وکړي. سربېره پر دې که چېرې يو مؤمن مسلمان په خپله شاعرۍ کې د الفاظو سپېڅلتيا ته پاملرنه نهٔ کوي بربنډ او نا مناسبې کلمې په خپلو اشعارو او ليکنو کې راوړي، بيا د جهالت د وخت شاعرانو سره يې توپير هم نشته، ځکه د جهالت د وخت شاعرانو به د الفاظو او موضوعاتو هيڅ پروا نهٔ ساتله هر څه به چې په زړهٔ ورتله، هغه به يې د شعر په ژبه له خولې بيانول. پايله دا چې په دواړو حالتونو کې ټولنه د شاعرانه ژبې څخه بې اغيزې نهٔ ده.

**وړاندزونه**

۱. غوره به وي، چې شعر څېړونکي او کره کتونکي په اشعارو او هنري ليکنو کې د الفاظو سپېڅلتيا ته ځانګړې پاملرنه وکړي.

۲. که را تلونکي کې د پښتو څانګې استادان او محصلان د يادې موضوع پر نورو برخو کار وکړي ترڅو هغه برخې يې هم تحليل او لوستونکي يې له ګټو برخمن شي.

۳. که د پښتو څانګې قدرمن استادان موضوع ته په کتو خپلو محصلانو ته ګروپي او انفرادي کورنۍ دندې ورکړي، ټولګي کې يې پرې ارايه کړي، دا به د محصلانو سره په شاعرانه ژبه کې د الفاظو سپېڅلتيا په اړه پوهېدلو کې د معلوماتو مهمه لاسته را وړنه وي.

# The Sanctity of Words in Poetic Language

Senior Teaching Assistant: Said Marjan Sarwari Lecturer of the Department of Pashto Language and Literature, Faculty of Languages and Literature, Shaikh Zayed University
**Email:** saidmarjansarwari@gmail.com

**Abstract**

From a historical perspective, a comprehensive study of poetry and poetic language shows that literary and poetic critics, alongside other essential elements, strongly emphasize the importance of expressing truth through appropriate and carefully chosen words, giving this aspect particular priority. In the sacred religion of Islam, clear guidance concerning poetry can also be found in the verses of the Holy Qur'an and the Hadiths of the Prophet Muhammad (peace be upon him), especially regarding the language and themes used in poetic expression. Poetic language does not imply a language separate from everyday speech, nor does it require a special or unfamiliar vocabulary. Rather, it refers to language whose words are pure, refined, and morally sound. Poets and writers are therefore expected to ensure that their poetry and prose remain free from vulgar, explicit, or inappropriate expressions .This article, in addition to briefly discussing the concept of poetic language, highlights the value and significance of the sanctity of words in poetry and artistic prose. It demonstrates that when poets and writers employ appropriate, dignified, and pure words, they can present profound and wisdom-filled themes in an effective manner and play a constructive role in the moral and social reform of society. It is the responsibility of poets and writers of poetry and artistic prose to reflect, in accordance with the demands of their time, the social hardships, pain, and Islamic and cultural values of society through an artistic arrangement of words in such a way that it leads to guidance and reform, rather than becoming a means of misguidance.

**Keywords:** Poetry, words, society, sanctity, poetic language.

**اخځلیکونه**

قران کریم

الفت، گل پاچا. (۱۳۸۴ل). د ټولنې په جوړښت کې د اسلام نقش. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

الفت، گل پاچا. (۱۳۸۰ل). ادبي بحثونه. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

ایوبي، محمد نادر. (۱۴۳۴ ق). عرفان. کوټه: صحاف نشراتي مؤسسه.

بخاري، سیدطاهر. (۲۰۱٦ م). تنقید او ادبي مفردات. پېښور: موسی اینډ برادرز پرنټر.

درمل، احسان الله. (۱۳۹۵.ل). شعرستان. کندهار: بېنوا فرهنگي ټولنه.

شاهد ، شرافت علي. (۲۰۱۸ م). شعر او شعریت پېښور: منگل کتاب کور.

مومند، مراد لایق. (۱۳۸۹ل). د حمزه بابا یو شعر. کابل: اسد دانش خپرندویه ټولنه.

نړیوال، رازقي. (۱۴۳۵ق). په پښتو ادب کې عرفاني پلوشې او مذهبي څرکونه. کابل: میوند خپرندویه ټولنه.

https://shariatdaily.com/

# په کوچنیو کاروبارونو د مالیاتو معاف کېدل او د دولت په عوایدو یې اغیزې

پوهنمل اکمال ناصر امیري، شیخ زاید پوهنتون، اقتصاد پوهنځی، منجمنټ، اداره او تشبثاتو څانګه.
akmal.amiri@yahoo.com

**لنډیز**

دا مقاله د مالیاتو د معافیت پر پالیسۍ تمرکز کوي چې د کوچنیو کاروبارونو د ودې او پیاوړتیا لپاره پلي کېږي، خو له بلې خوا د دولت پر عوایدو مستقیم اغېز لري. څېړنه څرګندوي چې د کوچنیو کاروبارونو له مالیاتو معاف کول، د اقتصادي مشارکت، پانګونې او نوي شغلونو د رامنځته کولو له لارې لنډمهاله مثبت اغېز لري خو هم مهاله، که دا معافیتونه د واضحو چوکاټونواو شفافو معیارونو پرته پلي شي، نو د دولت عواید کمېږي، بودیجه زیان ویني، او د عامه خدماتو د تمویل وړتیا له خطر سره مخ کېږي. له همدې امله، د سیاست جوړوونکو لپاره اړینه ده چې متوازن، هدفمند او ارزول شوي معافیتونه رامنځته کړي، چې د ودې هڅونه او د مالیې ثبات دواړه تضمین کړي. د څېړنو پایلې ښیي چې د مالیاتو معاف کول، که څه هم په لنډ مهال کې د کوچنیو کاروبارونو لپاره اقتصادي اسانتیاوې رامنځته کوي، خو دا باید د واضحو شرایطو، ټاکلي مودې، او هدفمند معیارونو له مخې تنظیم شي. که دا سیاست بې کنټروله وي، نو د دولت د عوایدو کچه اغېزمنوي او د بودیجې د عدم توازن لامل ګرځي. له همدې امله، لازم ده چې د مالیاتو معافیت یوازې هغو سوداګریزو واحدونو ته ورکول شي چې واقعاً د ملاتړ وړ دي او د وخت له تیریدو سره دا سیاست له معافیت څخه منظم مالیاتي مشارکت ته انتقال شي.

**کلیدي کلیمې:** سوداګري، عواید، کوچني کاروبارونه، مالیات، معافیت

**سريزه**

**بسم الله الرحمن الرحيم، الحمد لله رب العلمين والصلاة والسلام على سيد المرسلين وعلى اله واصحابه اجمعين !**

**"وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَىٰ وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ ۚ. سورة المائدة – آيت– ۲**

**ژباړه:**"د نېکۍ او تقوی په چارو کې يو له بل سره مرسته کوئ، او په ګناه او تېري کې مرسته مه کوئ."

په کوچنيو کاروبارونوکې د مالياتو معاف کېدل د اقتصادي ودې لپاره يوه اغېزمنه پاليسي ده چې د خصوصي سکټور د پياوړتيا او ټولنيز پرمختګ لپاره بنسټيز اهميت لري. کوچني کاروبارونه معمولاً د محدودو منابعو، کمې پانګې او ابتدايي ستونزو سره مخ وي، چې د مالياتو د بار له امله يې پر ودې او فعاليت ژور اغېز پرېوځي. د مالياتو معافيت د دې کاروبارونو لپاره يو اقتصادي تنفس برابروي چې دوی ته اجازه ورکوي خپل عوايد په خپلو عملياتو، توليدي فعاليتونو او د بازار پراختيا کې پانګونه وکړي. د دې ترڅنګ، معافيتونه د نوو کاروبارونو د رامنځته کېدو لپاره يو د محرک حيثيت لري، چې په پايله کې په ټولنه کې د روزګار فرصتونه زياتوي، د بې وزلۍ کچه راټيټوي، او د سيمې اقتصادي حالت ښه کوي. که څه هم په لنډ مهال کې د مالياتو معافيت د دولت د عوايدو په کچه منفي اغېز لرلی شي، خوپه اوږدمهال کې ، د دې کاروبارونو د ودې له برکته د مالياتو د بنسټ پراخوالی او عوايدو زياتوالی تضمينېدای شي. برسېره پردې، دغه تګلاره د ټولنيز عدالت د تأمين لپاره هم اړينه ده، ځکه چې کوچني کاروبارونه اکثراً د هغو کسانو په واک کې وي چې د لږو اقتصادي منابعو لرونکي وي او د پراخې مالي مرستې اړتيا لري. په پايله کې، د مالياتو معاف کول نه يوازې د کاروبارونو ودې ته لار هواروي، بلکې د ټولنې په اقتصادي او ټولنيز جوړښت کې د مثبتو بدلونونو سبب ګرځي. دا مقاله په کوچنيو کاروبارونوکې د مالياتو معاف کېدل د اوسني وضعيت، اقتصادي فعاليتونو باندې د هغې اغېزو، او د پرمختګ په وړاندې د خنډونو او فرصتونو تحليل وړاندې کوي، او د پاليسۍ جوړونکو لپاره عملي سپارښتنې وړاندې کوي. سربيره پردې، د کوچنيو کاروبارونو لپاره د مالياتو مفهوم بايد له دواړو خواوو – دولت او سوداګرو – څخه په متقابل باور ولاړ وي. دولت بايد شفافه او منصفانه مالياتي پاليسي ولري، څو کوچني کاروبارونه ډاډمن شي چې د دوی ماليات پر ځای لګول کېږي. له بل پلوه، سوداګر بايد درک کړي چې د دوی مالي مشارکت د اقتصادي ودې لپاره مهم دی. د فهيمي په وينا، که چيرې کوچني کاروبارونه د مالياتو له اهميت سره اشنا شي او د معقولو امتيازاتو په بدل کې ماليات ورکړي، نو دا به د دولت عوايد زيات کړي او هم به د کاروبارونو پراختيا ته لاره هواره کړي.

## د څېړنې ستونزه

د کوچنيو کاروبارونو خاوندان اکثر له ډېرو مشکلاتو سره مخ وي، لکه د مالياتو درونډ بار، د پانګې کمښت، د دولت لخوا کم ملاتړ، او د بازار سختې سيالۍ.

که يو کوچنی کاروبار په لومړيو کلونو کې ډېره ګټه ونه کړي، د مالياتو ورکړه ورته د بقا لويه ستونزه جوړه شي. کله ناکله کاروبارونه خپل ټول عايدات د کارمندانو په معاشونو، د موادو په اخيستلو، او يا د اجارې په ورکړه مصرفوي، او د مالياتو لپاره ورته هېڅ نه پاتې کېږي. له بلې خوا، د مالياتو ورکړه هغه کاروبارونه چې لا د ودې په کې دي، دې ته اړ کوي چې يا خپل فعاليت کم کړي يا کاروبار بند کړي.

په ډېرو ټولنو کې، کوچني کاروبارونه د عادي خلکو د ګټې اخيستنې لويه وسيله وي، او که دوی سره مرسته ونه شي، نو نه يوازې د دوی د کاروبار راتلونکی خرابېږي، بلکې په ټولنه کې د بې وزلۍ او بېکارۍ ستونزې هم زياتېږي. دغې اړتيا زه دلته وهڅولم چې د مالياتو معافيت او د دولت عوايدو په دې اړيکه ليکنه وکړم، تر څو په دې اړه عامه پوهاوی زيات شي او حکومتونه دې ته وهڅول شي چې کوچنيو کاروبارونو سره مرسته وکړي.

## د څېړنې موخې

نوموړې علمي مقاله د لاندې څو مهمو موخو د ترلاسه کولو لپاره ليکل شوې ده:

- د مالياتي معافيتونو پر کوچنيو کاروبارونو د اغېزو ارزونه.
- د کوچنيو کاروبارونو د ودې لپاره د مالياتو معافيت اهميت څرګندول.
- پر دولتي عوايدو د مالياتو معافيت لنډمهاله او اوږدمهاله اغېزو څېړل.
- د کوچنيو کاروبارونو لپاره د ملاتړ په توګه د دولت د رول ارزونه.
- د مالياتي شفافيت، راټولونې ميکانېزمونو، او د غير رسمي اقتصاد د رسمي کولو سره د مالياتو معافيت ارتباط تحليلول.

## د څېړنې پوښتنې

۱. ايا د مالياتو معاف کول کولی شي هممهاله د کوچنيو کاروبارونو وده تضمين کړي او د دولت عوايد له ستونزو سره مخ نه کړي؟
۲. د مالياتي معافيتونو تطبيق پر کوچنيو کاروبارونو څه ډول اقتصادي اغېز لري؟
۳. آيا مالياتي معافيتونه واقعاً د کوچنيو کاروبارونو د ودې لپاره مؤثره وسيله ده؟
٤. د مالياتو معافيت د دولت د عوايدو په لنډمهاله او اوږدمهاله جوړښت څه ډول اغېز لري؟

5. دولت څه ډول کولی شي د مالیاتو معافیت له لارې کوچني کاروبارونه پیاوړي کړي او عواید هم وساتي؟

## د څېړنې اهمیت

دا څېړنه نه یوازې د علمي ارزښت درلودونکي ده، بلکې د اقتصادي او ټولنیز پلوه هم د ډېر ارزښت څخه برخمنه ده چې په لاندې ډول ورته اشاره کوو:

په کوچنیو کاروبارونو د مالیاتو معاف کېدل د هر پرمختګ غوښتونکي هیواد لپاره ځانګړی ارزښت لري.کوچني کاروبارونه د ټولنې په اقتصادي ودې، د کاري فرصتونو په زیاتوالي او د کورنیو عوایدو د لوړوالو په برخه کې بنسټیز رول لري. له همدې امله ډېری هیوادونه هڅه کوي چې ددغو کاروبارونو لپاره مناسب چاپېریال برابر کړي او د مالیاتي معافیت له لارې یې ملاتړ وکړي. دا موضوع په ځانګړې ډول په دې برخه کې اهمیت لري چې د مالیاتو معاف کېدل له یوې خوا د کاروباري فعالیتونو د ودې سبب ګرځي او له بلې خوا د دولت په عوایدو مستقیمه اغیزه کوي. که څه هم د مالیاتو معافیت د کاروبارونو لپاره د مالي اسانتیا وسیله ګڼل کیږي، خو په اوږد مهال کې ددولت عوایدو کمښت ته هم لاره پرانیزي، چې دا خپله د ملي بودیجې په توازون، د دولت د پرمختیایي پرژو په پلي کېدو او د عامه خدماتو پر کیفیت اغیزه کوي. په همدې دلیل ددغې موضوع څېړل اړین دي تر څو څرګنده شي چې څنګه د مالیاتو معاف کېدل د کوچنیو کاروبارونو په پرمختیا او بقاءاغېزه لري او دولت څنګه کولی شي د مناسبې مالیاتي پالیسۍ له لارې هم د کاربارونو ملاتړ وکړي او هم خپل عواید خوندي وساتي په همدې توګه، دا څېړنه د مالي پالیسۍ جوړونکو، اقتصاد پوهانو، د کاروبار خاوندانو او د ټولنې د نورو ګټه اخیستونکو لپاره عملي او نظري لارښونې وړاندې کولی شي. د یادوني وړ ده چې زموږ په هیواد کې د مالیاتي سیستم د نیمګړتیاوو او د کوچنیو کاربارونو د نه رسمي کېدو له امله ډېری خلک د مالیاتو له ورکړې تښتي چې دا خپله د عوایدو د کمښت لوی لامل دی. په همدې تړاو د اغیز ناکو اصلاحاتو او پالیسیو لپاره دا څېړنه ډېره اړینه ده.

## تیرو څېړنو ته کتنه

نړیوالې څېړنې ښیي چې د مالیاتو بار کمول د کاروبارونو د ودې کولو لپاره اساسي رول لري. د کوچنیو کاروبارونو لپاره د مالیاتو اسانتیاوې یوه پراخه منل شوې اقتصادي ستراتېژي ده چې موخه یې د اقتصادي ودې پراختیا ده. د جان ډیوس (۲۰۱۵)، سارا کلارک (۲۰۱۸)،او ریچارډ براون (۲۰۲۰) په نومونو آثارو ، شواهد ښیي چې د مالیاتو بار ټیټول د کاروبارونو د پانګونې وړتیا زیاتوي، د نوښت او تولید زمینه برابروي، او په پایله کې د

اقتصادي ودې، د کار زېرمو د پیداکېدو، او د بیکارۍ د کچې د راټیټېدو لامل ګرځي. ددې څېړنې په دې ټکي کې سره ګډېږي چې د مالیاتي هڅونو اوږد مهاله ګټې د دولت د عوایدو د لنډمهاله کمښت په پرتله ډېرې ارزښتمنې دي.که څه هم درې واړه آثار د مالیاتي اسانتیاوو په ګټو ټینګار کوي، خو هریو یو څه جلا اړخ څېړلی دی. جان ډیوس (۲۰۱۵) په ځانګړې توګه د نوو ټکنالوژیو په پلي کولو کې د پانګونې رول څېړلی دی. سارا کلارک (۲۰۱۸) د مالیاتو معافیتونه د کارکوونکو د روزنې او بازارموندنې لپاره د سرچینو د خوشې کولو یوه لاره بولي. ریچارډ براون (۲۰۲۰) بیا په دې ټینګار کوي چې دا پالیسي د نوو کاروبارونو د پیل کولو لپاره حیاتي اهمیت لري، ځکه چې دوی د پیسو د جریان ستونزې حلوي او د دیوالیتوب څخه یې ژغوري. د ټولو مطالعاتو ترمنځ یوه مشترکه سپارښتنه داده چې دولتونه باید د کوچنیو کاروبارونو د ودې او دوام لپاره د مالیاتو اسانتیاوې په خپلو اقتصادي پلانونو کې شاملې کړي. د دوی په وینا، دا پالیسي یو ستراتیژیک پلان دی چې په اوږد مهال کې به د دولت عواید د اقتصادي پراختیا او د کاروبارونو د ډېرېدو له لارې په طبیعي ډول لوړ شي. د دې تر څنګ، پالیسي جوړونکي باید د لنډمهاله عوایدو د کمښت ستونزه د اوږد مهالو اقتصادي ګټو په پرتله مهمه وبولي. په پایله کې، دا درې علمي آثار قوي شواهد وړاندې کوي چې د کوچنیو کاروبارونو لپاره د مالیاتو معافیتونه یوه بریالی اقتصادي ستراتیژي ده. د دې پالیسي له لارې نه یوازې چې کاروبارونه پیسو ته لاسرسی مومي تر څو خپل فعالیتونه پراخ کړي، بلکې په ټولنه کې د اقتصادي ژوندانه د ګړندي کېدو، د بیکارۍ د کچې د راټیټېدو، او د دولت د عوایدو د اوږد مهالي ودې لامل هم ګرځي. له همدې امله، د مالیاتو اسانتیاوې د پرمختللو اقتصادونو یوه اساسي برخه بلل کېږي

**مېتودولوژي**

**د کار مواد او مېتود**

دا څېړنه د کیفي مېتود پربنسټ ولاړه ده. اړوند معلومات د کتابخانوي منابعو، علمي مقالو، راپورونو او انټرنیټي منابعو څخه راټول شوي دي. د نړیوالو تیوریکي چوکاټونو په مرسته د کوچنیو کاروبارونو وضعیت، ستونزې او فرصتونه تحلیل شوي، او د پراختیا لپاره عملي او علمي سپارښتنې وړاندې شوي دي.

**لومړی برخه: کوچني کاروبارونه او د مالیاتو مفهوم**

کوچني کاروبارونه د اقتصادي واحدونو هغه ډول دی چې د پانګې، کارکوونکو شمېر او بازار ونډې له پلوه له منځنیو او لویو شرکتونو سره توپیر لري. دا کاروبارونه د محلي اړتیاوو د پوره کولو، د کاري فرصتونو د رامنځته کولو او د اقتصادي پراختیا د هڅونې له امله د اقتصاد بنسټیز عنصر ګڼل کېږي. د حسینی (۱۳۹۵) په وینا، کوچني کاروبارونه د انعطاف او د چټک تصمیم نیولو له امله د اقتصادي ودې لپاره ځانګړی ارزښت لري.

مالیات د دولت د عوایدو اساسي سرچینه ده چې د عامه خدماتو د تمویل، اقتصادي پرمختګ او د دولت د بنسټونو د چټک فعالیت لپاره راټولېږي. د فهیمی (۱۳۹٦) په وینا، مالیات یوازې د پیسو راټولونه نه دي، بلکې د اقتصادي عدالت، د پانګوالو د تشویق او د دولت او وګړو ترمنځ د متقابل باور د جوړولو وسیله ده.

**کوچني کاروبارونه څه دي؟**

کوچني کاروبارونه هغه اقتصادي واحدونه دي چې د پانګې، کارکوونکو شمېر، او بازار ونډې له منځنیو او لویو شرکتونو سره توپیر لري. دا ډول کاروبارونه معمولاً د محلي اړتیاوو پر بنسټ راټوکېږي، د کورنیو، انفرادي اشخاصو یا کوچنیو شریکانو له خوا پر مخ وړل کېږي، او د تولید، خدمت یا سوداګرۍ په برخه کې فعالیت کوي. له اقتصادي پلوه، کوچني کاروبارونه د انعطاف، چټک تصمیم نیولو او د نوښت ظرفیت لري، چې دا ځانګړتیاوې دوی ته د اقتصادي پراختیا او د کاري فرصتونو د رامنځته کولو په برخه کې ځانګړې ارزښت ورکوي (حسینی، ۱۳۹۵، ص ۷۳).

په ډېرو هېوادونو کې کوچني کاروبارونه د اقتصادي جوړښت مهمه برخه جوړوي. دکتور حسین حسینی په خپل اثر "اقتصاد و توسعه در ایران" کې یادونه کوي چې د ایران د اقتصادي ودې لپاره کوچني او منځني شرکتونه د تولید، نوښت، او صادراتو د ودې اصلي سرچینې ګڼل کېږي. دا ډول کاروبارونه نه یوازې د داخلي بازار اړتیاوې پوره کوي، بلکې د ارزښت د زنځیر د پیاوړتیا له لارې د نړیوالو بازارونو ته د ننوتلو فرصتونه هم رامنځته کوي. له همدې امله، دولتونه باید د داسې واحدونو ملاتړ ته ځانګړې پاملرنه وکړي (حسینی،۱۳۹۵، ص ۹۱).

له ټولنیز پلوه، کوچني کاروبارونه د بېوزلۍ د کچې د راټیټولو، د کار زمینې د رامنځته کولو، او د ټولنیز ثبات د ټینګښت لپاره اغېزناک رول لري. د حسینی په وینا، کله چې کوچني کاروبارونه ملاتړ ترلاسه کړي، نو دا واحدونه کولی شي د ټولنې اقتصادي فعالیتونه پیاوړي کړي او له خلکو سره د عوایدو په لاسته راوړلو کې مرسته وکړي. همدارز، دا کاروبارونه د مهاجرت مخه نیسي، ځکه چې خلک کولای شي په خپلو سیمو کې دوامداره عاید ولري (حسینی، ۱۳۹۵، ص ۱۰۵).

په پای کې، کوچني کاروبارونه د اقتصادي پراختیا د بنسټونو څخه شمېرل کېږي، خو دا پرمختګ یوازې هغه وخت تضمینېږي چې دولت ورته لازمې اسانتیاوې، لکه مالیاتي معافیتونه، وړ مالي خدمات، او تخنیکي ملاتړ برابر کړي. حسینی وایي، که چیرې د دولت سیاستونه د کوچنیو کاروبارونو د اړتیاوو پر بنسټ تنظیم شي، نو دا واحدونه کولی شي د دولت لپاره د عوایدو سرچینې هم وګرځي او د اقتصادي پیاوړتیا بنسټ جوړ کړي (حسینی، ۱۳۹۵، ص ۱۱۲).

### مالیات او د مالیاتو مفهوم

مالیات د دولت له اساسي عوایدو څخه شمېرل کېږي، چې د ټولنې له افرادو، شرکتونو او ادارو څخه د قانون له مخې راټولېږي، څو د عامه خدماتو تمویل، اقتصادي پرمختګ، او د دولت د بنسټونو چټک فعالیت یقیني کړي. مالیات یوازې د پیسو راټولونه نه دي، بلکې دا یوهستره وسیله ده چې د اقتصادي عدالت، د پانګوالو د تشویق، او د دولت او وګړو ترمنځ د متقابل باور د جوړولو لپاره کارول کېږي. د دولت د پایداره تمویل ستره سرچینه مالیات دي.

په افغانستان کې د مالیاتو مفهوم لا هم د پراخ وضاحت او عامه پوهاوي اړتیا لري. ډېری کوچني کاروبارونه مالیات یوازې د تاوان او بار په توګه ګڼي، حال دا چې مالیات په اصل کې د هغو خدماتو قیمت دی چې دولت یې د وګړو د امنیت، تعلیم، روغتیا، او زیربنا لپاره برابروي. د مالیاتو نه ورکړه یا د مالیاتي قانون له پامه غورځول د دولت د عوایدو کموالی، او له دې امله د خدماتو کیفیت ټیټېدل را منځ ته کوي. له همدې امله، د مالیاتو د مفهوم وضاحت او عامه پوهاوی یو بنسټیز ګام دی، چې باید د کوچنیو کاروبارونو له لارې هم وده ورکړل شي (فهیمی، ۱۳۹۶، ص ۳۰).

د مالیاتو مفهوم باید د ټولنیز مسؤولیت له زاویې هم وکتل شي. کله چې وګړي او کاروبارونه مالیات ورکوي، هغوی په حقیقت کې د خپل هېواد د پرمختګ برخه ګرځي. دا یو ګډ مسؤلیت دی چې له لارې یې دولت کولی شي د بې وزلۍ، روغتیایي ستونزو، او تعلیمي خنډونو پر ضد مبارزه وکړي. که چیرې دا ذهنیت رامنځته شي چې مالیات ورکول د ټولنې د خیر لپاره دي، نو نه یوازې به د مالیاتو راټولول اسان شي، بلکې د دولت او ملت ترمنځ اړیکې به هم پیاوړې شي (فهیمی، ۱۳۹۶، ص ۳۵).

په ځانګړي ډول، د کوچنیو کاروبارونو لپاره د مالیاتو مفهوم باید له دواړو خواوو – دولت او سوداګرو – څخه په متقابل باور ولاړ وي. دولت باید شفافه او منصفانه مالیاتي پالیسي ولري، څو کوچني کاروبارونه ډاډمن شي چې د دوی مالیات پر ځای لګول کېږي. له بل پلوه، سوداګر باید درک کړي چې د دوی مالي مشارکت د اقتصادي ودې لپاره مهم دی. د فهیمی په وینا، که چیرې کوچني کاروبارونه د مالیاتو له اهمیت سره اشنا شي او د معقولو امتیازاتو په بدل کې مالیات ورکړي، نو دا به د دولت عواید زیات کړي او هم به د کاروبارونو پراختیا ته لاره هواره کړي (فهیمی، ۱۳۹۶، ص ۴۲).

**دویمه برخه: د مالیاتو معافیت او د کوچنیو کاروبارونو پر وده اغېزې**

د مالیاتو معافیت د کوچنیو کاروبارونو لپاره د دولت یوه مهمه اقتصادي تګلاره ده چې موخه یې د پانګونې هڅونه، د نوو کاروبارونو رامنځته کول او د اقتصادي فعالیتونو پراخوالی دی. د احمدزی (۱۳۹۸) په وینا، د مالیاتو معافیت د کوچنیو کاروبارونو لپاره د مالي فشار د کمولو او د پانګونې د هڅونې لپاره حیاتي اهمیت لري.

**دریيمه برخه: د مالیاتي معافیتونو مثبتې او منفي اغېزې**

**مثبتې اغېزې:**

۱. د پانګونې هڅونه
۲. د کار موندنې زیاتوالی
۳. د نوو کاروبارونو رامنځته کول
٤. اقتصادي ودې ته لاره هوارول

**منفي اغېزې**

۱. د دولت د عوایدو کمښت
۲. د بازار ناعادلانه سیالي
۳. د فساد امکان
**٤.** د غیررسمي اقتصاد پراخوالی

د نیکوکار (۱۳۹۶) په وینا، د مالیاتو معافیتونه که څه هم د کوچنیو کاروبارونو د ودې لپاره ګټور دي، خو د دولت د عوایدو د کمښت او د بودیجې د کسر لامل هم ګرځي.

**څلورمه برخه: د مالیاتي معافیتونو د تطبیق ستونزې**

۱. د مالیاتي معافیتونو د تطبیق لپاره لاندې ستونزې شته:
۲. د شفافیت نشتوالی
۳. د معافیت شرایطو ناسم تعریف
٤. د نظارت کمښت
۵. د سوء استفادې امکان
٦. د ارزونې نشتوالی

د رضایي (۱۳۹۸) په وینا، د مالیاتي معافیتونو تطبیق یوازې هغه وخت بریالی کېدای شي چې د شفافیت، نظارت او ارزونې میکانیزمونه په کې شامِل وي.

### مالیاتو ډولونه

### مستقیم مالیات

مستقیم مالیات هغه ډول مالیه ده چې د شخص یا شرکت د عوایدو، ملکیت، یا شتمنیو پر بنسټ ټاکل کېږي او مستقیم له مالیه ورکوونکي څخه اخیستل کېږي. دا ډول مالیات اکثراً د عوایدو مالیه، د ملکیت مالیه، او د شرکتونو ګټه مالیه په بر کې نیسي. دا مالیه معمولاً د دولت د ثابتو عوایدو مهمه برخه جوړوي، او د عادلانه مالیاتي سیستم لپاره ارزښتناک ګڼل کېږي، ځکه چې د مالیه ورکولو ظرفیت ته پام پکې کېږي. دا ډول مالیات د کوچنیو کاروبارونو لپاره یوه مهمه مسئله ده، ځکه هغوی د عوایدو له محدودیتونو سره وي او دا ډول مالیات کولای شي د دوی د ودې مخه  ونیسي.

### غیرمستقیم مالیات

غیرمستقیه مالیه هغه مالیه ده چې د مصرف پر مهال تر لاسه کېږي، لکه د خرڅلاو مالیه، ګمرکي محصول، او خدماتي مالیه. دا ډول مالیات مصرف کوونکي ورکوي، خو راټولونه یې له سوداګرو یا تولیدوونکو څخه ترسره کېږي. د غیرمستقیم مالیاتو ګټه دا ده چې راټولول یې نسبتاً اسانه دي، خو نیمګړتیا یې دا ده چې پر ټولو خلکو یو ډول بار واردوي، پرته له دې چې د هغوی د عوایدو کچه وکتل شي. د کوچنیو کاروبارونو له نظره، غیرمستقیم مالیات کولای شي د مصرف کمښت ته لاره هواره کړي، چې بالاخره د دوی د عوایدو پر کمښت اغېز کوي (فاطمي، ۱۳۹٦، ص ۱۸۹).

### د مصرف مالیه (مالیات بر ارزش افزوده)

د ارزښت زیاتوالي مالیه یا VAT هغه غیرمستقیه مالیه ده چې د هر تولیدي یا خدماتي پړاو پر ارزښت زیاتوالي وضع کېږي. دا مالیه له ننه ټولو تولیدوونکو او پلورونکو څخه اخیستل کېږي، خو پای کې د مصرف کوونکي له لوري ورکول کېږي. که څه هم دا سیستم د مالیاتو راټولولو مؤثره وسیله ده، خو د کوچنیو کاروبارونو لپاره د حسابدارۍ، راپور ورکولو، او نقدیني جریانونو له پلوه یو ډول بار ګڼل کېږي. ډېری وخت کوچني کاروبارونه له داسې ظرفیت څخه بې برخې وي، چې د دې ډول مالیاتو غوښتنې پوره کړي (فاطمي، ۱۳۹٦، ص ۱۹۵).

## گمرکي مالیات

گمرکي مالیه هغه مالیه ده چې پر وارداتي یا صادراتي توکو وضع کېږي. دا مالیات د دولت لپاره د عوایدو یوه مهمه سرچینه ده، او همداراز د داخلي تولید د ملاتړ وسیله هم ګڼل کېږي. د کوچنیو کاروبارونو لپاره چې وارداتي مواد یا وسایل کاروي، د ګمرکي مالیاتو لوړوالي د تولید لګښتونه زیاتوي او د رقابت وړتیا کموي. برعکس، که معاف شي، نو دا کاروبارونه کولی شي د وارداتي موادو له ارزانه ترلاسه کولو سره خپل تولید پراخ کړي.

## د سوداګریزو فعالیتونو مالیات

دا ډول مالیات مشخصاً د اقتصادي یا سوداګریزو فعالیتونو پر بنسټ راټولیږي، لکه د شرکتونو د ګټې مالیه، د خدماتو مالیه، او د جوازونو فیسونه. دا مالیات د کاروبار پر اندازې، عوایدو، یا د فعالیت ډول پورې اړه لري. د کوچنیو کاروبارونو د ودې لپاره، د دغو مالیاتو کمښت یا معافیت حیاتي اهمیت لري، ځکه چې دا ډول کاروبارونه اکثر کم ظرفیت لري او مالیاتي فشارونه یې سوداګریز رشد محدودوي (فاطمي، ۱۳۹۶، ص ۲۰۷).

## د مالیاتو معافیت څه ته وایي؟

مالیاتو معافیت د یوې ادارې یا شخص له لوري له دولت څخه هغه قانوني امتیاز ته ویل کېږي چې پر بنسټ یې د عاید یا شتمنی یوه ټاکلې برخه د مالیاتو له ورکولو څخه مستثنا کېږي. دا معافیتونه زیاتره وخت د دولت له لوري د خاصو اقتصادي یا ټولنیزو موخو د پوره کولو لپاره کارول کېږي، لکه د کوچنیو کاروبارونو هڅونه، یا د خیریه سازمانونو ملاتړ. دا قانوني طریقه د یوې پالیسی د برخې په توګه دولت ته دا اسانتیا برابروي چې د وګړو، شرکتونو، او ټولنو اقتصادي وضعیت ته په کتو مناسب امتیاز ورکړي (کریمي،۱۳۹۷، ص ۲۹۹).

د مالیاتو معافیتونه بېلابېل ډولونه لري، چې مشهور یې عبارت دي له: بشپړ معافیت (هیڅ مالیه نه اخیستل کېږي)، نسبي معافیت (یوه ټاکلې اندازه عواید یا شتمني تر یوې کچې معاف وي)، او د وخت معافیت (په موقتي ډول د مالیاتو نه اخیستل). ځینې وختونه د تولیداتو یا صادراتو پر بنسټ هم شرکتونه د معافیت مستحق ګرځي، چې دا بهیر زیاتره د صنعتي پراختیا یا د صادراتو زیاتولو لپاره کارول کېږي.

د مالیاتو د معافیت تطبیق ځانګړي شرایط لري. معمولاً دولت د هغو اشخاصو، شرکتونو یا سازمانونو لپاره دا امتیاز برابروي چې یا نوې پانګونه کوي، ټولنیز خدمتونه ترسره کوي، یا د عامه ګټو لپاره فعالیتونه لري. د معافیت لپاره دا مهمه ده چې غوښتنلیک ورکوونکی د مالیاتو قانون ته وفادار وي، له قانوني اسنادو سره سم عمل کوي، او معیاري راپورونه وړاندې کوي. په دې شرطونو سره، د مالیاتو اداره دا امتیاز ورکوي.

کوچني کاروبارونه زیاتره د معافیت مهم مستحقین دي، ځکه دوی اقتصادي ثبات، کاري فرصتونه او نوښتونه زیاتوي. دولتونه هڅه کوي چې د مالیاتو له پلوه دا کاروبارونه تشویق کړي ترڅو دوی وده وکړي، پراخ شي او

له خپل تولید سره د ملي عوایدو برخه شي. د معافیت له لارې کوچني کاروبارونه کولای شي خپلې عایداتي سرچینې وساتي، پانګونه وکړي او نوي فرصتونه رامنځته کړي.

که څه هم د مالیاتو معافیتونه لنډمهاله عواید کموي، خو اوږدمهاله اغېز یې دا وي چې د کاروبارونو پراخوالی، د کار موندنې زیاتوالی او د عایداتو زیاتوالی رامنځته کوي. یعنې، که دولت یو کوچني کاروبار ته مالیاتي معافیت ورکړي، نو دا کار کولای شي چې په راتلونکو کلونو کې د زیاتې مالیې د راټولیدو زمینه برابره کړي. دا یو ډول پانګونه ده چې لومړی دولت تاوان زغمي، خو وروسته ګټه کوي (کریمي،۱۳۹۷، ص ۳۰۶).

د مالیاتو معافیت نه یوازې اقتصادي بلکې رواني او ټولنیز اغېز هم لري. دا چاره په خلکو کې د دولتي پالیسیو پر وړاندې د باور فضا رامنځته کوي، ځکه خلک احساس کوي چې دولت یې وضعیت درک کړی او همکاري ورسره کوي. همداراز، معافیتونه د ټولنیز فشار د کمېدو، د نوښت د هڅونې او د عادلانه اقتصادي فرصتونو د رامنځته کولو لپاره مهم رول لري (حقیار،۱۳۹۴، ص ۱۴۵).

د امیرالمومنین حفظه الله فرمان د کوچنیو کاروبارونو او نورو سکتورونو لپاره په لاندې ډول د مالیې د معافیت ټاکلی.

**۱ .د کوچنیو کاروبارونو لپاره معافیت**

د فرمان له مخې، دغه معافیت د کال په اوږدو کې عاید تر ۲۰۰،۰۰۰ افغانیو پورې له مالیاتو معاف دی. که چېرې عاید له دې حد څخه ډیر شي، نو یوازې د لوړوالي برخه به د ٪۰.۳ ) درې اعشاریې درې سوه په کچه مالیه تادیه کړي.

**۲ .د خصوصي روغتونونو لپاره معافیت**

نوي جوړ شوي خصوصي روغتونونه (شفاخانې) هم په دې فرمان کې شامل دي. دوی د جوړېدو لومړی کال کې په بشپړ ډول له مالیاتو معاف دي. دویم کال د دوی لپاره مالیه په ٪۲ کچه ټاکل شوې ده.

**۳ .د نشر او اعتبار وخت**

دا فرمان په رسمي ډول د عدلیې وزارت په رسمي جریدې کې چاپ او خپور شوی، تر څو قانوني اعتبار ولري. یادونه ده چې دا فرمان د ۱۴۰۳ کال په پیل کې خپور شوی دی .

**د فرمان اصلي متن څنګه پیدا کړئ؟**

د دې لپاره چې تاسو په خپل ځان فرمان وګورئ، د عدلیې وزارت ویبپاڼې ته لاړ شئ او د دې لپاره لاندې لارې کاروئ:

**د PDF فایل پرانیستل**

د فرمان اصل قانوني متن په عدلیې وزارت ویبپاڼه کې د جریدې شماره ۱۴۳۲ په PDF فایل کې شامل دی. تاسو کولی شئ د دې فایل لپاره مستقیم لینک په لاندې ډول وکاروئ:

https://moj.gov.af/sites/default/files/og_01432.pdf

**پایله**

د مالیاتو معافیت د کوچنیو کاروبارونو د ودې لپاره یوه مهمه تګلاره ده، خو دا باید د واضحو شرایطو، ټاکلې مودې او هدفمند معیارونو له مخې تطبیق شي. که دا سیاست بې کنټروله وي، نو د دولت د عوایدو کمښت او د بودیجې عدم توازن لامل ګرځي.

د څېړنو پایلې ښیي چې د مالیاتو معاف کول، که څه هم په لنډ مهال کې د کوچنیو کاروبارونو لپاره اقتصادي اسانتیاوې رامنځته کوي، خو دا باید د واضحو شرایطو، ټاکلي مودې، او هدفمند معیارونو له مخې تنظیم شي. که دا سیاست بې کنټروله وي، نو د دولت د عوایدو کچه اغېزمنوي او د بودیجې د عدم توازن لامل ګرځي. له همدې امله، لازم ده چې د مالیاتو معافیت یوازې هغو سوداګریزو واحدونو ته ورکول شي چې واقعاً د ملاتړ وړ دي، او د وخت له تیریدو سره دا سیاست له معافیت څخه منظم مالیاتي مشارکت ته انتقال شي.

د مالیې د معافیت سیاست باید د اقتصادي هڅونې او د عوایدو د ساتنې ترمنځ توازن رامنځته کړي. د څېړنو پراساس، دا توازن یوازې هغه وخت امکان لري چې دولتونه هممهاله د مالیاتي اصلاحاتو، د مالیاتو د راټولولو د موثریت لوړولو، او د سوداګریزو قوانینو د ساده کولو پروګرامونه تطبیق کړي. یعنې، د مالیاتو معاف کول باید د پراخې اقتصادي پالیسۍ یوه برخه وي، نه یوازې یو جدا اقدام. دا ډول همغږي اقدامات کولی شي د عوایدو منظم بهیر وساتي او له بله لوري کوچني کاروبارونه هم تشویق کړي چې خپل فعالیتونه پراخ کړي او د ملي اقتصاد برخه شي.

**وړاندیزونه**

۱) د مالیاتو معافیت یوازې د نویو کاروبارونو لپاره د ټاکلې مودې لپاره وي.
۲) هر معاف شوی کاروبار کلنۍ ارزونې ته تابع شي.
۳) معافیت د قانوني ثبت او شفاف حساب ورکولو شرط ولري.
٤) د مالیاتو راټولولو سیستم عصري او مؤثر شي.
۵) د مالیې تادیه ساده او د کاروبارونو لپاره اسانه شي.

### د راتلونکي لیدلوری

د کوچنیو کاروبارونو د مالیاتي معافیتونو بریالیتوب د لاندې عواملو پورې اړه لري:

۱. د شفافیت تضمین
۲. د هدفمند پالیسۍ تطبیق
۳. د نظارت میکانیزمونو شتون
٤. د ارزونې سیستم
۵. د عوایدو د بدیلو سرچینو پراخول

په پایله کې، د مالیاتو معافیت د کوچنیو کاروبارونو د ودې لپاره یوه اغېزناکه وسیله ده، خو د دې لپاره چې دا سیاست په اوږد مهال کې پایداره وي، اړینه ده چې د دولت د عوایدو او د کاروبارونو د ودې ترمنځ متوازن توازن وساتل شي

**مناقشه**

که څه هم د کوچنیو کاروبارونو لپاره د مالیاتو معاف کول د متشبثینو لپاره یو هڅوونکی سیاست ګڼل کیږي، خو دا سیاست کولی شي د دولت مالي ثبات له خطر سره مخ کړي. د مالیې د معافیت له امله د دولت عواید کمېږي، چې د عامه خدماتو د تمویل وړتیا اغېزمنوي. د نړیوال بانک او IMF څېړنو ښودلې چې مالیاتي عواید د عامه خدماتو لکه روغتیا، تعلیم، او زیربناوو د پراختیا لپاره حیاتي ارزښت لري. کله چې یو لوی شمیر کوچني کاروبارونه له مالیې معاف شي، نو دا کار کولی شي د عوایدو بنسټ کمزوری کړي او د بودیجې کسر زیات کړي، په ځانګړي ډول په هغو پرمختیایي هېوادونو کې چې له وړاندې د عوایدو کمښت لري. له دې امله، باید د مالیاتو معافیت د یوې لنډمهالې اقتصادي ستراتیژۍ په توګه وګڼل شي، نه دایمي حل.

په مقابل لوري کې، د مالیاتو معافیت د کوچنیو کاروبارونو د ودې لپاره یو اغېزناک انګېزه‌ورکوونکی سیاست ګڼل کیږي. دا اقدام کولی شي غیررسمي اقتصاد رسمي کړی، او متشبثین وهڅوي چې قانوني ثبت شي او خپل فعالیتونه پراخ کړي. د OECD راپورونه ښیي چې د مالیې فشار کمول د پانګونې کچه لوړوي او د بیکارۍ کچه راټیټوي. له همدې امله، د مالیاتو معافیت د سوداګریزو فعالیتونو د زیاتوالي، د نوي کاروبارونو د رامنځته‌کېدو، او د اقتصادي مشارکت د پراخوالي لامل ګرځي. که دا سیاست د وخت محدوده او د واضح معیارونو پر بنسټ تطبیق شي، نو کولی شي د دولت د عوایدو لپاره اوږدمهاله ګټې هم ولري، ځکه پراخ کاروباري فعالیتونه بالاخره د مالیې د اساس پراخول تضمینوي.

# The tax exemption of small businesses and its impact on government revenue

Senior Teaching Assistant, Akmal Nasir Amiri, Faculty of Economics, Department of Business and Administration, Mamor din Mangal
**akmal**.amiri@yahoo.com

**Abstract**

Tax exemption policies for small businesses present a complex trade-off between fostering economic growth and ensuring fiscal stability. Research indicates that such exemptions deliver clear short-term benefits by enhancing economic participation, unlocking investment, and catalyzing job creation. This initial relief provides crucial support for small enterprises, allowing them to solidify their operations and contribute to broader economic, the study underscores a significant fiscal risk. However, the study underscores a significant fiscal danger if these policies lack rigorous design. Without clear frameworks, transparent eligibility criteria, and strictly enforced time limitations, exemptions chronically erode the government's revenue base. This leads to sustained budget deficits, which can jeopardize the state's ability to finance essential public services and long-term infrastructure projects, ultimately harming the broader economy. Therefore, policymakers must create balanced, targeted, and meticulously evaluated exemptions. Support should be granted selectively to businesses that genuinely warrant assistance, based on specific performance or social goals. Most critically, the policy must incorporate a deliberate transition mechanism, moving eligible enterprises from a period of exemption to regular tax participation over a defined period. This approach guarantees that the strategy of stimulating small business growth does not come at the unsustainable cost of fiscal health, harmonizing entrepreneurial incentive with responsible revenue generation.

**Keywords:** Small Businesses, Commerce, Revenue, Taxes, and Exemption

**اخځلیکونه (References)**

ابراهیمی، دکتور مجید.( ۱۳۹۷). پالیسیهای مالیاتی در کشورهای در حال توسعه، انتشارات آوای علم.

احمدزی، دکتور نیک محمد.( ۱۳۹۸). د افغانستان اقتصادي سیاستونه او د مالي معافیتونه، د پوهنتون خپرندویه ټولنه، جلال اباد.

تحلیل هفته.(۱۴۰۳) هـ . ش ، د مالیاتو معافیت او د افغانستان په اقتصاد یې اغېزې.

حسینی، دکتور حسین.( ۱۳۹۵). اقتصاد و توسعه در ایران، انتشارات دانشگاه تهران.

حقیار، پوهنوال عبدالمنان.( ۱۳۹۴). روزنیزه ارواپوهنه، علمي خپرندویه ټولنه، گردیز.

د مالیه ورکوونکو د تشخیص طرزالعملون.(۱۴۴۵) . عوایدو عمومي ریاست

رضایی، دکتور محمد.( ۱۳۹۸). مدیریت و اقتصاد در دنیای معاصر، انتشارات ایران.

فاطمی، دکتور علی.( ۱۳۹۶). تحلیلهای اقتصادی در ایران، انتشارات پارسه.

فهیمی، دکتور عباس.( ۱۳۹۶). د افغانستان د کوچنیو کاروبارونو مالي ستونزې، د پوهنتون د اقتصاد پوهنځی، کابل.

کریمي، دکتور عبدالغفور.( ۱۳۹۷). اقتصاد افغانستان: چالشونه او امکانات، خپرندویه ټولنه، کابل.

موسوی، دکتور علی.( ۱۳۹۴). بازارهای مالی و تأثیرات آن بر اقتصاد ایران، انتشارات علم و صنعت.

نیکوکار، دکتور رضا.( ۱۳۹۶). توسعه پایدار و اقتصاد ایران، انتشارات دانشگاه اصفهان.

وزیر، دکتور عبدالرؤوف.( ۱۳۹۵). د افغانستان د مالیاتي سیستم

هوتک، پوهنوال زاهد.( ۱۳۹۶). اقتصادي پراختیا او د دولت عواید، د پوهنتون خپرندویه مرکز، کابل.

# د تضمین کیفیت پروسې په بهبود باندې د پوهنتونونو مالي استقلالیت اغیزې

پوهنمل غازی پتنګ [1] ، پوهنیار محمد عثمان شریفي، شیخ زاید پوهنتون، اقتصاد پوهنځی، ملي اقتصاد څانګه۱، مالي او بانکي څانګه [2].

**بریښنالیکونه** : ghazipatang4@gmail.com
osmansharifi2020@gmail.com

**لنډیز**

څرنګه چې د لوړو زده کړو وزارت اړوند پوهنتونونه د دولت لخوا تمویلیږي، او دا وضعیت د پوهنتونونو د ظرفیت لوړولو اړوند یو لړ محدودیتونه رامنځته کړي دي. چې نوموړي محدودیتونه د پوهنتونونو لپاره یوه عمده ستونزه بلل کیږي. د افغانستان په دولتي پوهنتونونو کې د تضمین کیفیت په پروسه باندې د مالي استقلالیت اغیزې، په یوه ځانګړي فیصدي د پوهنتونونو د مالي خپلواکۍ، تضمین کیفیت د اړیکو تشخیص او پلان او پالیسیو جوړونکو ته ځانګړې وړاندیزونه د دغې څیړنې عمده اهداف بلل کیږي. په څیړنه کې د کیفي او کمي طریقو څخه استفاده شوي ده، چې لومړني او دوهمي لاس ډاټا څخه استفاده شوي ده. د څیړنې پایله ښایي چې د مالي خپلواکۍ پراخوالی به نه یوازې د تضمین کیفیت پروسې مؤثریت ته وده ورکړي، بلکې د علمي څېړنو، تدریس، اداري چټکتیا، دولت د بودجې فشار کمولو او حساب ورکونې سیسټمونو ته هم مثبت محرک ثابت شي. دا څېړنه د افغانستان د لوړو زده کړو د سیستم د لا معیاري کیدو لپاره د پالیسیو جوړولو او اصلاحاتو له پاره یوه اساسي هڅه بلل کیږي چې ددې موندنو څخه به د لوړو زده کړو وزارت، د پوهنتونونو رهبري او ادارو ته به علمي لارښونې وړاندې کړي، تر څو د پوهنتونونو مالي خپلواکي به د تضمین کیفیت د لوړوالي باعث وګرځي.

**کلیدي ټکي:** دولتي پوهنتونونه، مالي استقلالیت، تضمین کیفیت، مالي محدودیتونه، معیاري زده کړې.

## سريزه

**بسم الله الرحمن الرحيم، الحمد لله رب العلمين والصلاة والسلام على سيد المرسلين وعلى اله واصحابه اجمعين !**

په اوسني پرمختللي تعليمي نظامونو کې د کيفيت تضمين لوړول د مهمو او اساسي پروسو څخه شمېرل کېږي. د لوړو زده کړو وزارت اړوند پوهنتونونه او تعليمی موسسې کوښښ کوي، تر څو اړوند تعليمي، اداري او خدماتي فعاليتونه د نړيوالو معيارونو په اساس عيار کړي؛ نو کله چې اړوند پوهنتونونه او موسسې ځان په نړيوال معيار برابروي نو د دې هدف لپاره بايد ځانګړي فعاليتونه تر سره کړي، چې نوموړي فعاليتونه مالی منابعو ته ضرورت لري، نو پدې اساس مالي استقلاليت يو مهم فکتور دی، چې د پوهنتونونو د فعاليتونو د موثريت، د تضمين کيفيت لوړولو او نوښت ترلاسه کولو لپاره مهم دی.

د افغانستان اوسني لوړو زده کړو بنسټونه په ځانګړي ډول دولتي پوهنتونونه له مالي او تخنيکي ستونزو سره مخ دي او څه ډول چې لازمه ده چې خدمات يې بايد په نړيوال معيار وي، متاسفانه ستونزه لري. د بودجې محدوديت او په وخت نشتون، په مرکزي بنسټونو او ادارو کې د مالي منابعو د تصميم نيولو د خپلواکی نشتوالی، د فوق ليسانس برنامو کيفيت ټيټوالی، د تجربو، عملي کار ، او څېړنې لپاره د منابعو نشتون هغه عمده عوامل دي چې د پوهنتونونو د تضمين کيفيت پروسه تر تاثير لاندې راوستلي ده.

خصوصي پوهنتونونو چې تر يوه حده مالي استقلاليت لري په لنډ وخت کې د کيفيت په برخه چټک پرمختګونه کړي دي، چې دا موږ ته ښايي، چې نسبتا په کمه اندازه د دولتی پوهنتونونو مالي خپلواکي کولای شي، د پوهنتونونو په کيفيت لوړونه کې موثر تمام شي.

موږ به معلومه کړو، چې مالی استقلاليت د افغانستان په پوهنتونونو د تضمين کيفيت په لوړولو کې څه ډول او په کومو برخو کې مهم او رغنده رول لوبوي. چې مختلف اړخونه به يې څېړل کېږي: لکه د مالي منابعو مديريت، د تضمين کيفيت د تطبيق ارزونه، په ځينو اداري برخو کې خپلواکي، د تضمين کيفيت په برخه کې شته فرصتونه او ننګونې او داسې نور. چې د نوموړو برخو تر تحليل وروسته به موږ اطمينان ترلاسه کړو، چې پوهنتونونه په لوړ کيفيت او نړيوال معيار برابر خدمات وړاندې کړي او د تضمين کيفيت پروسې ته لا قوت ورکړي.

په اوسني پرمختللي عصر کې پوهنتونونه يوازې د زدکړو خدمات نه وړاندې کوي، بلکې علمي تحقيقات، نوښتونه،او د ټولنې د پرمختګ کېمختلف پلانونه او ستراتيژيو په جوړولو کې مهم نقش لري، او نوموړو فعاليتونو په مقابل کې په زياته اندازه عايد هم تر لاسه کوي او پوهنتونونه نه يوازې د مصرف بلکې د عايد يوې منبع باندې

بدلیدلی شي، چې د نوموړو اهدافو د ترلاسه کولو لپاره د پوهنتونونو مالي استقلالیت یو عمده عنصر بلل کیږي. د مالي خپلواکۍ په صورت کې د تضمین کیفیت پروسې لپاره پرمختللي سیستم رامنځته کولای شي .له بده مرغه چې افغانستان کې دولتي پوهنتونونه مالي خپلواکي نلري او کوم عاید چې لاسته راوړي د هغې د مصرف صلاحیت هم نلري، چې نوموړی کار پوهنتونونه د مالي محدودیت، به وخت د منابعو نشتون په اساس د فعالیتونو په وخت انجامول او کمزوري اداري خپلواکۍ سره مخ کړی دی، چې نوموړی حالت د دولتي پوهنتونونو د تضمین کیفیت پروسې په جریان باندې هم اغیزې کړې دي.

د تضمین کیفیت په پروسه کې اړتیا ده چې دوامداره تمویل، د پوهنتونونو لخوا په ځینو برخو کې اداري خپلواکي، او د فعالیتونو د ترسره کولو او اهدافو تر لاسه کولو لپاره موثرو پالیسیو او پلانونو شتون ضرور ده ، که مالي منابع محدود او یا پوهنتونونه مالي واک ونه لري نو پوهنتونونه به د کیفیت لوړولو په برخه کې نیمگړتیاوې ولرې.

پوهنتونونه د مالي استقلالیت لپاره د مختلفو منابعو د تمویل لپاره هڅه کوي . چې د نوموړو منابعو څخه په استفادې د متخصص استادانو استخدام کې استفاده وکړي، او د ځینې په برخه کې پانگونه وکړي. پوهنتونونه هڅه کوي تر څو نړیوالو معیارونو مطابق د سیالی وړ وگرځي.(OECD, 2020. World Bank, 2021)

څرنگه چې اکثره دولتي پوهنتونونه د مالي تصمیمونو په برخه کې د لوړو زده کړو وزارت تابع دي او لوړو زده کړو وزارت هم په هغه اندازه مالی منابع نه لري، چې د پوهنتونونو د ضرورتونو ته بشپړه رسیده گي وکړي، نو پدې اساس د تضمین کیفیت پروسه ورو کوي. نو پدې اساس دولتي پوهنتونونه دمالي استقلالیت له لارې کولای شي چې په خپل وخت نوموړي اړتیاوې ژر پوره کړیاو پوهنتونونه به په نړیوال معیار د خدماتو وړاندې کولو ظرفیت ولري(Rahimi et al, 2022).

د مالي خپلواکی په شتون کې به دولتي او خصوصي پوهنتونونو ترمنځ به هم تر یوه حده سالم رقابت زمینه مساعده شي، او خصوصي پوهنتونونه به د رقابت په نتیجه کې مجبور شي، تر څو هغه خدمات وړاندې کړي چې د ټولنې ضرورت دی او دولتي پوهنتونونو سره به سیالي دوام رامنځ ته شي. دا چې په اوسني وخت کې د بودجې کسر هم شتون لري او اړونده اداري خصوصا لوړو زده کړو وزارت کې به دولتي پوهنتونونه نه یوازې مصرفي سکتور وي، بلکې د عاید د ترلاسه کولو په یوې منبع به بدل شي او د لوړو زده کړو وزارت څخه به په لویه کچه مالي بار کم شوی وي. نو د پورته نقاطو په پام کې نیولو سره د پوهنتونونو مالي استقلالیت یو ضروری امر گڼل کیږي.

**اهداف**

د دې څېړنې عمده هدف دا دی چې په افغانستان کې د دولتي پوهتونونو مالي استقلالیت د تضمین کیفیت په پروسه څه ډول اغیزه کوي. دلته به موږ د افغانستان د دولتي پوهنتونونو مالي استقلالیت اوسنی حالت، د تضمین کیفیت پروسې ارزونه او پر وړاندې یې ننګونې وڅېړل شي.

ددې څېړنې اساسي پوښتنه داده چې ایا د افغانستان د دولتي پوهنتونونو مالي استقلالیت د تضمین  کیفیت پر پروسه مثبته اغېزه لري؟

دا څېړنه  ترکیبي ده چې د کمي او کیفی طریقو څخه  پکې استفاده شوي. چې د لومړي لاس ډاټا له سروې او د پوښتنپانو، چې د پوهنتون له استادانو ،اداري کارکوونکو او د تضمین کیفیت له کارکوونکو څخه ډاټآ راټولیږي

**تیرو اثارو ته کتنه**

د لوړو زده کړو د لا بهبود په موخه د پوهنتونونو د مالي اسقلالیت او د تضمین کیفیت پروسې د اغیزمنتوب تر منځ اړیکې په دې وروستیو لسیزو کې ډیر پام ځان ته اړولی دی. اکثرو څېړنو دا ښودلې چې د پوهنتونونو مالي استقلالیت او خپلواکي د مالي پریکړو په کولو، اداري کړنو کیفیت د بهبود او حساب ورکونه او مختلفو برخو په ښه کولو کې مهم رول لوبولی دی.

مالي خپلواکي د لوړو زده کړو په حکومتولۍ کې یوه مرکزي مسله ګرځیدلې ده، ځکه چې پوهنتونونه د اکاډمیک کیفیت، حساب ورکونې او نړیوالې سیالۍ ښه کولو لپاره د زیاتیدونکي فشار سره مخ دي. د مالي خپلواکۍ په اساس پوهنتونونه کولی شي په خپلواکه توګه مالي سرچینې تخصیص او اداره کړي پرته له دې چې په دولتي تمویل باندې ډیره تکیه وکړي. د لوړو زده کړو وروستي اصلاحات په ټوله نړۍ کې د ادارې موثریت او د کیفیت تضمین سیستمونو د لوړولو لپاره د یو میکانیزم په توګه په مالي خپلواکۍ باندې ټینګار کوي (OECD, 2020; UNESCO, 2021).

تجربوي مطالعات په دوامداره توګه د مالي خپلواکۍ د یوې مهمې برخې په توګه د عوایدو تنوع روښانه کوي. هغه پوهنتونونه چې د زده کړې فیسونو، څېړنیزو مرستو او صنعتي همکارۍ له لارې عاید رامنځ ته کوي، د کیفیت تضمین فعالیتونو تمویل لپاره غوره موقعیت لري. څېړنې ښایي چې عاید ادارو ته دا توان ورکوي چې د معلوماتو مدیریت سیستمونو، داخلي کیفیت تضمین واحدونو، او بهرني اعتبار ورکولو پروسو کې پانګونه وکړي، چې ټول یې د اکاډمیک کیفیت ښه کولو کې مرسته کوي (OECD, 2020; Teixeira et al, 2021).

څېړنې ښايي چې مالي خپلواکي کولی شي تضمين کيفيت باندې مثبت تاثير وکړي، ځکه چې ادارو ته د ستراتيژيک کيفيت لوړولو نوښتونو لپاره سرچينې تخصيص کولو لپاره انعطاف ورکول کيږي. د ټيکسيرا، روچا، بسکايا، او کاردوسو (۲۰۲۱) لخوا د اروپايي پوهنتونونو په اړه يوه څېړنه ښايي چې هغه ادارې چې د بوديجې خپلواکي لوړه کچه لري، د پوهنځي پراختيا، عصري زده کړې او د زده کونکو ملاتړ خدماتو پانګوونې کې ډير چټک وو - دا ټول د کيفيت تضمين چوکاټونو کې کليدي معلومات دي. په ورته ډول، د آسيا پوهنتونونو په پرتله ايز تحليل کې، موک (۲۰۲۱) موندلي دي چې په هانگ کانگ او جاپان کې مالي خپلواک پوهنتونونه د کار بازار د غوښتنو او د نړيوالو معيارونو مطابق خدمات تر سره کړي وو.

د مختلفو سيمو څخه مطالعې ښايي چې ځينې عوامل د مالي خپلواکۍ او د کيفيت د ډاډمنتيا ترمنځ اړيکه باندې تاثير لري. د مثال په توگه، په ايران کې د مالي خپلواکۍ بحثونو په اړه څېړنې ښايي چې قانوني او جوړښتي محدوديتونه ډيرى وختونه ريښتيني مالي خپلواکي محدودوي، د کيفيت تضمين لپاره د هغې احتمالي گټې کموي پرته لدې چې اصلاحات اغيزمن حکومتداري او مالي انعطاف تضمين کړي. په ورته ډول، د پاليسۍ تحليلونه روښانه کوي چې يوازې د خپلواکۍ قوانينو شتون په عمل کې پلي کول تضمين نه کوي(Farasatkhah et al, 2008).

د التباک او سلمي په ۲۰۱۱ م کې د د اکاډميک غوره والي لاره په نوم څېړنه کې موندلی، چې هغه پوهنتونونه چې د مرکزي حکومتونو د تمويل ماډل لاندې فعاليتونه کوي، اکثره وخت د وړو پريکړو کولو ، د محصلينو د غوښتنو او کار بازار ته د محدود ځواب ويلو، او د بيوروکراتيک محدوديتونو سره مبارزه کوي، چې د کيفيت د ښه والي مخه نيسي او هغه پوهنتونونه چې مالي خپلواکي لري نوموړي حالت اکثره پوهنتونونو ته اجازه ورکوي د اولیتونو په اساس په وخت منابع تحصيص او د بازار د غوښتنو مطابق پوهنځی ايجاد او وساتي او د څېړنو اوو زيربنا په برخه کې پانگونه وکړي، چې دا حالت په اړونده پوهنتونونو کې د تضمين کيفيت په پروسه مثبت تاثير کړی دی (Altbach et al, 2011).

وارگيس او مارټين (۲۰۱۴) تاکيد کوي، چې پوهنتونونو ته مالي خپلواکی د دې توان ورکوي، چې د منابعو غوره تخصيص، په وخت سره پريکړې او په داخل کې د تضمين کيفيت د کنترول لپاره د داخلي سيستمونو رامنځته کولو په اساس د تضمين کيفيت ښه کړي. د نورو پوهنتونونو په څير د گدجا پوهنتون هم د مالي خپلواکۍ څخه په ملي سطحه د ملي معيارونو سره د سمون لپاره استفاده کړي ده(Varghese & Martin, 2014).

په ويتنام د کيفيت ارزونې او مالي اصلاحاتو ترمنځ د لوړو زده کړو سيستم کې د تعامل په اړه څېړنه تر سره شوې ده، چې په ويتنام کې د پوهنتونونو لوړو زده کړو ته خپلواکي نه دي ورکړل شوي، په ځانګړې ډول د بوديجې او مالي چارو په اړه. د دوی څېړنه ښايي، چې دا ډول محدوديتونه د پوهنتونونو وړتياوې محدودوي چې د کيفيت نوښتونو کې بايد بنسټيزه پانګونه وکړي، چې د هغې په اساس د بيلګې په توګه، مسلکي پراختيا، د زيربنا وده، د کيفيت ارزونې ډېټا سيستمونه. چې بايد پوهنتونونو د عوايدو ويش او توليد، د بودجې تخصيص او اوږدمهاله پلان جوړونې په برخه کې يو اندازه واک ورکړل شي (Dao, 2015).

ويلچ او واحد يار (۲۰۲۰) په افغانستان کې د لوړو زده کړو په برخه کې د پرمختګ او ننګونو برخه څېړلي، د دوی څېړنه ښايي، چې تضمين کيفيت د پاليسيو په برخه کې د بودجې محدوديت ، امنيت او د ضرفيت نشتون ننګونو سره مخامخ دی، چې که پوهنتونونه په کافي اندازه مالي منابع په اختيار کې ولري کولي شي د تضمين کيفيت په برخه کې مهم رول ولوبوي.(Welch, A., & Wahidyar, A. 2020)

شريفي (۲۰۲۲) د تضمين کيفيت په برخه د امارتي او خصوصي پوهنتونونو ترمنځ توپيرونه څېړلي ، د څېړنې موندنې ښايي چې خصوصي پوهنتونونه چې مالي استقلاليت لري د تضمين کيفيت د پاليسيو ، د نصاب پراختيا د محصلينو دغوښتنو مطابق د تدريسي تطابق رامنځته کوی او امارتي پوهنتونونه، چې د لوړو زده کړو وزرات په بودجه پورې تړلي دي، په ځينو برخو کې د ځنډونو سره مخ دي چې نوموړی حالت د تضمين کيفيت پروسو د ډاډمنتيا اغيزمنوي(Sharifi, 2022) .

نو د تيرو اثارو ته کتنې په اساس زمونږ فرضيه دغه ده، چې مالي استقلاليت د دولتي پوهنتونونو په تضمين کيفيت پروسه باندې مثبت تاثير لري.

## ميتودولوژي

دا څېړنه د څېړنې موخو د ترلاسه کولو لپاره کارول شويو ميتودونو باندې تمرکز کوي، چې څه ډول مالي استقلاليت د دولتي پوهنتونونو د تضمين کيفيت په پروسه باندې تاثير لري. د دې څېړنې په دوهمه برخه کې تيرو اثارو ته کتنه پکې شوي دي، چې د نورو څېړونکو د څېړنو، ميتودونو او حل لارو او د مالي خپلواکي، د پوهنتون خپلواکي، د تضمين کيفيت او د لوړو زده کړو تمويل په اړه معلومات راټول کړو او تشه پيدا کړو او فرضيې وټاکو. دريمه برخه د ډاټآ راټولول دي، چې ډاټا د مختلفو منابعو څخه ترلاسه شوي دي، چې اصلي ډاټا يې د لومړي لاس ډاټا ده. چې لومړي لاس ډاټا به د پوښتنپاڼو پواسطه راټوله شي. چې اساسي پوښتنه داده، هغه عوايد

چې امارتي پوهنتونونه یې تر لاسه کوي، که د مصرف صلاحیت ورکړل شي، ایا پر وخت تصمیمونه به د تضمین کیفیت پروسې د بهبود سبب وګرځي؟ بله برخه یې د ډاټا تحلیل ده، چې د ډاټا تحلیل په اساس به مونږ یوې پایلې ته ورسیږو.

**موندنې**

د ۹۰ ګډونوالو نظرونه مو د پوښتنپاڼو پواسطه راټول کړي دي، چې د هغې له جملې څخه ٪ (۷۹) استادان، ٪ (۱۸.۲) محصلین او ٪ (۲.۳)مدیران دي. په ټوله کې ٪ (۸۴) ګډونوال باور لري، چې که پوهنتونونو ته د خپلو عوایدو د مصرف صلاحیت ورکړل شي، د تضمین کیفیت پروسه به چټکه، مؤثره او نتیجه محوره شي، نو موږ دې پایله ته رسیدلی شو چې که د عوایدو دمصرف واک پوهنتونونو ته ورکړل شي نو د نوموړې حالت د د تضمین کیفیت پیاوړتیا تضمینوي، او د امارتي پوهنتونونو لپاره، یوازې د عوایدو لاسته راړول نه بلکې د مصرف صلاحیت هم باید تضمین شي، تر څو د کیفیت د تضمین پروسه ژر او مؤثره پر مخ ولاړه شي.

مالي محدودیتونه د تضمین کیفیت پروسې د بهبود لپاره په پوهنتونونو کې لوی خنډ بللی شو؟ د دې پوښتنې په ځواب کې % (۹۱.۵) ګډونوال له دې نظر سره موافق دي چې مالي محدودیتونه د کیفیت تضمین پروسه زیانمنوي. د دې تحلیل څخه دا نتیجه ترلاسه کولای شو، چې د مالي محدودیت د تضمین کیفیت پروسې د پلي کولو لپاره جدي خنډ دی. نو لنډ ویلی شو چې مالي محدودیتونه نه یوازې د تضمین کیفیت تخنیکي اړخونه محدودوي، بلکې د نوښت، شفافیت، څېړنې او د ارزونې سیستمونو پلي کېدل هم ځنډوي.

که چیرې امارتي پوهنتونونه په یوه فیصدۍ سره مالي خپلواکي ولري، ایا د تضمین کیفیت پروسه به بهبود ومومي؟ ددې پوښتنې به ځواب کې ٪ (۸۰) ګډونوال موافق دي ، په نتیجه کې ویلی شو چې حتی نسبتي مالي خپلواکي کولی شي، د کیفیت پروسه ښه کړي. دا له نړیوالو تیوریو سره موافقه لري چې وایي "جزئي استقلال هم مؤثر تمامیږي".

ایا د تضمین کیفیت پروسې د تطبیق لپاره پوهنتونونه کافي بودجه لري؟ ددې پوشتنې په ځواب کې ٪ (۲۸.۹) موافق دي، پداسې حال کې چې ٪ (٦٦.٧) مخالف دي. یعنې پوهنتونونه د بودجې له نشتوالي سخت کړیږي او دا د کیفیت تطبیق ته لوی خنډ ګڼل کېږي.

د پوهنتون مالي خپلواکي به د څېړنو په کیفیت کې ښه والی راولي؟ د دې پوښتنې په ځواب کې ٪ (۹۳.۳) ګډونوال مثبت نظر لري او موږ دې پایلې ته رسیږو چې مالي استقلالیت د څېړنو د کیفیت مهم فکتور دی. دا له Human Capital او Institutional Reform تیورۍ سره مطابقت لري.

د امارتي پوهنتونونو لخوا په یوه ځانګړي فیصدي سره د محصلینو جذب لکه ٪ (۱۰) په اندازه فیس، محصلینو جذب دولتي پوهنتونونو ته تر یوه حده مالي استقلالیت ورکړي؟ ددغه پوشتنې سره په یوازې ٪ (۶۰) مثبت نظر لري.

که چیرې د لوړو زده کړو وزارت لخوا پوهنتونونو ته کوم چې بشپړ اکاډمیک اعتبار ولري، د یوه اندازه محصلینو د جذب اجازه ورکړي ایا د امارتي او خصوصي پوهنتونونو تر منځ به سالم رقابت په نتیجه کې تدریس کیفیت ښه شي؟ ٪ (۸۶.۷) ګډونوال له دې نظر سره موافق دي. په نتیجه کې ویلی شو چې دلوړو زده کړو وزارت اړوند پوهنتونونو او موسساتو لخوا سالم رقابت د تدریس د کیفیت ښه والي ته زمینه برابروي. دا د "Market-Driven Quality" تیورۍ یو مستقیم تطبیق دی.

که د افغانستان امارتي پوهنتونوکې د محصلینو څخه په لیلیه کې د خدماتو مقابل کې تر ۵۰ افغانیو یا کمه اندازه په میاشتني ډول واخیستل شي ایا دا به پوهنتونونو ته د دې توان ورکړي، چې مالي استقلالیت ترلاسه کړي او د محصلینو عوښتنو ته به پر وخت ځواب وویل شي؟ د دې پوښتنې ته د ٪ (۶۲) ګډونوال موافق وو.

نو موږ ویلی شو په کمه اندازه ۵۰ افغانی فیس چې محصلینو څخه واخیستل شي او بیرته دمحصلینو لپاره د سهولتونو لپاره مصرف شي، نو د محصلینو موافقت به ارزان او پوهنتون ته به په یوه اندازه مالي توان ورکړي، تر څو په وخت د محصلینو علمي اړتیاوو لپاره سهولتونه برابر کړي، کوم چې د تضمین کیفیت پروسې د بهبود سبب ګرځي.

دا چې د نړۍ اکثرا دولتي پوهنتونونه د داسې میتود څخه استفاده کوي، چې محصلین هم په دولتي بودجه باندې زده کړې کوي او هم په یوه ځانګړي فیصدي ازاد محصلین جذب کوي، که نوموړي میتود د افغانستان په هغه پوهنتونونو کې چې بشپړ اعتبار ولري پلی شي د تضمین کیفیت په پروسه باندې به څومره موثر رول ولوبوي؟ د دې پوښتنې ته ګډونوالو ٪ (۷۵.۵) مثبت نظر ورکړی. نو موږ دې پایلې ته رسیږو چې مالي استقلال د مالي بار د کمولو یوه مناسبه لاره ګڼل کېږي، خو ٪ (۱۷) بې نظره پاتې دي چې ښیي لاهم وضاحت ته اړتیا شته.

ایا د امارتي پوهنتونونو مالي استقلالیت به د دولت د بودجې کسر په کمولو کې رول ولري؟ د دې پوښتنې ته ګډونوالو تقریبا٪ (۸۲.۲) مثبت نظر ورکړی. نو موږ ویلی شو، چې پوهنتونونه باید د خپلو منابعو مدیران وي، نه چې محدود تابع سیستمونه تابع ولري.

**مناقشه (Discussion)**

امارتي پوهنتونونو لپاره مالي خپلواکي نه یوازې یو اختیاري امتیاز بلکې یوه بنسټیزه اړتیا ده. د زیاتره ګډونوال دا باور لري چې که پوهنتونونو ته د خپلو عوایدو د مصرف صلاحیت ورکړل شي، د تضمین کیفیت پروسه به چټکه، مؤثره او نتیجه محوره شي. دا پایله له نړیوالو تیوریو سره همغږې لري، چیرې چې د سازماني خپلواکۍ او اغېزناکې تصمیم نیونې ترمنځ مستقیمه اړیکه شتون لري. زیاتره ګډونوال په دا نظر دي، چې مالي محدودیتونه د تضمین کیفیت پروسې لپاره جدي خنډونه بلل کېږي، چې نه یوازې د تضمین کیفیت د ارزونې سیستمونه اغېزمنوي، بلکې د څېړنو، نوښت، تدریس او شفافیت پر ټولو اړخونو منفي تاثیر لري. دا حالت د افغانستان په شرایطو کې، چیرې چې اکثر دولتي بودجه محدوده ده، د پوهنتونونو د پرمختګ مخه نیسي. چې د دغې سره څنګ کې مالي استقلالیت د څېړنو په کیفیت او ترسره کولو کې کلیدي رول لري. که څه هم زیاتره ګډونوال د مالي خپلواکۍ د تایید په اړه موافق دي، خو ځینې اقدامات (لکه د ٪ (۱۰) محصلینو څخه فیس اخیستل یا د دولتي-ازاد محصلینو د جذب ګډ ماډل) لا هم له سره مخ دي. چې د دې مخالفت عمده عوامل دا دي:

- د لوړو زده کړو سیستم کې د باور نشتوالی
- د شفافیت او حساب ورکونې کمزورتیا
- د مالي مدیریت وړتیاوو کمښت
- د ټولنیز عدالت اندیښنې، چې فیس اخیستل به د محصلینو پر فرصتونو ناوړه اغېز وکړي

که څه هم د مالي خپلواکۍ اصل له نظري پلوه تایید شوي، چې د بیلابیلو پوهانو لخوا په تحقیقاتو کې تاید شوي ده، خو تطبیقي اړخ یې د پالیسي جوړونې، قانوني چوکاټ او اداري ظرفیتونو ته اړتیا لري. نو د تطبیق لپاره باید وضاحت، شفافیت، اومهارت لوړونو له لومړیتوبونو څخه وګرځي. خو مونږ هغه فرضیه تایدوو، چې مالي استقلالیت د دولتي پوهنتونونو په تضمین کیفیت باندې مثبت تاثیر لري.

**پایله**

مونږ دغې پایلې ته رسیږو چې، مالي محدودیتونه د تضمین کیفیت پروسې لپاره جدي خنډونه بلل کېږي. چې مالي محدودیت نه یوازې د تضمین کیفیت د ارزونې سیستمونه اغېزمنوي، بلکې د څېړنو، نوښت، تدریس او شفافیت پر ټولو اړخونو منفي تاثیر لري. دا حالت د افغانستان په شرایطو کې، چیرې چې اکثر دولتي بودجه محدوده ده، د پوهنتونونو د پرمختګ مخه نیسي. جزئي یا نسبي مالي استقلالیت کولی شي د کیفیت بهبود ته زمینه برابره کړي. نو په لنډ ډول سره ویلی شو، چې د امارتي پوهنتونونو د مالي خپلواکۍ پراخوالی به نه یوازې د تضمین کیفیت پروسې مؤثریت بلکې مالي استقلالیت د بودجې فشار کمولو، اداري چټکتیا، نوښت، او د حساب ورکونې سیستمونو، د تضمین کیفیت پروسې په پیاوړتیا کې مثبت اغیز لري.

**وړاندیزونه (Recommendations)**

۱ .د پوهنتونونو د عوایدو د مصرف صلاحیت په قانوني ډول تعریف او تنظیم شي، څو د ناوړه استفادې مخه ونیول شي.

۲ .پوهنتونونو ته د مسلکي روزنې، بودجوي پلان جوړونه او د حساب ورکونې سیستمونه معرفي شي.

۳. د ټولو عوایدو او مصارفو راپورونه د محصلینو، استادانو او نظارتي ادارو ته وړاندې شي.

۴ .د فیسونو تر څنګ، نورې سرچینې لکه پروژې، مشورتي خدمتونه، علمي تولیدات، او د خصوصي سکتور سره مشارکت باید پراخ شي.

۵ . پوهنتونونو ته دې نسبتي استقلال ورکړل شي، تر څو د پایلو له مخې پالیسي پراخه یا تنظیم شي.

۶ . فیس اخیستل دې له تحصیلي بورسونو، معافیتونو او د اقتصادي حالت ارزونې سره یو ځای تطبیق شي.

۷ . لوړو زده کړو وزارت د تنظیموونکي او ملاتړ کوونکي رول ولري، نه دا چې د ټولو مالي پرېکړو مستقیم کنټرول ولري.

# The impact of financial autonomy of universities on improving quality assurance process

Senior teaching assistant Ghazi Patang[1], Teaching assistant Mohammad Osman Sharifi[2], Shaikh Zayed university, Faculty of economics, Department of national economics[1], department of Banking & finance[2].
**Emails**: ghazipatang4@gmail.com, osmansharifi2020@gmail.com

**Abstract**
As the universities affiliated to the Ministry of Higher Education are funded by the government, this situation has created a number of limitations related to the capacity building of universities. These limitations are considered a major problem for universities. The main objective of this study is to determine the impact of financial autonomy on the quality assurance process in public universities of Afghanistan, to identify the relationship between financial autonomy of universities, quality assurance, and specific recommendations for planners and policymakers. The study used qualitative and quantitative methods, using primary and secondary data. The results of the study suggest that the expansion of financial autonomy will not only improve the effectiveness of the quality assurance process, but also prove to be a positive stimulus for academic research, teaching, administrative speed, reducing government budget pressure, and accountability systems. This study is considered a fundamental effort to develop policies and reforms to further standardize Afghanistan's higher education system. The findings will provide scientific guidance to the Ministry of Higher Education, university leadership, and international donor organizations and agencies, so that the financial autonomy of universities will lead to increased quality assurance.

**Key words**: Public universities, financial autonomy, quality assurance, financial limitation, standardized education.

**(References) مأخذونه**

Altbach, P. G., & Salmi, J. (Eds.). (2011). The road to academic excellence: The making of world-class research universities. World Bank Publications.

Organisation for Economic Co-operation and Development. (2020). Higher education policy review: Afghanistan. OECD Publishing.

Rahimi, A., & Ayoubi, F. (2024). University financial autonomy and quality assurance: Evidence from Afghan higher education institutions. Journal of Education Policy Studies, 12(1), 55–72.

OECD. (2020). *Resourcing higher education: Challenges, choices and consequences*. OECD Publishing.

UNESCO. (2021). *Reimagining our futures together: A new social contract for education*. UNESCO Publishing.

Teixeira, P. N., Rocha, V., Biscaia, R., & Cardoso, M. F. (2021). Revenue diversification in public higher education: Comparing university autonomy in eight European systems. *Higher Education Quarterly, 75*(1), 129–145.

Mok, K. H. (2021). The quest for global competitiveness: Promotion of innovation and entrepreneurial universities in Asia. *The Pacific Review, 34*(1), 1–26.

Farasatkhah, M., Ghazi, M., & Bazargan, A. (2008). Quality challenge in Iran's Higher Education: A historical review. Iranian Studies, 41(2), 115-137.

Sharifi, M. S. (2022). Improving the quality of higher education: Autonomy of public universities. Journal of Social Sciences-Kabul University, 4(3), 11–25.

Varghese, N. V., & Martin, M. (2014). Governance reforms in higher education: A study of institutional autonomy in Asian countries. International Institute for Educational Planning (IIEP).

Welch, A., & Wahidyar, A. (2020). Quality assurance in Afghan higher education: Achievements and challenges. Asian Education and Development Studies, 9(4), 479–493. https://doi.org/10.1108/AEDS-08-2019-0137

Dao, K. V. (2015). Key challenges in the reform of governance, quality assurance, and finance in Vietnamese higher education–a case study. Studies in Higher Education, 40(5), 745–760.

World Bank. (2021). Higher education in Afghanistan: Challenges and opportunities. World Bank Publications.

# د انساني قاچاق عوامل، اغېزې او حل لارې

پوهنمل عبدالوهاب ایوبي، شیخ زاید پوهنتون، د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځی، د حقوقو څانګه
برېښنا لیک: wahab.ayoubii@gamil.com

**لنډیز**

انساني قاچاق په نړیواله کچه د بشري حقوقو د نقض یو پراخ مورد او په اوسني عصر کې د مډرنې غلامۍ یو ډول دی، چې د افرادو د حقوقو د نقض ترڅنګ د ټولنې اقتصادي، ټولنیز او اخلاقي ثبات ته ګواښ پېښوي. انساني قاچاق هغه غیر قانوني عمل دی چې د مختلفو لارو څخه د انسان د استثمار په موخه ترسره کیږي. فقر، د قانون حاکمیت ضعف، بې ثباتي، ناپوهي، تبعیض او داسې نور یې د رامنځته کېدو د عمده عواملو څخه دي او رواني او فزیکي ټپونه، په مخدره موادو روږدي کېدل، بدنامه کېدل، په ټولنې کې د بېرته ادغام ستونزې، د سازمان شوو جرمونو پراختیا او د ملي اقتصاد کمزورتیا یې د رامنځته کېدو مهمترینې اغېزې دي. د قانون د تطبیق پیاوړتیا، د فقر د کمولو لپاره اقتصادي پروګرامونه، د پوهاوي او زده‌کړې د پروګرامونو پراختیا، د قربانیانو د ملاتړ میکانیزمونو رامنځته کول، او د نړیوالې همکارۍ پیاوړتیا هغه حل لارې دي، چې د انساني قاچاق د کنترول لپاره په پام کې نیول یې ضروري دي. په پایله کې، انساني قاچاق یو څو اړخیز بحران دی چې د مؤثرې مبارزې لپاره یې د دولتونو، مدني ټولنو، علماوو او نړیوالو بنسټونو ګډه هڅه اړینه ده. نوموړې څېړنیزه مقاله چې موخه یې د انساني قاچاق د عواملو، اغېزو پېژندنه او حل لارو پېژندنه ده، د توصیفي څېړنې له نوعې څخه ده او د اطلاعاتو او معلوماتو په راټولولو کې یې د کتابتوني میتود څخه کې اخیستل شوې ده.

**کلیدي ټکي**: استثمار، انساني قاچاق، پایلې، عوامل، فقر، قاچاق

## سریزه

**بسم الله الرحمن الرحيم، الحمد لله رب العلمين والصلاة والسلام على سيد المرسلين وعلى اله واصحابه اجمعين !**

میلیونونه انسانان جبري کار او نورو ډولونو د استثمار په موخه د قاچاق قربانیان دي. د دې انساني او اقتصادي لګښتونه په فردي او ټولنیزو کچو باندې لوی بار دی. د محافظه کاره اټکلونو له مخې، د قاچاق لګښتونه تر شل ملیارډو ډالرو پورې رسېږي چې د انساني قاچاق د پانګې او لګښتونو اندازه کول ناشوني دي. د انساني قاچاق د مخنیوي په هکله د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د ۱۴۴۶/۶/۹ نیټې د (۱۲) ګڼه فرمان له مخې انساني قاچاق یو غیر شرعي عمل دی او د همدې غیر شرعي عمل د مخنیوي لپاره یې پورته ذکر شوی فرمان صادر کړی دی. ځکه الله تعالیﷻ د قرانکریم د سورة الاسراء په ۷۰ آیت شریف کې فرمایي: وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ﴿۷۰﴾. همدارنګه د قرانکریم د سورة آل عمران په ۵۷ آیت شریف کې فرمایي:... وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الظَّالِمِينَ ﴿۵۷﴾. همدارنګه د دې قول پربنیاد چې (من استعمل امراة بغير رضها فقد ارتكب اثما عظيما). جبري کار، اختطاف، یا جبري بندي کول منعه او ظلم ګڼل کیږي.. او معاصرې فتاوې هم په دې هکله شتون لري، چې د انسان قاچاق حرام او مرتکب یې د مجازاتو وړ دی. د امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی پورته ذکر شوي فرمان د دریمې مادې مطابق قاچاقبران د نظامي محکمو له لورې د حالونو په پام کې نیولو سره د مجازاتو مستحق دي.

انساني قاچاق عمومًا هغه پروسه په ګوته کوي چې په هغې کې افراد د اقتصادي ګټې لپاره په یو استثماري وضعیت کې ساتل کیږي. قاچاق ممکن په یو هېواد کې ترسره شي یا د سرحدونو څخه بهر صورت ومومي. د انسان د قاچاق په اړه نړیوال توافق خورا ورو وو. د قاچاق لومړی توافق شوی تعریف د ۲۰۰۰ کال پروتوکول له مخې ترسره شو. دغه تعریف وروسته په ډېرو نورو پالیسیو او ملي قوانینو کې شامل کړل شو.

## موخې

د دې څېړنیزې مقالې موخې عبارت دي، له:

۱- د انساني قاچاق پېژندنه او د نورو اړوندو او مشابه موضوعاتو سره د هغې د اشتراک او افتراق نکتو واضح کول.

۲-د انساني قاچاق د عواملو روښانه کول.

۳- په شخص او ټولنه باندې د انساني قاچاق د اغېزو روښانول.

۴-د انساني قاچاق د مخنیوي په موخه د مختلفو حل لارو وړاندې کول.

**د کار مواد او مېتود**

نوموړې مقاله د توصیفي څېړنې له نوعې څخه ده، چې د اطلاعاتو او معلوماتو په راټولولو کې د کتابتوني میتود څخه ګټه اخیستل شوې. پدې څېړنیزه مقاله کې د څېړنیزې موضوع اړوند، د ملي او نړیوالو معبترو مأخذونو او سرچینو څخه ګټه اخیستل شوې چې، کتابونه، مجلې، ژورنالونه رسالې او سایټونه پکې شاملې دي.

**د انساني قاچاق مفهوم او پیژندنه**

قاچاق د ترکي ژبې څخه مأخوذ دی چې په پټه د یوه کار یا د ممنوع معاملې د ترسره کولو په معنی دی(عمید،۱۳۹۲ ل،ص.۷۸۴). همدارنګه د قاچاق کلیمه که چېرې د مصدر په عنوان سره استعمال شي؛ د قانون خلاف په پټه د یو کار د ترسره کولو او که چېرې د اسم په عنوان استعمال شي؛ د هغه شي په معنی دی چې واردول او داخلول یې ممنوع وي(وجدانی فخر، ۱۴۰۰ ل، ص. ۱۲۳). پس، قاچاق د هیواد په داخل یا بهر کې د یو ځای څخه بل ځای ته د شیانو د لېږد او رالېږد یا پېر او پلور څخه عبارت دی. پس، هر هغه کړنه چې د زور، ګواښ او درغلۍ له لارې ترسره کیږي او یا هر هغه عمل چې د استثمار په موخه له یو شخص څخه د ګټې اخیستنې لپاره، انساني قاچاق بلل کیږي(کړوخیل، ۱۳۹۷ ل، ص. ۱۵).

د انسان او په ځانګړي ډول د ماشومانو او ښځو له قاچاق څخه د مخنیوي، کمولو او تعزیر په هکله له هېواده بهر د سازمان شوو جرمونو پرخلاف د ملګرو ملتونو سازمان د کنوانسیون الحاقي پروتوکول د ۳ مادې مطابق انساني قاچاق دا ډول تعریف شوی دی:

الف) د انسان قاچاق د تهدید یا زور یا د اجبار له نورو ډولونو څخه د ګټې اخیتسلو، سړي تښتونې، درغلۍ، تېر اېستنې، ناوړې ګټې اخیستنې، د زیانمنتوب حالت، د پیسو یا مالي ګټو د ورکړې یا ترلاسه کولو په وسیله د یوه فرد چې پر بل فرد باندې کنترول ولري د رضایت د تأمینولو په غرض د ناوړې ګټې د ترلاسه کولو په غرض د افرادو د جلب، حمل او نقل، ساتنې او لاس رسي په معنی ده، په ناوړه ګټه اخیستنه کې لږ تر لږه هغه ګټه اخیستنه چې د بدلمنۍ یا فحشاء یا د جنسي ګټې اخیستنې نور ډولونه، اجباري کار، غلامي یا غلامۍ ته ورته کارونه، اجباري خدمت یا د افرادو د غړو وېستل شامل دي(Pelmaro Protocol, 2000, p. 2).

**د انساني قاچاق عناصر**

په خلص ډول سره ویلی شو چې: د انساني قاچاق د ترسره کولو لپاره د ځینې عناصرو شتون لازمي دی چې عبارت دي له: ۱- کړنه یا عمل: ګمارنه یا استخدام، لېږ او رالېږد، لېږل، پناه ورکول، تسلیمول یا لاسته راوړل)، ۲- طریقه یا لارې چارې: ګواښ، زور، برمته کول، درغلي، فرېب او دوکه، د زیانمن د حالت څخه ناوړه ګټه اخیستنه،

د پیسو یا ګټې ورکولو یا اخیستلو له لارې د شخص د کنټرول د ترلاسه کولو لپاره د رضایت ترلاسه کول) او ۳- موخه: د جنسي ګټې اخیستنې د ټولو ډولونو لپاره استخدام، جبري کار، د خیرات ټولولو لپاره ګمارنه، د بدن د غړو اېستل، غلام جوړول او د دې په څېر نور(Silva and Heghine, 2013, p.1).

**د انساني قاچاق او کډوالو د قاچاق ترمنځ توپیرونه**

ډېری وختونه د ځینو اصطلاحاتو سره مخ کېږو چې مفهوم یې یو له بل سره مغالطه کېږي او دا اړوندې پدېدې څخه د سم د درک د لرلو مخنیوی کوي، د دا ډول اصطلاحاتو د ډلې څخه د کډوالو قاچاق او انساني قاچاق هم دي. زیاتره انساناني قاچاق او د کډوالو قاچاق مفهوم یو له بل سره مغشوش کیږي. د کډوالو قاچاق د کمېشن کارانو په واسطه د غیر قانوني سندونو، د پیسو د ورکړې او نورو وسیلو څخه په ګټې اخیستنې سره په خپله خوښه د یو ځای څخه بل ځای ته بېولو ته ویل کیږي. خو انساني قاچاق د کډوالۍ اجباري ډول دی چې قرباني په کې د زور، ګواښ، تاوتریخوالي، چل او فرېب سره له یو ځای څخه بل ځای ته د کار لپاره بېول کیږي.

د پورتني وضاحت په پام کې نیولو سره د انساني قاچاق او د کډوالو د قاچاق ترمنځ توپیر لاندې توپیرونه شتون لري: اول، د مهاجرینو قاچاق په لازمي ډول د نړیوالو پولو څخه تېریدلو ته شامليږي، خو په انساناني قاچاق د یو هېواد د پولو دننه هم صورت موندلی شي. دوهم، د کډوالو په قاچاق کې قرباني شخص رضایت لري خو په انساني قاچاق کې قرباني رضایت نه لري، که رضایت څرګندوي هم دغه رضایت د قاچاق وړونکي د جبر، فرېب او ناوړه ګټې اخیستنې پربنسټ لاسته راغلی وي(موثقی و اسفندیاری، ۱۳۸۷ ل، ص. ۲۹۰). دریم، د کډوالو قاچاق یوازې د مالي یا نورو مادي ګټو لپاره یو هیواد ته د یو کس غیر قانوني ننوتلو ته شامليږي، پداسې حال کې چې په انساني قاچاق کې د جنسي یا نوره ګټه اخیستنه، یا د غړو ایستلو لپاره ترسره کیږي. څلورم، د انساني قاچاق لپاره ځای او وخت ټاکلی نه وي، خو د کډوالو د قاچاق ځای او وخت معلوم او ټاکلی وي. پنځم، انساني قاچاق په ډېری مواردو کې د یو کس له لورې ترسره کیږي خو د کډوالو قاچاق په ډېرو مواردو کې د څو کسانو له لورې پر څو کسانو ترسره کیږي. شپږم، د کډوالو قاچاق په ډېرۍ آسانۍ سره په انساني قاچاق بدلیدلی شي، خو انساني قاچاق له ډېرو ستونزو وروسته د کډوالو پر قاچاق بدلېدای شي. او اووم، انساني قاچاق زیاتره د تاوتریخوالي سره مل وي، خو د کډوالو قاچاق کې د تاوتریخوالي کچه ډېره کمه وي(کړوخیل، ۱۳۹۸ ل، ص. ۱۸ او ۱۹).

**د انساني قاچاق ډولونه**

انساني قاچاق په مختلفو ډولونو ترسره کیږي، چې مهمترین یې په لاندې ډول دي:

۱- جنسي ګټه اخيستنه

د انساني قاچاق تر ټولو مشهوره بڼه د جنسي استثمار او يا دا ډول کارونو کې د ګمارنې مختلفې بڼې تشکيلوي، لکه په سوداګريزو جنسي عملونو، فحشا يا د فحاشي فلمونو په توليد کې د ښکيل کېدو لپاره د يو شخص مجبورول دي.[۷] د انساني قاچاق د قربانيانو څخه جنسي ګټه اخيستنه او په جنسي سوداګريزو په بازارونو کې د هغوی ګمارنه د انساني قاچاق د موضوع په سر کې قرار لري، څېړنې او ارقام ښيي چې له ۸۰ څخه تر ۹۰ سلنه پورې هغه کسان چې د انساني قاچاق قرباني کيږي، ښځې دي او د هغه څخه د ۷۰ سلنه څخه زياتې يې په جنسي بازارونو کې د ګټې اخيستنې لاندې نېول کيږي، چې په ځينو مواردو کې هغوی حتی د اووه کلنۍ سن هم نه وي تکميل کړی.[۸]

۲- د انسان د غړو سوداګري

د انسان د غړو ايستل که څه هم عام نه دي، خو بيا هم د نړۍ په کچه زيات شمېر داسې پېښې رامنځته کيږي چې په هغه کې انسانان د خپل وجود غړي له لاسه ورکوي. د انسان د غړو ايستل يوه پراخه او په نړيواله کچه غندل شوې سرغړونه ده. چې ډېری قربانيان د يو يا ډېرو غړو لرې کولو وروسته وژل کيږي يا د مرګ لپاره پرېښودل کيږي. دا تور بازار د هډوکو، وينې او بدن د نورو نسجونو په سوداګرۍ کې وده کوي.

۳- جبري کار

جبري کار په دې مفهوم دی چې شخص د خپلې خوښې خلاف د زور، درغلۍ يا جبر له لارې کار يا خدمت کولو ته اړ ايستل شي. دغه قربانيان عموماً په پټو ځايونو کې کار کوي، يعنی جبري کارونه معمولاً په لاندې برخو کې ترسره کيږي: کرهڼه او زراعت، جبري طبي آزمايښتونه، د کور کار: هغه څه چې په استوګنځي کې پېښيږي له نړۍ څخه پټ دي چې د قربانيانو د پيژندنې په لاره کې خنډونه هم رامينځته کوي.[۹] فابريکې او کارخانې، نايټ کلپ او بار، جبري سوال کول، د پور غلامي،[۱۰] د ماشومانو سرتيري کول، د غير قانوني کارونو په جبري ډول ترسره کول.

---

[7] The Different Types of Human Trafficking. Available at: https://ourrescue.org/education/prevention-awareness/how-to-escape-human-trafficking.

[8] علی الزهراني.(۲۰۱۰). جريمة الاتجار بالبشر: https://www.alukah.net/culture/0/27368/#ixzz6ETFIPwKW.

9 Understanding Human Trafficking. Available at: https://www.state.gov/what-is-trafficking- in-persons/.

10 The Different Types of Human Trafficking. Available at: https://ourrescue.org/education/prevention-awareness/how-to-escape-human-trafficking.

**د انساني قاچاق عوامل**

انساني قاچاق د يو لړ اقتصادي، حقوقي، سياسي او ټولنيزو عواملو پربنياد رامنځته کيږي، چې لاندې ترې يادونه کوو:

۱- اقتصادي: انساني قاچاق د نړۍ په کچه د لوړ عايد لرونکي سوداګري ده چې د دې لارې لاسته راغلي ګټه د هغې ګټې سره برابره ده چې د وسلو يا د مخدره توکو د سوداګرۍ څخه لاسته راځي. يعنی بې بضاعته اشخاص چې د ژوند وضعيت د بهتروالي په لټه کې وي، قاچاق کوونکي د هغوی د وضعيت څخه په ګټه اخيستنې سره د هغوی لپاره مختلفې لارې تياروې او زمينه ورته مساعدوي. د غړو د بخښولو تر نوم لاندې د ګردو او بدن د نورو غړو پلورل، د نکاح تر عنوان لاندې د کم عمره نجونو پلور، د کار او ګدايي لپاره د قربانيانو ګمارل، په جنسي بازارونو کې د ښځو څخه ګټه اخيستنه د قاچاقبرانو لپاره لوړه عايداتي سرچينه تشکيلوي(سازمان بين المللی انکشاف حقوق، ۱۳۹۹ ل، ص. ۱۴). د کار نشتوالی، کم عايد او د پورونو فشار هغه اقتصادي لاملونه دي، چې خلک په آسانۍ سره د قاچاق موخه ګرځوي(ILO, 2021, p.5). د انساني قاچاق د ټاکوونکو عواملو څخه يو هم هغه توپيرونه دي چې د مبدأ او مقصد هيوادونو ترمنځ شتون لري. فقر، بې کاري، کم عايد، د شغلي امنيت نه شتون هغه بد اقتصادي شرايط دي چې د سرحدونو څخه بېرون د غير قانوني مهاجرت لپاره يې زمينه رامنځته کړې ده. د دې ترڅنګ په پرمختللو هيوادونو کې د ښه ژوند او لوړ عايد د لاسته راوړلو ارزو هم په دې برخه کې زيات رول لري(کولائی، ۱۳۸٦ ل، ص. ۱۵۸). کله چې يو څوک په بې وزلۍ کې ژوند کوي؛ نو د خپلو بنسټيزو اړتياوو د پوره کولو لپاره زيانمن حالت هم مني. قاچاق وړونکي چې له دې سناريو سره بلد وي، هغې ته داسې دنده وړاندې کوي چې هغې ته د خپلو بنسټيزو اړتياوو د پوره کولو توان ورکوي. څکه دا هغې ته يوازينی انتخاب ښکاري، هغه ممکن ومني او د هر هغه څه کولو ته چمتو وي چې قاچاق وړونکی يې ترې وغواړي.[11]

۲- سياسي- حقوقي: د انساني قاچاق ځيني قربانيان هغه اشخاص دي چې په ټولنه د حاکم سياسي استبداد او د قانوني حقوقو څخه د حرمان په اثر د مختنق وضعيت څخه د خلاصون او انساني ژوندانه ته د رسېدو په موخه کډوالۍ ته مخه کوي، خو د خپل مقصود پرځای د قاچاقبرانو په لومو کې لوېږي(سازمان بين المللی حقوق، ۱۳۹۹ ل، ص. ۱۴). د انساني قاچاق د فعاليتونو څخه نه خبرتيا، د مسئولو نهادونو نه شتون يا په هغه کې د فساد شتون، د ښځو څخه د جنسي ګټې اخيستنې قانونيت، د مناسبو قوانينو نه شتون، د مجازاتو کموالی، د جبران

11 Micah Hartmann. (2021). Causes and Effects of Human Trafficking. Available at: https://theexodusroad.com/causes-effects-of-human-trafficking/

خسارې په هکله حقوقي حل لارو ته د لاسرسي نه شتون، د انساني حقوقو په پام کې نه نیول، د قوانینو ناقص والی، په ځینو مواردو کې د قانوني مراجعو ځواب نه ویل او یا د نوموړو مرکزونو نه شتون په نوموړو هیوادونو کې د انساني قاچاق د مهمترینو حقوقي او سیاسي عواملو څخه ګڼل کیږي(UNODC, 2022, p.9). په ځینو هېوادونو کې د سیاحت د چارو او اسانتیاوو د تنظیم قوانین په خپله د انساني قاچاق د رشد او پراختیا لپاره زمینه مساعدوي او د هغې تر چتر لاندې په مختلفو شکلونو او نویو او مډرنو طریقو سره اشخاص د دغه جرم قرباني ګرځي(الدوغان، ۲۰۰۹ م، ص. ۲۴).

۳- ټولنیز- کلتوري: په ځینو هیوادونو کې زیات شمېر خلک د خپلو شرعي، قانوني او حتی انساني حقوقو څخه خبر نه وي او په ټولنه د حاکم عرف له امله خلک د کورنۍ، قبیلې... د مشرانو او حاکمانو مطلق اطاعت کوي او د هغوی د چارو او تصمیمونو په وړاندې د اعتراض حق نه لري. له همدې امله، نوموړي د انساني قاچاق سره مخ کیږي. د بېلګې په ډول: شتمنو ته د کم عمره نجونو واده کول د دې مورد یو څرګند مثال دی، چې د دلالانو او کمېشن کارانو په منځګړتوب صورت مومي او له دې لارې زیات مقدار پیسې او شتمنې ترلاسه کوي. په ډېرو مواردو کې د مشرانو په رضایت او موافقې سره نجونې د واده تر نوم لاندې د قاچاقبرانو او شتمنو هوس بازانو په لومو کې لویږي.[۱۲] په بل عبارت، په ځینو ټولنو کې، په پراخه کچه دا منل شوې ده چې د ښځو او ماشومانو ارزښت کم شي او ناوړه ګټه ترې پورته شي.[۱۳]

۴- د توریستي پروژو پراختیا

په انساني ټولنه کې د سیاحت او توریزم پروسه د ښېګڼو ترڅنګ یو ډول سرطاني پرمختګ(جنسي توریزم) هم لري چې قربانیان یې زیاتره هغه اشخاص دي چې د کورنیو د اقتصادي فقر او د دولتونو د نه پاملرنې له امله تن پلورنې ته غاړه ږدي. دا چې جنسي توریزم اوسمهال یو عاید لرونکی کسب دی؛ نو زیاتره میزبان دولتونه په ظاهري او مستقیم ډول د هغې څخه ملاتړ کوي. د جنسي سیاحت د پراختیا اغېز د فحشا او انساني حقوقو د نقض لپاره د زمینې د مساعدېدو په برخه کې ښکاره ده. هغه سیمې چې د جنسي توریستانو په مقصد باندې بدله شي، هغه سیمه او محل د انساني قاچاقچیانو لپاره هم ځانګړی جاذبه رامنځته کوي، په داسې ډول چې هغوی د زیات عاید او مشتریانو د ترلاسه کولو په منظور هغه اشخاص چې د جنسي ګټې اخیستنې لپاره یې قاچاق کړې

---

[12] علي الزهراني.(۲۰۱۰). جريمة الاتجار بالبشر: https://www.alukah.net/culture/0/27368/#ixzz6ETFIPwKW .

[13] Micah Hartmann. (2021). Causes and Effects of Human Trafficking. Available at: https://theexodusroad.com/causes-effects-of-human-trafficking/

دي ذکر شوې سیمې ته لېږدوي او په دې توگه جنسي توریزم د انساني قاچاق په پراختیا باندې منجر کیږي(وجدانی فخر، ۱۴۰۰ ل، ص. ۱۲۵).

**د انسانانو قاچاق اغېزې**

قاچاق د افرادو پر وړاندې یو جرم دی او د دې جرم تر ټولو مستقیم زیان د قاچاق شوو کسانو پر ژوند دی. د انسانانی قاچاق پایلې هم د دې پدیدې د دقیقو ارقامو د مقدار په څېر سخت دي. په هر صورت د انساني قاچاق د مهمترینو پایلو څخه لاندې یادونه کوو:

**الف- پر افرادو د قاچاق اغېزې**

انساني قاچاق په افرادو باندې مختلفې اغېزې لري، چې لاندې په افرادو باندې د انساني قاچاق د څو مهمو پایلو او اغېزو څخه یادونه کوو:

**د قاچاق فزیکي اغېزې:** د انساني قاچاق ډیری قربانیان له فزیکي ټپونو او زیانونو سره مخ کېږي. هغه کسان چې د گټې اخیستنې سره مخ شوي وي، ډېر ځله د قاچاقچیانو او مشتریانو له لوري د زور، وهلو، او اوږدمهاله بدسلوکۍ ښکار کېږي. دوی ممکن تبنتول شوي، جنسي تېري پرې شوی، وهل شوي او د اوږدې مودې لپاره په بدو شرایطو کې ساتل شوې وي. دا ډول قربانیان د جنسي لارې د انتقالېدونکو ناروغیو، مکروبي انتاناتو، شکر، سرطان او نورو ناروغیو د اخته کېدو له جدي خطر سره هم مخ دي.[14]

**په ناروغیو مبتلا کېدل:** د انساني قاچاق قربانیان په ځانگړي ډول ښځې زیاتره په خطرناکو ویروسي ناروغیو باندې اخته کیږي، څېړنې ښیي هغه ښځې چې د فساد په مرکزونو کې فعالیت کوي په زیات احتمال سره په شپږو لومړنیو میاشتو کې د کې د ایډز په ناروغۍ اخته کیږي(پورقربانی و پورابراهیم، **۱۳۹۳** ل، ص. ۷۶). یو تازه څېړنه چې د جنسي استثمار قربانیانو کې د ایډز پېژندنې او مخنیوي په اړه وه، ښودلې چې ٪۲۲.۹ کسانو کې د ایډز شتون موندل شوی، هغه کسان وو چې په ځوان عمر کې قاچاق شوي او زیات وخت یې په بدو شرایطو کې تېر کړی(Paul, 2006, p.84).

**د رواني روغتیا اغېزې:** بې‌دریغه اضطراب، ویره، او فزیکي درد او ټپونه د قاچاق شوو قربانیانو پر رواني روغتیا او هوساینې ژور منفي اغېز کوي. په قاچاق شوو کسانو کې د رواني ټپ نښې نښانې لکه: د ټپ وروسته فشار،

[14] Micah Hartmann. (2021). Causes and Effects of Human Trafficking. Available at: https://theexodusroad.com/causes-effects-of-human-trafficking/

اضطراب، خپګان، ځان پردیتوب، ګډوډي او لار ورکېدنه موندل شوې دي او دا کسان د شدید خفګان، او د راتلونکي په اړه د بې‌امېدۍ احساس لري(Hossain et al., 2010, p.5). ځینې له دې قربانیانو د حافظې ستونزې ولري، له خلکو ځان وباسي او ممکن ځان وژنې ته چمتو وي(UNDP, 2003, P.7). همداراز، هغوی د تمرکز کولو ستونزه لري، غوصه‌ناک او تېز چلند لري. ځېرنې ښیي چې رواني ټپ د قاچاق پرمهال لا پسې زیاتېږي(UNODC, 2024, p. 14).

**الکولي او نشه يي توکي**: د انساني قاچاق قربانیان ممکن د قاچاقبرانو له لورې د نشه يي توکو په کارولو مجبور شي. د انساني قاچاق ځینې ښځینه قربانیانو ویلي چې څنګه د مخدره موادو یا الکولو کارولو ته اړ کړل شوې تر څو د قاچاقبرانو اطاعت وکړي، زیات مشتریان ومني، زیات وخت کار وکړي یا خطرناکې کړنې ترسره کړي(Lederer & Wetzel, 2014, p.15–16). همدارنګه قربانیان کېدای شي د خپلې درد او غم د کمولو لپاره نشه يي توکو ته مخه کړي چې دا زیاتره د اعتیاد، د بدن د غړو زیان، غذایي کمزورتیا، د ستنې له لارې انتانات، ډېر دوز اخیستل او د مرګ لامل هم کیږي.

**د چلند اغېزې:** د انسان قاچاق قربانیان د اوږدې مودې فزیکي او رواني زورزیاتي له امله د چلند او احساس له پلوه شدید زیان ویني او داسې شدید ټپونه تجربه کوي چې د هغې د درک او بیان توان له منځه وړي او قربانیان ډېر وخت نه پوهېږي چې له دوی سره دقیقاً څه شوي، او دا موضوع دوی ته ستونزمنوي چې د چارواکو سره خبرې وکړي یا مرسته وغواړي؛ هغوی معمولاً دا هم نه‌شي ویلی چې دقیقاً څه ډول مرسته ورته په کار ده. له اړوندو چارواکو سره د مرکې پرمهال قربانیان پوښتنو ته د ځواب ورکولو په څرنګوالي هم نه پوهیږي، ممکن معلومات پټ کړي، غلط او یا د ملاتړو ادارو پر وړاندې بده رویه وکړي، چې دوی شاکي، غیر همکار یا نه منندوی ښکاره کوي(UNODC, 2008, P.85).

منهاج سراج، عثمان. (۱۳۴۳)، طبقات ناصری، تصحیح عبدالحی حبیبی، جلد دوم، مطبعه دولتی، افغانستان: کابل.

هاشمی، سید علی آغا. (۱۳۹۹)، سیمای گردیز در آینه تاریخ و فرهنگ، کابل: کوته سنگی، سرک دهبوری مارکیت مطبعه تمدن.

# د امنیت او خوندیتوب په برخه کې د اسلامي شریعت اغیزې

پوهنیار حبیب الرحمن حبیبي، شیخ زاید پوهنتون، شرعیاتو پوهنځی، فقه او قانون څانگه.
**برېښنا لیک:** habiburamanhabibi786@gmail.com

**لنډیز**

غواړم، چې د خپلې مقالې لنډیز په لاندې څو جملو کې وکړم، اسلامي شریعت د دوکلمو څخه جوړ شوی دی، چې یوه یې اسلام او بله یې شریعت دی، اسلام په لغت کې تسلیم او انقیاد ته وایي او په اصطلاح کې د الله تعالی ټولو حکمونو ته ځان تسلیمولو ته اسلام وایي، او شریعت یوه عربي کلمه ده، چې شرع یشرع څخه اخستل شوی ده چې په لاندې ماناو سره کارول شوی ده: روښانه لار یا طریقه او په اصطلاح کې شریعت هغه الهي احکام دي چې د انسانانو د دیني او دنیاوي ژوند تنظیم لپاره نازل شوي دي، چې له قرآن کریم، نبوي سنتو، اجماع او د اسلامي امت د فکري میراث څخه اخستل شوي او د مسلمان فرد او ټولنې د ژوند پر ټولو اړخونو اغیز لري. امنیت او خوندیتوب د الله تعالی له طرفه پر مخلوقاتو باندې ډیره لویه فېرزوینه او نعمت دی، همدا وجه ده چې د نوموړي نعمت د نه شتون په صورت کې د نړۍ ټول پرمختگونه د هیڅ سره برابر دي، د امنیت اوخوندیتوب په راوستلو کې اسلامي شریعت مستقیما اغېزې لري؛ ځکه چې اسلامي شریعت د عقېدې، عباداتو، اقتصاد، اخلاق او سیاست څخه بحث کوي او څه وخت چې د یوه فرد روزنه دا ډول وشي، چې حقوق الله او حقوق العباد دواړه یې پېژندلي او په عمل کې یې راوستي وي؛ نو ټولنه خو د افرادو څخه عبارت ده او کله چې د ټولنې هر فرد په صحیح عقیده، عباداتو او اخلاقو باندې سمبال وي؛ نو امنیت او خوندیتوب ورسره یقیني دی.

**کلیدي کلمې:** امنیت او خوندیتوب، اغیزې پر ټولنه ، اړتیاوې او اسلامي حل لارې، بنسټیز اصول او ارزښتونه.

## سريزه

**بسم الله الرحمن الرحیم، الحمد لله رب العلمین والصلاة والسلام على سید المرسلین وعلى اله واصحابه اجمعین !**

﴿**أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا جَعَلْنَا حَرَمًا آمِنًا وَيُتَخَطَّفُ النَّاسُ مِنْ حَوْلِهِمْ أَفَبِالْبَاطِلِ يُؤْمِنُونَ وَبِنِعْمَةِ اللَّهِ يَكْفُرُونَ**﴾ (سورة العنکبوت/ ٦٧).

امنیت او خوندیتوب د بشري ژوند له مهمو اړتیاوو څخه دی، انسان چې هر څومره پرمختګ وکړي که چېرې امنیت او خوندیتوب ونه لري؛ نو هغه پرمختګ به بې ارزښته وي له همدې امله ټول بشري نظامونه هڅه کوي، چې د سولې او امنیت فضا رامنځته کړي او تراوسه پورې په دې نه دي بریالي شوي؛ خو اسلامي شریعت د نړۍ له ټولو نظامونو ځانګړی دی؛ ځکه چې دا نه یوازې قانوني بلکې اخلاقي، روحي او ټولنیز بنسټونه لري. په دې مقاله کې به وڅېړو، چې اسلامي شریعت څه ډول د فردي او ټولنیز امنیت او خوندیتوب سبب کیږي او څه ډول اصول وړاندې کوي چې امنیت، خوندیتوب، عدالت او ورورولي تضمین کړي.

## د څېړنې موخې

لوستونکي به د څېړنې په پای کې په دې وتوانیږي چې:

۱ـ اسلامي شریعت چا ته ویل کیږي.

۲ـ د اسلامي شریعت بنسټیز اصول او ارزښتونه به وپېژني.

۳ـ په دې به پوه شي، چې اسلامي شریعت څه ډول کولای شي امنیت او خوندیتوب تضمین کړي.

## د لیکنې کړنلاره

د ما دغه لیکنه یوه کتابتوني لیکنه ده؛ نو ما زیار ایستلی دی، چې په نوموړې لیکنه کې د کتاب الله، سنت رسول الله، او د اسلامي امت د معتبرو علماو اقوال رانقل کړم، او د مختلفو تفسیرونو څخه استفاده وکړم.

## د موضوع اهمیت

په دې کې شک نشته چې نړۍ که څه هم د ورځې نه بلې ته د پیشرفت په حال کې ده؛ خو امنیت او خوندیتوب انساني او بشري اړتیا ده هر عقل مند له نوموړې خبرې سره اتفاق لري او هېڅوک یې مخالفت نشي کولای، او د الله نعالی ډیر لوی نعمت دی، الله تعالی د احسان په ډول ترې یادونه کوي او فرمایې: ﴿**أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا جَعَلْنَا حَرَمًا آمِنًا وَيُتَخَطَّفُ النَّاسُ مِنْ حَوْلِهِمْ أَفَبِالْبَاطِلِ يُؤْمِنُونَ وَبِنِعْمَةِ اللَّهِ يَكْفُرُونَ**﴾ (سورة العنکبوت/ ٦٧).[١٦] ژباړه: آیا نه وېني (نه

[١٦] -(سورة العنکبوت/ ٦٧).

پوهیږي) چې بېشکه مونږ گرځولی مو دی(دا ښار د دوی مکه) حرم امن ورکوونکی (له آفتونو نه) حال دا چې چور کیږي (تښتولی کیږي) نور خلق له چاپېره د دوی آیا پس په باطلو معبودانو ایمان راوړي دوی او په نعمت د الله (چې حرم کې اوسیدل او امن دی) کافران کیږي.

څکه خو د نوموړي نعمت زوال ډیره لویه سزا دی، همدغه امنیت او خوندیتوب دی چې د هغې له برکته خلک خپل ځان، مال، عزت او فامیل په اړه د اطمینان څخه ډک ژوند تیروي، همدا وجه ده چې آبادۍ او پېشرفت لپاره امنیت او خوندیتوب د بنیاد حیثیت لري، په دې کې ذهني سکون او حالاتو سمون پټ دی؛ نو زما دغه علمي مقاله به په دې کې مرسته او کمک وکړي.

**۱ ـ د اسلامي شریعت بنسټیز اصول او ارزښتونه**

لومړی غواړم چې د اسلامي شریعت لغوي او اصطلاحي تعریفونه وکړم، چې هره یوه یې بېله بېله تر څېړنې لاندې نېسو.

**الف ـ د اسلام لغوي او اصطلاحي څېړنه**

**لغوي څېړنه:** اسلام د اسلم یسلم باب افعال څخه مصدر دی گردن نهادن او فرمان بردن ته وایي یعني اسلام په لغت کې غاړه کېښودلو او تسلیمېدلو ته وایي.[۱۷]

**اصطلاحي تعریف:** اصطلاحي تعریف یې په فقه اکبر کې دا ډول کړی دی **((والاسلام هُوَ التَّسْلِيم والإنقياد لأوامر الله تَعَالَى)).**[۱۸]

**ژباړه:** د الله تعالی ټولو احکامو ته ځان تسلیمولو ته اسلام وایي.

**ب ـ شریعت په لغت کې:** شریعت په لغت کې د «الطریق الواضح» (روښانه لار) معنا لري، داوبو سرچینه ،یعنې هغه لار چې د اوبو سرچینې ته رسوي[19].

**اصطلاحي معنا: الأحكام التي شرعها الله تعالى لعباده على ألسنة رسله، مما يتعلق بعقائدهم وأعمالهم وأخلاقهم**[20].

---

[۱۷] ـ دکتر محمدمعین (ب ـــ ت). فرهنگ فارسی ج۱ ص۲۷۲. مکتبه حقانیه پېښور.

[۱۸] ـ الفقه الاکبر/ ص۵۷) الفقه الأكبر (مطبوع مع الشرح الميسر على الفقهين الأبسط والأكبر).

[19] - : ابن منظور، محمد بن مکرم بن علي، ابو الفضل، جمال الدین الإ فریقي. (۱۴۱۴هـ). لسان العرب ج ۱/ ماده (شرع)، (ط. ۳).

[20] - الفقه الأكبر، للإمام أبي حنيفة، ص ۳۰۵ (ط. دار البشائر)

يعنې شريعت هغه الهي احکام دي چې الله تعالی د خپلو بندګانو لپاره د انبیاوو په ژبه تشريع کړي، د دوی د عقايدو، عباداتو، او معاملو د سمون لپاره.

**د اسلامي شريعت اصطلاحي تعريف:** په اصطلاح کې اسلامي شريعت هغه ټولنيز اعتقادي، اخلاقي، عملي او فکري ارزښتونه، مفاهيم او اصول دي، چې له قرآن کريم، نبوي سنتو، اجماع او د اسلامي امت د فکري ميراث څخه اخستل شوي او د مسلمان فرد او ټولنې د ژوند پر ټولو اړخونو اغيز لري..[21]

قال رسول الله ﷺ: «**المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده**)).[٢٢]
ژباړه: کامل مسلمان هغه دی چې د هغه د لاس او ژبې څخه ټول مسلمانان محفوظ وي.

قال رسول الله ﷺ **:(المسلممن سلم المسلمون من لسانه ويده والمؤمن من أمنه الناس على دمائهم وأموالهم).[٢٣]**

**ژباړه:** کامل مسلمان هغه دی چې د هغه د لاس او ژبې څخه ټول مسلمانان محفوظ وي او کامل مومن هغه دی چې د هغه څخه د ټول انسانيت ځانونه، مالونه محفوظ وي.

د نوموړيو مبارکو احاديثو صاف مطلب دا شو، چې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم راوړل شوی پيغام (اسلام) او د نبي کريم صلی الله عليه وسلم پاک ژوند اصلي هدف انساني ټولنې ته د کوم امتياز څخه علاوه امنيت او خونديتوب ورکول دي. په دې اړه څه وخت چې د بدامنۍ په اسبابو کې فکر وکړای شي؛ نو معلومېږي چې په ټولنه کې د بدامنۍ او فساد اصل سبب ځينې ګناهونه دي او له دغو ګناهونو څخه اهم ګناهونه او بدۍ دا دي: د چا په ژوند، مال يا عزت کې لاس اچول يا د چا په دين کې مداخله کړل يا د هېوادونو د نېونې د هوس په نيت د چا په ځمکې يرغل کړل، چې هغې ته په نني اصطلاح کې (violation of Human Rights) وايي.
اوس مونږ ګورو چې په دې اړه اسلامي شريعت مونږ ته څه ډول تعليمات راکوي:

**۱ـ د انساني ژوند احترام :** د اسلامي شريعت د تعليماتو سره برابر بل امتياز د هر انسان ژوند د احترم وړ دی، کوم يو انسان په ناحقه وژل د پوره انسانيت وژلو برابر دی او د کوم يوه انسان ژوند ساتل د ټول انسانيت ژوند ساتلو مترادف دی، لکه څه ډول چې په قرآن کريم کې الله تعالی فرمايي: ﴿**مِنْ أَجْلِ ذَٰلِكَ كَتَبْنَا عَلَىٰ بَنِي إِسْرَائِيلَ**

---

21 ـ عمر فروخ، الثقافة الاسلامية/ ١٣، مکتبة دار ابن کثير، بيروت.
٢٢ - البخاري أبوعبدالله، محمدبن إسماعيل الجعفي. (١٤٠٧هـ). (صحيح البخارى ج١/ ١١).. (ط.٣). بيروت: دار ابن کثير، اليمامة.
٢٣ - الترّمذِي، أبو عيسى، محمد بن عيسى بن سَوْرة بن موسى بن الضحاك. (د.ت). صحيح سنن ترمذي ج٥/ ١٧. بيروت: دار إحياء التراث العربي.

أَنَّهُ مَنْ قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي الْأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعًا وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَا أَحْيَا النَّاسَ جَمِيعًا وَلَقَدْ جَاءَتْهُمْ رُسُلُنَا بِالْبَيِّنَاتِ ثُمَّ إِنَّ كَثِيرًا مِنْهُمْ بَعْدَ ذَلِكَ فِي الْأَرْضِ لَمُسْرِفُونَ ﴾.[٢٤]

**ژباړه:** په سبب د دې (قتل) لیکلی وو ( حکم کړی وو) مونږ پر بني اسرائیلو ( اولاده د یعقوب) چې بېشکه شان دا دی هر څوک چې ووژني یو نفس بې له ( عوض، بدل د ) بل نفس نه ( یا بې) له فساده په ځمکه کې ( چې په ملک کې یې فساد کړی وي) نو ګواکې وژلی یې دی خلق ټول او هر چا چې ژوندی کړو دغه (یو نفس چې سبب شي د ژوندون یې) نو ګواکې ژوندی کړی یې دی خلق ټول، او خامخا په تحقیق راغلي وو دوی ته رسولان زمونږ په ښکاره بیا په تحقیق سره ډیر له دوی نه بس له دې ( راتلو د رسولانو نه هم) په ځمکه ( په ملک ) کې خامخا مسرفان ( له حده تېریدونکي) دي.

یعني په ناحقه قتل کې ډېر دنیوي او اخروي خسران دی او ډېرې خرابی پایلې ورباندې مرتب کېږي، تر دې چې پخپله قاتل هم د دې حرکت څخه روستو ډېر افسوس او ارمان کوي او یو لاس پر بل موښي؛ لومړی د ځمکې په مخ لویه ګناه هم دا پیښه شوه، چې (( قابیل)) د (( هابیل)) قاتل شو او وروسته له هغه ناحقه قتل دود او رواج شو؛ نو ځکه په تورات کې داسې فرمایل شوي دي(( که څوک یو سړی وژني ګواکی ټول خلق وژني)) یعني د یوی ناحقی وینی له تویولو څنې نور هم پر هغه جرم زړور کېږي؛ نو په دې حیثیت سره هر هغه سړی چې بل وژني ګواکی د بدامنۍ بنیاد ږدي او هغه د ټولو انسانانو د وژلو او د عمومي بدامنۍ ور پرانېځي او هغه څوک چې یو سړی ژوندی کوي یعني د کوم ظالم قاتل له لاسه یې ژغوري ګواکی دی په خپل دې عمل سره نورو ټولو انسانانو ته هم د ژغورلو او مامون پاتې کېدلو دعوت ورکوي او دغی نېکي ته دوی ټول سره رابولي.[٢٥]

قَالَ رسول الله صلى الله عليه وسلم: (فَإِنَّ دِمَاءَكُمْ وَأَمْوَالَكُمْ عَلَيْكُمْ حَرَامٌ كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هَذَا فِي شَهْرِكُمْ هَذَا فِي بَلَدِكُمْ هَذَا ، هَلْ بَلَّغْت ؟ قَالُوا : نَعَمْ ، قَالَ : اللَّهُمَّ اشْهَدْ)[٢٦]

**ژباړه:** رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: د ستاسې ځانونه، مالونه او عزتونه د یو بل لپاره داسې د احترام وړ دي لکه نن ورځ (٩ ذی الحجی) او دغه میاشت (ذی الحجه) او لکه دغه ښار ( مکه مکرمه).

---

[٢٤] -(سورة مائده / ٣٢).

[٢٥] -(القران الكريم وترجمة معانيه الى لغة البشتوج١ ص ٦٣٠).

[٢٦] - أبو بكر بن أبي شيبة، عبد الله بن محمد بن إبراهيم بن عثمان بن خواستي العبسي. (د.ت). مصنف ابن ابي شيبة ج١٥/٢٦. (ط ـ١ ). الرياض: مكتبة الرشد.

قَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– «كُلُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ حَرَامٌ مَالُهُ وَعِرْضُهُ وَدَمُهُ حَسْبُ امْرِئٍ مِنَ الشَّرِّ أَنْ يَحْقِرَ أَخَاهُ الْمُسْلِمَ ».[۲۷]

**ژباړه:** د یو مسلمان ځان، مال او عزت په بل مسلمان باندې حرام دی او د یو کس د شر لپاره دا بسنه کوي چې هغه خپل بل مسلمان ورور ته حقارت په نظر وګوري.

قَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم: " وَلَا يَحِلُّ لِامْرِئٍ مِنْ مَالِ أَخِيهِ إِلَّا مَا طَابَتْ بِهِ نَفْسُهُ ".[۲۸]

**ژباړه:** د یو ورور مال د هغه د خوښی څخه پرته د چا لپاره یې خوړل حلال نه دي.

د اسلامي شریعت د تعلیماتو سره سم رشوت، غبن، ملاوټ، احتکار، په تله کې کمی او زیاتی کړل، دوکه او فریب، د حرامو او ناجایزو شیانو کاروبار، ناروا قبضه، لارو شوکول، جواري، سود، غلا او داسې نور د روزی د تر لاسه کولو ناجایزې وسیلې دي. که چېرې په دغو وسیلو سره روزي تر لاسه کول پیل شي؛ نو د ټولنې څخه به امنیت او خوندیتوب پورته شي. له دې وجه نبي کریم صلی الله علیه وسلم د روزۍ تر لاسه کولو نوموړې ټولې وسیلې حرامې او ناجایزې وګرځولی، تر دې پورې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي: ((لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ لَحْمٌ نَبَتَ مِنْ سُحْتٍ، النَّارُ أَوْلَى بِهِ.)).[۲۹]

ژباړه: کومه غوښه چې د حرام څخه پیدا شوي وي هغه به جنت ته د ننه نشي؛ نو جهنم د هغې سره ډېر وړ دی.

**د انساني عزت احترام:-** په نړۍ کې د فتنې او فساد د اهمو سببونو څخه یو سبب دا هم دی، چې د چا په عزت کې په ناحقه لاس واچول شي، د اسلامي شریعت د تعلیماتو سره سم هر شخص د احترام قابل دی برابره خبره ده که هغه حاکم وي یا محکوم، سړی وي یا ښځه، مسلمان وي یا غیر مسلم وي، استاد وي یا شاګرد، امیر وي یا غریب، آمر وي یا مامور، لوسته وي یا نالوسته، هر یو د مناسب عزت او احترام مستحق دی. الله تعالی پوره انسانیت د تکریم قابل جوړ او پیدا کړی دی لکه څه ډول یې په قرآن مجید کې ترې یادونه کړی ده: ﴿وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ وَحَمَلْنَاهُمْ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَرَزَقْنَاهُمْ مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَفَضَّلْنَاهُمْ عَلَى كَثِيرٍ مِمَّنْ خَلَقْنَا تَفْضِيلًا ﴾.[۳۰]

---

[۲۷] - السجستاني، سلیمان بن الأشعث ، ( د.ت). سنن آبي داود ج۴/ ۴۲۲. بیروت: دار الفکر.

[۲۸] - ابو عبد الله الامام احمدبن حنبل مسند احمد ج۲۴/ ۲۳۹. (ب ـ ت). بیروت: دار الکتب العلمیة.

[۲۹] - أبو عبد الله الحاکم محمد بن عبد الله. (۱۴۱۱ – ۱۹۹۰). المستدرك علی الصحیحین ج۴/ ۱۴۱. (ط.۱). بیروت: دار الکتب العلمیة.

[۳۰] -(سورت اسراء / ۷۰).

**ژباړه:** او خامخا په تحقیق ډېر عزت ورکړی دی مونږ اولاده د آدم ته او سواره کړي مو دي دوی پر مرکوباتو باندې په بر (وچه) کې او په بحر (سیند) کې او رزق روزي مو ورکړی ده دوی ته له طیباتو پاکیزه شیانو او غوره کړي مو دي دوی پر ډېرو هغه چا چې پیدا کړي مو دي په غوره کولو (ډېرو) سره.

تنبیه: مفسرین د دې آیت لاندې په دغه بحث کې سره لګیدلي دي، چې آیا پرښته افضله ده؟ که انسان پر پرښتو افضلیت لري؟ لېکن د انصاف خبره خو دا ده چې د آیت څخه د دې خبری ( د فاضل او مفضول) فیصله نه کېږي، زمونږ د حنفیانو دغه رایه نقل کړی شوی ده، چې بشري رسولان پر (ملکي رسولانو) افضلیت لري او (ملکي رسولان) پر نورو ګردو پرښتو او انسانانو د بشري رسولانو په استثناء افضل دي. او پرښتو ته پر عامو انسانانو افضلیت حاصل دی والله اعلم.[٣١]

له نوموړي آیت مبارکه ښکاره شوه، چې هر انسان د احترام قابل دی که څه هم هغه د کوم رنګ، نسل، وطن، ژبې او دین سره تعلق لري، همدا وجه ده چې اسلامي شریعت په خپلو پاکو تعلیماتو سره هره هغه رویه حرامه ګرځولی ده چې په هغې سره د کوم انسان هم عزت مجروح کېږي. د حجرات په سورت کې الله جل جلاله فرمايي: ﴿**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِنْ قَوْمٍ عَسَى أَنْ يَكُونُوا خَيْرًا مِنْهُمْ وَلَا نِسَاءٌ مِنْ نِسَاءٍ عَسَى أَنْ يَكُنَّ خَيْرًا مِنْهُنَّ وَلَا تَلْمِزُوا أَنْفُسَكُمْ وَلَا تَنَابَزُوا بِالْأَلْقَابِ بِئْسَ الِاسْمُ الْفُسُوقُ بَعْدَ الْإِيمَانِ وَمَنْ لَمْ يَتُبْ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ (١١) يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيرًا مِنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ وَلَا تَجَسَّسُوا وَلَا يَغْتَبْ بَعْضُكُمْ بَعْضًا أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَنْ يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ رَحِيمٌ (١٢) يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ**﴾.[٣٢]

**ژباړه:** ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی ( یعني ای مومنانو) ټوکی او مسخری دې نه کوي هیڅ یو قوم له تاسی څخه په بل قوم باندې؛ ځکه ښایي چې وي به دغه (مسخره کړی شوی) بهتره او غوره (په نزد د الله تعالی) له دی ( مسخره کوونکیو) څخه او ( نه دې ټوکې او سپکاوی کوي) یو ټولی ښځې له تاسې په نورو ښځو؛ ځکه مسخری کړی شوي) به بهتری او غوره وي (په نزد د الله تعالی له دې مسخره کوونکیو څخه) او مه عیب جويي کوئ بعضی د تاسو د بعضی نورو؛ ځکه چې بیا د تاسو عیب جويي هم کېږي( چې دا په حقیقت کې د ځان عیب جويي ده) او مه غواړئ تاسې یو تر بله په بدو نومونو او القابو سره، بد دی دا دری نومونه د (سخريې، تنابر)

---

[٣١] -( القران الكريم و ترجمة معانيه و تفسيره الى لغة البشتو ج ١/ ١٦۴٦).
[٣٢] -(سورت حجرات/ ١١، ١٢، ١٣).

له جهته د فاسقې روستو له ايمان لرلو څخه او هغه چې توبه يې ونه ايستله؛ نو دغه کسان هم دوی دي ظالمان (پر ځانونو خپلو).

ای مومنانو! ځان وساتئ تاسې ډېر له بدګمانيو او تهمتونو نه (په خلکو باندې) بېشکه ځينې بدګمانونه او تهمتونه ګناه ده او مه لټوئ تاسی پټ عيبونه د مسلمانانو او نه دې کوي غيبت ځينې ستاسی د ځينو نورو، آيا خوښوي يو له تاسی څخه دا چې وخوري غوښې د ورور خپل حال دا چې مړی وي پس بد ګڼئ تاسی هغه؛ نو هم دا رنګه بد وګڼئ د مسلمان ورور غيبت او عيب لټول، وويرېږئ تاسی له الله تعالی څخه بېشکه الله تعالی ښه توبه قبلوونکی ډېر رحم واله دی.

ای خلکو بېشکه مونږ پيدا کړي يئ تاسی ټول (اصلا) له يوه سړي چې (آدم) او له يوی ښځې چې (حوا) ده او ګرځولي يئ مونږ تاسې څانګې او قبيلی قبيلی دپاره د دې چې وپېژنئ يو له بل سره بېشکه چې ډېر مکرم او معزز له تاسی څخه په نزد د الله تعالی ډېر متقي ادب لرونکی ستاسی دی. بېشکه چې الله تعالی ښه عالم ډېر خبردار دی.[33]

بل ځای کې الله تعالی فرمايي: ﴿وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا وَغَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا﴾.[٣٤]

**ژباړه:** او هر څوک چې مړ کړي کوم مومن په قصد سره (او د مسلمان دغه قتل روا هم وګڼي) نو جزا د ده دوزخ دی (په داسې حال کې) چې تل به وي دی (دغه حلال ګڼونکی د قتل) په هغه (دوزخ) کې او غضب (قهر) کړی دی الله تعالی په ده باندې او لری کړی دی (الله) دا (قاتل) له خپل رحمت څخه) او تيار کړی دی ده ته عذاب ډېر لوی.

فايده: د ټولو عالمانو په نزد (خلود فی النار) هغه چا لره دی، چې د مسلمان وژل حلال ګڼي؛ ځکه د هغه په کفر کې شک نشته. يا به له ((خلود)) (تل ترله) ځنې تر اوږدی مودی پورې په جهنم کې هستوګنه وي. يا خو به داسې قاتل مستحق د هم داسې لوی سزا وي، وروسته الله تعالی پخپله مالک او مختار دی، او ((خلود فی النار)) او ((خروج عن النار)) دواړه د ده کار دی هر څه چې اراده يې وي همغسی کوي. والله اعلم.[٣٥]

33 - تفسير القرآن العظيم و ترجمته معانيه الی لغة البشتو ج۲/ ۱۲۱۱.

٣٤ -(سورة نساء /۹۳).

٣٥ - (القران الكريم وترجمة معانيه الى لغة البشتوج۱ ص۵۱۸).

په يو بل ځای کې الله تعالی فرمايي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلَّا أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِنْكُمْ وَلَا تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا﴾.[٣٦]

ژباړه: ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی (يعني ای مومنانو!) مه خورئ تاسې مالونه د يو بل په خپلو منځونو کې په ناروا سره، مګر (خورئ يې) که وي دا (مالونه چې خورئ يې مالونه د ) تجارت (چې صادر وي) په خوښۍ سره له تاسو نه، او مه وژنئ تاسی سره ځانونه خپل (يعني يو بل يا مه کوئ تاسې هغه کار چې ستاسې د هلاکت سبب وي) بېشکه چې الله تعالی دی پر تاسې باندې ډېر مهربان( د اجر او ثواب په انعام سره).

د هغې خلاصه داسې شوه(( په جايزې طريقې سره له مال اخستلو څخه هيڅ ممانعت نشته، چې د هغه مال ترک کول په تاسې درونږ وي. ( ځينې وايي چې مقصود له دې نهيې په هغه څه کې د ما ل مصرف کولو څخه منعه ده چې د الله تعال رضا په کې نه وي، او په تجارت سره يې مصرف کول دا دي چې د الله تعالی په لاره کې او د الله تعالی په رضا کې وي).[٣٧]

په دې نصيحتونو باندې هم هغه څوک عمل کوي، چې په زړه کې يې د الله تعالی ويره وي که د الله تعالی ويره نه وي؛ نو هيڅ نه کيږي.

زياتره د غيبت، طعن، ذم او عيب لټولو منشاء کبر او غرور دی، چې انسان خپل ځان لوی ګڼي او نورو ته په حقارت او سپکه ګوري؛ نو ځکه الله تعالی دلته دا راښيي چې انسان لره نه ښايي چې په اصل، نسب، لويي او عزت باندې مغرور شي؛ بلکې پوه دې شي چې د انسان اصلي لويي او عزت په دې کې دی، چې ښه خصلتونه ولري او تل له الله تعالی څخه وويريږي، مؤدب او پرهيزګار وي تر څو د ښو صفاتو په ميچ او اندازه د الله تعالی په دربار کې معزز، مکرم او محترم شي. د نسب حقيقت خو دا دی، چې ټول نارينه او ښځې له آدم او حوا عليهما السلام څخه پيدا دي، سيدي، عثماني، فاروقي، صديقي، انصاري، شيخي، خاني، زويتوب او نورې ستاينې د ښه علم، عمل او تقوا په مقابل کې هيڅ دي. او دا خاندانونه، صفتونه او ستاينې پرته له دې څخه چې خلک پرې پېژندل کيږي او په تعارف کې کار ورکوي بل کوم قدر او قيمت نه لري. اصلي قدر او قيمت د هر سړي په دې کې دی، چې متقي، پرهيزګار او پوه وي. د شک پرته هر څوک چې الله تعالی په کومه شريفه، لويه، معززه او ښه کورنۍ کې پيدا کړی وي، هغه خو يو موهوب شرف دی لکه ځينې کسان يې ښکلي جوړ کړي وي؛ خو يوازې

٣٦ -(سورة نساء/٢٩).
٣٧ -(القران الکريم وترجمة معانيه الی لغة البشتوج١ ص ٤٦٠).

هم هغه ښکلیتوب د ناز او فخر وړ نه دی او نه د کمال او فضیلت معیار ګڼلې شي او نه هم د هغه له وجې نورو ته په سپکه سترګه کتی شي. هو! شکر دې وکړي چې الله تعالی بلا اختیار او کسب مونږ ته دا نعمت را کړی دی. دا هم په شکر کې داخل دي، چې د غرور او تفخر څخه ځان وژغوري او هغه نعمت دې په هسې رټلیو روشونو، بدو اخلاقو او خرابو خصلتونو سره خراب نه کړي. لنډه یې دا چې د مجد، شرف، عزت او فضیلت اصلي معیار نسب نه؛ بلکې تقوا او طهارت دی او متقي سړی نورو ته هیڅ کله په سپکه سترګه نه ګوري.

تقوا او ادب په اصل کې د زړه کار دی، الله تعالی ته دغه ښه معلوم دی هر هغه سړی به چې په ښکاره ډول سره متقي او مؤدب په نظر راځي هغه په واقع کې څنګه دی او وروستو له دې څخه به څرنګه شي؟ العبرة للخواتیم.

د سورت حجرات په ۱۱ او ۱۲ آیت کې په چا پورې مسخرې کړل، پیغور ورکول، په بدو لقبونو سره ورته آواز کړل، خامخا بدګماني ورباندې کړل، د چا عیبونو پلټل او غیبت کول یې سخت حرام او ناجایز عمل ګرځولی ده. همدا ډول ذات، رنګ او نسل په بنیاد باندې خپل ځان اوچت ګڼل او د نورو کم ګڼلو څخه هم منع کړی ده او ټول انسانان یې د حضرت آدم او حوا علیهما السلام اولاد وګرځولو او په دې سره یې د نړیوالی ورورولۍ او مساوات درس ورکړی دی.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم د حجة الوداع په خطبې کې ارشاد فرمایلی وو: ((**ألا لا فضل لعربي على عجمي، ولا لعجمي على عربي، ولا لأحمر على أسود، ولا أسود على أحمر، إلا بالتقوى**)).[۳۸]

ژباړه: خبردار! هیڅ غوروالی نشته عربي ته په عجمي باندې او نه عجمي ته په عربي باندې او نه سپین ته په تور باندې او نه تور ته په سپین باندې مګر په تقوا سره.

په اسلامي شریعت کې د ذات او نسل له وجه چا ته د فضیلت ورکولو هیڅ ځای شتون نه لري، د مکې مکرمې د فتح په ورځ د عربو ښایسته ځوانانو شتون درلود؛ خو نبي کریم صلی الله علیه هغوی ټول پرېږدي او د حبشی یو تور رنګ حضرت بلال رضی الله عنه ته فرمایي چې د مکی مکرمی بام ته پورته شه او آذان وکړه، دا د دې خبرې دلیل دی، چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم په نظر کې ذات، رنګ او نسل هیڅ اهمیت شتون نه درلود. د دې خبرې اړتیا دی چې د نړۍ خلک، حکمرانانو څخه تر عوامو پورې او د عوامو څخه تر خواصو پورې هر یو د نبي کریم صلی الله علیه وسلم پاک سیرت د خپل ځان لپاره د عمل نمونه وګڼي او په هغې باندې دې عمل وکړي، یوازی په دې ډول د نړۍ څخه فتنه او فساد له منځه تلای شي او د امنیت او خوندیتوب فضا رامنځ ته کیدای شي.

[۳۸] - البيهقي، أبو بكر، أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخُسْرَوْجِردي الخراساني، (۱۴۲۳هـ). شعب الإيمان ج۷/ ۱۳۲. (ط. ۱).

**۱ـ عدالت:ـ** عدالت د اسلامي نظام یو مرکزي اصل دی، چې په اړه یې الله تعالی په قرآن کریم کې فرمایي: ﴿ **يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ لِلَّهِ شُهَدَاءَ بِالْقِسْطِ وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَى أَلَّا تَعْدِلُوا اعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَى وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا تَعْمَلُونَ** ﴾. [۳۹]

ژباړه: ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (یعني ای مومنانو!) اوسئ تاسې محکم ولاړ (په حق باندې) له پاره د الله تعالی (اوسئ تاسې!) شاهدان په قسط (عدل او انصاف) سره او نه دې باعث کړي تاسې دښمني د یوه قوم په دې باندې چې عدل انصاف به ونه کړئ تاسې، عدل (انصاف) وکړئ تاسې! هم دا عدل ډېر نژدې دی تقوا (پرهیزګارۍ) ته او وویرېږئ تاسې له الله تعالی (نو ظلم مه کوئ!) بېشکه چې الله تعالی ښه خبردار دی په هغو اعمالو چې کوئ یې تاسو.
دا ډول عدالت د ټولنې د امنیت او خوندیتوب لپاره یو اړین شرط دی.

**۲ـ احسان او رواداري:** اسلامي شریعت خلک نه یوازې عدالت ته بلکې له هغه پورته احسان ته هم هڅوي، یعني له خلکو سره په مهربانۍ او نرموالي چلند وکړي، چې دا احسان او رواداري د یو پیاوړي ټولنیز امنیت او خوندیتوب بنسټ دی.

**۳ـ تقوا او خدایي وېره:** اسلامي شریعت د انسان دننه یو روحاني کنټرول رامنځته کوي، کله چې شخص یقین او باور ولري چې الله تعالی یې هر عمل ویني؛ نو هغه به له جرم، تاوتریخوالي او بې عدالتۍ ډډه کوي، څه وخت چې په ټولنه کې نوموړي شیان شتون ونلري؛ نو امنیت او خوندیتوب ورسره یقیني دی.

**ب ـ د اسلامي اصولو پربنسټ د امنیت میکانېزم**

**۱ـ د حدودو او قصاص نظام:ـ** اسلامي شریعت د جرایمو مخنیوي لپاره ځانګړی حددوي نظام لري لکه د غلو لاس پرې کول، د زناکار لپاره حد، د قاتل لپاره قصاص او داسې نور. دا حدود د جرمونو د مخنیوي یو قوي لامل دی، چې په پلي کولو سره یې د امنیت او خوندیتوب راتلل هم باوري دي.

**۲ـ امر بالمعروف او نهی عن المنکر (خلک ښو ته رابلل او له بدو یې منع کول):ـ** اسلامي ټولنه د اصلاح پر اصل ولاړه یوه ټولنه ده، چې په هغې کې هر مسلمان ته دا حق او مسؤلیت ورکړل شوی دی چې د ښو کارونو

[۳۹] - (سورت نساء/ ۸).

امر وکړي او له بدو کارونو خلک منع کړي. الله تعالی یې په اړه فرمایي: ﴿ وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴾.[٤٠]

ژباړه: او وي دی (تل) یوه ډله له تاسې چې بولي (خلک) په طرف د خیر (اسلام) او امر (حکم) کوي (خلکو ته) په معروف (نېکۍ) سره او منعه کوي (خلک) له منکر (بدیۍ) نه او دغه (آمرین بالمعروف ناهین عن المنکر) هم دوی دي په مراد رسیدلي.

دغه د ټولنېز کنترول د امنیت او خوندیتوب یوه عامه پالیسي ده چې ټولنه د فاسدو کړنو څخه ساتي.

**۳ـ د ښځو او ماشومانو امنیت او خوندیتوب:ـ** اسلامي شریعت د ښځو، ماشومانو، یتیمانو قشرونو امنیت او خوندیتوب ته ځانګړی اهمیت ورکوي، د هغوی حقونه تثبیتوي، ظلم پرې حرام ګڼي او خلک د هغوی سره مرستی او د هغوی پالنې ته هڅوي. دا پخپله د ټولنېز او انساني امنیت او خوندیتوب یوه پراخه برخه تشکیلوي.

**ج ـ د اسلامي شریعت اغېز په ټولنه کې**

**۱ـ ټولنېزه همکاري او مرسته:ـ** اسلامي شریعت د زکات، صدقې، خیرات او وقف له لارې د ټولنې د بېوزلو، یتیمانو او محتاجو سره مرسته کوي. دا اقتصادي ملاتړ د ټولنېزو جرمونو لکه غلا، دوکې او فساد مخنیوی کوي، چې نوموړي مسایل د اسلامي شریعت مضمون عبادت پوهنه کې په بشپړ ډول بیان شوي دي.

**۲ـ د ورورولۍ فضا:ـ** اسلامي شریعت انسانان د نژاد، قوم، ژبې یا طبقې پربنسټ نه جدا کوي. الله تعالی یې په اړه فرمایي: ﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴾.[٤١]

ژباړه: بېشکه چې مومنان ټول په دین کې سره ورونه دي؛ نو پس صلح او جوړښت کوئ تاسې (ای مومنانو) په منځ د ورونو خپلو کې (تل ترتله) او ویریږئ له الله تعالی څخه (په هر شي او هر وخت کې) او ځان ساتئ (له معاصیو) ښایي چې درباندې رحمت وکړل شي (له جانبه د الله تعالی).

کله چې یوه ټولنه ورورولي ولري، بغض، کینه، کرکه او تشدد کمېږي او امنیت او خوندیتوب تقویه کېږي.

[٤٠] -(سورة آل عمران/ ۱۰۴).
[٤١] -(سورة حجرات/ ۱۰).

**۳ـ د سولې فرهنګ:ـ** اسلام د جګړې پر ځای سولې ته لومړیتوب ورکوي، حتا د جګړې پر مهال هم اسلام سخت اصول لري چې ملکي خلک، دیني ځایونه، ښځې او ماشومان باید مامون او خوندي پاتې شي. دا د سولې یوه بې سارې نمونه ده.

**هـ ـ د معاصرې نړۍ اړتیاوې او اسلامي حل لارې**

نن نړۍ له بېلا بېلو امنیتي ستونزو سره لاس او ګریوان دی لکه ټولنیز فساد، بې عدالتي او اقتصادي نابرابري. اسلامي شریعت کولای شي، چې د دې ټولو ستونزو لپاره د حل لارې وړاندې کړي:

۱ـ د روحي اصلاح له لارې د ټولنیز فساد مخنیوی.

۲ـ د اقتصادي عدالت له لارې د محرومو طبقو ملاتړ.

۳ـ د تقوا له لارې د جرمونو کمول.

۴ـ د عدالت د اصل له لارې د خلکو ترمنځ باور زیاتول.

**د اسلامي شریعت مضامینو اغیزې په امنیت او خوندیتوب کې**

اسلامي شریعت مضامین مستقیما اغېزې لري؛ ځکه چې اسلامي شریعت د عقېدې، عباداتو، اقتصاد، اخلاق او سیاست څخه بحث کوي، چې د ګران هیواد په ټولومکتبونو او پوهنتونونو کې د اسلام اعتقادي نظام لوستل اړین او لازمي دي، کله چې یو مسلمان د الله تعالی په وجود باندې په یقین او باور سره ایمان ولري او د مرګ څخه روستو بیا ژوندي کیدو باندې ، حساب کتاب او دوزخ او جنت باندې په ځانګړې ډول د آخرت عقیده داسې یوه بدلون راوستونکې عقیده دی، چې هیڅ فرد د جرم کولو تصور ته هم نه پریږدي، همدا ډول نبوي سیرت، عبادات پوهنه، کورنۍ نظام، د اسلام اقتصادي نظام او سیاسي نظام هغه مضامین دي، چې پوره اخلاص او امانتدارۍ سره د افغانستان مسلمان ملت متعلمینو او ځوانو محصلینو ته ولوستل شي؛ نو د الله تعالی د دربار څخه قوي امید دی، چې د مونږ مسلمانه ټولنه به د هر ډول جرم څخه ډېره کوونکې ټولنه جوړه شي؛ ځکه چې د شیخ الهند محمود حسن رحمه الله مشهور شاګرد عبیدالله سندهي رحمه الله د هندوستان په خیر هېواد په اړه وایي: چې په هندوستان کې دغه موجوده مدرسې کفایت کوي نورو مدرسو جوړولو ته اړتیا نشته؛ بلکې د هر پوهنتون، مکتب او لیسی سره نژدې یوه لیلیه جوړه کړئ او د شاګرد څخه د اطاق کرایه مه اخلئ، یوازې د ډوډۍ پیسی ترې اخلئ؛ خو دا شرط پرې کیږدئ چې لمونځ به په جماعت سره په لیلیه کې کوي، د ماښام پر وخت یو دوه مبارک احادیث او د سحر پر وخت د قرآن کریم د یو څو آیتونو ژباړه او تفسیر ورته کوئ؛ نو څه وخت چې

نوموړی شاګرد سبا ته په بست باندې مقرر شي د اسلام او علماو مخالفت او اهانت به نه کوي. نو عبيدالله سندهي رحمه الله په يو کفري هيواد کې په دومره اندازه باندې کفايت کوي او دومره غټ اميد ورڅخه لري؛ نو د مونږ په ګران هېواد افغانستان کې الحمد لله چې ټولې کفري نړۍ شکست خوړلی دی او د اسلام غراء شريعت او د افغانستان اسلامي امارت ته په بشپړه توګه غلبه حاصله دی (ادام الله بقاءهما) او د افغانستان اسلامي امارت مشرتابه او محترم وزير صېب حفظهما الله په ټولو پوهنتونونو کې د اسلامي شريعت مضامينو ته جدي توجه کړی ده او کوي يې؛ نو د الله تعالی څخه قوي اميد دی، چې نوموړي د اسلامي شريعت مضامين د افغانستان اسلامي ټولنې ته بشپړ او دايمي امنيت او خونديتوب ور په برخه کړي.

## پايله

اسلامي شريعت داسې يو امنيتي نظام وړاندې کوي، چې يوازې له بند، پوليس او محکمو سره تړاو نه لري؛ بلکې د انسان له دننه څخه پيل کيږي، د تقوا، عدالت، اخلاص، ورورولي او مسؤليت احساس هغه ارزښتونه دي که چېرې د يوی ټولنې بنسټ پرې کېښودل شي؛ نو امنيت، خونديتوب، ثبات او سوکالي به حتمي وي. اسلامي شريعت نه يوازې يو روحاني نظام دی؛ بلکې يو عملي ټولنيز او اخلاقي چوکاټ هم وړاندې کوي، چې د انسان ژوند ته امنيت او خونديتوب وربښي.

## وړانديزونه

۱ـ د لوړو زده کړو محترم وزارت څخه هيله کيږي، چې د اسلامي شريعت مضامېنو لپاره داسې کادرونه وګماري چې په نوموړيو مضامېنو باندې بشپړ حاکميت ولري، د ټاکلي مضمون سره د سيرت نبوي او د اسلامي تاريخ څخه هم خبرتيا ولري.

۲ـ د اسلامي شريعت محترمو استادانو څخه هيله کېږي، چې دوی ډېر په اخلاص او په مينې سره خپل درسي بهير مخې ته يوسي اودا درد له ځان سره ولري، چې څه ډول کولای شي خپل ځوان قشر له اسلامي اصولو سره آشنا او هغه يې د ژوند داسې يوه برخه وګرځوي چې په هيڅ صورت کې ترې جدا نشي.

۳ـ د محترم وزارت څخه هيله کېږي، چې وخت په وخت د هېواد شيوخ کرامو مدظلهم العالية له خوا محصلينو او استادانو ته اصلاحي او فکري سمېنارونه داير کړای شي.

۴ـ د امربالمعروف او نهی عن المنکر نظام په پوهنتونونو کې لله الحمدجوړ دی، بايدجدي شي.

# The impact of Islamic Sharia on security and safety

Teaching Assistant Habiburrahman Habibi, Shaikh Zayed University, Faculty of Sharia, Department of Jurisprudence and Law.
**Email:** habiburamanhabibi786@gmail.com

**Abstract**
I would like to summarize my article in the following few sentences. Islamic Sharia is composed of two terms: Islam and Sharia. Linguistically, Islam refers to submission and obedience, and in Islamic terminology it means submitting oneself to all the commands of Almighty Allah. Sharia is an Arabic word derived from shara'a–yashra'u, meaning "a clear path or way." Technically, Sharia is the divine commandments revealed to regulate the religious and worldly life of human beings.These commandments are derived from the Holy Quran, the Prophetic Sunnah, consensus (Ijma), and the intellectual heritage of the Muslim ummah, and they influence all aspects of individual and social life. Security and safety are a great blessing and favor from Almighty Allah upon His creatures. Without them, all worldly progress becomes meaningless. Islamic Sharia has a direct role in establishing security and safety because it addresses matters of belief, worship, economics, ethics, and governance. When an individual is nurtured in a way that recognizes and practices both the rights of Allah and the rights of people, a society—made up of such individuals—naturally becomes stable. Thus, when every member of the community adheres to sound beliefs, proper worship, and good morals, security and safety are ensured

**Keywords:** Security and safety, Effects in the society, Needs and Islamic solutions. Core principles and values

**مراجع او مصادر**

قرآنکريم

ابن منظور، محمد بن مكرم. (۱۴۱۴هـ). لسان العرب، (ط. ۳ ). بيروت: دار صادر.

أبو بكر بن أبي شيبة، عبد الله بن محمد. (ب. ت). مصنف ابن ابي شيبة. (ط ـ۱ ). الرياض: مكتبة الرشد.

ابو عبد الله الامام احمدبن حنبل. (ب . ت). مسند احمد، بيروت: دار الكتب العلمية.

أبو عبد الله الحاكم محمد بن عبد الله. (۱۴۱۱ ). المستدرك على الصحيحين. (ط. ۱). بيروت: دار الكتب العلمية.

البخاري أبوعبدالله، محمدبن إسماعيل الجعفي. ( ۱۴۰۷هـ). صحيح البخاري. (ط. ۳). بيروت: دار ابن كثير، اليمامة.

البيهقي، أبو بكر، أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخراساني، (۱۴۲۳هـ). شعب الإيمان. (ط. ۱)، مكتبة الرشد.

التِّرْمِذِي، أبو عيسى، محمد بن عيسى. ( ب. ت). صحيح سنن ترمذي. بيروت: دار إحياء التراث العربي.

السجستاني، سليمان بن الأشعث ، ( د. ت). سنن آبي داود. بيروت: دار الفكر.

الفقه الأكبر .الطبعة: الأولى، ١٤١٩هـ الناشر: مكتبة الفرقان – الإمارات العربية.

القران الكريم و ترجمة معانيه وتفسيره إلي لغة البشتو.

# د اوښتون پړاو منظوم ادب او د نوي نسل اړیکې

پوهنیار صفي الله اثر د نیمروز پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي، د پښتو څانګې استاد
**برېښنالیک:** Sfiullahasar97@gmail.com

**لنډيز**

د پښتو معاصرې دورې اوښتون پړاو یو جنجالي پړاو دی ،په دې لیکنه چې عنوان یې دی( د پښتو ادب معاصرې دورې د اوښتون پړاو منظوم ادب او د نوي نسل اړیکې) د پښتو معاصرې دورې اوښتون پړاو پورې اړه لري، ، په یاده لیکنه کې نوی نسل او د نوي نسل ادبي غوښتنې هم په پام کې نیول شوي، چې سپړل یې مهمه نظریه ده، معلومه شوې چې نوی نسل په کومه اندازه د دې پړاو د شاعرۍ سره علاقه لري او کوم ډول شعرونه یې د خوښې شعرونه دي، د څېړنې لپاره د میتود غوره کول لازمي کار دی، ماهم د دې څېړنې لپاره د مروري میتود څخه ګټه اخیستې، د څېړنې ډول مې کتابتوني دی او ارزښت یې په دې کې دی چې تر دې دمه د دې سرلیک لاندې چا یا کوم لیکوال لیکنه نه ده  کړې، د پښتو ادبیاتو په دې پړاو کې شاعرۍ د شعار بڼه درلوده، او معلومه شوې چې د دې پړاو په شاعرۍ کې د جنګي اصلحو نومونه او د ښي اړخو، چپ اړخو او منځلارو شاعرانو نظریې سپړل شوي او دنوي نسل د ذوق شاعري هم په ګوته شوې، ترڅنګ یې داهم څرګنده شوې چې نوی نسل د وطن دازادۍ تر څنګ د وطن د پرمختګ سره هم علاقه لري، نوی نسل زموږ د هېواد راتلونکی جوړوي باید لیکوالان او شاعران یې په فکري ډول داسې وروزي، چې هېواد مو په راتلونکي کې د پرمختللو هېوادونو په قطار کې ودرېږي، او همدایي مسؤلیت دی.

**کلیدي کلمې:** ادب، اوښتون پړاو ، نوی نسل، د نوي نسل غوښتنې.

## سریزه

**بسم الله الرحمن الرحيم، الحمد لله رب العلمين والصلاة والسلام على سيد المرسلين وعلى اله واصحابه اجمعين !**

ادب د انسان د احساساتو، فکرونو او دردونو، هغه ژبه ده، چې له یوه نسله بل نسل ته لېږد او د وخت د بدلونو سره برابرېږي، هر نسل له ادب څخه بېلابېل برداشت لري، خو نوی نسل چې د ټکنالوژی، نوې زده کړې او بدلونونو په چاپېريال کې را لوی شوی د ادب لپاره ځانګړی ذوق، غوښتنې او طمعې لري. په دې مقاله کې هڅه شوې، چې د نوي نسل او پښتو معاصرې ادبي دورې د اوښتون پړاو د منظوم ادب تر مینځ اړیکې و څېړل شي، دا به وښودل شي چې نوی نسل په یاد پړاو کې د ادب څخه څه غواړي؟ په نظم او شعر کې کوم موضوعات لکه: عشقي، وطني ، انقلابي او نور بیان شوي دي؟ او څنګه کولای شو د دوی غوښتنو ته مثبت ځواب ورکړو؟ که څه هم د دې پړاو د لیکوالانو شمېر زیات دی او نشي کېدای د ټولو لیکوالو او شاعرانو د شعرونو اولیکنو نمونې راوړل شي، خو هڅه شوې او د دې پړاو د ټولو لیکوالو او شاعرانو یوازې د شاعرئ فکر په یو منظم قالب کې راټول شوی دی.

ادب باید د نسلونو تر مینځ د اړیکو پل وي نه باید د لرې والي دیوال. نو مهمه ده چې لیکوالان، شاعران، ښوونکي او فرهنګیان د نوي نسل ذهني او فکري اړتیاوې درک کړي او ادب ورته داسې وړاندې کړي چې نوی نسل یې لوستلو سره مینه پیدا او زده کړه ترې وکړي، د ځان، هویت، قوم، انسان او بلکې د ټولې ټولنې ښېګڼې په کې په روښانه ډول وګوري، نو نه یوازې دا نسل به ادب ته ارزښت ورکړي، بلکې ادب به هم د دوام، ژوند او بدلون غښتلی دلیل ولري.

## د څېړنې اصلي موخې

د دې څېړنې اصلي موخه داده چې د نوي نسل او د اوښتون پړاو د ادب تر مینځ اړیکې و څېړل شي، او دا معلومه کړي چې د اوښتون پړاو شاعرئ نوي نسل ته څه پیغام درلود، د ادب څخه څخه ډول استفاده کوي او پر دوی د دې پړاو ادبی ارزښتونو د اغېز کچه معلومه شي، د اوښتون پړاو د ادبیاتو او نوي نسل د فکري، فرهنګي او ټولنیزو ځانګړتیاوو د پېژندنې ترڅنګ دا هم معلومول، چې نوی نسل د اوښتون پړاو د ادبیاتو سره په کومه کچه علاقه لري.

## دڅېړنې مواد او کړنلاره

په دغه څېړنه کې مې له مختلفو کتابونو او کتابخانو څخه لیدنه کړې، په ټولو علمي او نورو ځایونو کې مې چې په دې تړاو څه تر سترګو شوي معلومات را اخیستي او یادونه مې ترې کړې، له کومې غوټې او ستونزې پرته مې پرې روښانه رڼا اچولې او تشریح کړي دي په همدې اساس زما دڅېړنې ډول کتابتوني دی، میتود او کړنلاره یې

تشریحي ده چې د دې لیکنې په ترتیب کې ترې وړ ګټه پورته شوې، په راتلونکو پاڼو کې یې هر څه په ډاګه راغلي دي.

**موندنې**

په اوښتون پړاو ادبیاتو کې د نورو دوو ډلو شاعرانو په پرتله د منځلارو شاعرانو شعرونه او لیکنې برجسته او مسوولیت منونکې دي، د نورو دوه ډلو ښي اړخو او چپ اړخو شاعرانو شاعري د شعار بڼه لري، چا د فکري بدلون لپاره کور، کالي او ډوډۍ غوښتل او چا ولس د ازادۍ له ګټو خبراوه، نوی نسل زړې تجربې نه خوښوي او نوې غوښتنې لري، چې باید لیکوالان یې ورته په ګوته کړي.

نوی نسل له ادب څخه نوې مانا، نوې غوښتنې، نوې لارې او نوي انځورونه غواړي، او د داسې شاعرۍ او لیکنو غوښتونکي دي، چې د دوی د روحي غوټو، ټولیزو پوښتنو او ارزښتونو سره ژورې اړیکې ولري، لنډې لیکنې یې ډېرې خوښېږي. جهادي لیکوالانو کې د شوروی یرغل له ماتې وروسته یې ټوپک پر ځمکه ایښی نوي نسل ته یې په خپله شاعرۍ کې مناسب او وړ لارښوونې کړي، په ټوله کې د دې پړاو شاعرۍ د نوي نسل په زیاته کچې غوښتنې په نیارو کې پریښې او پام ورته نه دی شوی.

**ادب:** ادب یوازې د الفاظو نړۍ نه، بلکې هغه ژوره هنري تجربه ده چې د ژبې له محدود وسیلو څخه د انسانانو ارواېي نړۍ ته لاره پرانیزې او د یو ملت د فکري، کلتوري، او ټولنیز ژوند هنداره ګرځي،بېلابېلې دورې، پړاوونه او لوړې ژورې لري. د پښتو ژبې ادبي دورې استاد روهي په درې برخو ویشلي: لرغونې دوره، منځنۍ دوره او معاصره دوره ده، هغه لیکلي چې معاصره دوره درې مهم پړاوونه لري روښانتیا پړاو، ویښتیا پړاو، د اوښتون پړاو، څلورم پړاو چې کېدای شي د سمون پړاو یې وبولو نوی پیل شوی(روهي، ۱۳۸۴، ۴۲م) چې زموږ څېړنه په ټوله کې د اوښتون پړاو د منظومو ادبیاتو سره تړاو لري.

د ټولنې هر وکړی کولای شي ځان دهغه ټولنې په ادبیاتو کې وګوري، د خوند،غیرت، پوهې او د ژوند د نورو برخو لپاره یې ولولي او د راتلوونکي ژوند د لارښوونو لپاره ترې ګټه پورته کړي، خپلې او د ټولنې شته نیګړتیاوې په کې پیدا او د لیکوال د لارښوونو تر څنګ یې لوستونکي هم په حل لارو فکر وکړي، د وخت په تېرېدو سره هر څه تغیر کوي هغه که انساني فکرونه دي او که انساني ټولنه ده او یا د ژوند نورې برخې، پر همدې بنسټ لاندې عوامل د ادب د احوالو پر بدلون باندې اغېز ښندي.

طبعي چاپېریال، دینونه ،ټولنیز،سیاسي او فرهنګي چاپېریال، د ولسونو د یو بل سره اړیکې مستقیماً پر ادب اغېز کوي(همت، ۱۳۸۵، ۹۴ او ۹۵ م). چې د اوښتون پړاو ادبیاتو مخکې او شاته د سیاست غرونه پراته دي.طبعي

چاپېریال یعنې د اوسېدو ځای چې د نورو علومو تر څنګ پر ادب هم مستقیمې اغېزې لري، څکه ټولنه په یو معلوم ځای کې ژوند کوي او هلته د لوړو ژورو سره مخ کېږي او پیښې پرې مستقیم اثر لري.

په پای کې بیدار ملتونه د ستونزو په حلارو فکر کوي، خپلو نسلونو ته د هغې لارې لارښوونه کوي چې د دې نسل او ټولنې په خیر، برابرې او سمون تمامېدای شي. ادب په ښکلې، اغېزښندونکې او هنري ژبه د ژوند د تجربو وړاندې کول دي، ټولنې ته لوری ښودل دي، لکه څنګه چې د ویلو په ژبه د معلوماتو وړاندې کول دي، هیڅ شی د ځان لپاره نه وي، د نورو لپاره وي، نو ادب په ادبي ژبه د ژوند یو ښکلی تفسیر دی.(ازمون،۱۳۹۹، ۲۳ م) ادب داتوان لري چې د خلکو فکرونه بدل او له خوبه یې راویښ کړي، د ظلم ، بې عدالتۍ نا پوهۍ په وړاندې غږ پورته کړي، دا داب تر ټولو ډېره مهمه دنده داده چې د ټولنیزو ستونزو د انعکاس تر څنګ د بدلون هڅه وکړي. ادب د انسان د باطن یو داسې غږ دی چې هیڅکله نه مري او دا غږ د پخوانیو او اوسنیو نسلونو تر منځ پل مثال لري، چې ورسره په یو وخت کې د زړو او نویو فکرونو تر منځ اړیکه ساتي او د انسانیت د بقا ضامن پاتې کېږي، د بلوم نظریه ده، کله چې یوه وینا فوق العاده ممتاز حد ته ورسېږي، هغه ادب دی.(غوربندي، ۱۳۹۹ ، ۱۴۰ م).

**د پښتو معاصرې دورې اوښتون پړاو:** څرنګه چې د پښتو ژبې ادبي نوموتي لیکوال ا ستاد محمد صدیق روهي په لومړیو کې د پښتو ژبې ادبي دورې په درې دورو ویشلي او زیاته کړې یې ده، چې هره دوره بېل بېل پړاوونه لري، نو د دې خبرې پر بنسټ د پښتو معاصرې دورې درېیم پړاو د اوښتون پړاو دی، په دې پړاو کې پښتو ادب زیاتې لوړې ژورې لیدلي، کله سختو حالاتو نیولی او کله یې ورته د مخکې تک لاره پرانستی، د ویښتیا پړاو ځنې لیکوالان او شاعران د اوښتون په پړاو کې لا زیات فعال شول چې زیات شمېر اثار یې په اوښتون پړاو کې د چاپ په چارو سمبال شوي همدا علت دی چې د شاعرانو ژوند کله کله د پړاو سره سمون نه خوري.

ښتو ادب د نورو مخکنیو وختونو په پرتله د غربي ادب سره ژورې ریښې پیدا او ونښلولې، فرهنګې ټولنې جوړې شوې چې په خپله برخه کې نه هېرېدونکې او د قدر وړ خدمتونه کړي دي. په دې پړاو کې موږ په ټوله کې درې ډوله لیکوال لرو، کیڼ اړخي، ښي اړخي، او منځلاري. کیڼ اړخو چې د روسې هېواد پوره سیاسي ملاتړ ورسره و، په خپلو لیکنو او په ځانګړي ډول شعرونو کې به یې د خپل ګوند د پرمختګ، بریا او کامیابۍ ډمامې غږولې،چې لیکنو او شعرونو یې یوازې شعاري بڼه درلوده او بس. د نوي اساسي قانون(۱۳۴۳ ه ش) د ګوندونو جوړول، د ازادو جریدو رامینځ ته کېدل او د بیان ازادۍ لپاره اجازه ورکړل شوه...په ۱۳۴۴ ه ش) کال د خلق او پرچم جریدو خپرونې پیل کړې... که به کومه لیکنه او یا شعر کې د انقلاب ذکر نه و هغه به نه خپرېده.(باجوړی، ۱۴۰۱، ۷ م). کاوون توپاني د دې ډلې مخکښ لیکوال دی هغه لیکي.

اسمانه پرېږده چې زما په طوفاني وطن کې
د انقلاب د حوادثو سوبه گرمه شي لا
پرېږده چې بیا د اسمانونو د هیبت له زوره
د تورو تیرو په سینو کې ینه گرمه شي لا
(وزیر،(۲۰۱۸). ۲۵۷م )

بله ډله چې په دې پړاو کې د ( ښې اړخو) په نوم یادیده، دې ډلې هم په ټول توان او زور د انقلاب مخالفت کاوه، د افغانستان هر اړخیز حالات له هغه وخته خراب او د تباهۍ خواته په تېزۍ روان شول له کومه وخته چې د هېواد د ځوان کهول څخه ځینې ځوانان د علمي او نظامي تربیې لپاره د بهرني منظم پلان له مخې شوروي او یا دشوروي دوست هېوادونو ته واستول شول او هېواد کې دننه ورسره یوځای د خلق دیموکراتیک گوند فعالیتونه او ترڅنگ یې د ښي اړخه گوندونو په پراخ ډول جوړېدو د هېواد د سیاسي حالاتو ترڅنگ هراړخیزې ستونزې څو چنده زیاتې کړې.

دې پېښو د افغانستان په سیاست، ثقافت، ادب او دخلکو په نفسیاتو تر څو لسیزو پورې کرغېړن او ویروونکي اغېزې پرېښودې د هېواد لیکوالان هم په دوه ډلو وېشل شوي و خو ددې ډله بندیو څخه یوه ستره گټه او لاس ته راوړنه پښتو ژبې او ادب دا و چې دواړو خواوو د خپلو فکرونو او نظریو د ترویج لپاره هر اړخیز مواد پښتو ژبې او ادب ته را داخل کړي، چې په پښتو ادب کې یو نوی فصل پرانستل شو او په سیاست او فرهنگ یې خپلې اغېزې پرېښودې د محمد اصف صمیم په وینا، دې لوغړن او غرغنډن حالت زموږ د ټولنې د سیاسي او فرهنگي خونې دیوالونه پاخه کړل.

هغه ادب چې دښکېلاک د دفاع یا پرمختیا لپاره لیکل شوی یا ددې پر ضد کې لیکل شوی دواړه یو قسم ته د مزاحمتي ادب حیثیت لري، غرض او منشا یې د افغانستان د وروسته پاتې کېدو علتونه له مینځه وړل و (وزیر،(۲۰۱۸). ۲۷۲-۲۷۳م). استاد ناگار یو مجاهد لیکوال دی هغه لیکي.

ځان به غلام قام به د ټول عمر بندي ساتي
څوک چې لاسونه ورکوي سر او تندي ساتي
شکونه هیڅ نه دي په کار په دریابۍ خاموشۍ
سمندر تل کې طوفانونه تل ژوندي ساتي

***

د ازادۍ پــه شــیرنــۍ شــیــنــدي د ویــنــو بــرســـات
نــاګــار چــې هــرڅــه کــوي مــیــنــه فــرهــادي ســـاتي
(ناګار،۱۳۸۹، ۱۹م)

استاد ناګار په خپله شاعرۍ کې هغه خلک غلامان بللي چې خپل نوی نسل او په ټوله کې په هېواد کې ټول شته قومونه د پردیو د ګټو په پار نا خبره ساتي او د قوم په دې ناخبرۍ کې د پردو ګټې ترڅنګ خپله مادي ګټه په پام کې نیسي خپل ځانونه خوندي ساتي د ازادۍ او خپلواکۍ په کېسه کې نه وي، د بې ننګۍ وروستی حد پرې تمام او د نوي نسل لارښوونو او بیدارۍ لپاره قلم نه پورته کوي، ناګار نوي نسل ته د خپلې شاعرۍ په زیاته برخه کې د غیرت ، عزت او خپلواکۍ د ګټلو وروسته د ارام درس وکوي.

پیر محمد کاروان هغه شاعر دی چې په شاعرۍ کې یې نوی نسل د خپل هېواد او خاورې له ابادۍ خبر کړی،د نوموړي په شاعرۍ کې نوي نسل ته د نورو لارښونو تر څنګ د کلتور د ساتنې خبرې هم کېږي.

پــه غــرونــو کــې نښـــتر وي او پــه کــلي کــې چــنــار
پــه زړه کــې مــګــر ځــانــګــې وغــزېــږي یــار
زلمــي زلمــي خــوبــونــه دې پــه غــېــره کــې شــیــنــدم
کــه وخــت دې چــېــرتــه وغــځــوي ګــونــځــې پــه رخســـار
پــه سر کــې لــکــه غــر یــوسي ګــلــونــه د جــلال
لــه کــوم سر نــه چــې ول تــاو شي د دار لــکــه دســـتــار
( کاروان، ۱۳۸۷ل، ص. ۲۷۳)

بله ډله چې نه یې د کیڼ اړخو انقلابونه خوښول او نه یې د جهادي ډلو وخت ناوخته ړندې مرمۍ خوښولې هغوی سوله غوښتوونکي خلک و، که انقلاب او ښکېلاک د پښتنو او د پښتني ټولنې په ژوند ناوړه اثرات خپرول نو بل خوا د مجاهدینو څخه هم د ازادۍ پرته بل کوم خاص خیر نه دی رسېدلی، چې وروسته د بریا یې په داخلي جنګونو حساب نشي کېدای.

**غزل**

دښـــمــن پــه زوره نــنــوت پــه کــور د پښـــتــانــه
خــو دغــه کــار یــې هــم وکــړ پــه زور د پښـــتــانــه
چــالاکــه دښـــمــنــان چــې یــې سر وړي هــغــه مــهــال
مشـــغــول لــکــه مــاشــوم کــړي پــه څــه ورو د پښـــتــانــه

ویړ یا به یې هم درکړي که یې زړه وي ستا په کار
خو سر په هر حالت کې دی په پور دېښانه
درویش ورپسې ټول عمر اخیستی و ځراغ
خو چېرته یې هم ونه لیده غمخور دېښتانه
(درانی، ۲۰۱۰ل، ص. ۴۴)

که څوک د درویش دراني شاعري سر تر پایه مطالعه کړي، و به ویني چې نوموړي شاعر څومره مسؤلیت منوونکي شاعري کړې، نوی نسل یې د خپلو پلرونو او نیکونو بې غورې ته متوجه کړی، او یاد نسل ته روحیه ورکوي چې خپلو نیمګړتیاوو ته متوجه شي تر څو یې خدای مکړه راتلونکی ژوند د لوړو ژورو سره مخ نشي.

**د اوښتون پړاو د شاعرۍ منځپانګه:** دا پړاو په هېواد کې د لوړو ژورو د پیل سره یو ځای پیل شوی او زمونږ ګل هېواد د دې پړاو د پیلېدو سره یو ځای د پردیو جنګونو او ګټو ښکار شوی هېواد ته په هره برخه کې خدای شته پراخ تاوانونه واوښتل په اقتصادي، فرهنګي او سیاسي لحاظ ډېر وروسته پاتې شو، د انسانانو تر څنګ په څارویو او ابادیو د زرې په اندازه رحم ونشو، خو ترڅنګ یې په هره برخه کې فکري بیداري را مینځ ته او نوی نسل د اروپایي تجربو په اړه یې لا پخوا معلومات درلودل. د دې تر څنګ په دغه پړاو کې د وطن د ازدۍ او ابادۍ روحیه ورکول کیږي، او اکثرو ښي اړخو(مجاهدو) لیکوالانو تر څنګ ښځینه شاعرانې هم افغان ولس د هېواد خپلواکۍ او ابادۍ ته هڅوي، تر څو په خپل کلي کور کې د نور د شر څخه خلاص، هوسا، ارام او پرمختللی ژوند وکړي.

کریمه فیض زاده رسولي چې د اوښتون پړاو یوه ښځینه شاعره ده، هغې هم د خپل زړه اواز د شعر په ژبه بیان کړی، د وطن د ابادۍ غم ورسره دی او هڅه کوي، چې د نوی نسل فکر او سوچ د وطن د ابادۍ او پرمختګ خواته واړوي.

قول

یوه ورځ نه یوه ورځ به راسې زه به وا درته زړګی کړم
پر بښو به دې بیده کړم د امېل به دې غمی کړم
له اغیاره به دې دې پټ کړم د پردو به دې پردی کړم
د سر تاج به درته جوړ کړم چې په تا ښکلی پیکی کړم

تا بـــــه دومره ښــــکلومــــه          چــې رقیب دې لېونــی کــړم
زه دې ومـــــــرم ای وطنــــــــه          چــې افغان دې راژوندی کــړم
(رسولي،۱۳۷۴ل، ص. ۲۲)

پښتو ادب د نورو وختونو په پرتله د غربي ادب سره ژورې ريښې پيدا او ونښلولې، فرهنګې ټولنې جوړې شوې چې په خپله برخه کې نه هېرېدونکي او د قدر وړ خدمتونه کړي دي.

له دې مخکې به چې شاعرانو هر رنګه د عشق، مينې، جام و ساقي، ګل وبلبل نغمې غږولې خو د نويو حالاتو سره د ليکوالو او شاعرانو د ليکنو او شعرونو منځپانګه، کور، کالي، ډوډی، د خوار او غريب غمخواري، د مزدور سخت ژوند، د نادارو ناداري، د وطن غمخواري، ابادي، امن، د ژوندبقا، هجرت، ورور وژنه، مورچل و سنګر، سټينګر و داشکه، ماين و چاودنې، وينه تويدل، د عزت او ناموس ساتنه او دې ورته نور موضوعات وګرځېدل دا چې هغه وخت زموږ د ټولنه په لومړيو کې په دوه برخو ووېشل شوه او هرې ډلې د خپل فکري ځواک په ملتيا ځان لوړ او په ښه لار روان احساسه‌وه، له لنډې مودې وروسته بيا هغه ليکوالان چې له هېواده مسافر شوي هغوی هم په نورو ګاونډيو هېوادونو چپ نه دي پاتې شوي او خپل فکر يې د قلم په ژبه بيان کړی دی، اسحاق ننګيال چې د اوښتون پړاو مخکښ شاعر دی، هغه د وطن په ورانۍ دا ډول خفګان ښودلی.

**يوباد**

يــو بــاد را لــګــېــدلــی مــا د ځــانــه سره وړي
د زړه اس مـــې لــه بــاره د ارمــانــه سره وړي
د شـــپـو پـر اوښ يـو غـل دی زموږ کـلي تـه راغـلي
ګــلــونــه او بــاغــونــه لــه بــاغــوانــه سره وړي
(ننګيال.۱۳۷۷ل. ص. ۳۲۳)

له کومه وخته چې د شوروي په ملاتړ دخلق ديموکراتيک ګوند پر سردار محمد داوود خان کودتا وکړه او نظام يې نسکور کړ له هغه وخته ليکل شوی پښتو ادب د هغوی د مفکورې او فکر تابع و، ترځنګ يې د انقلاب پر پلوۍ هم په شاعرۍ کې د ډېروشعرونو بېلګې شته دی، کاوون توپاني د نورو څېر د انقلاب په راتګ خوشاله دی او ياد انقلاب د هېواد د خاورې لپاره ازادي او خوشبختي ګڼي دغه انقلاب يې د افغانانو د ويښوونې او بيدارۍ لپاره اړين بللی په خپله شاعرۍ کې يې هم د انقلاب يادونه په دې ډول کړې ده.

**سره شعرونه**

اســمانه پرېږده چـــــې زما په توپاني وطن کې
د انـقـلاب د حـوداثـو سـوبـه گـرمـه شي لا
پرېږده چې بیا د رسـتمیانو لـه هیبـــت لـه زوره
د تـورو تـیرو پـه سـیـنـو کې یـنـه نـرمـه شي لا
(اثر، ۱۴۰۱ل، ص. ۵۸)

د اوښتون پړاو د لومړیو شاعرانو د شاعرۍ موخه د ثور د دانقلاب ځخه ملاتړ و، شعري اصولو ته په کې پوره پاملرنه نه کېدله، شعار یې د (کور، کالي، ډوډۍ) و او هر چاته یې مساوي حق درلود، حتا د دې ډلې سیاسي مشرانو د مالدارو خلکو شخصي ځمکې او مالونه په غریبو د خپل لاس جوړ شوي قانون پر مټ وېشل شول،مجاهدینو که څه هم د تورې او قلم پر زور د هېواد د خپلواکۍ ویاړ وګاټه، د کیڼ اړخو په څېر یې لیکنو او شاعرۍ د شعار بڼه درلوده او د وطن د ازادۍ، خپلواکۍ ، ننګ، غیرت او داسې نور موضوعات د شعر په ژبه د شعار په بڼه وړاندې کول، خو د خپلواکۍ وروسته یې بیا کیسه بلې خوا ته واوښته او داخلي جنګونه پیل شول چې هېواد مو په هره برخه کې پراخ تاوانونه ولیدل.

**نوی نسل:** نوی نسل هغه نسل دی، چې د تېرو نسلونو په پرتله د ټکنالوژۍ، زراعت، ادب، کلتور، اړیکو ، اقتصاد او د ژوند په نورو برخو کې نوي فکرونه لري، دا نسل د وخت د پرمختګ سره پرمختګ او هڅه کوي ځان د نورو پرمختللو نسلونو سره د ژوند په هره برخه کې سیال او برابر کړي.

نوی نسل مجازي نړۍ ته لاسرسی لري یاد نسل د ټولنیزو رسنیو له لارې( واټساپ، فیسبوک، انستیګرام ، ټویټر او نورو) له لارې د نړۍ د نورو نسلونو سره اړیکه لري او هغوی ځاري وخت پر وخت یې د پرمختګونو او نیمګړتیاوو په اړه معلومات تر لاسه کولای شي، دوی د خپلو احساساتو څرګندول کوم عیب نه ګڼي او غواړي د هرې ممکنې لارې چې وي خپل احساسات څرګند کړي.   همدارنګه نوی نسل یو هېواد پال نسل دی، دوی غواړي تر هر څه مخکې خپله هېواد پالنه په داسې ډول وکړي، لکه څنګه یې چې حق دی. د ادب لیکوالان باید د ټولنې د وګړو او په ځانګړي ډول د نوي نسل د ادبي ذوق معیار لوړ کړي او داسې لیکنې وکړي لکه څنګه چې ورته په نن ورځ ضرورت دی، له زړو او پخوانیو فکرونو پر ځای نوي فکرونه د نوي وخت سره برابر وړاندې کړي که داسې ونشي، نو خدای مکړه د سانسګریت ژبې په څېر به خپله ژبه او ادبیات د لاسه ورکړي.

کابو دوه نیم زره کاله پخوا د سانسګریت عالمان په دې فکر کې ولوېدل چې خپله ژبه په پخوانۍ بڼه،په هماغه بڼه چې لرغونې لیکنې ورباندې شوې وې، خوندي وساتي. خو دوی چې د پخوانو کتابونو عالمان وو، د پخوانو خلکو سانسګریت یې د خپل عصر د سانسګریت غوره وبلله او دې ژبې ته یې د ډېرو زړو کتابونو په اساس

ګرامر ولیکه او په دې ډول یې د خلکو د ژبې او د کتابونو د ژبې ترمنځ لوی دیوال ودراوه(غضنفر،۱۳۹۶، ۴۱ م). افغان نوی نسل په داسې روحیه روزل شوی، چې دوطن او ژبې د ساتنې ځانګړی فکر ورکړل شوی، خاوره او ژبه ورته د مور حیثیت لري، ځکه همدا ژبه ده، چې دوی پرې پېژندل کېږي او د نوي نسل پایښت، بقا او تلپاتې ژوند اساسي ستنې دي.

کله چې افغانانو خپله خاوره د پردو له منګلو و ایسته، او د افغانستان په نامه یې یو خپلواک هېواد جوړ کړ... داچې ټول پاچاهان یې پښتانه وو... څنګه چې په کار وه پښتو ژبې هغسې وده ونه کړه... پښتنو پاچاهانو خپلې ژبې ته شا کړه، نه یوازې دا چې په دربار کې ځای ور نه کړ بلکې له خپلو کورونو یې هم وویستله(درانی،(۲۰۱۴، ۲۳۴م).

**د نوي نسل ادبي غوښتنې:** نوی نسل چې د نویو ټولنیزو، فرهنګي او تکنالوژیکي بدلونونو په څپو کې رالوی شوی، د ادب له نړۍ سره داسې اړیکه لري، چې له ادب څخه نوې مانا، نوې ژبه، نوي انځورونه او نوې غوښتنې غواړي، ځکه چې دوی په یوې داسې زمانه کې سترګې غړولي، چېرته چې د معلوماتو چټکتیا، د افکارو پراختیا، د بیان تتنوع او د فرد ذهنیت دومره پراخ کړی چې د دودیزو ادبي قالبونو لپاره ځای نه پاتې کېږي، او د همدې تجربو له امله نوی نسل په ټوله کې له ادب څخه داسې څخه غواړي چې د دوی د روحي غوټو، ټولنیزو پوښتنو، او ارزښتنو سره ژوره او رښتنې اړیکه ولري.

نوی نسل نه غواړي چې اوږدې او سختې لیکنې ولولي، د دوی لپاره ادب هغه وخت خوندور وي چې د دوی ننی تنده پرې ماته شي، غوښتنو ته یې ځواب ووایي، دوی د نوي عصر غږونه واوري او د دوی غږ د نوې زمانې سره برابر تر نورو ورسوي، هره ټولنه د پرمختګ لپاره ورځ تر بلې خپل نوي نسلونه روزي او دملتونو د سیالۍ لپاره په خپل ځان کې د هرې ممکنې لارې کار اخلي، دا سیالۍ د ابدیت ژوند او ښه پرمختګ لپاره کوي، د ولسونو د رضایت او مخکې تګ لپاره هر څه چې د وسې یې پوره وي کوي یې د ټولنې دا ټول وګړي په دا ډول خدمتونو په کولو سره ځان هوسا او لا نور ملاتړي پیداکوي. (اثر،۱۴۰۱، ۵۸م)

د همدې امله د نوي نسل د نورو غوښتنو تر څنګ ادبي غوښتنې لري، چې په کې د محتوا، ژبې او فورم له پلوه یو بشپړ بدلون غواړي، نوی نسل د ادب څخه یوازې ساعتیری ، تفریح، احساساتی تسلي او ښایست او ښکلا نه غواړي، بلکې د دوی لپاره ادب یو فکري مقاومت، ټولنیز غږ او فلسفي اړخ لري، نوی نسل زموږ نوي نیالګي دي، باید د داسې باغوانو له خوا وپالل او روزل شي چې د دې بوټو او نیالګیو له ناروغیو څخه خبر وي، هره لیکنه یې شته ناروغۍ ته درمل او د نوې زمانې سره ورته د نوي ژوند لارښوونکې وي.

**د نوي نسل ادبي غوښتنو ته څنګه ځواب ویلی شو؟** د نوي نسل ادبي غوښتنې که له یوې خوا د دودیزو ادبي قالبونو، ژبنیو تمایلاتو، او محتوایي چوکاټونو څخه بېلې دي، خو له بلې خوا د دوی فکري درک، ټولنیز شعور،

او د ژبې کارونه تخلیقي نوښت ته هم نوي مفاهیم ورښي، خو دا مفاهیم هغه وخت ادبي معنا مومي، چې لیکوال، شاعر، او ادبي نظریه ورکوونکي د دوی غوښتنو ته ځواب ووایي، لیکوالان او شاعران باید د نوي نسل غوښتنو ته د نوې زمانې سره له برابرې زاویې وګوري او ورته ځواب ویوونکي وي، که خدای مکړه دې خبرو ته پام ونشي نو له شک پرته به مو د خپلې ژبې ادب څو پیړۍ شاته وړی وي او د نوي نسل د روا غوښتنو پر ستوني به مو داسې پل ایښی وي چې د بیا ژوند طمع به ترې نشي کېدای.

موږ باید د نوي نسل د ژبې د جوړښت، د کلمو کارول او د بیان د نوښتونو د منلو ذهنیت پیدا کړو، باید د نوې ادبي بڼې فورمونه ، ژبنۍ تجربې، او د محتوا په اړه نوې پوښتنې ومنو، او د دوی سره شریک معیار په داسې ډول رامنځ ته کړو چې دوی او نوې راتلوونکې ټولنې ته په کې بریالۍ لارې وښودل شي.

بله داچې لیکوالان او شاعران باید د نوي نسل د ادب لوست ته د ښوونې له زاویې ور داخل نه شو باید له زده کړې زاویې ورننوځي، زموږ ننۍ زمانه کمپیوټري زمانه ده،د کمپیوټر ایجاد هم په ادب اغېز پریښی دی، نوې ساینسي نومونې، حرکات او بڼې د ذهني تجربو له لارې له یو بل شي سره ایښودل شوې دي، د دې دواړو تر مینځ بیا ورته والی ، مناسبت یا تضاد نه خیال یا تصویر رامنځته شوی دی(ازمون،۱۳۹۹، ۹۷م).

نوی نسل په پښتو ادب کې د نثر په پرتله د شعر او په ټوله کې منظوم ادب سره ډېره علاقه لري دوی غواړي خپل دردونه ، نیمګړتیاوې، هیلې او ارمانونه د نثر په پرتله په شعر کې ولټوي، د دې خبرې به دلیل داوي چې نوی نسل د عمر له مخې د ځوانۍ په مرحله کې وي ژوند او کړه وړه یې احساساتي وي نو شعر د احساساتو ژبه ده. شعر هغه وینا ده، چې الفاظ یې ښکلي وي او ویونکی یې په فکر، پوهه، ذوق، د زړه هیجان او د روح اغېز سره ګډ کړي(هاشمي، ۱۳۹۲، ٦م).

عارف خزان چې د اوښتون پړاو یو مخکښ شاعر دی، د خپل قوي تخیل په زور کلمو او جملو ته داسې تړښت ورکوي، چې لوستوونکي کې یې له لوستلو خوند اخلي او د خپل ژوند سرنوشت د همدې نوښتګرو لیکوالانو او شاعرانو د لیکنو او شاعرۍ پر بنسټ ټاکي.

لکه غوټۍ په وینو سور یمه سبا خندوم
د ګل په سرو شونډو پرته ده او مسکا خندوم
(خزان، ۱۳٦ل، ص. ۱٦٦)

نوی نسل په ټوله کې ټول یو قسم طبع نه لري معلومه خبره ده، چې یوه ډله به خپل ذهني سکون او د راتلونکي ژوند ښېګنې په نثري ادب کې لټوي، له دې جملې څخه یوه ډله شته چې غواړي نثري ادب ولولي او ډرامې، لنډه کیسه ځکه لولي چې لنډه وي او لوستل یې د رسا پیغام تر څنګ کم وخت غواړي، چې دا یوه بېله موضوع ده.

**پایله**

ادب د ټولنې د روح هنداره ده، او نوی نسل د دې روح نوې څپه بلل کېږي، په دې مقاله روښانه شول چې نوی نسل د اوښتون پړاو د ټول ادب سره چندان ژور تړاو نه لري،ځکه د دې پړاو شاعري د شعار بڼه لري، پرته له یوې خاصې برخې چې د خوار او غریب د حق غوښتنه، د هېواد ساتنې، ابادۍ او غیرت بلنه په کې ورکړل شوې ده، کله چې په پښتو معاصره دوره کې د اوښتون پړاو پیل کېږي نوی نسل د گوندونو د گټو او تاوانونو په اړه معلومات نه لري، چې د وخت په تېرېدو یې هر څه په خپلو سترگو ولیدل، او د نوې نړۍ سره یې اړیکې پیدا کړې د اوښتون پړاو ټول ادبیات د دوی د غوښتنو سره برابر نه دي، یو خبره خو داده چې د یاد پړاو ادبیات په لومړیو کې یوازې د شعار بڼه درلوده او د شعر جوړښت او د ژوند د هرې برخې مفهوم ته په کې چندان پاملرنه نه کېده او داچې، دا نسل د کینې اړخو او ښې اړخو په نسبت د منځلارو شاعرانو شاعري له دې وجهې خوښوي چې، نړیوال یوالي ته رابلل شوي، د ژوو مرگ ورته د انسان په څېر په یاده شاعرۍ کې ښودل شوی او دستونزو حللارې ورته په کې په ډاګه شوي، ځوانان نن ورځ د هغه ادبیاتو سره مینه لري چې د دوی د احساساتو، ژوند، ستونزو او هیلو ژبه وي.

نوی نسل نه یوازې عشقې شعر خوښوي، بلکې وطني او انقلابي شاعرۍ ته زړه ورکوي، بلکې هغه انقلابي شاعرۍ شته چې د نوې زمانې نوي ژوند ته پیغام په کې نغښتی وي ،ځکه دا شعرونه دوی ته هویت، غیرت، بدلون او ارمانونه ور په زړه کوي، همدارنگه د نثري ادب هم د نوي نسل پام ځانته را اړولی، ځکه چې د دوی د ورځني ژوند انځور وړاندې کوي. موږ دا هم درک کړه چې نوی نسل نه یوازې د ادب لوستونکی دی، بلکې لیکوونکی هم دی او غواړي ادب ورته د انعکاس هنداره وي، د دې لپاره اړینه ده چې لیکوالان د ځوانانو ژبه وپیژني او داسې لیکنې په نثري او منظوم ادب کې وشي چې نوی نسل په کې ځان او ټولنه ووینې.

**وړاندیزونه**

۱ : څېړونکي او لوستونکي دې د پښتو ژبې او ادب د نورو تاریخي دورو او پړاوونو سره د نوي نسل اړیکې وڅېړي.

۲: د پښتو ژبې ویونکي او لیکوالان دې، د پښتو ژبې او پرمختگ په موخه په تول پوره آثار ولیکي، تر څو پښتو ژبه د نړیوالو ژبو سیاله شي.

# The Transitional Phase of Contemporary Pashto Literature: Poems and the Relationship between the New Generation

Teaching Assistant Safiullah Asar, Faculty of Education, Nimroz University, Professor, Department of Pashto.
**Email:** Sfiullahasar97@gmail.com

**Abstract**

The transitional period of the modern Pashto period is a controversial period. This article, titled (The Transition Period of the Modern Pashto Literature: Poetic Literature and the Relationship of the New Generation), is related to the transitional period of the modern Pashto period. The new generation and the literary demands of the new generation are also taken into account in the article, which is an important theory to explore. It has been found that the new generation The amount of interest in the poetry of this period and what types of poems are their favorite poems, choosing a method for research is essential, I have also used the review method for this research, my research method is library and its value lies in the fact that no one or any writer has written under this title so far, poetry in this period of Pashto literature is a form of slogan It has been found that in the poetry of this period, the names of war reforms and the theories of right-side, left-side, and moderate poets have been explored, and the poetry of the new generation's taste has also been identified. It has also been shown that the new generation is interested in the development of the country in addition to the freedom of the country. The new generation is shaping the future of our country, and its writers and poets should be thoughtful. Educate in such a way that our country will stand in the ranks of developed countries in the future, and that is our responsibility.

**Keywords:** Literature, transitional period, new generation, demands of the new generation

## اخځلیکونه

اثر، صفي الله.(۱۴۰۱). پر پښتو منظوم ادب د روسي ښکېلاک او کورنیو جګړو د اغېزو څېړنه. د ماسترۍ تېزس. ننګرهار پوهنتون، پښتو ادبیاتو ماسترۍ برنامه.

ارمل هاشمي. سید اصغر.(۱۳۹۲). شعر پوهنه. مومند خپرندویه ټولنه جلال اباد.

ازمون، لعل پاچا. (۱۳۹۹) .د ابیاتو فلسفه. د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست، کابل افغانستان.

باجوړی. بریالی.( ۱۴۰۱).د پښتو ادبیاتو معاصر تاریخ اوښتون پړاو.جهان دانش خپرندویه ټولنه.

جهاني،عبدالباري.(۱۳۷۸ل). پایکوپ . کوټه: صحاف نشراتي موسسه.

خزان، عارف.(۱۳۶۹ل). له برهوت نه.کابل: د افغانستان د لیکوالو انجمن، دولتي مطبعه.

دراني. درویش.(۲۰۱۴). د پښتني ژوند کړه وړه. صحاف کتابخانه ارګ بازار قندهار افغانستان.

دراني. درویش.(۲۰۱۰م).دا بوټي به لونګ شي. پښور: صحاف خپرندویه ټولنه.

رسولي فیض زاده. کریمه.(۱۳۷۴). زخمي شونډې. پېښور

روهي. محمد صدیق .( ۱۳۸۴).دپښتو ادبیاتو تاریخ دویم ټوک دربیم چاپ .دانش خپرندویه ټولنه تخنیکي څانګه پېښور.

غضنفر. اسدالله.(۱۳۹۶). کلتور او ټولنه. مومند خپرندویې ټولنې تخنیکي څانګه.

غوربندي. میراجان.(۱۳۹۹). د ژبپوهنې مبادي.

کاروان.پیرمحمد.(۱۳۸۷). چنار خبرې کوي. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

لایق سلیمان.(۲۰۱۳). سندرې په سویو واټونو کې. لاهور: پښتو ادبي غورځنګ کوټه.

ناګار. فضل ولي .(۱۳۸۹). دا هغه بالاحصار دی.ننګرهار . ناګار خپرندویه ټولنه.

ننګیال. اسحاق.(۱۳۷۷). سیندونه هم مري. پیښور

وزیر. نصرالله جان.(۲۰۱۸). په پښتو ژبه او ادب د افغانستان د ثور انقلاب اثرات.پېښور : فاسټ ټرېک کمیو نیکېشن.

همت. عبدالمالک.(۱۳۸۵). ادب او ادبي کره کتنه . صحاف نشراتي موسسه اکرم پریس لاهور.

یون. محمد اسمعیل.( ۱۳۸۷ل).سیندونه هم مري. یون کلتوري.

# په اسلامي فقه او غرب کې د نکاح آثار

پوهنیار محمد نعیم رحماني ، سپین غر پوهنتون(ننګرهار) د اسلامي ثقافت ډیپارټمنټ استاد
عزیز الله تره‌خېل سپین غر پوهنتون (ننګرهار) د اسلامي ثقافت ډیپارټمنټ استاد

**لنډیز**

دا مقاله د زوجینو د نکاح حقوقي او ټولنیزو د اړیکې لپاره چمتو شوې ده، څو وښيي چې د اسلام او لوېدیځو حقوقي نظامونو تر منځ په ودونو کې کوم بنسټیز توپیرونه او ګډ ټکي موجود دي. په اسلامي شریعت کې نکاح یو مقدس عقد ګڼل کېږي چې موخه یې د کورنۍ جوړول، د نسل ساتنه، د خاوند او مېرمنې د حقوقو تنظیم، او د ټولنې اخلاقي ثبات تضمین دی. په څنګ کې، په لوېدیځو حقوقي سیستمونو کې نکاح په اصل کې یو مدني قرارداد بلل کېږي چې د شخصي ازادۍ، مساوات او د قانوني حقونو پر بنسټ تعریفېږي. مقاله د دواړو نظامونو له نظره د نکاح د حقوقي آثارو لکه مهر، نفقه، وراثت، طلاق، د اولاد حقونه، د کورنۍ جوړښت او ټولنیزې پایلو ارزونه کوي. یاده مقاله څرګندوي چې که څه هم دواړه نظامونه د کورنۍ د ثبات ارزښت مني، خو د پرېښووونکو اصولو، ارزښتونو او تطبیقي قوانینو په برخه کې څرګند تفاوتونه شتون لري. همدارنګه د معاصرې نړۍ د بدلونونو له امله د اسلامي او لوېدیځو ټولنو د کورنۍ د جوړښت پر اغېزو هم بحث شوی دی. مقاله په پایله کې دې ته رسېږي چې د نکاح په اړه د اسلام او لوېدیځ مفهوم د انسان د ژوند په شخصي، ټولنیزو او حقوقي اړخونو ژور اغېز لري، او د دواړو نظامونو د ارزښتونو مقایسه د معاصرې کورنۍ د ثبات او د حقوقي اصلاحاتو لپاره مهمه علمي ارزښت لري.

**کلیدي کلمات:** اسلامي فقه،احوال شخصیه، اسلام، آثار، غرب، نکاح

**سریزه**

**بسم الله الرحمن الرحيم، الحمد لله رب العلمين والصلاة والسلام على سيد المرسلين وعلى اله واصحابه اجمعين !**

نکاح د انسان د ټولنيز او اخلاقي ژوند له بنسټيزو نظامونو څخه دی، چې د بشريت د پيل راهيسې د ټولنو د جوړښت، نسل د بقا، او د کورني ثبات د ټينګښت لپاره مهم رول لري. اسلام د نکاح موضوع ته ځانګړې پاملرنه کړې، او هغه يې يوازې يو مدني تړون نه، بلکې يو مقدس شرعي عقد بللی دی، چې د روحاني سکون، اخلاقي پاکۍ او ټولنيز نظم بنسټ ور باندې ولاړ وي. قرآن کريم د نکاح فلسفه په څو آيتونو کې په ښکاره ډول بيان کړې ده. الله تعالی فرمايي:﴿وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَوَدَّةً وَرَحْمَةً﴾.(الروم: ۲۱).

دغه آيت د نکاح بنسټيز هدف، چې سکون، مينه او رحمت دی، په واضح ډول څرګندوي. همدارنګه شريعت د نکاح د حقوقي او ټولنيزو آثارو د تنظيم لپاره داسې اصول وضع کړي چې د خاوند او ښځې تر منځ د مسؤوليت، عدالت، او احترام يو متوازن نظام رامنځته کړي.نبي کريم ﷺ د نکاح د اهميت په اړه فرمايي:(النِّكَاحُ مِنْ سُنَّتِي، فَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِي فَلَيْسَ مِنِّ). (بخاري و مسلم)

دغه حديث نکاح د اسلامي ټولنې د اخلاقي او اجتماعي جوړښت اساسي برخه معرفي کوي، او دا څرګندوي چې دا عمل يوازې د دنياوي اړيکو لپاره نه، بلکې د ديني روحيې د بشپړتيا لپاره هم مهم دی.

په مقابل کې، په لوېديځو ټولنو کې د نکاح مفهوم د وخت په تېرېدو سره له ژورو بدلونونو سره مخ شوی دی. که څه هم نکاح هلته هم د کورنۍ د جوړښت يوه مهمه ستنه ګڼل کېږي، خو د هغې حقوقي بنسټ په اصل کې يو مدني قرارداد دی چې د فردي ازادۍ، شخصي رضايت او قانوني برابري پر محور ولاړ دی. له همدې امله د نکاح د آثارو په اړه د لوېديځ او اسلامي ليدلوريو تر منځ د ارزښتونو، فلسفې، حقوقي تفسير او ټولنيز اغېز له پلوه څرګند توپيرونه ليدل کېږي.

په دغه مقاله کې هڅه شوې چې د قرآن او سنتو په رڼا کې د نکاح د اسلامي آثارو روښانه بيان وړاندې کړي، او بيا يې د لوېديځو حقوقي نظامونو له ليدلوري سره پرتله کړي. د دواړو نظامونو د حقوقي، اجتماعي او اخلاقي پايلو تحليل به دا څرګنده کړي چې څنګه د ارزښتونو اختلاف د کورنيو په جوړښت، د خاوند او ښځې په مسؤوليتونو، او د اولاد په حقوقو ژور اغېز لري. همدارنګه مقاله به د معاصرې نړۍ د بدلونونو په رڼا کې دا هم وڅېړي چې د نکاح د مفهوم او آثارو بدلون په ټولنو کې څه انعکاس لري.

### د مقالې ليکنې ستونزه

ياده مقاله د لاندې ستونزو د حل په موخه ليکل شوی:

۱ـ د اسلامي شريعت او وضعي غربي قوانينو په رڼا کې د کورني نظام مسائلو واضح کول،چې اسلامي شريعت په کوم ډول ذکر کړي،او غربي قوانينو په کوم ډول ذکر کړي.

۲ـ دا ثابتول چې د ځانه جوړ قوانينو څومره پاتې قوانين دي،چې هيڅ حکمت او فلسفه په کې نه تر سترګو کيږي،يوازې د خواهشاتو پوره کول په کې وجود لري.

۳ـ د اسلامي کورني نظام او خودساخته قوانينو تر مينځ مقارنه،او دا جوته ول چې کوم يو حکم کې حکمت او فلسفه شتون لري.

### موخې

دغه مقاله لاندې علمي او تحليلي اهداف تعقيبوي:

۱. د قرآن او حديثو او د غرب قوانينو په رڼا کې د نکاح د مفهوم او فلسفې پيژندنه.

۲. په اسلام کې د نکاح د حقوقي، اقتصادي، اخلاقي او ټولنيزو آثارو تشريح.

۳. په لوېديځو حقوقي نظامونو کې د نکاح تعريف او آثارو څېړنه.

٤. د دواړو نظامونو د ارزښتونو، قوانينو او ټولنيزو پايلو پيژندنه.

٥. د اسلامي او لوېديځو ليدلوريو د توپيرونو او ګډو ټکو يادونه.

٦. د کورنۍ د ثبات لپاره د اسلامي سيستم د برتري او حکمتونو څرګندول.

### د ليکنې ميتود (Methodology)

دغه څېړنه د کيفي (Qualitative) او پرتليز (Comparative) څېړنيز ميتود پر بنسټ جوړه شوې ده. په دې ميتود کې:

۱. د قرآن کريم آيتونه او صحيح احاديث اصلي مصادر ګڼل شوي.

۲. د اسلامي فقهې، تفسير،او حديث کلاسيک او معاصر کتابونو څخه په کې ګټه پورته شوی.

۳. د لوېدیځو حقوقي سیستمونو د نکاح اړوند قوانین او اکادمیکې څېړنو څخه ګټه پورته شوی.

٤. د اسلامي او لوېدیځو لیدلوریو تر منځ د نکاح د آثارو یادونه ترسره شوی.

٥. مقاله د علمي استدلال، منابعو او نقل قولونو پر بنسټ لیکل شوې.

د همدې میتود له لارې د دواړو لوریو حقوقي، اخلاقي او ټولنیز توپیرونه او ګډ ټکي په علمي ډول روښانه شوي دي.

**د فقهې او احوال شخصیه پېژندنه**

په یاده برخه کې، دوه اساسي تعریفونه ذکر شوي چې د اسلامي فقهې او د احوال شخصیه پېژندنه ده،دلته یې په لاندې توګه ذکر کوو:

**د اسلامي فقهې پېژندنه**

په عربو کې د فقهې اصطلاح په یو شي باندې پوهیدلو ته وایي،نو هر هغه پوهه چې په یو شي باندې راځي فقه ورته وایي،او یا هم د متکلم په غرض باندې پوهیدلو ته فقه وایي.([٤٢])او په دی مورد کې الله جل جلاله فرمایي:(**قَالُوا يَا شُعَيْبُ مَا نَفْقَهُ كَثِيرًا مِمَّا تَقُولُ**) (٤٣)

**ژباړه:** او وویل د شعیب علیه السلام قوم موږ نه پوهیږو په ډیرو هغه خبرو چې ته یې وایې.

نو فقه د متکلم په خبرو پوهیدلو ته ویل کیږي،او دغه معناګانې ورته د عربو په ژبو کې استعمال شوي.

**او په شریعت کې:** دا هغه شرعي حکمونه دي،چې عملي جنبه ولري،او د تفصیلي دلائلو څخه اخیستل شوی وي. (٤٤)

---

[٤٢] : أبو العباس، المصباح المنير في غريب الشرح الكبير، أحمد بن محمد بن علي الفيومي ثم الحموي، أبو العباس.الناشر: المكتبة العلمية – بيروت ج۲ ص۴۷۹.

[٤٣] :سورت هود(آیت ۹۱).

[٤٤] : ابن النجار، تقي الدين أبو البقاء محمد بن أحمد بن عبد العزيز بن علي الفتوحي المعروف بابن النجار ۱۴۱۸هـ – ۱۹۹۷ مـ شرح الكوكب المنير المحقق : محمد الزحيلي و نزيه حماد، مكتبة العبيكان، الطبعة الثانية ۱ج ص۴۱.

**احوال شخصیه پیژندنه**

کوم مسائل چې د کورني نظام پورې تړاو لري،د احوال شخصي اطلاق وربانديې کیدلای شي.

دغه نوم کوم چې نن ورځ زیات استعمالیږي احوال شخصي دا یو قانوني اصطلاح ده چې قانون پوهانو وضع کړی،چې اسلامي فقه کې ترې تعبیر په فقه الأسرة سره کیدلای شي. (٤٥)

د احوال شخصیه اصطلاح د لومړنیو خلفاؤ په دور خلافت کې رامنځته شوی،او فیصلي به په دی ترتیب کیدای شوی چې؛ لومړې به د مسألې حل په قرآن کې لیدل کیده که هغې کې به پیدا نه شو نو سنت درسول الله (صلی الله علیه وسلم)کې به لیدلی شو،او که هغې که به هم نه ؤ بیا اجماع باندې استناد کیدلای شو،او که اجماع کې به پیدا نه شو نو خپله رأیه به یې استعمالوله په کومه معینه ماده به یې ترکیز نه کولو،بیا وروسته په عباسي او عثماني خلافت کې حنفي فقه باندې فیصلې شروع شوی،تر دی چې دغه فقهي احکام په مادوار او قانوني شکل رامنځته شول،چې د لومړي ځل لپاره په کال ۱۲۹۳هـ کې رامنځته شو،بیا وروسته په کال ۱۸۵۱هـ کې مجلة الأحکام په ماده وار شکل ولیکل شوه آن تر دی چې په قانوني شکل فقهي احکام منځته راغلل.(٤٦)

**په غربي قوانینو کې**

غربي قوانینو د روماني قانون څخه اخیستنه کړی،چې روماني یوه امپراطوري وه او په بیزنطي سره هم مشهور ؤ،چې په عقلي قوانینو کې تر ټولو معتمد قانون ګڼل کیده،او بریطانیا له همدې څخه خپل قانون جوړ کړی ؤ،او په دغه قوانینو کې به یې محلي او أصلي حکمونه ذکر کول.(٤٧)

اوسني قوانینو کې چې وګورو لکه د اروپا د ۱۸۰۴م کال قانون او د المان د ۱۹۰۰قانون دی ټولو قوانینو د روماني قانون مادی شرحه کړي،او خپل کورنې قانون یې ورڅخه جوړ کړی.

**د واده تاریخ اهداف**

په دی برخه کې د واده مشروعیت،حکم او اړوند احکام ذکر شوي،او همداراز د واده اهداف هم په کې ذکر دي،او همداراز په غربي قانون کې د نکاح تاریخ او اهداف کوم دي،ذکر شوي.

---

٤٥:أحکام الأسرة،دکتور محمود بلال مهران،ج١ص٩.

٤٦ :باشا، محمد قدري باشا الحنفي، ٢٠٢٠م مرشد الحیران في معرفة الأنسان،طبعة الأولی،ج١ص٢٣.

٤٧ :تطبیق الشریعة الاسلامیة في بلاد الغربیة،دکتور صوفي أبو طالب ص ٢٦٧.

**په اسلام کې د واده تاریخ او اهداف**

واده د ژوند يو مهم سبب دی چې د بشريت د پيدايښت سره سم يې ورپه برخه كړی، لكه الله (جل جلاله) فرمايي: ( **وَقُلْنَا يَا آدَمُ اسْكُنْ أَنْتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ وَكُلَا مِنْهَا رَغَدًا حَيْثُ شِئْتُمَا**) (٤٨)

**ژباړه:** او موږ اوويل؛ای آدمه اوسيږه ته او ميرمن دی په جنت كې او خورئ په جنت كې پراخه څرنګه مو چې خوښه وي.

همداراز په حديث كې راغلي چې درې صحابۀ رضي الله عنهم هوډ وكړ،چې نكاح به نه كوي او تل به عبادات كوي،رسول الله (صلى الله عليه وسلم)راوغوښتل او رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل؛چې زه عبادات هم كوم او نكاح هم كوم، او څوک چې زما له سنتو مخ اړوي زما امتي نه دی.([49])

خلاصه دا چې نكاح پخوا هم وه او اوس هم شتون لري،او همداراز نكاح ده چې ټولنه او فاميل تشكيلوي، اوكورني حقوق منځته راولي.

**د واده پيژندنه او اهداف**

(**الزواج عقد يحل به الوطء أو عقد يفيد استمتاع كل من العاقدين للآخر على وجه المشروع**)([50])

**ژباړه:** واده يو عقد دی چې وطي ورسره حلاليږي،او يا عقد دی چې د يو بل څخه فائده اخيستل په كې افاده كيږي،په داسې طريقه چې هغه مشروع دي.

**د واده اهداف**

١. د ښځو ساتنه او د هغوي په كارونو حاكميت كول او په هغوي خرچه كول
٢. د فاحشې څخه ساتنه كوي.

---

[48]:سورت البقرة(آيت ٣٥).

[49] : البخاري، محمد بن إسماعيل أبو عبدالله البخاري الجعفي، الجامع الصحيح المختصر ، الناشر : دار ابن كثير ، اليمامة – بيروت، الطبعة الثالثة ، ١٤٠٧ – ١٩٨٧،ج٤ص١٩٤٩.

[50] : **الزحيلي، أ. د. وَهْبَة بن مصطفى الزُّحَيْلِيّ، أستاذ ورئيس قسم الفقه الإسلاميّ وأصوله بجامعة دمشق – كلّيَّة الشَّريعة، الفِقْهُ الإسلاميُّ وأدلَّتُهُ (الشَّامل للأدلّة الشَّرعيَّة والآراء المذهبيَّة وأهمّ النَّظريَّات الفقهيَّة وتحقيق الأحاديث النَّبويَّة وتخريجها)،الناشر: دار الفكر – سوريَّة – دمشق، الطبعة الطبعة الثانية عشرة، ج٩ص٦٥١٣.**

۳. د الله(جل جلاله) بندګان او د رسول (صلی الله علیه وسلم)د امت زیادت.
۴. د شهوت په مباحه طریقه پوره کول. (۵۱)

**په غربي فکر کې د واده تاریخ او هدفونه**

ټول اسماني دینونه په دی صراحت لري چې نکاح یو طبیعي امر دی چې هر سړی ورته میلان لري،نو له دی امله په غربي فکر کې هم ورته ځای ورکړل شوی،او دا وضاحت یې کړی چې انسان باید خپله جنسي غریضه پوره کړي،خو د دوي طریقه د اسلامي طریقې سره مخالفه وي،او هغه دا چې دوي د یو ښځې سره واده کوي چې د هغې څخه یې اولاد وي او ددی اولاد او ښځې نفقه په ده لازم وي،او هیڅ نه شی کولای چې د یوې ښځې نه زیاتې وکړي.(۵۲)

**روماني نظام کورنۍ داسې پیژندلې چې:** د هلک او نجلۍ اوږده رابطه ده چې د یو بل څخه ګټه پورته کوي،او نسب ورته نه ثابتیږي مګر په نکاح سره او کوم اولاد چې د غیر شرعي اړیکو څخه پیدا شوي وي،د دوي نسبت یې مور ته کیږي،اوساتنه به یې هم دغه ښځه کوي.(۵۳)

**د واده مقدمات**

په دی برخه کې د واده د مقدماتي حکمونو څخه بحث شوی چې په اسلام او غربي نړۍ کې د نکاح لپاره کوم لومړني حکمونه په نظر کې نیول کیږي.

**په اسلام کې د واده مقدمات**

په اسلامي نظام کې لومړی مشوره کیږي،بیا استخاره کیدلای شي،بیا جانبینو ته اختیار ورکول کیږي،د خوښۍ څخه وروسته بیا خطبه منځ ته راځي،او په هغې ځینې حکمونه مرتبیږي او دلائل یې په یاده رساله کې ذکر شوي.(٥٤)

---

۵۱ : السرخسي، محمد بن أحمد بن أبي سهل شمس الأئمة السرخسي المبسوط، الناشر: دار المعرفة – بیروت۱۴۱۴هـ-۱۹۹۳،ج۴ص۱۹۲.
۵۲ :دراسة مقارنة عقد الزواج دکتور احمد یسری چې دغه نقل یې د امریکایي رووبرت څخه کړی،ج۱ص۶۳.
۵۳ :تاریخ تطور النظم الاجتماعیة والقانونیة دکتور صوفی أبو طالب ص ۳۴۷.
۵۴ :دکتور/ سامح عبد السلام محمد،۲۰۱۳م، فقه الأسرة بین حضارتین،ج۱ص۴۵ــ۵۱.

**په غربي قوانینو کې د واده مقدمات**

په غربي ټولنه کې د خِطبې لپاره کوم ټاکلې حد نشته هلته داسې وي چې هلک او نجلۍ سره رابطه پیدا کړي زیات وخت سره اړیکه لري،او د یو بل څخه جنسي خوند اخلي خو دا د واده په معنی نه وي، یعنی دواړه یاران وي او په راتلونکي کې پلان لري چې واده وکړي،ددی لپاره کومه ځرنګوالې او محدود شکل نه وي،او اعلان هم په کې نه وي،برابره ده په پټه وي او که ښکاره. (۵۵)

**د واده ارکان او شرطونه**

په دی برخه کې د نکاح ارکان او شرطونه په خلاصه ډول ذکر شوي،چې اسلامي نظام کې یې حکم څه دی او په غربي قوانینو کې یې حکم څه دی.

**په اسلامي فقه کې د نکاح ارکان او شرطونه**

په اسلامي فقه کې د نکاح د صحت لپاره ځانګړي شرطونه وجود لري،چې په لاندې توګه یې په خلاصه ډول ذکر کوو:

د نکاح په عقد کې اکراه جائز نه ده چې د خنساء بنت خذام (۵۶)حدیث پرې دلیل دی،د هغې پلار هغه په زوره په نکاح ورکړی وه او هغه کونډه وه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغله او ورته وویل زه یې خوښه نه ګڼم،نو نکاح یې رد کړه.

د عمر لحاظ په اسلامي فقه کې شرط نه دی،بلکې بلوغ یې آخري حد ټاکل شوی.

همداراز په اسلامي فقه کې کفائت(سیالتوب) مهم ګڼل کیږي،که هغه د دین له لحاظه وي،او که د نسب له لحاظه وي،او هغه د مالدارۍ له لحاظه وي،چې هر یو ځانګړی حکمت لري.

دا راز د عقد صیغه مهمه ده چې د عاقدینو رضایت په کې څرګندیږي،چې هغه د ایجاب او قبول الفاظ دي.

همداراز د نکاح د صحت لپاره د ګونګ لپاره کتابت او دکوڼ لپاره د اشارې جواز ورکول شوی.

---

[۵۵] :فقه الأسرة بين حضارتين ج۱ص۲۱۱.

[۵۶] :خسماء د خذام لور د اوس قبیلې،د أبي لبابه ښځه وه،روایات ترې نقل شوي،وګوره:العسقلاني،أحمد بن علي المعروف بابن حجر،تقريب التهذيب،المكتبة العلمية،ج۱ص۷۴۲.

احیانا که چیرته هلک او انجلۍ بې زړه وي،یا بل کوم مشکل وي،اسلامي فقه کې د هغوي له اړخه وکالت کول روا ګڼل شوی.

**د نکاح د ښه مضبوط والي په خاطر لاندې کارونه تر سره کول اسلامي فقهې روا ښودلی**

د عقد توثیق والی،هغه په دی معنی چې یو بل سره وعده کول چې ګډ ژوند کې به یو بل سره د ښځې او خاوند په څېر ژوند کوي. داراز عرفي واده هم درست دی اګر که توثیق په کې نه وي.

د توثیق والي بله لاره هم شته چې هغې ته اعلان او اشهاد ویلی شوه چې اسلامي فقهې پرې زیات ترکیز کړی. همداراز اسلامي فقه موږ ته دا خبره څرګندوي چې د محرماتو سره به نکاح نه شي کیدلای،ځېنې یې د همیش لپاره او ځېنې یې د معین وخت لپاره حرام ګڼل کیږي،د همیش لپاره أبدي او رضاعي محرمات دي چې ملاعنه هم کیدلای شي،او معین وخت لپاره بیا محرمات هغه دي چې د ښځې د طلاق او یا هم وفات په صورت کې تاته د هغې کورنۍ حلاله شي.

**په غربي قوانینو کې د نکاح ارکان او شرطونه**

د فرانسي قانون ۱۴۹ ماده صراحت کوي،چې نکاح نه ده صحیح مګر کله چې عاقدین راضي وي. (۵۷)

د بریطانیې قانون دا تصریح کړی چې د شاهدانو په وجود به رضا ښايې او هر یو ترې وګرځید بیا د ولي موافقې ته کتل کیږي،او نکاح کوونکي به مدرک او ممیز خلک وي.(۵۸)

غربي قوانین اکثریت په دی نظر دي چې د نکاح کولو قانوني عمر باید اتلس کاله وي،د هلکانو په حق کې او د نجلۍ په حق به پنځلس کاله عمر وي،او د نکاح کولو په صورت کې باید د دوي کورنۍ هم راضي وي،کومه رضا چې د عاقدینو وي هغې ته قاصره رضا وایي،او کومه چې د فامیل له اړخه وي هغې ته کامله رضاء وایي.(۵۹)

په غربي قوانینو کې وکالت نشته او دوي نکاح په حضور د عاقدینو تړي،یعنې هر یو به حاضر وي او ایجاب او قبول به کوي،او دا صراحت د فرانسي قانون کړی.(۶۰)

۵۷ :الطهطاوي،رفاعة رافع،تعریب القانون المدني الفرنسي،المطابع الأمیریة بمصر،(ماده ۱۴۹).
۵۸ :حانکیـ أ/جمیل حانکی جمیل،الأحوال الشخصیة للأجانب،المطبعة العصریة القاهرة، ص ۱۱۸.
۵۹ : د / عبد الفتاح عبد الباقي، الزواج في القانون الفرنسي،ــص۳۴.
۶۰ :مخکنی مرجع ص ۳۲ ۳۳.

مگر د کنسي قانون کې بيا وکالت کول جائز دي،خو مؤکل کولای شي مخکې د نکاح څخه ځانته وکيل وټاکي. (٦١)

په غربي قوانينو کې محرمات داسې ښودل شوي لکه د اسلامي فقهې او يا هم د نورو شرائعو په څير،او د حرمت لپاره لاندې أمور لري:

**۱ـ القرابة الشرعية**

دغه قرابت کې دوه ډوله ډلې دي:

**۱ـ قرابة الدم:** هغه خپلوان چې وينه يې يوه وي چې لاندې حالات لري:

- د اصولو او فروعو تر مينځ چې هيڅ کوم تحديد نه لري.
- د خويندو او ورنو تر مينځ
- د تره او وريرې،خورزې،عمه د وراره سره،خاله د خوريي سره.

**۲ـ قرابة المصاهرة :** هغه محرمات چې د خسرګنۍ له امله حرامېږي،چې غربي قانون کې لاندې حالات لري:

- د خسرګنۍ د اصولو او فروعو سره نکاح منع ده اگر که ښځه مړه يا طلاقه شوی وي.
- د ښځې د خويندو د فروعو سره نکاح منع ده.

**۳ـ القرابة الطبيعية ال غير الشرعية**

- د غير شرعي ماشوم پلار او د هغه اصول
- د غير شرعي ماشوم خويندې

**۵ـ قرابة التبني:** د زويتوب له نيولو له امله چې کوم حرمت را مينځته شي تبني ورته وايي،چې راتلونکي حالات لري:

- د متبني او متبنا تر مينځ فروع حرام خو اصول يې حلال

[٦١] : د / احمد يسرى، دراسة مقارنة ـ عقد الزواج ـ ج۲ ص ۲۱۳ – ۲۱۴.

- د متبني ماشومې سره نکاح منع او چا چې نیولې د هغې حرمت په متبني.
- د متبني أولادونو سره نکاح منع ده
- د متبني د أولادونو أولادونو سره نکاح منع ده(٦٢)

**د زوجینو تر مینځ په اسلامي فقه او غربي قوانینو کې د نکاح آثار**

په دی برخه کې د د نکاح آثار چې کله هم نکاح ابرام شي کوم اثار وربانديې مرتبیږي،اوهمداراز په غربي قوانینو کې حکم څه دی آیا د اسلامي فقهې سره تطابق لري او که تخالف.

**په اسلامي فقه کې د نکاح آثار**

په اسلامي فقه کې د نکاح آثار په لاندې توګه ذکر کوو،خو له تفصیل څخه یې صرف نظر کوو، تفصیل یې د غربي قوانینو څخه چې پرې پوه شو ذکر کوو:

**د زوجینو تر مینځ په اسلام کې ګډ حقوق**

۱ـ ګډ ژوند ښه تیرول

۲ـ له یو بله څخه جنسي ګټه پورته کول

۳ـ د یو بل څخه میراث وړل

۴ـ د اولاد د نسب ثبوت

**د ښځې حقوق په خاوند**

۱ـ نفقه ورکول

۲ـ د اوسیدلو ځای برابرول

---

٦٢: ادمون کیلي، ٢٠٠٩م، نشر London, Stevens and sons, limited قانون الزواج **وعقود الزواج والطلاق الفرنسي وتضارب القوانین الناشئة عنه،ص٣۴.** **دا راز وګوره: الزواج في القانون الفرنسي،ص٣۴.**

۳ـ ښه لباس او خرچه پرې کول تر وسعې پورې

۴ـ مهر ورکول

**په غربي قوانينو کې د نکاح آثار**

په غربي قانون کې زوجين يو بل باندې درې اساسي واجبات لري چې په لاندې ډول دي:

- واجب الاخلاص:د اخلاص څخه مطلب د فرانسي مدني قانون په ۷۷۷ ماده کې تصريح کيږي چې په طرفينو باندې لازم دي چې د يو بل سره په ټولو چارو کې اخلاصمند اوسي.(۶۳)
- واجب المساكنة أو المعيشة المشتركة:د فرانسي قانون صراحت کوي او وايي چې ښځه او خاوند بايد مشترک يعنی د يو چت لاندې ژوند وکړي،خو دا يو طبيعي کار دی،ځکه نکاح د ځينې اهدافو لپاره کيږي،او دغه هدف په مشترک ژوند کې ترسترگو کيږي.
- واجب المساعدة: له دی څخه مطلب دادی چې په هر يو د جانبينو څخه لازم دي چې له يو بل سره مالي همکاري وکړي،که ښځه يې وي او که خپله خاوند وي،بايد له يو بل مالي همکاري وکړي،دا په هغه صورت کې چې مشترک ژوند کوي او که جدا ول بيا هم بايد همکاران اوسي.(٦٤)

**د نکاح د قيد خلاصون**

په دی برخه کې درې مهمې مسألې دي چې کورنۍ ورسره لمنځه ځي، ذکر کيږي،خو په اسلامي فقه او غربي قوانينو کې په کوم ترتيب ذکر شوي حکم يې څه دی دلته يې ذکر کوو:

۱ـ طلاق ( طلاق ديته ويلې کيږي چې خاوند خپله ميرمن د طلاق په ښکاره لفظ سره يا د نيت په لرلو په کنايي ډول طلاقه(پريږدي ) کړي ).

[63] : ادمون كيلي، ۲۰۰۹م، نشر London, Stevens and sons, limited قانون الزواج وعقود الزواج والطلاق الفرنسي وتضارب القوانين الناشئة عنه،ص ۱۲۲ ـ ۱۳۲.

[64] :مخکنې مرجع۱۳۲ص.

۲ـ خلع ( د شرعي اعذارو په وجود سره د ښځې لخوا د مهر په ورکړه، د خاوند د قید څخه خلاصون ته ویلې کیږي )

۳ـ د قاضي دپریکړې پر اساس جدا والی

**په اسلامي فقه کې طلاق**

طلاق عبارت له هغه شي څخه دی چې د نکاح عقد ورسره لمنځه وړل کیږي،او طلاق هم اسلامي شریعت د حکمت لرلو سره روا کړی.(۶۵)

د طلاق مشروعیت،ډولونه،حکم په فقهې کتابونو کې ذکر دی دلته یې ذکر کول کتابت اوږدول دي،یواځې د غربي قوانینو ذکر مهم دی.

**په غربي قوانینو کې د طلاق احکام**

په غربي قوانینو کې له طلاق څخه هدف د نکاح ختم والی دی چې ښځه او خاوند به له یو بل څخه جدا کیږي،خو دغه جدا والی به د قاضي د حکم پر اساس وي،او د هغې اسبابو سره کوم چې د دوي قانون ورته وضع کړي وي.

**په غرب کې طلاق کوم ډول واقع کیږي؟**

غرب د طلاق ډولونه نه لري بلکې یو طلاق لري،چې هغه هم د محکمې په وړاندې په طلب د یو د عاقدینو واقع کیدلای شي،سړی او ښځه یې په حکم کې برابر دي،او دغه کار یواځې محکمه کولای شي.

**په غرب کې د طلاق اسباب**

دوه نظریې وجود لري،یوه داچې طلاق جزا او عقوبت دی چې خاوند یې ښځې ته یا ښځه یې خاوند ته ورکوي.

---

۶۵ : الجزیري، عبد الرحمن، الفقه علی مذاهب الأربعةج۴ص۱۳۸.

دویمه نظریه وايي چې طلاق علاج او دواء ده چې کله هم ښځه بد اخلاقه شي خاوند طلاق ورکړي،چې بیرته ښه اخلاقه شي،او یا ښځه سړی طلاق کړي چې بیرته سم شي،یعنی څرنګه چې مریض دواء ته ضرورت لري همداراز طلاق هم یوه دوا ده او بس. (٦٦)

**اسباب يې په لاندې ډول دي**

**۱ـ زنا کول:** زنا که ښځه وکړي یا سړی یې وکړي نو طلاق منځ ته راځي فرنسي قانون ۷۷۸ ماده تصریح کوي چې ښځه کولای شي د زنا په سبب خپل خاوند پریږدي.

۲ـ کله چې خاوند ښځه اوهي یا ښځه خاوند اوهي بیا طلاق منځ ته راځي لکه څرنګه چې د فرانسي قانون په ۷۴۷ ماده کې دغه خبره واضح کړی.

۳ـ کله چې یو ددوي داړو یو بل سره سختې کوي یا هم بده کړنه کوي نو طلاق رامنځته کیږي.(٦٧)

**خو د بریطانیا قانون بیا لاندې خبره کړی ده**

۱ـ کله چې جانبین یو بل د څه مودی لپاره پریږدي

۲ـ یو بل سره بد چلند شروع شي

۳ـ یو له دوي (زوجینو)کم عقل کیدل

۴ـ د خاوند تناسلي آله خرابیدل(٦٨)

هر چې خلع او حکم القاضي دی په اسلامي فقه کې ځانګړي احکام لري خو په غربي قوانینو کې طلاق هم خلع ده او هم د قاضي حکم، لکه څرنګه چې مخکې مادو کې ورباندې صراحت وشو.

**پایله**

---

٦٦ :د/عبد الباقي، الزواج في القانون الفرنسي،ص۱۷۱.

٦٧ :الزواج في القانون الفرنسي،ص۱۶۸.

٦٨ :بلمير السعدية،۱۹۸۱م الأحوال الشخصية للأجانب في التشريع المغربي، المعهد الوطني للدراسات القضائية،ج۱ص۱۲۱.

۱ـ د دې مقالې څېړنې څرګنده کړه چې نکاح د انسان د ټولنیز او اخلاقي ژوند له مهمو بنسټونو څخه دی، خو د اسلام او لوېدیځو حقوقي نظامونو تر منځ د دې بنسټ په تړاو د مفکورې، فلسفې او عملي تطبیق له پلوه څرګند توپیرونه موجود دي. اسلام نکاح یو مقدس شرعي تړون ګڼي، چې بنسټ یې د سکون، مینې، رحمت، د نسل د بقا، د کورنۍ ثبات، او د دواړو لورو د متقابل مسؤلیتونو پر تنظیم ولاړ دی. د قرآن او سنتو د لارښوونو په رڼا کې نکاح یوازې حقوقي تړون نه، بلکې د عبادت او اخلاقو یوه مهمه برخه ده، چې د ټولنې د پاکوالي او ثبات لپاره ځانګړی رول ادا کوي.

۲ـ په لوېدیځو ټولنو کې نکاح په اصل کې د مدني قرارداد په توګه تعریف شوې، چې تمرکز یې پر فردي ازادۍ، حقوقي مساوات، او شخصي رضایت دی. د دې لیدلوري له امله، په لوېدیځو هېوادونو کې د کورنۍ جوړښت د بدلون، د طلاق لوړ کچه، د ګډ ژوند بې نکاح اړیکې، او د فردیت د زیاتوالي په څېر ټولنیز رجحانات ډېر شوي دي، کوم چې د کورنۍ پر ثبات منفي اغېز لري.

۳ـ دا مقاله څرګندوي چې که څه هم دواړه نظامونه د کورنۍ د اهمیت منونکي دي، خو اسلام د کورنۍ لپاره داسې سپېڅلی، انساني او متوازن چوکاټ وړاندې کوي چې د حقوقو او مسؤلیتونو منل، د اخلاقو لوړوالی، او د ټولنیز نظم دوام پکې خوندي کېږي؛ په داسې حال کې چې لوېدیځ لیدلوری زیاتره د فردي غوښتنو او قانوني ساحې په محدود څرخ کې راګرځي.

۴ـ دغه مقاله دا هم ثابتوي چې د اسلامي نظام د نکاح فلسفه، د هغې حقوقي بنسټونه او ټولنیز آثار د معاصرې نړۍ د کورنۍ د ستونزو لپاره د حل لارې په توګه مطرح کېدای شي. ځکه اسلام د کورنۍ د ثبات لپاره داسې اصول لري چې د انسان فطرت، ټولنیز ضرورتونه او اخلاقي ارزښتونه په متوازن ډول یو ځای کوي.

نو ویلای شو **چې** نکاح په اسلام کې د انسان، کورنۍ او ټولنې لپاره تر ټولو پیاوړی او دوامدار چوکاټ لري، چې د اخلاقو، حقوقو او ټولنیز ثبات ټول اړخونه پکې شامل دي، او په پرتله کې د لوېدیځ سیستم ډېرې نیمګړتیاوې څرګندېږي. د همدې حقیقت له کبله، د اسلامي کورنۍ نظام د معاصر انسان د ستونزو د حل لپاره یوه بااعتماده او فطري لار پاتې کېږي.

**وړاندیزونه (Recommendations)**

**۱. د اسلامي کورنۍ نظام معرفي او پیاوړتیا:** د اسلامي نصوصو، فقهي او معاصر اسلامي حقوق پوهې په رڼا کې باید د نکاح د فلسفې، اهدافو او آثارو معرفت زیات شي، څو مسلماني کورنۍ د خپل دین د لارښوونو سره سم یو متوازن او باثباته ژوند وکړي.

**۲ .د نکاح د حقوقو او مسؤلیتونو عامه پوهاوی:** د مسلمانو ټولنو لپاره اړینه ده چې د نکاح د حقوقي آثارو، لکه مهر، نفقه، د ښځې او مېړه مسؤلیتونو، او د ماشومانو د حقونو په اړه پراخ عامه پوهاوی رامنځته شي، څو د کورنیو ستونزې کمې او د طلاق کچه راټیټه شي.

**۳ .په تعلیمي نصاب کې د کورنۍ د نظام تدریس:** په ښوونیزو او پوهنتوني نصابونو کې دې د کورنۍ د اسلامي نظام، د نکاح د ارزښت، او د لوېدیځو ټولنیزو بدلونونو د اغېزو په اړه ځانګړي مضمونونه شامل شي، څو ځوان نسل د سالمې کورنۍ په جوړولو پوه شي.

**۴ .د لوېدیځو تجربو علمي ارزونه** :د لوېدیځو هېوادونو د کورنۍ د قوانینو، د طلاق د لوړې کچې او د ګډ ژوند د بې‌نکاحي اړیکو د پایلو په اړه باید علمي څېړنې زیاتې شي، څو د اسلامي کورنۍ نظام د برتري ثبوت نور هم څرګند شي.

**۵ .د نکاح د معاصر ستونزو لپاره فقهي حل لارې:** د معاصرې نړۍ د نوو حالاتو لکه ګډ ژوند، مدني ازدواج، کورنۍ تشدد، اقتصادي فشارونو په اړه باید معاصرې فقهي څېړنې او اجتهادات ترسره شي، څو د اسلامي شریعت په رڼا کې واضح حل لارې وړاندې شي.

**۶ .د کورنۍ د ثبات لپاره دولتي او ټولنیزې برنامې** :اسلامي هېوادونه دې د کورنۍ د ثبات او د نکاح د اسانتیا لپاره پروګرامونه جوړ کړي؛ لکه د ودونو د مراسمو ساده کول، د ځوانانو اقتصادي ملاتړ، او د کورنۍ مشورې مرکزونه.(Family Counseling)

**۷ .د مېړه او مېرمن تر منځ د همکارۍ فرهنګ پیاوړتیا:** مسلمانې ټولنې باید د احترام، شفقت، همکارۍ، او متقابل تحمل فرهنګ ته وده ورکړي، لکه څنګه چې قرآن فرمایي :(**وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ**)، څو کورنۍ له داخلي شخړو خوندي شي.

۸ .**د ښځو د حقونو واقعي عملي کول:** اسلامي ممالک دې د ښځو د هغه حقونو د عملي تطبیق لپاره جدي اقدامات وکړي چې شریعت ورکړي دي، لکه مهر، نفقه، میراث، تعلیم او درناوی، څو د لوېدیځو تبلیغاتو تاثیر کم او د کورنۍ ثبات پیاوړی شي.

۹ .**د ټولنیز رسنیو اغېزو ته اسلامي لارښوونې:** نوي رسنۍ ډېر څله د لوېدیځ کلتور د نکاح د تصور تقلید ته خلک هڅوي؛ نو د علماوو، لیکوالانو او متخصصینو دنده ده چې د کورنۍ په اړه اسلامي محتوا تولید او عامه کړي.

۱۰ .**د اسلامي او لوېدیځو نظامونو متوازن پرتلیز بحث ته دوام :**پوهان، محصلین او څېړونکي دې هڅه وکړي چې د نکاح د دواړو نظامونو تر منځ علمي، بې‌طرفه او ژور پرتلیز بحث ته وده ورکړي، څو د کورنۍ د ثبات لپاره غوره لارې چارې رامنځته شي.

# The Effects of Marriage in Islamic Jurisprudence and the West

Teaching Assistant Muhammad Naeem Rahmani, Department of Islamic Culture, Spinghar University (Nangarhar)
Azizullah Tarakhil,, Department of Islamic Culture, Spinghar University (Nangarhar)

**Abstract**
This article has been prepared to examine the legal and social dimensions of the marital relationship between spouses, with the aim of highlighting the fundamental differences and commonalities between Islam and Western legal systems regarding marriage. In Islamic Sharia, marriage (nikāḥ) is regarded as a sacred contract whose objectives include the formation of a family, preservation of lineage, regulation of the rights and duties of the husband and wife, and the assurance of moral stability within society. In contrast, in Western legal systems, marriage is essentially considered a civil contract, defined on the basis of personal freedom, equality, and legally guaranteed rights. The article evaluates the legal consequences of marriage in both systems, such as dower (mahr), maintenance (nafaqah), inheritance, divorce, children's rights, family structure, and broader social implications. It demonstrates that although both systems acknowledge the importance of family stability, there are clear differences in foundational principles, values, and legal applications. Furthermore, the study discusses the impact of contemporary global changes on the family structure in both Islamic and Western societies. In conclusion, the article argues that the concepts of marriage in Islam and the West have profound effects on the personal, social, and legal aspects of human life, and that a comparative analysis of these value systems holds significant academic importance for the stability of the contemporary family and for legal reforms.

**Keywords:** Islamic jurisprudence, personal status law, Islam, effects.

**مأخذونه**

القرآن الکریم


١. ابن النجار, تقي الدين أبو البقاء محمد بن أحمد بن عبد العزيز بن علي الفتوحي المعروف بابن النجار ١٤١٨هـ – ١٩٩٧ مـ شرح الكوكب المنير المحقق : محمد الزحيلي و نزيه حماد, مكتبة العبيكان, الطبعة الثانية.

**٢. ابن حجر،أحمد بن علي المعروف بابن حجر،تقريب التهذيب،المكتبة العلمية.**

٣. أبو العباس، المصباح المنير في غريب الشرح الكبير، أحمد بن محمد بن علي الفيومي ثم الحموي، أبو العباس.الناشر: المكتبة العلمية — بيروت.

**٤. أحكام الأسرة،دكتور محمود بلال مهران.**

**٥.** ادمون كيلي، ٢٠٠٩م، نشر London, Stevens and sons، limited **قانون الزواج وعقود الزواج والطلاق الفرنسي وتضارب القوانين الناشئة عنه،ص ١٢٢ . ١٣٢.**

**٦. باشا، محمد قدري باشا الحنفي، ٢٠٢٠م مرشد الحيران في معرفة الأنسان،طبعة الأولى.**

٧. البخاري، محمد بن إسماعيل أبو عبدالله البخاري الجعفي، الجامع الصحيح المختصر ، الناشر : دار ابن كثير ، اليمامة — بيروت، الطبعة الثالثة ، ١٤٠٧ — ١٩٨٧.

**٨. بلمير السعدية،١٩٨١م الأحوال الشخصية للأجانب في التشريع المغربي، المعهد الوطني للدراسات القضائية، ج١ص١٢١.**

**٩. تاريخ تطور النظم الاجتماعية والقانونية دكتور صوفى أبو طالب.**

**١٠. تطبيق الشريعة الاسلامية في بلاد الغربية،دكتور صوفي أبو طالب.**

**١١. الجزيري، عبد الرحمن، الفقه على مذاهب الأربعة.**

**١٢. حانكي أ/جميل حانكى جميل،الأحوال الشخصية للأجانب،المطبعة العصرية القاهرة.**

**١٣. د/عبد الباقي، الزواج في القانون الفرنسي.**

**١٤. دراسة مقارنة عقد الزواج دكتور احمد يسرى.**

**١٥. دكتور/ سامح عبد السلام محمد،٢٠١٣م، فقه الأسرة بين حضارتين، ج١ص٤٥-٥١.**

١٦. الزحيلي، أ. د. وَهْبَة بن مصطفى الزُّحَيْلِيّ، أستاذ ورئيس قسم الفقه الإسلاميّ وأصوله بجامعة دمشق – كلّيَّة الشَّريعة، الفِقْهُ الإسلاميُّ وأدلَّتُهُ (الشَّامل للأدلّة الشَّرعيَّة والآراء المذهبيَّة وأهمّ النَّظريَّات الفقهيَّة وتحقيق الأحاديث النَّبويَّة وتخريجها)،الناشر: دار الفكر – سوريَّة — دمشق، الطبعة الطبعة الثانية عشرة.

**١٧. السرخسي، محمد بن أحمد بن أبي سهل شمس الأئمة السرخسي المبسوط، الناشر: دار المعرفة –بيروت١٤١٤هـ– ١٩٩٣.**

**١٨. الطهطاوي،رفاعة رافع،تعريب القانون المدني الفرنسي،المطابع الأميرية بمصر،(ماده ١٤٩).**

# Shaikh Zayed

**Quarterly Academic and Research Journal 2025, No: 40**

## Editorial Board

- **Prof. Zarwali Sadiqi / Faculty of Social Science**
- **Prof. Abdulkhlil Afghani / Faculty of Agriculture**
- **Assot. Prof. Dr Subhanullah Shahab / Faculty of Languages and Literature**
- **Assot. Prof. Mohammad Shafiq Mandozai/ Faculty of Law and Political Science**
- **Assot. Prof. Mohammadullah Mondozay/ Faculty of Law and Political Science**
- **Assot. Prof. Abdul Tawab Azizi/ Faculty of Education**
- **Assot. Prof. Amanullah Zadran/ Faculty of Law and Political Science**
- **Assot. Prof. Shafigul Shafiqi/ Faculty of Agriculture**
- **Assot. Prof. Salih Khan Salih/ Faculty of Computer Science**
- **Assot. Prof. Said Kamal Shah Bannuri/ Faculty of Sharia**
- **Assot. Prof. Naqibullah Atish/ Faculty of Journalism**
- **Assist. Prof. Gawhar Shah Gawhari/ Faculty of Computer Science**
- **Assist. Prof. Ghazi jan Mohammadi/ Faculty of Education**